محسن

د قرآني زده کړې او پوهنې لړۍ

۲۴

محسن تفسیر

له قرآنه یو څرک

Ketabton.com

د «نور» سورې

لیک او څېړنه :

احمد حسین «عنایت»

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نور سورة تشريح
ليک او څېړنه:
احمد حسين «عنايت»

بسم اللّه الرحمن الرحيم

د لوراند او لورين اللّه په نامه

سورة النور

د نور سورة (۲۴)

سريزه: د «نور» سورة مدني دی چې (٦۴) آيتونه (۹) رکوع لري، په تلاوت کې (۲۴) او په نزول کې (۱۰۲) سورة دی د «حشر» له سورة څخه وروسته نازل شوی دی. ددې سورة ډېرې آيتونه په مدينه کې له هجرت وروسته نازل شوي دي، يوازې څو آيتونه [۴۷ـ٥٦] چې د وګړېژندنې په اړه دي په «مکه» کې د «بعثت» په لسم کال کې نازل شوي دي. چې د دې سورة د نزول په اړه به د نزول د کال تر عنوان لاندې په بشپړه توګه په تفصيل ورته توضيح ورکړل شي. ددې سورة نوم «نور» دی چې د هغه له «۳۵» آية څخه اخېستل شوی دی؛ «اللَّهُ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ»، چې په تفصيل به ورته په راتلونکو مخونو کې ولوستل شي.

مضمون او منځپانګه:

د «نور» سورة اصلي چورليځ او بنسټيزه موضوع «کور او د کورنۍ حريم دی چې د مختلفو ګوټونو او اړخونو له پلوه يې څېړلی دی. دا مطلب يې نېغ په نېغه او په څرګنده بڼه د سورة په لومړۍ نيمايي کې [له٦۴ آيتونو څخه په۳۲ آيتونه کې] او په وروستيو اوږدو آيتونو [په ۴ آيتونو ۵۸ تر ٦۱] کې بيان شوی دی. په داسې ډول چې د «بيوت» کليمې ته په دې ټولګه کې په لواړه او څرګنده توګه پاملرنه شوې ده. او يوازې په (يو شپېتم) يو آية کې چې په دې سورة کې د کورنۍ د برخې د آيتونو پای ده. ۱۰ ځلې دا کليمه تکرار شوی ده.

[په عمومي توګه په دې سورة کې د «بيوت» کليمه له ۴۱ ځلو تکرار سره د قرآن له نورو ټولو سورتونو څخه ډېره کارول شوې ده او په نسبي توګه په ټوله کې په قرآن کې ددې کلمې ۳۰% د «نور سورة» ته ځانګړې شوې ده].

(c) ketabton.com: The Digital Library

د «کورنۍ» مسئله د لومړني او ساده ترین ټولنیز مرکز په توګه، او «کور» چې ددې مرکز د ځای پر ځای کېدو او ګومارنې ځای او ستون دی، له مختلفو اړخونو څخه په دې سورة کې تر څېړنې لاندې نېول شوی دی.

چې له هغې ډلې: د ناموس د غلو او د هغوی د زهرجنو تبلیغاتو او تورونو د غشو پر وړاندې له هغوی څخه ساتنه او حراست کول، د حجاب او د محارمو د برید او سرحد رعایت کول، د سترګو بچ کول او کنټرولول او نورو ته په بده سترګه له کتلو، له سترګو ټومبلو او سترګکونو څخه ځان ساتنه، د خپل عورت او پت ساتنه، د خلکو د حرمت، پت او ابرو د ساتنې او له فحشاء څخه د مخنېوي لپاره د زنا په شهادت کې سختي کول او ټینګ نېول، یو تر بله، یو د بل په اړه د بنه لید لرلو او د منافقانو پر بې بنسټه تورونو او «تا ویلو ما ویلو» د نه باور کولو لپاره مؤمنینو ته جدی او مکرر ګوابښ او ویښېارتیا، د بې مړوخو بحثو د نکاح موضوع، د مریانو او وینځو، د تجرد پر مهال د هغوی د عفت رعایت کول، د هاغو اسیرانو د آزادۍ لپاره د لیکلي ټرون تنظیم چې په مسلمانو کورنیو کې تر بحرانې او روزنې لاندې نېول شوي دي. د دنیایي ګټو لپاره، کچنیتوب او روسپیګرۍ ته د سپېځلو او پاک لمنو وینځو او تر لاس لاندې کسانو له مجبورولو څخه ځان ساتنه او ډډه کول، د خلکو کورونو ته بې خبره، نابره او پرته له اجازې نه ننوتل، او د نورو پر حریم له تجاوزه ځان ساتنه او ډډه کول. همدا راز په هاغو څلورو آیتونو کې چې د سورة په پای کې د «کور» په اړه راغلي، «کور» چې د کورنۍ مکان او ددې ټولنیزې هستې ځای او اډه ده په هغه پورې اړوندو مقرراتو او ضابطو ته، پاملرنه کوي او د لاندینیو مسئلو په اړه کړنلارې وړاندې کوي: د پلار او مور کوټې ته د داخلېدو لپاره د کوچنیو بچو او وینځو لخوا په دریو مختلفو مهالونو کې د اجازې اخېستل، د پلار او مور کوټې ته د ننوتلو لپاره په هر مهال کې د بالغو بچو په توسه د اجازې اخېستلو اړینتیا، د حجاب د مشروط کشف جواز د ګونبه شوو [یائسه او بوډیو] بحثو لپاره، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل کور یا د خپلوانو او دوستانو کورونو کې په فردي یا ډله ییزه توګه د غذا خوړلو جواز، کور ته د ننوتلو پر مهال د کور اهل ته سلام کول او ...

[کور ته د ننوتلو موضوع، د سورة په لومړۍ نیمایي کې هم، چې په «کورنۍ» پورې اړه لري، او هم د سورة په وروستیو آیتونو کې، چې د «کور» په مقرراتو پورې اړه لري، مطرح شوې؛ له دې توپیر سره چې په لومړۍ برخه کې کور ته ننوتل، د زنا او نامشروعو اړیکو یا د شخصي اسرارو د بربنډولو لپاره کشف دی چې «کورنۍ» پورې اړه لري. خو په ورپسې بر خه کې د «کور» اهل ته د «سلام» موضوع مطرح شوې چې بله جنبه لري].

د سورة په بله برخه کې هم، چې په ظاهري توګه موضوع عوض شوې ده، او تکویني آیتونه وړاندې کوي، او له «نور» او مشکاة او مصباح څخه خبره کوي، بیا هم کور او کورنۍ ته راستنېږي، او د هدایت د «نور» څرک په هاغو «کور»ـونو کې ورکوي، چې د خدای د نوم یادونه په کې کېږي، او ګهیځ او بیګاه د هغه تسبیح کوي:

«فِي بُيُوتٍ أَذِنَ اللَّهُ أَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ يُسَبِّحُ لَهُ فِيهَا بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ».

په ورپسې آیت کې زیاتوي چې؛ په داسې کورونو او کورنیو کې داسې سړي یا وګړي دي [یا روزل کېږي] چې د هغوی د بیع، ورکړې راکړې او تجارت بوختیا، هغوی د خدای له یاده نه غافلوي، او نمونځ ولاړوي، او زکات ورکوي، او د قیامت له ورځې ډار لري، چې په هاغې ورځ کې به زړونه او سترګې [له ډېره هیبته] په بل مخ اوړي:

«رِجَالٌ لَا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ».

ورپسې هم د سورة په دریمه برخه کې، چې لید ته له پورتنیو دوو برخو [د کورنۍ موضوع او تکویني آیتونو] څخه جلا، بېل او بې اړیکې برېښي، او د «وګړو پېژندنې» موضوع او د ځینو مسلمانانو د نفاق او سست ایمانۍ موضوع مطرح کوي، له مسلمانانو څخه نور «رجال» [وګړي] معرفي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي؛ چې ګواکې د ودې او د کورنۍ روزنې د نه شتون او د الهي انوارو څخه د محرومیت له لامله، [د هاغو مؤمنو وکړو پر عکس چې فکر او ذکر يې خدای دی، او په تجارت او بیع بوخت کېدل يې نه غافلوي.] دوی چې په منافقانه توګه او د ناچارۍ او نشتوالي او ریا له مخې، د مسلمانانو ډلې ته شامل شوي دي؛ د دوی د ژوندانه ټول حواس خپل دنیوي ژوند او فردي ګټو ته دي. او په داسې حال کې چې په ظاهري بڼه اظهار کوي، په خدای او رسول يې ایمان راوړی او ورته مطیع دي، خو په عمل او واقعیت کې په ټوله کې ورته شا کوي، او تري مخ اړوي. [۴۷ـ۵۰ آیتونه].

او په دنیا او د هغې په ګټو [تجارت او بیع] پورې د تړون او دې موضوع ته د هغوی د فکر د تلپاتې بوختیا له کبله، کوم مهال هم چې د یو ټولنیز کار او د ټول ګټې چارې لپاره، له نورو مسلمانانو سره د رسول اکرم خوا ته راټولېږي، نو له هر فرصته په ګټې اخېستو سره په پټه توګه پرته له دې چې څوک متوجه شي، په غلي او کښنده توګه تښتي او د خپل کار پر لور ځي. [۶۲ او ۶۳ آیتونه]. که د تکویني آیتونو په برخه کې له هاغو وګړو یادونه کوي؛ چې نمونځ ولاړوي او زکوة ورکوي [رِجَالٌ لَا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ...]، په دې برخه کې د مسلمینو د ټولنې له ودې ناموندو وګړو څخه، چې د نفاق رنګ لري یادونه کوي، بیا هم د نمونځ او زکوة دستور ورکوي:

[وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ـ ۵۶ آیة].

دا انطباق جوتوي چې، د سورة مختلفې برخې له دې سره، چې په ظاهري توګه متفاوتې بڼې لري، او داسې انګېرل کېږي، چې یو له بله بنایي خپلواکې او مستقلې وي، خو یو تر بله یو ظریف او بشپړوونکی تړاو لري.

نو په لنډه توګه کېدی شي وویل شي؛ د «نور» سورة د منځپانګې او مضمون له لیده، له درېو ډلو خپلواکو او مستقلو آیتونو څخه په لاندېنۍ شرح تشکیل شوی دی چې؛ سره له دې چې په عین خپلواکۍ کې یو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله مختلفه او بېله ظاهري بڼه لري، په خپلو کې له ژور ځیر، ظریف انسجام او اړیکو، او له نژدې تړون او تړاوه برخمن دي:

۱- د «کور او کورنۍ» د حریم په اړه آیتونه: ۱-۳۴ آیتونه [د سورة د پیل نیمایی کې ۳۴ آیته] او ۵۸ ـ ٦۱ آیتونه [د سورة د پایلامې ۴ آیته].

۲ - تکویني آیتونه [د تمثیل او تشبیه په قالب کې]: ۳۵ ـ ۴٦ آیتونه [۱۱ آیته]

۳ - ایماني او د وګړېښڼدنې آیتونه: ۴۷ـ۵۷ آیتونه او ٦۲ـ٦۴ آیتونه [د سورة پای او د سورة ټولبندي].

لکه څنګه چې کتل کېږي، پورتني درې ډلې آیتونه په پنځو مختلفو برخو کې ځای پر ځای دي، او د لومړۍ او دریمې ډلې آیتونه له دې سره سره چې، هر یو د آیتونو په دوو لړیو کې شامل دي، یو بل ته مل شوي نه دي. د نزول د کال، مکي والي او مدني والي له لامله، او د ډېر زیات تفصیل له کبله چې په تدریج حاصل شوی، مخلوط شوي دي.

د نزول کال: د «سیر تحول قرآن» په کتاب کې د سورتونو د نزول د کال جدول [لومړی ټوک ۱۵ جدول] چې په ټوله کې په دې اړه زمونږ د استفادې بنسټ دی، دا سورة یې د نزول دکال پر حساب په ۴ ډلو ویشلی دی، چې په اتفاقي توګه له هاغې وېښنې سره چې پورته مو تشریح کړه تر ډېره بریده انطباق مومي.

۱- [۱ - ۳۴] آیتونه، موضوع: د افک په مسئلې [او کورنۍ] پورې اړوند تشریعي آیتونه، د نزول کال: ۵ لېږدیز (هجري).

۲- [۳۵ - ۴٦ آیتونه]، موضوع: تکویني آیتونه، د نزول کال: ۱۰ لېږدیز (هجري).

۳- [۴۷ - ۵٦ آیتونه]، موضوع: وګړ ېښڼدنې آیتونه، د نزول کال: ۱۰ بعثت (مکي).

۴- [۵۷ - ٦۴ آیتونه]، موضوع: ایماني او تشریعي آیتونه، د نزول کال: ۱۰ لېږدیز.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا سورة، د کورني حریم پورې اړوندو آیتونو سره چې د ټول سورة کابو نیمایی برخه نغاړي (او د هجرت په ۵ کال کې نازل شوي) پیل کېږي. دا آیتونه، تشریعي آیتونه دي چې له ۳۴ آیة [وَلَقَدْ أَنْزَلْنَا إِلَيْكُمْ آيَاتٍ مُبَيِّنَاتٍ...] سره پای ته رسېږي.

د سورة دویمه برخه چې تکویني آیتونه ګڼل کېږي او له نور او ظلمات(تیاره) او د موجوداتو له عمومي تسبیح او باد او باران او شپې او ورځې او د موجوداتو له تکاملي خلقت او پنځېدنې څخه خبره کوي، له ۴۶ آیة [لَقَدْ أَنْزَلْنَا آيَاتٍ مُبَيِّنَاتٍ...] سره پای ته رسېږي.

او دا ټولګه د مخکینۍ ټولګې د تفصیل او تبین او د طبیعت له ګوټه، د بل راز لید په عنوان، په ۱۰ لېړدیز کې (۵ کاله وروسته) نازله شوې ده.

د سورة دریمه ډله آیتونه، چې د وګړېږندنې آیتونو پورې اړه لري، د بعثت په ۱۰ کال کې په مکه کې نازله شوې، او د ایمان د سستوالي او سطحي والي نښې او اغېزې چې د کورنۍ له روزنې سره اړوند، ځای پر ځای دي، هم څرګندوي. د آیتونو دا ډله که څه هم د سورة له نورو آیتونو څخه مخکې نازل شوې ده، خو په دویمه نیمایي کې یې ځای نېولی دی.

په څلورمه ډله کې (د نزول د کال له لیده) بیا هم د کورنۍ او وګړېږندنې په اړه آیتونو سره مخامخ کېږو، چې د کورنۍ روزنې اړیکه په ټولنه کې د وګړو له کړنو سره څرګندوي. د آیتونو دا لړۍ، هم د تفصیلي توضیح په توګه، او هم د سورة د خلاصې او ټولبندۍ په عنوان په ۱۰ لېړدیز کال [د پیغمبر د ژوند وروستي کال] کې نازل شوي دي.

د سورة وېشنه:

د «نور» سورة یوازېنی سورة دی چې په ځانګړي توګه په قرآن کې «سورة» نومول شوی دی او په لومړني آیة کې لومړنۍ کلیمه یې «سورة» ده.

[البته د نورو آیتونو ټولګې ته چې واحده موضوع لري، په قرآن کې سورة ویل شوی دی. خو دا ټولګه په اړینه توګه د قرآن په اوسنۍ وړې شبندۍ کې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سورة نومول شوی او په ۱۱۴ ترکیبونو کې راغلي شامله نه ده. له دې بیان سره ویلی شو چې د قرآن په فعلي بڼه کې هر «سورة»، له مختلفو سورتونو څخه (د موضوع د وحدت په معنا) تشکیل شوی دی].

«سُورَةٌ أَنْزَلْنَاهَا وَفَرَضْنَاهَا وَأَنْزَلْنَا فِيهَا آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ».

د «سُور» لغوي معنا کوټ (حصار) او ایسارووونکې دایره ده. له همدې لامله د ښار ګردچاپېره دیوال سُور نوموي. [د حدید سورة ۱۳ آیة پر دې معنا دلالت کوي. (فَضُرِبَ بَيْنَهُمْ بِسُورٍ لَهُ بَابٌ .... د هغوی تر منځ یو حصار وهل شوی دی چې هغوی ته یوه دروازه ده ....)]. او لاسبند یا د لاس کړۍ چې د دایرې په بڼه یو سینګار دی سوار بولي [چې جمع یې آساوِرْ او آسْوِرَه ده]. او په همدې ترتیب د هاغو مطلبونو او بیانونو مجموعې ته، چې د یوې موضوع اړوند دي، او یو حقیقت له مختلفو ګوټونو څخه څېړي، او د قرآن په اصطلاح کې ورته «سورة» وایي. پر رسول اکرم نازل شوی کتاب له ۱۱۴ سورتونو څخه تر مختلفو عنوانونو او نومونو لاندې تشکیل شوی دی، چې ځینې له هغوی پخپله د وړو سورتونو ټولګه [د هم غږو او هم سیاقو برخو په معنا] ده.

په داسې ډول چې هر سورة کېدی شي؛ د یوې دایرې په توګه اټکل کړو، چې په هغوی کې وړې دایرې رسم شوي دي، او د هغوی تر منځ له اصلي دایرې سره، ژوره اړیکه او دقیق انسجام شتون لري.

[په ځینو له سورتونو کې هاغو آیتونو ته چې د یوې موضوع په اړه نازل شوي، «سورة» ویل شوی دی. لکه: توبه ٦٤ – ٨٦ – ١٢٤ او ١٢٧ آیتونه د منافقینو په اړه (يَحْذَرُ الْمُنَافِقُونَ أَنْ تُنَزَّلَ عَلَيْهِمْ سُورَةٌ ...وَإِذَا أُنْزِلَتْ سُورَةٌ...) همدا راز د محمد سورة «۲۰» آیة د همدې ډلې په شأن کې (وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُوا لَوْلَا نُزِّلَتْ سُورَةٌ فَإِذَا أُنْزِلَتْ سُورَةٌ مُحْكَمَةٌ وَذُكِرَ فِيهَا الْقِتَالُ رَأَيْتَ الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ يَنْظُرُونَ إِلَيْكَ...)].

دا سمه ده چې مور د قرآن ۱۱۴ ګونې ویشنې «سورة» نوموو، خو پخپله قرآن یوازې د هاغو آیتونو ټولګې ته چې «نور» نومول شوی، په ځانګړې او بېلښتې بڼه او په څرګنده او صریحه توګه «سورة» نومولی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښايي دا ټينګار او صراحت، د «نور» سورة د مختلفو برخو د همغږۍ او څرګند او ښکاره اړيکې او تړاو له لامله وي. يا هاغه نښانه او علامت چې آيتونه په ښکاره توګه يو له بله بېل او خپلواک دي، هغوی له يو چورليز او موضوع سره په اړيکه او اړوند معنا او تفسير کړو. او يا د «نور» وحدت د تورتمونو او ظلمات د کثرت پر وړاندې او يا...(الله اعلم). مسلم قدر دادی چې په ډېرو لږو سورتونو کې دا ډول وحدت او هم غږي کتلی شو.

داسې برېښي؛ ددې ټولګې اصلي دايره چې د «سورة» نوم ورپورې اړوند شوی، د «کور او کورنۍ» د حريم موضوع ده. خو نورې فرعي دايرې هم د هغوی د کوچنيو سورتونو (يا داخلي وېشنو او برخو) په عنوان شتون لري، چې د سورة له اصلي موضوع سره په عين چورليزي اړيکه کې وحدت، او په عين وخت کې، فردي خپلواکي هم لري. ددې کوچنيو سورتونو پېژندل، چې د اصلي سورة برخې او وېشنې تشکيلوي، له يو لورې د ټول سورة له درک او فهم سره مرسته کوي، له بل لورې د سورة له اصلي چورليز سره په اړيکه کې، د فرعي برخو موقعيت او دريځ بيانېږي، چې په ظاهره کې له نورو آيتونو پرې کړي او پردی ښکاري. پر دې بنا ګټور برېښي؛ چې که له داسې تفکيک او تحليلي تجزيې سره، په سورة کې تدبّر وکړو.

لکه څنګه چې وويل شول، دا سورة له پنځو ډلو آيتونو څخه په درېو مخلفو موضوع ګانو کې بڼه نيسي:

۱- (تشريعي آيتونه د کور او کورنۍ د حريم په اړه). ۲ - (تکويني آيتونه د نور او ظلمات په اړه او ...). ۳-(وګړېږندنه).

چې په ترتيب سره په لاندې توګه، پنځګونې ډلې تشرېح کوو:

۱ - [۱ ــ ۳۴] آيتونه «د کورنۍ حريم»:

دا برخه چې د سورة له نيمايي څخه لږ څه زياته برخه تشکيلوي، د «سُورَةٌ أَنْزَلْنَاهَا وَفَرَضْنَاهَا وَأَنْزَلْنَا فِيهَا آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ» آية سره پيلېږي او له ۳۴ آية «وَلَقَدْ أَنْزَلْنَا إِلَيْكُمْ آيَاتٍ مُبَيِّنَاتٍ... وَمَوْعِظَةً لِلْمُتَّقِينَ» سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

پای ته رسېږي. لکه څنګه چې کتل کېږي؛ ددې برخې په پیل او پای کې د «آیات بینات» له «نزول» خبره کوي. دا «آیات بینات» چې تشریعي جنبه لري، د ۳۴ آیتونو په ترڅ کې دا برخه بیان او څرګندېږي. ددې لپاره چې مؤمنینو ته «متذکر» شي، ورته رایاد شي، او «تقوی» خپله دنده غوره کړي. سربېره پر دې، ددې برخې په منځ کې هم، یو ځل بیا د «تشریعي» آیتونو له تبین او برېښاندی خبره کوي: ۱۸ آیة «وَيُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ» او الله څرګند آیتونه تاسو ته بیانوي، او الله ډیر پوه حکیم دی.

دا تشریعي آیتونه په لاندې توګه «۲۱» اصلي بندونو نغاړي چې البته نورې فروع او نتیجه اخېستنې پرې هم مرتبې کېږي:

۱-۱- د دُرې [متروکې «کوړې»] حد د نرینه او ښځینه زنایي لپاره (هر یو سل ضربې کوړې).

۱-۲- د خدای په دین [قانون] کې او د هغه د حکمونو په اجراء کې د احساساتو او عواطفو، نه واکمنول.

۱-۳- د حکم د اجراء په صحنه کې د مؤمنینو حضور او د هغه مشاهده کول (د نظارت او څارنې لپاره، او ځېنو ته د عبرت لپاره).

۱-۴- زنایي نارینه او ښځه پرته له خپل ځان په څېر یا له مشرک پرته واده نه کوي، [یا نه ښایي و یې کړي] او له هغوی سره د مؤمنینو د واده کولو تحریم.

۱-۵- د هاغو کسانو لپاره د متروکې حد، چې په پاک لمنو ښځو تور لګوي، پرته له دې چې (۴) شاهدان ولري [۸۰ ضربې کوړې].

۱-٦- له دې فاسقینو [قانون ماتوونکو] څخه د تل لپاره د شهادت نه منل، مګر دا چې توبه وکړي، او د ځان اصلاح وکړي [د تور لګولو جبران وکړي].

۱-۷- د هاغو نارینو د تکلیف روښانه کول، چې خپلو ښځو ته بد نسبت ورکوي، تور پرې لګوي، او له خپله ځانه پرته بل شاهد نلري.

۱-۷-۱- سړی باید ځلور ځلې په خدای سوګند وخوري، چې رښتیا وایي.

۱-۷-۲- پنځم ځل باید پر خپل ځان د خدای لعنت ووایي که دروغجن وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳-۷-۱- ښځه هم له ۴ ځلو شهادت سره، پر دې چې مېړه يې دروغجن دی د متروکې [دُرې] حد له خپل ځانه دفع کوي.

۴-۷-۱- پنځم ځل د خدای غضب پرځان وګوماري که مېړه يې رښتينی وي.

۸-۱- هاغه کسان چې (پر پاک لمنو ښځو) تور لګوي، يو تر بله اړيکواله او بڼه نېوې [متشکله] ډله ده، [چې د سياسي غرضونو له مخې داسې طريقو ته لاس اچوي]. داسې مه انګېرئ چې دا کار [د ضوابطو او تعزيراتي حدودو اجراء، تر تور لګوونکو د افشا کولو پورې] د ټولنې لپاره مضر دی، بلکې؛ ګټور هم دی [د هغوی د تنبيه او له تکرار څخه د مخنيوي يا د خلکو لپاره د هغوی د پېژندلو له لامله]. او هر يو له دې مجرمينو، د هاغې ونډې په تناسب چې د دغې تور او تهمت په خپرولو کې يې درلودلی، مجرم پېژندل کېږي. او اصلي عامل او هڅوونکی به، په ستر عذاب کې شامل شي.

۹-۱-مؤمنان نارينه او ښځې دنده لري،له داسې اوازو سره د مخامخ کېدو په حالت کې يو تر بله نېک ګومان ولري او موضوع ښکاره تور او تهمت وګڼي.

۱۰-۱- مؤمن نارينه او ښځې دنده لري هاغه تور چې «۴» شاهدان پرې نه راوړل کېږي دروغ وګڼي.

۱۱-۱- مؤمنين نبايد د شيطان له پلونو او ګامونو پليوني وکړي، چې شيطان په ټوله کې پرله پسې انسان ته په فحشاء او مُنکر فرمان ورکوي. او خدای تعالی هاغه څوک چې وغواړي [له عدل او احسان سره] تزکيه کوي.

۱۲-۱- بډايان نبايد خپل انفاق او لاس نېوی له هاغو کسانو قطع کړي چې د دا ډول خطاګانو ارتکاب يې کړی [انفاق ډيری د نفس د تزکې لپاره دی او فردي اړخ يې له ټولنيز اړخه ډېر مهم او ارزښتمن دی].

۱۳-۱- مؤمنين حق نلري له خپلو کورونو پرته نورو کورونو ته له آشنايي او سلامه پرته ننوځي [په اټکلي توګه له کنجکاوی او د انحرافونو د کشف په اړه کې].

۱۴-۱- که څوک په کور کې نه وو د ننوتو حق نلري، تر هاغې چې اجازه ومومي او که اجازه يې و نه موندله بايد ستانه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۵-۱- عمومي هستوګنځيو ته چې يو لړ ګټې پکې خوندي دي، هغوی ته له اجازې پرته ننوتو کې کومه ګناه نشته [لکه بازارونه، جوماتونه، حمامونه، روغتونونه، ښوونځي، پوهنتونونه او داسې نور].

۱٦-۱- مؤمن نارينه بايد د خپلو سترګو په توسه ليدو کې ټيټوالی راوړي، او له بې ځايه او په جنسي نيت خپلې سترګې له ليدو بچ کړي. او خپل پت او عورت وساتي.

۱۷-۱- مؤمنې ښځې بايد د خپلې سترګو په توسه ليدو کې ټيټوالی راوړي، او له بېځايه او د جنسي ليدو په نيت خپلې سترګې له ليدو بچ کړي، او خپل پت او عورت وساتي. خپل زينت پرته له هاغې چې څرګند دی، ښکاره نکړي. او خپل پلو پر ګريوان او ټټر واچوي، او خپل زينت له «۱۲ګونو» محرمانو پرته چې استثناء شوي دي، نورو ته ښکاره نه کړي.

۱۸-۱- مسلمانان بايد په خپلې ټولنه کې، بې مړوښه ښځې او وړ او سپېځلي مريان او وينځې، که څه هم بېوزلې او مستمند وي، يو تر بله په نکاح کې راوړي.

۱۹-۱- هاغه کسان چې په فعلي شرايطو کې د واده امکان نه لري، بايد پت او عفت خپله دنده وګرځوي. چې خدای تعالی هغوی بې نيازه او نااړمن کړي، او ددې چارې کېدون ورته برابر او چمتو کړي.

۲۰-۱- يرغملان چې په مسلمانو کورنيو کې تر سرپرستی، پالنې او روزنې لاندې دي، که د [خدمت او کار او فعاليت په بدل کې] د خپلې آزادی لپاره د ټرون د ټرلو غوښتونکي وي، او د وېسا برید ته رسېدلي وي، او په ټولنه کې خوشې کېدل يې د هغوی د خپل ځان او خلکو په مصلحت کې وي، بايد داسې ټرون ورسره وشي. او حتا د خدای له ماله [د مسلمانانو له عمومي بيت المال څخه] هغوی ته څه ورکړل شي. [د کار د پانګې يا خپل ښار او ټاټوبي ته د بېرته ستنېدو د سفر د لګښت په عنوان].

۲۱-۱- هيڅ مسلمان حق نه لري له يرغملې ښځې (فتياة) [وينځې] سره چې تر خپلې سرپرستی او روزنې لاندې يې لري، که هغه په خپل ميل، لېوالتيا او ارادې سره، د تحصّن [ځان ساتنې او سپېځلتيا] موخه لري، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

زور، اجبار او ځـور سره، د عايـد او لـه دې لارې ګټې د لاسته راوړنې لپاره، په روسپيګرانه او د کچنيتوب په طريقه چلن وکړي. که داسې وکړي؛ کومه بڼه چې تر تجاوز لاندې راغلې، د غفور او رحيم خدای تعالی په نزد ګناهګاره نه ګڼل کېږي.

ددې برخې په آيتونو کې، چې ۲۱ تشريعي حکمـونه مو ترې استخـراج کړل [کېدی شي له دې هم زيات وي] ظريفې او دقيقې نکتې شتون لري، چې ځينو ته يې په لاندې توګه اشاره کوو:

*الف - ددې حکمونو په متن کې او د هغو په مختلفو مقاطعو کې ۳ ځلې سست عنصرې مسلمانان تر نېوکې لاندې نيسي او ۳ ځلې پر هغوی د خدای تعالی فضل او رحمت، د هغوی له دې نه پاملرنو سره سره ځرګندوي. د پاملرنې وړ نکته دا چې؛ دا ټول موردونه چې په يوې ۱۰ آيتيزې ټولګه کې ځای لري، د «ولو لا...» له جملې سره پيل کېږي.

۱۰ آية «وَ لَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَ رَحْمَتُهُ وَ أَنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ حَكِيمٌ».

۱۴ آية «وَ لَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَ رَحْمَتُهُ فِي الدُّنْيَا وَ الْآخِرَةِ لَمَسَّكُمْ فِي مَا أَفَضْتُمْ فِيهِ عَذَابٌ عَظِيمٌ».

۲۰ آية «وَ لَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَ رَحْمَتُهُ وَ أَنَّ اللَّهَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ».

۱۲ آيـة «لَـوْلَا إِذْ سَـمِعْتُمُوهُ ظَـنَّ الْمُؤْمِنُـونَ وَ الْمُؤْمِنَـاتُ بِأَنْفُسِـهِمْ خَيْرًا وَ قَالُوا هَذَا إِفْكٌ مُبِينٌ».

۱۳ آية «لَوْلَا جَاءُوا عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا بِالشُّهَدَاءِ فَأُولَئِكَ عِنْدَ اللَّهِ هُمُ الْكَاذِبُونَ».

۱۶ آيـة «وَ لَـوْلَا إِذْ سَـمِعْتُمُوهُ قُلْـتُمْ مَـا يَكُـونُ لَنَـا أَنْ نَـتَكَلَّمَ بِهَـذَا سُبْحَانَكَ هَذَا بُهْتَانٌ عَظِيمٌ».

بايد پاملرنه ولرو کوم مطالب چې د «و لو لا فضل الله عليكم و رحمته» له عبارت څخه وروسته په ۳ لومړنيو آيتونو کې راغلي دي، پر مسلمانانو د واردې شوې نېوکې په اړه او په همدې اړه ۳ وروستي آيتونو دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

*په دې برخه کې ۵ ځلې د عذاب کلیمه په ۸- ۱۱- ۱۴- ۱۹- ۲۳ آیتونو کې د مسلمانانو د اخلاقي انحرافونو په اړه راغلي ده چې درې ځلې د عظیم او یو ځل د الیم له صفت سره ترکیب شوي دي.

*په دې برخه کې ۴ ځلې د «تزکیه» کلیمه کارول شوې چې د آیتونو له سیاق سره په دې اړه د پاملرنې وړ ده. لکه:

۲۱ آیة «...وَ لَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَ رَحْمَتُهُ مَا زَكَىٰ مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ أَبَدًا وَ لَكِنَّ اللَّهَ يُزَكِّي مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ»

«۲۷ – ۲۸» آیة «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ... هُوَ أَزْكَىٰ لَكُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ»

۳۰ آیة «قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَ يَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ».

*۲۱ آیة «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ وَ مَنْ يَتَّبِعْ خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ فَإِنَّهُ يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ ...».

کېدی شي د نحل سورة له ۹۰ آیة او د عنکبوت سورة ۴۵ آیة سره پرتله شي او د عدل او احسان تقابل له فحشاء او منکر سره وموندل شي. خدای تعالی د عدل او احسان امر کوي او نمونځ [عبادت]، انسان دې لارې ته سموي خو شیطان ددې پر خلاف عمل کوي.

۲- «۳۵ ــ ۴۶» آیتونه (۱۲ آیته) تکویني آیتونه:

د نور سورة دویمه برخه چې د «کور او کورنۍ د حریم» په اړه، تشریعي آیتونو پسې یې ځای نېولی دی، له تکویني آیتونو څخه خبره کوي. په یوه سرسري لید کې بریښي، دا لړۍ د آیتونو له مخکینیو آیتونو څخه خپلواکه او له هغو سره بې اړیکې وي. خو واقعیت دادی چې. هر دواړه برخې له یوه حقیقته خبره کوي. له دې توپیر سره چې، لومړۍ برخه له تشریعي آیتونو، او دویمه برخه له تکویني آیتونو څخه، د یوې واحدې موضوع د جوتولو لپاره، آیتونه او نښانې راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه څنګه چې مخکې وويل شول، د لومړۍ برخې په پيل او پای کې يې د آيتونو له نزوله يادونه کوله [۱ آية ... وَأَنْزَلْنَا فِيهَا آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ - ۳۴ آية - وَلَقَدْ أَنْزَلْنَا إِلَيْكُمْ آيَاتٍ مُبَيِّنَاتٍ...] او د پورتنۍ برخې د آيتونو سياق وښوولە چې له آيات څخه مقصد تشريعي آيتونه دي.

همدا راز په دويمه برخه کې وينو؛ چې ۱۲ آيتونه يې سمدم د داسې دوو آيتونو تر منځ واقع شوي دي، چې بيا هم د مبين آيتونو له نزوله خبره کوي [۳۴ آية - لَقَدْ أَنْزَلْنَا إِلَيْكُمْ آيَاتٍ مُبَيِّنَاتٍ... ٤٦ آية - لَقَدْ أَنْزَلْنَا آيَاتٍ مُبَيِّنَاتٍ وَاللَّهُ...]. چې دلته برېښي موخه يې تکويني آيتونه وي. [٤٦ آية ته که پاملرنه وشي د «اليکم» کليمه حذف شوې چې د آيتونو عموميت او شموليت څرګندوي].

ددې برخې مهمترين آيتونه همدا «۴» آيتونه (۳۵ تر ۳۸) دي، چې په «نور» پورې اړه لري، چې له ډېر ښکلي او لطيف تمثيل سره يې، خدای تعالی د آسمانونو او ځمکې نور نومولی دی. لکه څنګه چې د عالم ټولو څيزونو، د نور په توسه لواړېدنه او څرګندېدنه موندلې ده، او د کتنې او څرګندېدنې وړ ګرځېدلې دي، د آسمانونو او ځمکې او د عالم د ټولو موجوداتو د برخو لواړېدنه او څرګندېدنه ده. چې په حقيقت کې د هستۍ او خلقت او د هغوی د ژوند په صحنه کې، د هغوی همدا وجود دی، په الهي مشيت کې سر ته رسېدلی. لکه څنګه چې د نور په نشت او د تورتم په دننه کې هيڅ څيز برېښ او څرګندوالی نه مومي، که الهي مشيّت د عالم په خلق کېدو کې تړاو نه وای موندلی، هيڅ څيز به ژوند او حيات نه موند.

په دې څلورو آيتونو کې «۲» ځلي د آسمانونو او ځمکې نور ته د خدای تعالی د تشبيه تمثيل والي ته نغوته کوي. ددې لپاره چې څوک و نه انګېري چې واقعا خدای تعالی د نور له جنسه دی! [۳۵ آية -... مَثَلُ نُورِهِ كَمِشْكَاةٍ...وَيَضْرِبُ اللَّهُ الْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ...] له ٣٦ او ۳۷ آيتونو [فِي بُيُوتٍ أَذِنَ اللَّهُ أَنْ تُرْفَعَ .... رِجَالٌ لَا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ...] سره دا تمثيل بشپړېږي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرګندوي چې، له هاغه نور څخه چې د داسې وګړو په کورونو کې ځلېږي، موخه يې همدا د هدايت او ايمان نور دی. له دې سره مل دا دوه آيتونه، دا لړۍ د آيتونو د لومړۍ برخې آيتونو سره نښلوي. او د کور او کورنۍ د حريم په اړه د لومړۍ برخې تشريعي آيتونه، په داسې کورونو [بيوت] کې د هدايت د نور جذب ته مشروطوي.

په دوو نورو مثالونو کې چې د «نور» د آيتونو پسې راځي، د (نور په نسبت د ناشکرو) کافرانو د کړنو پايلو ته پاملرنه کوي. په ړومبي کې د هغوی د دنيايي هڅو حاصل، له سراب سره چې پر صحرا د نور د لګېدو محصول دی، تشبيه کوي. چې د اوبو په څېر بريښي، خو واقعيت نلري. دا يو ډول لاروركي او بېلاري ده، چې وګړی په خپل ګومان هغه هدايت انګېري. په دويم مثال کې د هغوی دريځ او موقعيت، د ژورو دريابونو له تيارو سره، چې ښپمېره لوړو څپو له تينګې ورېځې سره هغوی نغاړلې دي، پرتله کوي. او د واقعيت په عالم کې ددې تمثيل پايله دا راز بيانوي چې: «... وَمَنْ لَمْ يَجْعَلِ اللَّهُ لَهُ نُورًا فَمَا لَهُ مِنْ نُورٍ» هغه چا ته چې خدای تعالی نور نه دی مقرر کړی د هغه لپاره کوم نور نشته. ددې ډول لاروركي توپير له مخکينۍ لاروکې سره، د هغه په شدت او د لاروركي وګړي تصور او انګېرنه، د هغه له خپل عمله ده. په ړومبي کې باطل وهمونه او انګېرنې برېښي، او په دويم کې پخپله لاروركی وګړی، په خپلو لاروركيو کې ډوب شوی دی.

د «نور» او «تياره» د آيتونو [٦ آيتونو] له بيان وروسته ذهن نورو تکويني آيتونو ته اړوي. په ورپسې ٦ آيتونو کې نورې نښې وړاندې کوي:

۱- د عالم د موجوداتو عمومي تسبيح، او د هغوی آګاهي په خپل صلاة او تسبيح کې، او د هغوی له کړنو د خدای تعالی دقيقه آګاهي: «أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُسَبِّحُ لَهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالطَّيْرُ صَافَّاتٍ كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهُ وَتَسْبِيحَهُ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِمَا يَفْعَلُونَ». له دې آيته دا ډول نتيجه اخلي؛ څرنګه چې د عالم ټول موجودات د پالونکي څښتن تسبيح ويونکي دي، او پخپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

صلاة او تسبيح هم علم او آګاهي لري. نو د آسمانونو او ځمکې مُلک د خداى تعالى دى، او د ټولو ښکارندو کمال او بشپړتيا د هغه پر لور ده: «وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَإِلَى اللَّهِ الْمَصِيرُ» [۴۲ آية].

۲ - د باد نقش او رول؛ د وربځو د تحرک او تاليف او ترکيب د عامل په عنوان، چې دا ټول پراوونه او پيلزې، د هاغه اوربشت د نزول لپاره دي، چې د مايع يا جامد (باران او ږلى) په بڼه ځمکې ته نازليږي. «أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُزْجِي سَحَابًا ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهُ ثُمَّ يَجْعَلُهُ رُكَامًا فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَالِهِ ...».

نو له دې تکويني آيته، دا ډول نتيجه اخيستنه کوي، چې د شپې او ورځې په تداوم او تقلب کې [پرله پسې غځېدنې او اووښتنې کې]، «يو په بل پسې راتګ» کې چې د تودوخې د درجې د توپير پيدا کېدو، او په پايله کې، د باد او توپان د منځته راتګ لامل کېږي. [او باد پخپله د باران د اورېدو پيلامه، او باران د حيات او ژوند پيليزه ده.] د بصيرت د اهل د عبرت لپاره آيتونه دي؛ «يُقَلِّبُ اللَّهُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَعِبْرَةً لِأُولِي الْأَبْصَارِ».

د پاملرنې وړ دا چې؛ د ۴۳ آية په پاى کې فرمايي: «... يَكَادُ سَنَا بَرْقِهِ يَذْهَبُ بِالْأَبْصَارِ» او ورپسې آيت کې، ابصار ته په ببا ځلې اشاره کې فرمايي: «... إِنَّ فِي ذَلِكَ لَعِبْرَةً لِأُولِي الْأَبْصَارِ». يعنې هاغه سترګې چې د آسمان برېښوونکي برېښنا ووينې، بايد عبرت واخلي، او بصيرت پيدا کړي.

۳ - د موجوداتو عمومي خلقت، دريم آية دى چې په دې برخه کې تذکر ورکول کېږي. د بادونو له جاري کېدو او وربځو له تشکيلېدو او د باران او واورې له اورېدو وروسته، چې په مخکيني آيت کې تشريح شول، دا پيليزې د ځمکې په سطح کې د اوبو د پيدا کېدو، او د ګياهګانو د ودې او رشد، او د راز راز ځناورو د خلقت لامل کېږي، چې په خپلې تکاملي او بشپړيزې ودې او رشد کې، له خزندګانو (سوسمارانو، مارانو) څخه تر دوو پښو والا (دايناسورانو)، او څلور پښو والا (راز، راز تي لرونکو) پورې يې، هر رازوالى موندلى دى. «وَاللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَابَّةٍ مِنْ مَاءٍ فَمِنْهُمْ مَنْ يَمْشِي عَلَى بَطْنِهِ وَمِنْهُمْ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مَنْ يَمْشِي عَلَى رِجْلَيْنِ وَمِنْهُمْ مَنْ يَمْشِي عَلَى أَرْبَعٍ...». کومه نتيجه چې له دا ډول يو آية څخه اخلي، دا چې؛ د خدای قدرت او د هغه مشيّت د خلقت پر استمرار دی. «...يَخْلُقُ اللَّهُ مَا يَشَاءُ إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ».

پر دې ترتيب په درېو آيتونو کې چې په دې برخه کې ورته توضيح ورکړل شوې، پر درېو اصلونو نغوته شوې: ۱- د خدای تعالی علم او مُلک، ۲- د خدای تدبير، ۳- خلقت او د خدای قدرت.

د پام وړ خبره دا چې؛ ددې برخې په پای کې لکه د مخکينۍ برخې په څېر ددې (تکويني) آيتونو پر روښانتيا او برېښنده والي ټينګار کوي. (لکه څنګه چې ددې برخې په پيل [۳۴ آية] کې يې پر دې چار ټينګار وکړ).

«لَقَدْ أَنْزَلْنَا آيَاتٍ مُبَيِّنَاتٍ وَاللَّهُ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ»

۳ - (۴۷ ـ ۵۷) آيتونه (۱۱ آيتونه) وګړ پېژندنه:

په دې برخه کې پرته له دې چې د «نفاق» کليمه يې کارولې وي، د مسلمانانو په منځ کې له دا ډول خصوصيت او ځانګړتيا يادونه کوي. هاغه کسان چې په خدای او رسول د ايمان، او له رهبرۍ د اطاعت ادعا کوي، په داسې حال کې، چې په خپلې «خبرې» عملاً ولاړ نه دي. او د رسول حکم ته که د هغوی د غوښتنو او لېوالتيا مخالف وي، نه حاضرېږي، چې غاړه ورته کېږدي. خو که ډاډه وي حق ددوی په طرف دی، او ډاډه وي، چې رسول به ددوی په ګټه حکم وکړي، سر سپارلي به ورته به وي.

قرآن دا ډله چې ناروغۍ يې په زړونو کې ريښه ځغلولې وي، يا شک لري، يا ډارېږي، چې خدای او رسول به د هغوی حق تر پښو لاندې کړي، (په خپل نفس او نورو) «ظالم» نومولي دي.

ګواکې په مسلمانانو کې ددې ډلې د ځانګړتياو تشرېح، په خاصه توګه د «کور او کورنۍ» [په ۱ تر ۳۴ آيتونو کې] او د «نور» د عظيم الشأن آية له بيان وروسته، چې د هغه هدايتې ځلېدنه، په هاغو کورونو «بيوت» کې معرفي کوي، چې په هغو کې د خدای نوم ذکر کېږي: «فِي بُيُوتٍ أَذِنَ اللَّهُ أَنْ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيهَا اسْـمُهُ... رِجَالٌ لَا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ...».

په ځينو مسلمانو کورنيو کې د «نور» د نه شتون د آغېز د بيان له کبله دی، چې تربيتي او روزنيز ضـايعات يې، دا ډول ناوړه عوارض او اغېز، په ټولنه کې رامنځته کوي. د پورتنيو آيتونو په لړۍ کې ۸ ځلې، د «اطاعت» د کليمې مشـتقات کارول شـوي دي، چې له دې مخې په قرآن کې بې نظير يا کم نظير دي.

ددې ډلې مؤمنينو د سست ايمانۍ له ذکر وروسته، په ۵۰ او ۵۱ آيتونو کـې پـه مثبت لور کې، لـه واقعي مـؤمنينو معـکوسې نښې وړاندې کـوي. او لـه هغې وروسته بيا ځـلې، د منافقينو د بـدو کـړنو مصداقونه، د جنګي ماموريت لپاره د وتو او بسيج پر مهال وړاندې کوي، چې په عين نافرمانۍ او ګناه کې، د خپل اطاعت او فرمان وړلو د پوړيو جوتولو لپاره، غليظ او شديد قَسمونه خوري. له دغې منافقانه طريقې سره سره، څرنګه چې انسان مختار او آزاد دی، او هر څوک د خپل عمل بار [که ښه وي که بد] پر خپلو اوږو کاږي، خدای تعالی د هغوی خپل سرليک د هغوی خپلو لاسونو ته سپاري. او څرګندوي چې؛ رسول [استازی] له ښکاره ابلاغ پرته، کومه بله دنده نلري! [اکراه او کوم اجبار اړين نـه دی او په دې لارليک کې کوم زور او ځور نه کارول کېږي]....

«....فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُمْ مَا حُمِّلْتُمْ وَإِنْ تُطِيعُوهُ تَهْتَدُوا وَمَا عَلَى الرَّسُولِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ». [نور۵۴(۲۴:۵۴)]

ورپسې درې آيتونه، واقعي مؤمنينو ته خطاب دی. او د هغوی د پای او وروستی بری، غوړېدا او خلاصون پر دې شرط ورته لېکل کېږي، چې د شرک ناخالصي، او له نعمته ناشکري، هغوی له صراط المستقيم [او سمې لارې] لېرې نه کړي. ګواکې د منافقينيو د کړنو تشريح، او له قرآني حقايقو څخه د هغوی له مخ اړونې او شاکولو پسې، ددې وړاندوينې بيان، يو ډول هڅونه او روحي تقويه کول وي، چې ډاډه شي په پايله کې حق بريالی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي. او هغوی په ځمکه کې، د کافرانو ځای ناستي شوي، د دين پالې چار يې شونې کېږي، او ډار به يې په امنيت بدل شي.

«وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ» [نور۵۵(۲۴:۵۵)]

دوه شرطونه: د شرک نشت او د کفران او ناشکرۍ نشت، سلبي او د نفي او نهي جنبه لري، له مثبت جهته او په ايجابي جنبه کې هم مسلمانان په دريو وظيفو مکلف دي:

صلوة، زکوة او له رسوله اطاعت يعني [ولايت] ته پايبند اوسي:

«وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ» [نور۵۶(۲۴:۵۶)]. او که داسې ونشول، يعني له شرک او کفره يې ليرې نه وکړ. او صلوة او زکوة او له رسوله [ولايت] ته ملزم او اړين شول، کولی شي ډاډه اوسي. کفار به هيڅکله ونشي کولی، او قادر به نه اوسي چې هغوی عجز او ناتوانۍ ته وکاږي.

پر دې ترتيب د آيتونو دا لړۍ له ۵۷ آيت سره، چې دا ډول ډاډ او اطمنان القاء کوي، پای ته رسېږي: «لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مُعْجِزِينَ فِي الْأَرْضِ وَ مَأْوَاهُمُ النَّارُ وَلَبِئْسَ الْمَصِيرُ».

۴ – ۵۸ تر ۶۱ آيتونه [د کور حريم]:

په دې برخه کې د سورة لومړۍ برخې ته ستنېږي. له دې توپير سره چې په دې برخه کې ډيرې احکام د «کور» په اړه دي، نه د «کورنۍ» په اړه. سره له دې چې هر دواړه موضوعګاني، يوې موخې ته رسېږي. سربېره پر دې؛ دا «۴آيتونه» د لومړۍ برخې له «۳۴ آيتونو» څخه، ۵ کاله وروسته، يعني په ۱۰ لېږديز کال کې نازل شوي دي، چې د کورنۍ د حريم بشپړوونکي دي. په دې «۴» آيتونو کې «۴» حکمه په لاندې شرح صادريږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ـ هاغه نامحرم کسان، چې [د وينځې يا مريي په نوم] په کور کې دي، يا نابالغ کوچنيان، هرومرو په دريو ټاکلو مهالونو کې [چې نوم يې وړل شوی] په کور کې دي، د کورنۍ د سرپرست [پلار او مور] کوټې ننوتو ته اجازه واخلي.

۲ – بالغ بچيان بايد لکه د نورو په څېر، هر مهال کې اجازه واخلي.

۳ – پر ګوښه شوو [يائسه، بوډيو] ښځو، چې نور د واده [مېندوارۍ] هيله نلري، کومه ګناه نشته چې خپل پاسنی پوښښ لېرې کړي، په دې شرط چې د ځان او سينګار د نندارې ښوولو موخه ونلري، خو که عفت او پاک لمنې ته لېوالتيا ولري د دوی په ګټه دی.

۴ – د عليلو او سالمو کسانو په فردي يا ډله ايزه توګه د غذا خوړل په خپلو کورونو کې، يا د قوميانو او دوستانو په کورونو کې، او .. [چې محدوده يې په آية کې ټاکل شوې ده] کومه ستونزه نلري. خو کورونو ته د ننوتو پر مهال دې د هغوی اهل ته، چې ټول همځان او همذاتي دي، سلام وشي.

په پورته څلور ګونو آيتونو کې څو مهمې نکتې پاملرنه جلبوي: لومړی دري ځلې د «كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ» عبارت د ۵۸ او ۵۹ او ٦١ آيتونو په پای کې تکرار شوی چې ددې تشريعي آيتونو اهميت چې خدای تعالی د کورنيو د هدايت لپاره «تبيين» کړي، څرګندوي. دويم په «٦١» آية کې چې ددې برخې وروستی آية او په ضمن کې د نور په سورة کې د کور او کورنۍ پورې اړوند وروستی آية دی، «۱۰» ځلې د «بيوت» کليمه تکرار شوې ده، ګواکې لکه څنګه چې د «۱۰» عدد بشپړ ګڼل کېږي، په دې آية کې د جزئياتو له ذکر سره، د کور او کورنۍ ضابطې او مقررې بشپړې شوې دي، او خدای تعالی د خپل هدايت نعمت بشپړ کړی او اتمام ته رسولی دی.

په ضمن کې «٦١» آية له «۳۱» آية سره د پرتلې وړ دی چې هر دواړه آيتونه د سورة اوږده آيتونه دي او په بشپړه مشخصه توګه له پاتې نورو آيتونو اوږده دي. هر دواړه آيتونه د نسبي خپلواکو يو لړ طبقې ذکر کوي چې د هغوی په کورونوکې د سينګار ښکاره کول يا غذا خوړل کوم ممانعت يا مخنيوی نلری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ – ۶۲ تر ۶۴ آيتونه [ټولبندي]:

داسې برېښي چې د سورة درې وروستي آيتونه، د هغه د موضوع ګانو ټولبندي او نتيجه ګيري کوي. په لومړي آيت کې يې واقعي مؤمنين، چې په همدا د نور په «بيوت» کې يې وده موندلې ده، د «انّما» له ټينګار او انحصار سره معرفي کړي. پر خداى او رسول د هغوى د ايمان پورې، او په ټولنيزو مسئوليتونو کې، د هغوى اطاعت څرګندوي.

«إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَإِذَا كَانُوا مَعَهُ عَلَى أَمْرٍ جَامِعٍ لَمْ يَذْهَبُوا حَتَّى يَسْتَأْذِنُوهُ.. إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ».

په دويم آية کې؛ هاغه سست ايمانو ته، چې نافرماني، او له رسول سره مخالفت کوي، پام اړوي. او د هغوى لټې او له سره اړونه، د ويښيارتيا، او ګوابښ تر باد لاندې نيسي. او پر اوږه خالي کړنه يې، ورته د خداى د علم يادونه کوي.

«لَا تَجْعَلُوا دُعَاءَ الرَّسُولِ بَيْنَكُمْ كَدُعَاءِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا قَدْ يَعْلَمُ اللَّهُ الَّذِينَ يَتَسَلَّلُونَ مِنْكُمْ لِوَاذًا فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ»

ددې سورة په وروستي آية کې، پر آسمانونو او ځمکه د خداى د مالکيت، او د انسانانو پر کړنو، د هغه د علم ټينګار کوي. او د خداى لور ته د ستنېدنې له يادونې سره چې د حساب او جزا ورځ ګڼل کېږي، انسان د هغه د عملونو د جزئياتو پر نسبت د خداى تعالى له دقيقي آګاهۍ خبروي:

«أَلَا إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ قَدْ يَعْلَمُ مَا أَنْتُمْ عَلَيْهِ وَ يَوْمَ يُرْجَعُونَ إِلَيْهِ فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوا وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ»

د آيتونو لحن او د پاى آهنګ:

د نور سورة د ۶۴ آيتونو لرونکى دى چې ۳۱ آيتونه [کابو نيمايي] يې د «ن» له توري سره پاى ته رسېږي چې د انسان کړنو او چلن او ستاينې ته نغوته ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه: تذکّرون- مؤمنين- فاسقون- صادقين- کاذبين- کاذبون- مبين- تعلمون- تعملون- يعملون- تکتمون- يصنعون- تفلحون- مفلحون- فائزون- متقين- يفعلون- معرضون- مذعنين- ظالمون- ترحمون- تعقلون.

او د سورة پاتې آيتونه ۲۳ ځلې له «م»، ۷ ځلې له «ر»، ۲ ځلې له «ب» او يو ځل له «ل» سره پای ته رسېږي. دا موردونه د انسان له کړنو خارج دي. لکه: آصال - ابصار - حساب - نور - مصير - قدير - رحيم - حکيم - عظيم - عليم - کريم - مستقيم - اليم.

په دوو مساوي برخو د سورة ويشنه [چې نور مثالونه هم په ځېنو سورتونو کې لري] داسې برېښي چې بې لامله او اتفاقي نه وي [الله اعلم].

الهي نېک نومونه [اسما الحسنى] :

په دې سورة کې د «الله» جلاله نوم ۸۰ ځلې تکرار شوی دی چې ډېر اوچت رقم دی، او د سورة تکيه پر «الوهيت» څرګندوي. دا چې حتا يو ځل هم، د «رب» نوم [په خپلواکه توګه يا له ضميرونو سره]، په دې سورة کې نه دی کارول شوی. داسې برېښي؛ چې دا موضوع د قرآن په اوږدو سورتونو کې، [چې تر دې ځايه مو مطالعه کړې] بې ساري وي. نور نومونه چې په سورة کې کارول شوي، د کارولو د شمېر په ترتيب عبارت دي له:

۱ - عليم	۱۰ ځلې	۲ - رحيم	۵ ځلې
۳ - غفور	۴ ځلې	۴ - حکيم	۴ ځلې
۵ - خبير	۲ ځلې	٦ - سميع	۲ ځلې
۷ - قدير	۱ ځل	۸ - تواب	۱ ځل
۹ - رؤف	۱ ځل	۱۰ - واسع	۱ ځل

چې په لاندينيو آيتونو کې کارول شوي دي:

۵ او ۲۲ او ۳۳ او ٦۲ آيتونه [فان الله غفور رحيم]

۱۰ آية [ان الله تواب حکيم]

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۸ او ۵۸ او ۵۹ آيتونه [والله عليم حكيم] ۲۰ آية [ان الله رؤف رحيم]

۳۵ او ۳٦ [والله بكل شيئ عليم] ۲۸ آية [والله بما تعملون عليم]

۲۱ او ٦۰ آية [والله سميع عليم] ۳۲ آية [والله واسع عليم]

د اسمونو مجموعه د سورة د پيل «بسم الله الرحمن الرحيم» د اسمونو له ګڼلو سره د قرآن د سورتونو له شمېر سره مساوي او د ۱۹ عدد ضريب دی:

۱۹x٦= ۱۱۴= (۳+۳۱+۸۰) ددې تشريح په پای کې د ضميمې په توګه د هاغو ۲۲ سورتونو ليست چې د الله جلاله نوم پکې په نسبي توګه زيات کارول شوی کتلی شئ

بنسټيزې کليمې:

ځينې کليمې په دې سورة کې بنسټيزې، کليدي او ټاکونکې جنبه لري چې هغوی ته پاملرنه د سورة دقيقترې پوهېدو سره مرسته کوي.

۱ – «بيوت» - لکه څنګه چې مخکې وويل شول، د «نور» په سورة کې ددې کلمې کارول له دې لامله دي، چې د کور او کورنۍ مسئلو ته، د قرآن له نورو سورتونو څخه زياته پاملرنه لري. [۱۴ ځلې – ٪۲۰ د ټول قرآن]

۲ – «عليم» – په دې ســورة کې، ۱۰ ځلې خدای تعالی د «عليم» په صفت ستايل شوی دی. چې دا شمېره د بقره (۲۱ ځلې) او توبه (۱۱ ځلې) او نساء (۱۷ ځلې د عليم او عليماً مجموعه) له سـورتونو وروسـته، د قرآن له نورو سـورتونو څخه زيات دی. دا چار د انسـان د کړنو او چلن پر جزئياتو، په ځانګړې توګه د کورنۍ په چاپېريال کې، د خدای تعالی د علم او آګاهۍ څرګندوونکی دی.

۳ – «بيان» - د «بَيَّنَ» د کليمې مشتقات [لکه: مبين، يبيّن، مبينات، بينات] ۱۰ ځلې په دې سورة کې کارول شوي، چې له «نور» سره په اړيکه چې د هر څيز روښانه کوونکی، او بيانوونکی دی، د پاملرنې او غور وړ دی.

۴ – «اولئک» – لکه څنګه چې له دې سورة ځينې برخې، وګړېږندنې سره اړه لري، په هغه کې ۹ ځلې د «اولئک» کليمه چې مختلفو ډلو ته اشارې لري کارول شوې ده، چې ډېره اوچته شمېره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فرقان (۲۵) او نور (۲۴) سورتونو تر منځ اړيکه:

۱- د نور سورة بندګانو ته په آګاهۍ ښلو، له دې چې هر هغه څه چې په آسمانونو او ځمکه کې دي، منحصراً د خدای مُلک دی، پای ته رسېږي. [أَلَا إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ...]. او د فرقان سورة هم د آسمانونو او ځمکې په نسبت، د هغه چا د مالکيت له انحصار سره، چې فرقان يې د نړيوالو د خبرتيا او ويښيارتيا لپاره، پر خپل بنده نازل کړ، پيل کېږي:

«تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَى عَبْدِهِ لِيَكُونَ لِلْعَالَمِينَ نَذِيرًا. الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَمْ يَكُنْ لَهُ شَرِيكٌ فِي الْمُلْكِ وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا».

پر دې ترتيب «د مُلک د وجود» موضوع، او خدای تعالی ته د هغه مطلق تعلق، دوه سورتونه يې له يو بل سره په مرتبط [او اړوند] کېدو او متصل کېدو [او نښلېدو] کې، طبيعي انسجام، او د مطلب ادامه يې بر قرار کړې ده. له دې توپير سره چې د «نور» سورة چې پر آسمانونو او ځمکه د خدای تعالی له انحصاري مالکيت څخه کومه نتيجه اخېستې، هغه د بندګانو پر عملونو د خدای تعالی علم او آګاهي ده، او د هغوی له کړنو او چلن څخه په هاغې ورځ آګاه کول دي، چې د هغه پر لور رجعت کوي، چې پر قيامت ټينګار دی. او فرقان سورة له داسې نتيجې، دويمه نتيجه اخلي چې د فرقان نزول د هغوی د هدايت او د بدو عملونو د پايلو په نسبت د هغوی خبرولو لپاره، د حق او باطل تر منځ د تشخيص، معيار او ميزان لپاره د فرقان په نامه نازل کړی، [چې د بدو او نېکو د توپيرونو او فرق د پېژندلو لپاره وسيله ده]. چې په توسه يې د نېکمرغۍ لار، د بدمرغۍ له لارې، وپېژندل شي. په دې ترتيب د نور له سورة څخه، د فرقان سورة ته، په طبيعي توګه د مطلب تداوم او غځونه، ليدل کېږي.

۲- د «مُلک» له موضوع وروسته له ډېر واټن سره، د «رسالت» موضوع د نور سورة په انتها، او د فرقان سورة په پيل کې، مطرح شوې ده. چې د دوو سورتونو تر منځ، دوېمه درجه اړيکه ګڼل کېږي. له دې توپير سره چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نور په سورة کې، ددې چار په نسبت د مؤمنينو چلن، تر څېړنې لاندې دي، او د فرقان په سورة کې د کافرانو انکار او تکذيب تر څېړنې لاندې دي.

د سورة متن او د ژباړې ترجمه: (۱ ـ ۱۰) آيتونه

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

سُورَةٌ أَنْزَلْنَاهَا وَفَرَضْنَاهَا وَأَنْزَلْنَا فِيهَا آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿۱﴾ الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ وَلَا تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿۲﴾ الزَّانِي لَا يَنْكِحُ إِلَّا زَانِيَةً أَوْ مُشْرِكَةً وَالزَّانِيَةُ لَا يَنْكِحُهَا إِلَّا زَانٍ أَوْ مُشْرِكٌ وَحُرِّمَ ذَلِكَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ ﴿۳﴾ وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا وَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴿۴﴾ إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ وَأَصْلَحُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿۵﴾ وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ ﴿۶﴾ وَالْخَامِسَةُ أَنَّ لَعْنَتَ اللَّهِ عَلَيْهِ إِنْ كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ ﴿۷﴾ وَيَدْرَأُ عَنْهَا الْعَذَابَ أَنْ تَشْهَدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ ﴿۸﴾ وَالْخَامِسَةَ أَنَّ غَضَبَ اللَّهِ عَلَيْهَا إِنْ كَانَ مِنَ

سُورَةٌ = يو سورت، يوه مرتبطه ټولګه، په يوه موضوع څرخېدلې تشريح ـ **أَنْزَلْنَاهَا** = نازل کړی مو، راکښته کړی مو ـ **فَرَضْنَاهَا**= (د هغه حکمونه مو) فرض او اړين کړل ـ **آيَاتٍ**= آيتونه، نښې، نښانې ـ **بَيِّنَاتٍ**= روښانګر، ښکاره ـ **تَذَكَّرُونَ** = تاسو ته ذکر شي، تاسو ته را په ياد شي ـ **الزَّانِيَةُ** =زنايي ښځه ـ **الزَّانِي** = زنايي سړی ـ **اجْلِدُوا**= په دُره ووهئ، په کوړو ووهئ، په متروکه ووهئ ـ **كُلَّ وَاحِدٍ** = هر يو کس ته ـ **جَلْدَةٍ** = دُره، تازيانه، متروکه، کوړه ـ **مِائَةَ جَلْدَةٍ**= سل دُرې ـ **وَلَا تَأْخُذْكُمْ** = او تاسو و نه نغاړي ـ **بِهِمَا** = د هغوی دواړو په نسبت ـ **رَأْفَةٌ** = رأفت، دروغجن رحمت، کاذب رحمت ـ (منفي) زړه سوی ـ **دِينِ اللَّهِ** = د الله قانون ـ **الْيَوْمِ الْآخِرِ**= د قيامت ورځ ـ **وَلْيَشْهَدْ** = (**وَ** + **لِيَشْهَدْ**) او بايد حاضر او ناظر اوسي ـ **لَا يَنْكِحُ** = نه نکاح کوي، په همسرۍ نه نيسي، د ژوند شريک نه جوړوي ـ **حُرِّمَ** = حرام شوی دی ـ **يَرْمُونَ** = د تور لګولو غشي وولي ـ د(زنا) تهمت کوي ـ **مُحْصَنَاتِ** = پاک لمنې ښځې، د عفت په حصار کې ښځې ـ **لَمْ يَأْتُوا** = نه راولي ـ **أَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ** = څلور شاهدان ـ **ثَمَانِينَ جَلْدَةً** = اتيا دُرې ـ **لَا تَقْبَلُوا**= قبول نکړئ، و نه منئ ـ **لَهُمْ شَهَادَةً** = له هغوی شهادت، ګواهي ـ **الْفَاسِقُونَ** = نافرمانان، سرغړوونکي، د قانون ماتوونکي ـ **تَابُوا**= توبه يې وکړه، راستانه شول ـ **أَصْلَحُوا**= اصلاح يې وکړه، سمون يې وکړه ـ **شُهَدَاءُ**= يوشمېر ګواهان ـ **شَهَادَةُ**= شاهدي، ګواهي ـ **أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ** = څلور ځل د خدای ګواه نيول ـ **الْخَامِسَةَ**= پنځمه (ګواهي داده) **الْكَاذِبِينَ** = دروغجنان ـ **يَدْرَأُ**= دفع کوي، لرې کوي ـ **الْعَذَابَ**= سزا، جزا، (د زنا) حد ـ **أَنْ**

(c) ketabton.com: The Digital Library

الصَّادِقِينَ ﴿۹﴾ وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ وَأَنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ حَكِيمٌ ﴿۱۰﴾	تَشْهَدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ = دا چې څلور ځل الله پر ځان شاهد ونېسي ـ الصَّادِقِينَ = رښتيا ويونکی ـ تَوَّابٌ = ډېر توبه قبلوونکی.

د نور سورة تشريح (۱ – ۱۰) آيتونه

له معمول سره سم د سورة په پيل کې د سورة د نوم په اړه يوه توضيح وړاندې کوو. مورِ ددې سورة په اړه تر ډېره بريده توضيح ورکړې، دلته د پورتنۍ تشريح د لنډيز، او ياد راوړنې په توګه ورته لنډه نغوته کوو:

ددې سورة نوم «نور» دی، د سورة په منځنۍ برخه کې وايي: «الله» د ځمکې او آسمانونو «نور» دی. «الله نور السماوات والارض.....» [نور۳۵(۲۴:۳۵)]. خدای تعالی يې د آسمانونو او ځمکې له نور سره تشبيه کړی، کله چې نور وي سړی خيزونه ليدلی شي. که نور نه وي او تياره وي، هيڅ خيز نه ښکاره کېږي، يعنې د خدای تعالی له وجود سره هر خيز رويت مومي، هستي او شتون پيدا کوي. قرآن ته هم وايي چې «نور» دی: «...قَدْ جَاءَكُمْ مِنَ اللَّهِ نُورٌ وَكِتَابٌ مُبِينٌ» [مائده ۱۵(۵:۱۵)]. د خدای له لورې تاسو ته يو نور او روښانه [بيانوونکی] کتاب راغلی دی. تورات ته هم وايي چې نور دی [فيه نورٌ] په تورات کې هم نور دی، په انجيل کې هم نور دی.

د قرآن لـه نومونو يو نوم هم «نور» دی، نور د ظلمات او تورتم په وړاندې دی: «اللَّهُ وَلِيُّ الَّذِينَ آمَنُوا يُخْرِجُهُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ...» [بقره۲۵۷(۲:۲۵۷)] خدای د هاغو کسانو دوستدار او مل دی، چې ايمان يې راوړی دی، هغوی له تيارو څخه د نور پر لور وړي، له تيارو څخه مطلب اخلاقی تياره ده، د وينا او چلن تياره ده، د نور پر لور يعنې د حقيقت پر لور، د خدای پر لور. پر دې بنا په دې سورة کې له نور خبره کوي خو نه «نور» د هغه په فزيکي معنا، بلکې هغه «نور» چې پکې هدايت دی قرآن چې نوم يې «نور» دی، ديني کتابونه چې ټول، پکې «نور» وو. يعنې لاره مورِ ته خلاصوي مورِ له تيارو، له جهالتونو د هدايت لور ته وړي. کله چې «نور»

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي، رڼا وي، روښانتيا وي، د «نور» د رڼا او روښانتيا په شتون کې، سړی کولی شي په لاره لاړ شي، او سمه او کږه لار وپېژني.

دا د قرآن ۲۴ سورة دی، او په قرآن کې هم پوره ۲۴ ځلې د «نور» کليمه راغلې ده. البته په قرآن کې د «نورنا، نوره، نورًا» کليمې هم ۲۵ ځلې راغلې دي، خو د «نور» کليمه په يوازې توګه ددې سورة د شمارې [۲۴] په شمېر راغلې ده. خو ددې سورة د لومړۍ کليمې نوم «سورة» دی مورِ په قرآن کې ۱۱۴ سورتونه لرو خو دا يوازينی سورة دی چې د «سورة» له لفظ سره پيل کېږي سورة يعنې څه؟ سورة له «سور» څخه راځي، «سور» يعنې قلعه، هغه قلعه چې پخوا به يې د ښار ګردچاپېره جوړوله، هر ښار به څلورو پېرونو ته قلعه [ديوال] درلوده، يا هر هغه څيز چې يو حصار [کوټ] ولري، سور ورته وايي. لاسبند [وښي] او غاړکی ته هم په قرآن کې (اسوره) وايي، فرعون خپل ملت ته وايي موسی چې د پيغمبر په توګه راغلی، ولې اسوره نلري؟ ولې لاسبند او وښی نلري، مصريانو به معمولاً يو لړ څيزونه له طلا څخه په غاړو او لاسونو تر څنګلو پورې د سينګار لپاره اچول، دا خو بډايتوب نه دی، دا د مصريانو د اصيلو خلکو په عام لباس کې شامل ول. چې جمع يې اساور يا اسوره ده، اسوره، دستبند يا ګردنبند، يوه حلقه يا کړۍ ده که په مړوند کې وي يا غاړه کې وي، هر څيز چې دوره يي يا د سيکل حالت ولري، چې محصور کړي او وټړي، ورته «سور» وايي. د قرآن سورتونو ته هم له دې کبله سورة وايي چې ټرل شوي دي، لکه د يوې مقالې په څېر دی، تاسو يو کتاب يا مقاله ولولئ يوه سريزه لري، يو متن لري او يوه نتيجه ګيري او پايلامه لري، يعنې په خپل ځان کې بشپړ دی، ټرلی دی.

نو سورة هم يوې مجموعې ته اطلاق کېږي چې له يوې موضوع خبره کوي، پخپله په سورة کې هم دننه مستقلې او خپلواکې برخې شته چې هغوی ته يې هم سورة وايي، يعنې مورِ ۱۱۴ کتابونه لرو، چې په هر کتاب کې مختلفې برخې دي چې هره يوه يې استقلال او خپلواکي لري خو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوله کې له يوې موضوع خبره کوي دا سمه ده چې بې شمېره مسئلې په يو سورة کې راغلي او زمونږ له نظره تر ډېره بريده شلوغ او بيروبار ښکاري او له دې ځانګې څخه هغې ځانګې ته الوتل برېښي، خو په حقيقت کې په ټوله کې د يوې موضوع په چوپړ کې دي د بېلګې په توګه د حجرات سورة [۴۹سورة] ته اخلاقي سورة ويلی شو او د نساء سورة د ښځو د مسئلو په اړه دی يا د انعام سورة ايدئولوژيکه جنبه لري.

دا سورة د څه په اړه دی؟ ډيری برخه يې د کورنۍ د واحد په اړه دی، يعنې کور او د کورنۍ په اړه؛ کومې موضوعګانې چې د کورنۍ په اړه د ټولنې د لومړي واحد په توګه ويل کېږي يعنې يوه ودانۍ له خښتو جوړېږي د ټولنې د ودانۍ خښته هم کورنۍ ده، د کورنۍ محل او ستون چرته دی؛ کور کې! دا سورة له کور او کورنۍ خبره کوي.

د «بيت» کليمه يعنې کور او «بيوت» د قرآن له ټولو سورتونو څخه زياته په دې سورة کې تکرار شوې ده ۱۴ ځلې دا کليمه تکرار شوې ده، د «بيوت» کليمه يوازې په ٦١ آية کې لس ځلې تکرار شوې ده ، نو پر دې بنا د سورة موضوع د کورنۍ مسئلې دي. دا سورة ٦۴ آيتونه لري، ۳۲ لومړي آيتونه يې يعنې پوره نيمايي يې سل په سلو کې د کورنۍ د مسئلو په اړه دي په آخر کې هم له څلورو وروستيو آيتونو سره بيرته د کورنۍ مسئلو ته راګرځي او جمع بندي کوي د سورة غير مستقيمې برخې بيا هم په يو ډول له کورنۍ سره اړه نيسي؛ مثلاً د سورة په منځنۍ برخه کې يې کله چې غواړي خداى معرفي کړي «الله نور السموات والارض» الله د آسمانونو او ځمکې نور دی، وايي؛ دا نور چرته دی «فی بيوت» وايي په هاغو کورونو کې دی چې هلته د خداى ياد اهميت لري، د خداى ياد پورته ځي.

بيا هم وايي؛ د خداى نور په هاغو کورنيو کې دی، چې نه روزل شوي او تربيت شوي دي. د کور د کوټو پر دړه او ديوال يې څه خيزونه دي، يا خبري چې ويل کېږي، هڅې چې کېږي، په هغو کورنيو کې خداى

(c) ketabton.com: The Digital Library

مطرح دی. یا په بله برخه کې، چې له منافقینو او سست عنصرو خلکو خبره کوي، بیا هلته څرګندوي، چې په کورنیو کې بد تربیت شوي دي. یعنې کله چې دا د کورنۍ واحد سم کار ونکړي، هغه عوارض او ټولنیزې ناسمې رامنځته کېږي. نو ټول سورة په بشپړه توګه د یوې ټوټې په بڼه، مستقیم یا غیر مستقیم، د ټولنې له لومړني واحده خبره کوي. پر دې بنا چون په ټوله کې په جوته توګه یوه ټوټه ده، ټول له یو بل سره اړیکه لري. ځکه یې نوم په ځانګړې توګه سورة ګنډل شوی دی، او د سورة له لفظ سره پیل ګېږي.

په دې سورة کې ۸۰ ځلې د «الله» نوم راغلی دی، پرته له دې چې یو ځل هم د رب نوم ذکر شي. دا ډېره اوچته شمېره ده، یعنې د هرو ۱۶ یا ۱۷ کلیمو په مقابل کې یو ځل د الله نوم راغلی دی. ۸۰ ځلې د الله نوم، یعنې دا څرګندوي چې څه ډول مورِ ته تل د خدای په اړه متذکر کېږي، خدای مه هېروه. کورنۍ دومره اهمیت لري، چې والدین باید تل مراقب اوسي، په خپلو اړیکو کې هم، او هم د اولاد په اړه.

سربیره د الله پر نوم «۳۴» ځله د خدای نور نومونه په دې سورة کې راغلي دي، چې په ټوله کې ۱۱۴نومونه کېږي. یعنې په دې سورة کې ۱۱۴ځلې د خدای نومونه راغلي دي، چې د قرآن د سورتونو له شمېر سره برابر دی چې ۱۹x۶=۱۱۴ کېږي. کوښښ کوو نور مطالب د آیتونو د شرح په بهیر کې ذکر کړو.

د لو مړي آية، ترجمه شرح او تفسير

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

سُورَةٌ أَنزَلْنَاهَا وَفَرَضْنَاهَا وَأَنزَلْنَا فِيهَا آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ﴿۱﴾

[دا] یو سورة دی چې هغه مو [ستاسو د پوهې او درک سطحې ته] نازل [کښته] کړ[1] او پر تاسو مو [د هغه پر حکمونو کړنې] فرض کړې او په هغه کې مو روښانه آیتونه نازل کړل، چې تاسو [د هغه په حقیقتونو] یاد راوړونکي شئ.[2]

(c) ketabton.com: The Digital Library

سُورَةٌ	أَنْزَلْنَاهَا	وَفَرَضْنَاهَا	وَأَنْزَلْنَا فِيهَا	آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ
[دا] يو سورة دی	چې مونږ نازل کړ	او هغه مو فرض کړ	او مونږ نازل کړي په دې کې	روښانه آيتونه

لَعَلَّكُمْ	تَذَكَّرُونَ
چې تاسو ته	ياد راوړونکی شي [چې تاسو پند واخلئ]

۱ – سورة د سور له ربښې ، يو نوم دی، چې د قرآنکريم پر ۱۱۴ لنډو او اوږدو ټولګو (مجموعو) ايښوول شوی دی. بې ځايه به نه وي چې پوه شو، ولې الله تعالی دا مستقلې او خپلواکې ټولګې [مجموعې] هره يوه سورة نومولی دی؟ داسې بربښې که د دغې کلمې، او د هغې د نورو مشتقاتو تر منځ، مشترک او ګډ مفهموم په قرآن کې ومومو، د دغې کلمې مفهوم ته نژدې کېږو؛ لاس بند (وښې) او غاړکی يې هم په قرآن کې، «اَسْوِرَه» [يا اَساوِر] نومولې دي، همدا راز د کلا په شان حريم او حصار هم چې يوه حلقه ده، چې د ښار ګردچاپېره ايستل شوې ده.

«... فَضُرِبَ بَيْنَهُمْ بِسُورٍ لَهُ بَابٌ بَاطِنُهُ فِيهِ الرَّحْمَةُ وَظَاهِرُهُ مِنْ قِبَلِهِ الْعَذَابُ» [حديد۱۳(۵۷:۱۳)]، «وَهَلْ أَتَاكَ نَبَأُ الْخَصْمِ إِذْ تَسَوَّرُوا الْمِحْرَابَ» [ص۲۱(۳۸:۲۱)]. آيا د همدغو څرکونو له څرګندولو سره نشو ويلی، چې د قرآنکريم سورتونه په تشبيهي توګه، د هاغو مقالو په څير دي، چې په ټاکلو موضوع ګانو يې بحث کړی، او له مطلبه، له پيليزې، متن او پايلې سره، او د کليمو او آيتونو له داخلي انسجام سره، لکه د غاړکی په څير يې، د يوه مطلب ګردچاپېره او له شاوخوا احاطه کړې ده؟ په داسې صورت کې، لکه د سترګو او غوږونو او زړه او بډوډو (پښتورګو) او د بدن د نورو بهرنيو او دننيو غړو په څېر، چې په عين خپلواکۍ کې له پېچلي خپلواک جوړښت سره، يو تر بله په هم غړۍ کې کار کوي.

د قرآنکريم سورتونه هر يو، پخپله د بدن په هيواد پورې اړوند، د بشپړې او ټيکاو کلا په منځ کې يو ښار دی. د لغت ځينو عالمانو، سورة لوړه درجه، عالي منزلت، رفيع او لوړه مرتبه ګڼلې ده، چې له هاغه څه سره چې وويل شول بې اړيکې نه دي.

۲– په دې آيت کې دوه ځلې د «انزلنا» فعل کارول شوی دی؛ لومړی د ټول سورة نزول، چې د اخلاقي احکامو مجموعه (ټولګه) ده، چې پر هغوی عمل کول «فريضه» ګڼل کېږي. دويم د څرګندو او روښانه آيتونو نزول، په دې مجموعه کې، چې د را په يادولو [تذکر] او ويښتابه نقش او رول لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

«سُورَةٌ أَنْزَلْنَاهَا وَفَرَضْنَاهَا وَأَنْزَلْنَا فِيهَا آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ».

«سُورَةٌ أَنْزَلْنَاهَا» دا يو سورة دی، چې مورِ لپرلی دی، يوه ټولګه ده چې نازله کړې مو ده؛ يعنې ستاسو د فهم او درک تر سطحې مو مطلب راټيټ کړ. ددې مسئلو اصل له خدای تعالی سره دی، چې ستاسو د درک لپاره مو مطلب ساده کړ. مخکې مو وويل چې سورة د سور له ربښې، يو نوم دی چې د قرآنکريم پر ۱۱۴ لنډو او اوږدو ټولګو (مَجموعو) ايښوول شوی دی. بې ځايه به نه وي چې پوه شو، ولې الله تعالی دا مستقلې او خپلواکې ټولګې هره يوه سورة نومولی دی؟ داسې بربښي که د دغې کلمې او د هغې د نورو مشتقاتو تر منځ، مشترک او ګډ مفهموم په قرآن کې پيدا کړو، د دغې کلمې مفهوم ته نژدې کېږو؛ لاس بند (وښي) او غاړکی يې هم په قرآن کې «اَسْوِرَه» [يا اَساوِر] نومولي دي، همدا راز د کلا په شان حريم او حصار هم چې يوه حلقه ده، چې د ښار ګردچاپيره ايستل شوې ده.

«... فَضُرِبَ بَيْنَهُمْ بِسُورٍ لَهُ بَابٌ بَاطِنُهُ فِيهِ الرَّحْمَةُ وَظَاهِرُهُ مِنْ قِبَلِهِ الْعَذَابُ» [حديد۱۳(۵۷:۱۳)] «... نو [په حقيقت کې] د دوی تر منځ يو حصار [کوټ] وهل شوی، چې هغه يو ور لري. چې باطن د هغه [= د ايمان د کلا دننه] رحمت دی، او د دغه [دېوال] د باندې طرف [رياکاريو کې]، له دغه جانبه به عذاب وي». «وَهَلْ أَتَاكَ نَبَأُ الْخَصْمِ إِذْ تَسَوَّرُوا الْمِحْرَابَ» [ص۲۱(۳۸:۲۱)]. «او آيا د دوو جګړه مارو مدعيانو خبر درته دررسېدلی؟ چې د محراب پر ديوال پورته شول».

آيا د همدغو څرکونو له څرګندولو سره نشو ويلی چې د قرآنکريم سورتونه په تشبيهي توګه د هاغو مقالو په څير دي چې په ټاکلو موضوع ګانو يې بحث کړی او له مطلبه د پليزې، متن او پايلې سره او د کليمو او آيتونو له داخلي انسجام سره، لکه د غاړکی په څير يې د يوه مطلب ګردچاپيره او شاوخوا احاطه کړې ده؟ په داسې صورت کې لکه د سترګو او غوږونو او زړه او بډوډو (پښتورګو) او د بدن د نورو بهرنيو او دننيو غړو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

څېر، چې په عين خپلواکۍ کې له پېچيلي خپلواک جوړښت سره، يو تر بله په هم غږۍ کې کار کوي، د قرآنکريم سورتونه هر يو پخپله د بدن په هيواد پورې اړوند د بشپړې او ټيکاو کلا په منځ کې يو ښار دی. د لغت ځېنو عالمانو، سورة لوړه درجه، عالي منزلت، رفيع او لوړه مرتبه او پوړۍ ګڼلې ده، چې له هاغه څه سره چې وويل شول، بې اړيکې نه دي.

«وَفَرَضْنَاهَا» او ستاسو لپاره مو فريضه کړې ده. فريضه يعنې فرض دی، واجب دی، اړين دی، د حکم په بڼه دی، دستور دی، دا سورة يوازې د آګاهۍ جنبه نه ده، په دې سورة کې يو لړ بايدونه، او نبايدونه دي، د قانون جنبه لري. «وَأَنْزَلْنَا فِيهَا آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ» په دې سورة کې «آيَاتٍ» يعنې نښې او نښانې او علامتونه دي «بَيِّنَاتٍ» يعنې روښانه يا روښانګر، يعنې يو لړ روښانه حقيقتونه مو ستاسو لپاره نازل کړل دلته دوه ځلې «انزلنا» راغلی، يو ټول سورة دی، يعنې دا ټولګه چې نازله شوې ده، بل هغه ځانګړي آيتونه چې دننه پکې دي. د څه لپاره؟ «لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ» «ښايي تاسو متذکر شئ) ددې لپاره چې تذکر واخلئ، پند واخلئ، تذکر د نسيان په مقابل کې دی. نسيان هيرول دي. د انسان له يادې وځي، غافلېږي، په خپل ژوند کې بوختېږي، له يادې يې وځي چې څه بايد وکړي؟ دا قرآن تل ورته ذکر کوي، تل ورته ګوابنه او خبرتيا کوي. تل يې په غوږ کې زنګ وهي، دا سورة يو لړ ويښيارتيا او «ويښ شئ» دي. يعنې وايي؛ پاملرنه وکړئ، يو لړ يادونې دي، چې مه يې هيروئ. يو ځل بيا دا واقعيت په نظرونو کې، انځور او مجسم کوي، چې د ټولو رښتينو اعتقادونو او د اسلام د عملي برنامو او سرليکونو رېښه، د انسان په فطرت کې نغښتې ده، او پر دې بنا د هغوی توضيح، يو ډول «تذکر» او په ياد راوړنه ګڼل کېږي. او دا يادونې له ورپسې آية څخه پيل کېږي. نو د «تفکر» او «تذکر» تر منځ، توپير شتون لري. تفکر په هاغه ځای کې دی، چې انسان په بشپړه توګه، د يوې مسئلې په اړه جاهل او نادان دی، او نه پوهېږي، انسان ته يې ورزده کوي. قرآن په ډيرېو موردونو کې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

له تفکره خبره کوي. خو تذکر په هاغو مسئلو کې دی، چې د انسان فطرت پخپله په طبيعي توګه، د هاغو مسئلو صحت او سموالی درک کوي، خو بايد په ياد راوړنه ورته وکړي، او پام يې راواړوي. قرآن په ځانګړې توګه آداب او جنسي اخلاق د «تذکر» په عنوان بيانوي. ښايي يو لامل يې هم بشر ته درناوی کول وي. فرمايي مورِ ستاسو پاملرنه دې مسئلو ته را اړوو، او تاسو ته يې در يادوو، يعنې دا داسې مسئلې دي، که پخپله اندنه وکړئ هم پرې پوهېږئ، خو مورِ تاسو ته تذکر کوو، او پام مو را اړوو.

نو په دي آيت کې چې دوه ځلې، د «انزلنا» فعل کارول شوی دی؛ لومړی د ټول سورة نزول چې د اخلاقي احکامو مجموعه (ټولګه) ده، چې پر هغوی عمل کول «فريضه» ګڼل کيږي. دويم د څرګندو او روښانه آيتونو نزول په دې مجموعه کې، چې د رايادولو [تذکر] او ويښتابه نقش او رول لري. که پاملرنه وکړو ددې آية په ټولو فقرو کې يې، د «نا» [مورِ] پر کليمه يې ډېر فشار راوړی دی. يعنې ددې سورة نازلوونکی کوم بل څوک نه دی. الله تعالی وايي مورِ يو، نو ځکه دا د يوه عادي بې ځواکه، نصيحت کوونکي د وينا په څېر مه ګڼئ. بلکې ددې آيتونو نازلوونکی هاغه څوک دی، چې د جهان او ټولو کايناتو واک او ځواک د هغه د ځواک په موټې کې دی. چې د هغه د تسلط له احاطې په جهان کې هيڅ څيز بيرون نه دی. د جَمعې په توګه راتګ يې د دې موضوع ښکارندوی دی، چې د چارو د تطبيق لپاره، ټول ځواکونه هغه ته تسليم دي، او د هغه په چوپړ کې دي. د آية په دويمه فقره کې يې پر دې ټينګار کړی، چې په دې سورة کې ويل شوې خبرې، يوازې سپارښتنې نه دي، چې د نصيحت په توګه وي، بلکه دا يو لړ جَوَت او قطعي احکام دي، چې پلیوني ترې اړينه او لازمي ده. که څوک مسلمان وي، مؤمن وي، نو پر هغه فرض دي، چې د هغه مطابق عمل وکړي.

ددې سورة دا پرتمين او هېښوونکی پيل، دا په ګوتـــه کوي چې؛ د قـرآن پاملرنـه په ژوندانـه کـې اخـلاقياتو تـه ده، او په اسلامي عقيده کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اخلاقياتو هډواله، او اصليتوب، او د اخلاقياتو د ژوروالي کچه څرګندوي. او دا بيانوي چې په انساني ژوند کې، اخلاق تر کومې کچې په اسلامي تفکر کې مهم او مطلوب دی. کوم چورليز چې ټول سورة پر هغه څرخېږي، د روزنې او تربيتي چورليز دی. داسې روزنه چې د وسايلو په حاصلولو کې، د حدونو تر پاټکي په هغې کې سخت نېونه کېږي. او تر دې بريده نرم او لطيف ګرځي، چې د خوښۍ لورينه يې وجدانې پاټکو ته رسېږي. او زړونه د خدای له نور سره، او د هغه له نښو او آيتونو سره آشنا او روږدي کوي. هغه آيتونه او نښې چې، د جهان په ګوټونو او اړخونو، او د ژوندانه په لوړو او ژورو او تاوکښونو کې، خپاره دي.

ددې لپاره چې د خبرې، په څرګندوالي او جوتوالي، نېه ټينګار شوی وي. ورپسې وايي؛ کوم هدايتونه او فرمانونه، چې په دې سورة کې ورکول کېږي، مبهم او ناڅرګند نه دي. بلکې په رڼه او برېښنده بڼه، څرګند او واضح بيان شوي هدايتونه دي. چې پوهېدل يې، ستونزمن نه دي. نو په حقيقت کې، دا د يو مبارک فرمان لپاره سريزه (Preamble) ده، چې له دې وروسته احکام پيل کېږي.

له دې سريزې او تمهيد له انداز څخه څرګندېږي، چې د نور سورة د اللّه په نزد څومره مهم دی، او پر احکامو يې عمل کول څومره اړين دي. چې په راتلونکو آيتونو کې دا احکام توضيح کوي؛ له دې عمومي بيان وروسته يې، لومړنی قاطع، جوت او ټيکاو فرمان او دستور، د زنايي نښځې او زنايي نارينه په اړه وړاندې کړی، وايي: «زنايي نښځه او زنايي نارينه هر يو سل ضربې دُرې ووهئ»

د دويم آية ترجمه، شرح او تفسير

الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ وَلَا تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ﴿۲﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

زنايي ښځه او زنايي سړی، هر يو سل ضربې دُرې (تازيانې) ووهئ، او د الله تعالی د قانون[۳] په [اجراء] کې، د [غير اصولي] احساساتو او عواطفو تر آغېز لاندې مه کېږئ، که په ربښتيا په الله او د آخرت په ورځ ايمان او باور لرئ. او د هغوی په مجازاتو کې، بايد يوه ډله د مؤمنينو شاهد او حاضر اوسي.[۴]

الزَّانِيَةُ	وَالزَّانِي	فَاجْلِدُوا	كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا	مِائَةَ	جَلْدَةٍ	وَلَا تَأْخُذْكُمْ
زنايي ښځه	او زنايي سړی	نو په دُره ووهئ	هر يو له هغوی	سل	درې	او و نه نيسي تاسو

بِهِمَا	رَأْفَةٌ	فِي دِينِ اللَّهِ	إِنْ	كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ
پر هغوی	زړه سوی، ببڼايه احساسات	د خدای په فرمان کې	که په ربښتيا	تاسو مؤمنان ياست

بِاللَّهِ	وَالْيَوْمِ الْآخِرِ	وَلْيَشْهَدْ	عَذَابَهُمَا	طَائِفَةٌ	مِنَ الْمُؤْمِنِينَ
پر الله	او په ورځ د آخرت	او شاهدان دي وي	د هغوی په مجازاتو کې	يوه ډله	له مؤمنانو

---

۳ – د ديـن اصـلي معنـا، د نېکـو او بـدو عملونـو [او کړنـو] جـزا، کيفـر، پايلـه او بدلـه ده، او هـم د هـر هيـواد قوانينـو، نظامـاتو او مقرراتـو تـه ديـن ويـل کېږي، چـې د هغـوی پـر بنسټ، د هيـواد وګـړي د نيـاو او داوری لانـدې نېـول کيـږي. د قرآنکـريم پـه اصـطلاح کـې، «ديـنِ المَلِـک» د هيـواد اسـاسي قـانون تـه وايـي چـې پـه تـير وخـت کـې پادشـاهان د هغـه جـاري کـوونکي ول «...كَذَٰلِكَ كِدْنَا لِيُوسُفَ مَا كَانَ لِيَأْخُذَ أَخَاهُ فِي دِينِ الْمَلِكِ...» [يوسف۷۶(۱۲:۷۶)].

۴ – ډيرېو داسې ګڼلې چې د حکم د اجراء کولو په وخت کې د مؤمنينو حضور د عبرت اخيستنې لپاره دی، که د مؤمنين پر ځای د «ناس» عنوان راغلی وای نو پورتنی مطلب اخيستنه ډېره مناسبه برېښېده. داسې ښکاري چې د مؤمنينو د يوې ډلې حضور د ځارنې، مراقبت او نظارت جنبه لري تر څو د مجريانو حبّ (تړاو) او بغض (کرکه)، د دعوا د طرفينو په اړه د هغوی نفوذ د جزا په تطبيق کې د تفريط يا افراط [کمي يا زياتي] لامل نه شي.

«الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي...» زنايي ښځه او زنايي نارينه «فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ ...» هر يو سل، سل ضربې دُرې ووهئ؛ البته زنا له فحشاء سره توپير لري، فحشاء يو ناوړه کار دی، چې يو ځل شوی وي. يوه اشتباه يا خطا شوې وي، يو څوک د فحشاء مرتکب کېږي، يو فاحش چار يې سر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته رسولی وي. اصولا د فحشاء کلیمه هر هغه کار ته چې رسوا وي، ناوړه وي، ناسم وي، کارول کېږي. دروغو ته هم فحشاء وایي، یا قیمتونه او نرخونه چې په ناوړه توګه لوړ تللي وي، وایي؛ قیمتونه په فاحشه توګه لوړ تللي دي، هر څیز چې د تعادل له بریده تېر شي، فحشاء ورته ویل کېږي.

خو زنا؛ مرحوم طالقاني د نساء سورة په تفسیر کې راوړي دي وایي: دا د فعل پر تکرار دلالت کوي، پر تلبث دلالت کوي. یعنې د یو چا د وجود برخه ګرځېدلې ده، یعنې کار یې همدا دی. یعنې زناکار دی،چې په واقعیت کې، زنا یې دنده ګرځېدلې ده. اتفاقاً د پیغمبر یو حدیث دی، وایي؛ هاغې ښځې ته چې پر دې کار [زنا] مشهوره وي، یا هغه سړی چې؛ مشهورةٌ بِزِنَا، پر دې کار [زنا] مشهور وي، نو که دا عمل د یو چا حرفه شي، دنده یې شي، نو د سلو ضربو دُرې سره، سره یې باید له دې کاره مخنیوی وشي، یعنې نور ددې کار لپاره ځانته زمینه او ډګر برابر نشي کړای.

«او نباید ددې الهي حد په اجراء کې په رأفت [دروغجن او کاذب محبت] کې اخته شئ» «...وَلَا تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ...» داسې نه چې د خدای په دین کې، [د خدای د دین په تطبیق کې] او د الله تعالی د قانون په اجراء کې د [غیر اصولي] احساساتو او عواطفو تر آغېز لاندې راشئ.

د دین اصلي معنا، د نېکو او بـدو عملونو [او کړنو] جزا، کیفر، پایله او بدله ده، او هم د هر هیواد قوانینو، نظاماتو او مقرراتو ته دین ویل کېږي. چې د هغوی پر بنسټ د هیواد وګړي، د نیاو او داوری لاندې نېول کیږي.

د خدای دین یعنې د خدای قانون، د خدای نظام؛ د قرآنکریم په اصطلاح کې، «دینِ المَلِک» د هیواد اساسي قانون ته وایي، چې په تیر وخت کې پادشاهان، د هغه جاري کوونکي ول.

د فرعون اساسي قانون ته هم قرآن «دین الملک» وایي؛ «...كَذَلِكَ كِدْنَا لِيُوسُفَ مَا كَانَ لِيَأْخُذَ أَخَاهُ فِي دِينِ الْمَلِكِ...» [یوسف۷۶(۱۲:۷۶)]. «په دې توګه مو یوسف ته چاره او تدبیر وروښود. [ځکه] هغه [د مصر] د پاچا د قانون له مخې خپل ورور نشو نیولی...».

(c) ketabton.com: The Digital Library

دين يعنې هغه څه چې؛ د هغه پر اساس انسان کيفر ويني، جزا ويني، تشويق کېږي، هڅول کېږي. قانون يعنې هغه نظامونه، چې د هغو پر بنسټ د خلکو قضاوت او نياو کېږي. وايي: د خداى په نظام او د قوانينو په تطبيق کې، پر احساساتو او عواطفو اخته نه شئ. که داسې يو څيز پېښ شو، چې د طبيعي نظام مخالف عمل سر ته ورسول شي، بايد تنبيه شي، او د زنا د عمل جزا سل ضربې دُرې ده.

او تاسو بايد، د احساساتو او عواطفو، تر آغېز لاندې رانشئ، که په خداى او په ورځ د جزاء ايمان لرئ. «... إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ...» که په رښتيا په خداى او آخرت ايمان لرئ، عقل او منطق او مصلحت په دې کار کې په نظر کې ونيسئ، عواطف او احساسات ددې حکم د تطبيق او اجراء مانع نه شي.

او په پايلامه کې، ددې آية په پاى کې، د دغو الهي مجازاتو د تکميل او بشپړتيا لپاره يې، بلې مهمې نکتې ته نغوته کړې، وايي: «او بايد د مؤمنينو يوه ډله حضور ولري، او د هغو دواړو د مجازاتو نندارە وکړي.» «...وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ» په دې تنبيه کې بايد، له مؤمنينو يوه طايفه حضور ولري، يعنې يو ډله بايد اوسي.

ډيرېو داسې ګڼلې چې د حکم د اجراء کولو په وخت کې، د مؤمنينو حضور د عبرت اخيستنې لپاره دى. که د مؤمنين پر ځاى د «ناس» عنوان راغلى واى، نو پورتنى مطلب اخيستنه ډېره مناسبه برېښېده. داسې ښکاري چې، د مؤمنينو د يوې ډلې حضور د څارنې، مراقبت او نظارت جنبه لري. تر څو د مجريانو حبّ (ترِاو) او بغض (کرکه)، د دعوا د طرفينو په اړه د هغوى نفوذ، د جزا په تطبيق کې د تفريط يا افراط [کمي يا زياتي] لامل نه شي. نو درې مطلبه يا درې حکمونه دي:

يــو: دا چــې هغــوى چــې د زنــا پــه عمــل ککــړ شــوي دي، دوى بايــد تنبيــه او مجــازات شي. [لــه زنــا څخــه مطلــب دادى چــې هاغــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بڼځه او نر چې يو د بل همسر او نکاح کړي نه دي، او له کوم شرعي جواز پرته له يو بل سره جنسي ګډون او کوروالی وکړي].

دويم: پر دې ټينګار چې، د دغه الهي حد په اجراء کې، د بې ځايه محبتونو او احساساتو، تر آغېز لاندې رانشئ. او له عواطفو او احساساتو سره، دوځار نه شئ. هاغه محبت او احساسات، چې له فساد او ټولنيزې ککړتيا پرته، بله پايله نه لري. منتها د داسې احساساتو د انګېزو، د مهارولو او خنثا کولو لپاره، په خداى تعالى او د جزاء د ورځې د ايمان مسئله، وړاندې کوي؛ ځکه چې په مبداء او معاد ايمان درلودل، د هغه د فرمان پر وړانديې مطلق تسليمېدل دي. په عالِم حکيم خداى ايمان درلودل؛ ددې لامل کېږي، چې انسان پوه شي، هر يو حکم يې يو حکمت او فلسفه لري. او بې دليله تشريع شوى نه دى. او په معاد او آخرت ايمان درلودل، ددې سبب کېږي، چې انسان د تخلف پر مهال، د مسئوليت احساس وکړي.

دريم: د مجازاتو په صحنه کې د يوې ډلې مؤمنانو د حضور دستور دى. په دې تنبيه کې بايد يو ډله له مؤمنينو حضور ولري. «...طَائِفَةٌ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ» د څه لپاره؟ ددې لپاره، چې يو شمېر کېدى شي رشوة ورکړي، او ددې حکم له تطبيقه اوړې خالي کړي. يا پرعکس يې ځېنې کسان کېدى شي عصباني شي، او وغواړي ډېره او له حده زياته تنبيه ورکړي. ځېنو دا هم ويلي، چې غواړي خلک عبرت واخلي، نو په پټه دې نه وي. مطلب دا نه دى، چې هرو مرو په ښار کې د ټولو خلکو په مخکې، د ټولو د سترګو په وړاندې وي. خو په هر ځاى کې چې اجراء کېږي، بايد يو شمېر له مؤمنينو شاهد او ناظر وي، په حقيقت کې يو منصفه پلاوى بايد هلته وي.

دا آيت کېدى شي، په ظاهر کې يو ډول ناراحتي رامنځته کړي، چې دا ډول خيزونه او تشدّد، هم قرآني زمينه لري. خو دا شلاق او دُرې وهل خو يوازې، د اصلاحي تنبيه لپاره دي، او د سزا له تطبيق وروسته که توبه وباسي، خپل عادي ژوند ته ادامه ورکولى شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې به تېر شو چې په ځينو په اصطلاح اسلامي جمهوريتونو او امارتونو کې، معمولاً داسې خلک رجم [سنګسار] کوي، او وژني. [چې البته سنګسار او دا وژنې قرآني بنسټ نه لري، او له قرآنه نه جوتېږي. مفسرين او فقيهان يې، د حديثونو او روايتونو پر مټ، د جوتولو کوښښ کوي].

دا څرګنده ده چې د دنيا په هېڅ ځای کې، نه په امريکا کې او نه په هيڅ اروپايي هيواد کې، دا ډول کړنې او مسائل آزاد دي. البته په غربي هيوادونو کې هر څوک چې هر ډول اړيکه ولري، آزاد دي، خو څوک چې زنايي وي، او په عام محضر او معرض کې وغواړي، دا کار سر ته ورسوي، يعنې که وغواړي، په پارک کې د خلکو په مخکې کې دا عمل سر ته ورسوي، جزا يې په ځلونو سختره له دې ده. يعنې نيسي يې، بندي کوي يې، په زندان کې يې اچوي، او ډېرې درنې جريمې پرې ږدي، چې د عمر تر پايه ددغه جرم له نتيجو نه خلاصېږي. د قرآن پر اساس خو لس دقيقې يوه بدني تنبيه ورکوي، او پای ته رسېږي. خو که څوک ددې ورپسې آية و نه لولي، ددې تنبيه په حکمت نه پوهېږي.

په اسلامي قانون کې له نظام پرته هيڅا ته دا اختيار نشته چې هغوی د زنايي ښځې او زنايي سړي پر خلاف کوم عمل وکړي، له قاضي او عدالت پرته هيڅا ته دا حق نه ورکول کېږي، چې هغوی کوم کس ته پر دې عمل سزا ورکړي. ټول مفسرين پر دې يو لاس دي چې تر بحث لاندې آية کې د [فَاجْلِدُوا ـ نو هغه په دُرو ووهئ] له حکم څخه مطلب عام ولس نه دی، بلکې د نظام د قاضي يا حاکم مسئوليت دی چې د تحقيق او شاهدانو په موجوديت کې د مؤمنينو د څارونکي پلاوي تر نظرلاندې حکم تطبيق کړي.

د زنا د جرم لومړنۍ شوني جوتېدنه دا ده چې؛ شاهدان ددې جرم پر ارتکاب شهادت ورکړي: قرآن تصريح کوي چې؛ د زنا د جوتېدو لپاره لږ تر لږه څلور شاهدان اړين دي - چې په دې اړه د نساء سورة ۱۵ آية کې ورته اشاره شوې ده [وَاللَّاتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِنْ نِسَائِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوا عَلَيْهِنَّ

(c) ketabton.com: The Digital Library

أَرْبَعَةً مِنْكُمْ...] [نساء۱۵(۴:۱۵)]، «او ستاسو له ښځو [همسرانو] څخه هغه کسان چې ډېر ناوړه [= شرموونکی] کار کوي، نو له خپله منځه څلور کسان پر هغوی شاهدان ونيسئ...».

همدا راز د څلورو شاهدانو په اړه، په دې سورة کې هم، دوه ځايه نغوته شوې، چې په راتلونکې کې به توضيح شي. له شهادت پرته، قاضي تش د خپل علم او خبرېدو پر بنا، فيصله نه شي کولی. که څه هم په خپلو سترګو يې د جرم ارتکاب ليدلی وي، د څلورو شاهدانو موجوديت اړين دی. گواهان بايد داسې کسان وي، چې د اسلامي قانون له مخې د «شهادت» لپاره جوګه، او د اعتماد وړ وي. د ښلګې په توګه دا چې: هغوی تر دې مخکې، په کومې مقدمې او دعوا کې، دروغجن گواهان، ثابت شوي نه وي. خاين نه وي، تر دې مخکې يې، د کوم جرم په اړه سزا نه وي موندلي. له ملزم سره د هغوی دښمني ثابته شوي نه وي، ...او داسې نور. په هره ښه چې وي، په نابشپړ او د بې اعتماده، ناوړه شهادت پر بنسټ، هيڅ تورن ته سزا نه ورکول کېږي. گواهان پر دې خبره شهادت ورکړي، چې هغوی، تورنه او تورن دواړه يې يو ځای، په عين هماغه اعتراضي حالت [د کوروالي] کې، ليدلي دي. يعنې «کالميل فی المکحلة و الرشاء فی البئر» [داسې لکه سلايي په رنجړومه کې، او يا رسۍ په څاه کې.].

د گواهانو يووالی او اتفاق په دې اړه اړين دی، چې هغوی کله، چرته، څوک له چا سره، په زنا کولو ليدلي دي. د دغو بنسټيزو چارو په اړه، دهغوی د اختلاف موندل، د هغوی شهادت له اعتباره غورځوي.

د شهادت دا شرايط پخپله څرګندوي، چې د اسلامي قانون منشأ دا نه ده، چې په دې هڅه کې وي، او هرومرو خلکو ته سزاګانې ورکړي. بلکې اصلي موخه يې داده، چې دا جرم په ټولنه کې عام نه شي. او عام محضر ته رانشي، کوڅې او بازار ته له راتګه يې مخنيوی وشي. او که د زنا جرم دومره عام شي، چې لږتر لږه څلور کسان يې، په عين مهال کې ټول يو ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

وويني، نو بيا خو د سزا وړ دی. په روايت کې، د حضرت رسول اکرم له قوله نقل کوي، چې فرمايي: «ادفعوا الحدود ما وجدتم لها مدفعا». [سزاګانې دفع کړئ، تر کومه بريده چې د هغوی د دفع کولو لپاره، ځايګی شته.] (ابن ماجه).

همدا راز په بل روايت کې راغلي دي: «ادرؤا الحدود عن المسلمين ما استطعتم فان كان لهُ مخرجٌ فخلوا سبيله، فان الامام يخطئ فی العفو خير من ان يخطئ فی العقوبة» [تر کومې چې شونی وي، له مسلمانانو سزاګانې لېرې وساته، که کوم تورن ته له سزا څخه د بچ کېدو لپاره کومه لار راوتلی شي، هغه پرېږده. ځکه چې د حاکم له لور په معاف کولو کې غلطي، له هغې بهتره ده، چې په سزا ورکولو کې غلطي وکړي.] (ترمذي).

ددې قاعدې له مخې، يو چا ته، د زنا د شک په بنياد، تحقيق او جزا نه ايجابوي. بلکې له رسوايي، او د څلورو شاهدانو له ثبوت وروسته، جزاء ورکول کېږي.

پر شهادت سربېره، بل څيز چې پر مټ يې، د زنا جرم ثابتېږي، هغه د مجرم خپل اقرار دی. او په صريحو لفظونو کې ووايي، چې له يوې داسې ښځې [سړي] سره، چې ورته حرامه [حرام] وه، د زنا فعل يې سر ته رسولی دی. او عدالت بايد په پوره توګه، دا ډاډ او اطمنان حاصل کړي، چې دا کس د خپل هوش او حواس په حالت کې، دا اقرار کوي. او د اکثرو فقيهانو په نظر دا اقرار بايد څلور کرته وي، او له څلور کرته تکرار څخه کم، اقرار بسنه نه کوي. که کوم مجرم ته، د هغه د خپل اقرار پر اساس، سزا ورکول کېږي، او د سزا د تطبيق پر مهال، له خپل اقراره وګرځي، او منصرف شي، نو د سزا تطبيق دې سمدلاسه ودرول شي.

د دربم آية، ترجمه شرح او تفسير

الزَّانِي لَا يَنْكِحُ إِلَّا زَانِيَةً أَوْ مُشْرِكَةً وَالزَّانِيَةُ لَا يَنْكِحُهَا إِلَّا زَانٍ أَوْ مُشْرِكٌ وَحُرِّمَ ذَلِكَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ﴿۳﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

زنايي سړی، پرته له زنايي ښځې يا له مشرکې پرته نکاح نه کوي او زنايي ښځه ښايله زنايي سړي يا له مشرک پرته نکاح نه کوي او دا [نکاح] پر مؤمنينو حرامه شوې ده.(۵)

الزَّانِي	لَا يَنْكِحُ	إِلَّا	زَانِيَةً	أَوْ مُشْرِكَةً	وَالزَّانِيَةُ	لَا يَنْكِحُهَا
زنايي سړی	نه واده کوي	مگر	زنايي ښځه	يا مشرکه ښځه	او زنايي ښځه	په نکاح نه اخلي

إِلَّا	زَانٍ	أَوْ مُشْرِكٌ	وَحُرِّمَ	ذَلِكَ	عَلَى الْمُؤْمِنِينَ
مگر	زنايي سړی	يا مشرک سړی	او حرام شوي دا	دا	پر مؤمنانو

۵ ــ د فحشاء او زنا کليمې يوه تر بلې ډير توپير لري؛ ړومبنی عامه معنا لري او په هرې ناوړه او رسوا خبرې، کړنې او عمل پورې اړه لري، په عمومي توګه که هغه اخلاقي او شهواني مسئلې وي او که نورې همدا راز وي، خو زنا يو ډول د فحشاء په جنسي اړيکو کې دی چې دوام او ثبات ولري، يعنې د يو چا کار او دنده همدا فحشاء وي، او په اصطلاح زنا«کار» وي ، نه دا يو ځل غولېدنه او فريب خوړنه [و ل:پرتوی از قرآن، مرحوم طالقاني ج ٦ ص ١٠٦].

«الزَّانِي لَا يَنْكِحُ إِلَّا زَانِيَةً...» زناکار سړی به له زناکارې ښځې پرته نکاح نکوي «أَوْ مُشْرِكَةً ...» يا به له مشرکې ښځې سره نکاح کوي، البته ځينو ويلي «لا ينكح» نبايد نکاح وکړي او ځينو ويلي نکاح نکوي او طبيعي ده چې هر څوک د خپل ځان په څېر پيدا کوي.

زنا دومره ناوړه او ناروا کار دی چې د انسان د طبيعت مزاج د هغه په توسه فاسد او ګډوډېږي، او د بدو او ناوړو څيزونو لور ته لېوالتيا مومې، نو د داسې انسان لور ته هاغه څوک لېوال او راغب وي، چې پخپله خبيث النفس وي، او اخلاقي مزاج يې فاسد وي. په داسې ډول چې زنايي د زنايي په توګه، او هم زنا ته د لېوالتيا په توګه، نکاح نه کوي. مګر د زنايي ښځې يا مشرکې سره، او همدا راز ددې پر عکس هم دی؛«...وَالزَّانِيَةُ لَا يَنْكِحُهَا إِلَّا زَانٍ أَوْ مُشْرِكٌ...» او زناکاره ښځه هم، له زناکار سړي پرته، واده نه کوي. او يا له مشرک سره واده کوي. نو له زنايي ښځې سره، د زنايي په عنوان، او زنا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته د رغبت او لېوالتيا له کبله، بل څوک ورسره نکاح نه کوي. مګر کوم زنايي يا مشرک سړی. او داسې يوه نکاح چې، له زنايي ښځې سره د زنايي په توګه وي، چې په پايله کې، په راتلونکې کې هم پر زنا پاتې شي. يا له مشرکې ښځې سره وي، پر مسلمان حرام شوی دی [ګناه ګڼل کېږي].

«...وَحُرِّمَ ذَلِكَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ». او پر مؤمنينو دا ډول کار حرام دی. سره له دې چې، ددې دواړو په سموالي او ناسموالي کې به توپير شتون ولري. چې يو څوک له زنايي ښځې سره، د زنايي والي په توګه نکاح وکړي. دا سره له دې چې ګناه ده، خو نکاح يې منعقد او صحيح ده. البته تر هاغه مهاله حرامه ده، چې شغل او دنده يې همدا ډول وي. يعنې که د زنا په کار کې، مداوم پاتې شې، او که له زنا توبه وباسي دا حراموالی پای مومي.

ورپسې آية څرګندوي، که راوګرځي او توبه وکړي، دا حکم يې نور په حال کې شامل نه دی. خو له مشرک سره نکاح سربېره پر دې، چې ناجايزه ده او ګناه ده، نه منعقد کېږي، بلکې باطله ده.

لکه څنګه چې مخکې مو وويل؛ د فحشاء او زنا کليمې يوه تر بلې ډېر توپير لري؛ ړومبنی عامه معنا لري، او په هرې ناوړه او رسوا خبرې، کړنې او عمل پورې اړه لري. په عمومي توګه، که هغه اخلاقي او يا شهواني مسئلې وي، او که نورې همدا راز وي. خو زنا يو ډول د فحشاء په جنسي اړيکو کې ده، چې دوام او ثبات ولري. يعنې د يو چا کار او دنده همدا فحشاء وي، او په اصطلاح زنا «کار» وي ، نه دا يو ځل غولېدنه او فريب خوړنه. [و ل: پرتوی از قرآن، مرحوم طالقاني ج ٦ ص ١٠٦].

د زنا د سزا تر بيانولو وروسته، د دغه فعل له بريده د اوښتولو په پايله کې بدوالی او ناوړتيا څرګندوي. يعنې هغه نارينه او ښځينه، چې پر دغه ناوړه او ناولي عادت روږدي وي؛ په حقيقت کې ددې وړ نه دي، چې له هغوی سره، د پتمنو مؤمنانو د واده او نکاح، ناستې او ملاستې اړيکه ټينګه شي. ددوی له ناولي طبيعت، او ناوړو لېوالتياو او عادتونو له شتون سره، يا

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دوی هم بتر مشرک، یا مشرکې سره، پخپلو کې نکاح کوي، او یا اړیکه ټینګوي. نه ښایي چې له دوی سره، د کوم مؤمن اړیکه ټینګه وي. دوی په حقیقت کې په خپلو کې، یو له بل سره مناسب او ورې دي؛ چې د همدې سورة په ۲٦ آیة کې الله تعالی فرمایي: «الْخَبِيثَاتُ لِلْخَبِيثِينَ وَالْخَبِيثُونَ لِلْخَبِيثَاتِ وَالطَّيِّبَاتُ لِلطَّيِّبِينَ وَالطَّيِّبُونَ لِلطَّيِّبَاتِ...»

«کړي هم جنس یو له بل سره پرواز کوتره له کوترې باز له باز»

د آیة ظاهر او څرګنده ښه، په ځانګړې توګه د هغه د لاندیني سیاق په نظر کې نیولو سره، چې د هغه له صدر او پیل سره اړوند دی، داسې څرګندوي چې: دا آیة شریف د تحریمي تشریعي حکمي بیان، په مقام کې دی، که څه هم د هغه د صدر او پیل له ظاهره داسې ښکاري، چې له کومې مسئلې خبر ورکوي. چون له دې خبره مقصد، ټینګار او تأکید، په نهې کې دی. ځکه هغه مهال چې امر او نهې د خبر په ښه بیان شي، مؤکده امر او نهې کېږي. او دا ډول تعبیرونه زیات دي؛ [مثلاً وایو پلانکی دا کار کوي، او یا نور له دې کارونو نه کوي، یعنې په هیڅ وجه یې نباید وکړي.] او د آیة د معنا حاصل دادی چې: کوم مهال چې د زنایي سړي، زنا شهرت وموند، او حد پرې جاري شو. خو د توبې کولو په اړه یې، کوم خبر څرګند نه شو. نو له سپیځلې او مسلماني ښځې سره یې واده کول حرام دي، باید له زنایي ښځې سره واده وکړي، او یا له مشرکې ښځې سره. او همدا راز که د زنایي ښځې زنا شهرت وموند، او حد پرې جاري شو، خو توبه کول یې څرګند نه شول. نور نو پر دې حرامېږي، چې له سپېځلي مسلمان سړي سره واده وکړي. باید له مشرک، یا زنایي سره واده وکړي.

نو دا آیة، داسې یو آیة دی، چې پر خپلو احکامو ټیکاو او باقي دی. چې نسخ شوی نه دی، او تأویل ته هم کومه اړتیا نه لري. او که په روایتونو کې یې حکم مقید کړی دی، د حد د تطبیق او د توبې د څرګندېدو په ښه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ورپسې آية کې، د حد په اقامه کولو امر دی، او همدا وروسته واقع کېدل يې، پر دې څرګندونه لري، چې له زاني او زانيه څخه مقصد، حد خوړلي زنايي سړی او زنايي ښځه ده. او همدا راز د زاني او زانيه اطلاق په هاغو کسانو کېږي، چې تر اوسه لا، دې ناوړه کار ته ادامه ورکوي. او ددې اطلاق شمول، هاغو کسانو ته چې د نصوح توبه يې کړې وي، د قرآن کريم له دأب او ادب څخه لېرې ده. په دې آية کې، د زنايي سړي او مشرک، او د زنايي ښځې او مشرکې، يو ځای ذکرول، له معنا ډکه يوه نغوته ده.

د زنا او شرک ورته والي ته، په ګڼو ځايونه کې اشاره شوې ده. زنا يو داسې اخلاقي ناولتوب دی، چې د عقيدې له ناولتوب [«شرک»]، سره ورته والی لري. په قرآن کې د دغه وصفي اشتراک له لامله، شرک او مشرکينو ته نجس هم ويل شوی دی. د ټولنې د ايماني حس د راوېښولو لپاره دا اړينتيا له دې لامله ده، چې مجرد قانون که هر څومره حکيمانه وي، د ټولنې ساتنه تر هاغه مهاله نشي کولی، تر څو چې په ټولنه کې، له بديو او ناوړتياو، کرکه او نفرت شتون ونلري.

د هر قانون د تطبيق او عملي کولو لپاره، په ځانګړې توګه کله چې قانون سخت هم وي، په اړينه توګه په هغه کې داسې شرطونه وي، چې مجرمين، د هغه له نيواک څخه، د خپل ځانونو په بچ ساتلو کې بريالي کېږي. له داسې مجرمينو څخه د بچ کېدلو، او د هغوی د سمولو مسئوليت، پخپله د ټولنې په غاړه دی. چې هغوی داسې خلکو ته، په خپلو سترګو کې، ځای ورنکړي. تر څو هغوی اړ شي، په هر ځای کې چې اوسېږي، په سمه او شريفه توګه هستوګنه وکړي.

که هغه د مؤمن او کوم شريف مسلمان سره، د خپلوی غوښتونکی وي، د هغه غوښتنه دې تر هاغې رد شي، تر څو يې چې له ناولتوبه توبه کړې نه وي. تر دې چې دا ډول خلک شريفو کورنيو ته د نژدېوالي حوصله ونلري، دا ويښتيا او وېښيارتيا د جرمونو مخنيوي لپاره، اړين څيز دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوسنۍ زمانې له آفتونو څخه، يو ستر آفت او ستونزه داده؛ چې که څوک د خپل زوی يا لور لپاره، د ژوند شريک او همسر لټوي، نو په هغوی کې داسې صفتونه لټوي، چې د دنيوي برم او دبدبې اړخ ته يې، هرومرو پاملرنه کوي. خو داسې وګړي ډېر لږ موندل کېږي، چې په دې اړه د معاملې هاغې اړخ ته پاملرنه وکړي، کومې ته چې آيت لارښوونه کوي. د زنا د حراموالي، ناسموالي او ناوړتيا په هکله، به ډېر لږ کسان داسې وي، او يا به هيڅ نه وي، چې مخالف نظر ولري. او هم د هغې د بدو پايلو په اړه، چې ددې شوم او ډېر ناوړه عمل له لامله، د فرد او ټولنې پر لمن نښلي. د زنا د ناسموالي، او پر ټولنې يې بدې او ناوړه آغېزې، به له هيڅا پټې نه وي، خو بيا هم په دې اړه په لاندې توګه لنډه توضيح وړاندې کېږي:

ددې ناوړه عمل پيدايښت او پراخوالی، پرته له شکه د کورنۍ نظام ګډوډوي. او د ټولنې بنسټ، چې کورنۍ ده، له بېخه وباسي. د پلار او زوی اړيکه، مبهمه او تباره کوي. د هويت او پېژندنې نشت والا زامن، چې د تجربې له مخې په خطرناکو، جنايتکارانو تبديلېږي، زياتېږي. دا له شرمه ډک عمل، چې په ټولنه کې، د هوسناکو وګړو تر منځ، د راز راز فردي او ټولنيزو، نښتو او کشمکشونو لامل دی. هاغه داستانونه او کيسې چې، د ځېنو بدنامو محلو او چمونو، او د فساد له مرکزونو څخه نقل شوي دي، په ښه او څرګنده بڼه، ددې واقعيت بيانوونکي دي، چې د زنا په پايله کې د جنسي بې لاريو تر څنګ، نور ډېر بدتر جنايتونه رامنځته کېږي.

پر دې سربېره تجربې څرګنده کړې، او همدا راز علم جوته کړې، چې دا عمل د ډول ډول ناروغيو، د خپرېدو لامل کېږي. مور پوهېږو، چې روايي او د جنسي لاعلاجه ناروغيو [لکه ايډز او نور ...] د هغه له بدو آغېزو او پايلو څخه دي. او دا له چا پټې او پنهان نه دي.

له ټولو تشکيلاتو سره، چې د هغه له پايلو او آغېزو په مقابله کې په اوسنۍ زمانه کې رامنځته شوي دي، بيا هم شمېرنې څرګندوي: چې وګړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر کومه بريده، له دې لارې خپلې سلامتۍ له لاسه ورکړي، او ورکوي. دا عمل ډېرى، د جنين د سقط، د زامنو د وژنې او د نسل د پرې کېدو لامل کېږي؛ ځکه چې دا ډول بڼځې هيڅکله د داسې بچو ساتلو ته نه حاضرېږي، او اصولاً، د بچي وجود، د هغوى د داسې شومو اعمالو د ادامې په لار کې ستر خنډ دى. نو ځکه تل هڅه کوي، هغوى له منځه يوسي، او ددې په څېر نور جنايتونه، ددغه ناوړه عمل له شومو آغېزو او پايلو څخه دي.

د څلورم آية، ترجمه شرح او تفسير

وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا وَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴿۴﴾

او هغه څوک چې پاک لمنې بڼځې [په فحشاء] متهموي [(تور پرې لګوي)]، او بيا [د خپلې ادعا د ثبوت لپاره] څلور شاهدان نه راوړي، [د دغه بې شاهدانو تور له امله] هغوى اتيا ضربې دُرې ووهئ، او [له دې وروسته] له هغوى هيڅ شهادت مه قبلوئ، [مه منئ] او هغوى فاسقان دي. [چې هغوى د شريعت له حريمه خارج شوي دي (وتلي دي)].[٦]

وَالَّذِينَ	يَرْمُونَ	الْمُحْصَنَاتِ	ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا	بِأَرْبَعَةِ	شُهَدَاءَ	فَاجْلِدُوهُمْ
او هغه کسان چې	د تهمت په غشو ولي	پاک لمنې بڼځې	بيا نه راوړي هغوى	په څلورو	شاهدانو	نو په دُرو ووهئ هغوى

ثَمَانِينَ جَلْدَةً	وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ	شَهَادَةً	أَبَدًا	وَأُولَئِكَ	هُمُ الْفَاسِقُونَ
اتيا دُرې	او مه قبلوئ تاسو له هغوى	شهادت	د تل لپاره	او همدا خلک	همدوى فاسقان دي

٦ – «فسق» په عربي ژبه کي، د محافظ او ساتونکي پوټکي[پوستې] غوڅېدلو، يا شلېدلو ته وايي، چې د «فساد» لامل کېږي. د مېوې د پوټکي د غوڅېدلو په څېر، چې د ميکروب د نفوذ [او ننوتلو]، او د هغه د فساد، ګنديدګۍ او ورستېدو لامل کېږي. د انسان پوسته هم، همدا شرعي حريم، حدونه، بريدونه او ايماني نظامونه دي. تقوا هاغه ځواک او نيرو ده، چې له مورِ سره، د حريم او حدودو په محافظت او ساتلو کې مرسته کوي. او فسق، د هغه پرې کولو او له مجازو بريدونو او مرزونو څخه تجاوز، او اووښتو ته ويل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه څنګه چې په تېرو آيتونو کې، د زنايي ښځې او نارينه لپاره، شديد مجازات بيان شوي ول. او کېدی شي، دا موضوع د مغرضو او بې تقوا خلکو لپاره، لاسوند شي. او له دې لارې په پاکو او سپېڅلو خلکو، تهمت او تور ولګوي. د زناکارانو له بيان وروسته، سمدلاسه، د تور او تهمت لګوونکو لپاره، چې له دې حکمه، د سوء استفادې په لټه کې دي، سخت او شديد مجازات بيانوي. چې د پاک لمنو کورنيو حيثيت او حرمت، د داسې خلکو له خطره خوندي پاتې شي، او هيڅوک د خلکو پر آبرو، د تعرض جرأت پيدا نکړي.

لومړی وايي: «هاغه کسان چې پاک لمنې ښځې، د پت او عفت پر خلاف عمل تورنوي، نو د خپلې دغې ادعا د ثبوتولو او جوتولو لپاره بايد، څلور (عادل) شاهدان راوړي. او که [شاهدان] را نه وړي هر يو له هغوی اتيا دُرې ووهئ؛ «وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ...».

«يرمون»، «رمی» په اصل کې د غشي اچولو، يا د ډبرې اچولو او ددې په څېر د نورو څيزونو اچولو، او ويشتلو په معنا دی. او طبيعي ده په ډبريو موردونو کې، ضررونه هم رسوي. وروسته دا کليمه، د کنايې په توګه، د افرادو په متهم کولو او تورنولو کې، ښکنځلو کولو او د ناروا نسبتونو لګولو لپاره کارول شوې ده؛ ګواکې دا خبرې، لکه د غشي په څېر، د هاغه کس پر جسم لګېږي، او هغه ټپي کوي. يعنې د غشي ويشتل دا که معمولي غشي ويشتل وي، يا د تور او تهمت غشي وي. يعنې تهمت هم داسې دی، لکه د چا په لور چې غشي وولي.

هغه کسان چې پر محصنات تهمت کوي، محصنات يعنې هغه ښځې چې پاک لمنې دي، يا واده کړي دي. پخپله «حصن» يعنې قلعه، يعنې حصار [قُرًا محصنةً]. هغه ښارونه چې قلعه لري، يعنې حصار [کوټ] لري. نو «مُحْصَن» يا «مُحْصِن» هاغه کسان دي، چې د پت لرونکي دي. کوم کسان چې، د عفت لرونکي دي، پتمن دي. بې بند و باره نه دي، يعنې يو حريم لري. څوک چې مړوښه ښځه ده، يا واده کړی نارينه دی؛ يعنې حريم لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که مړوښه ښځه هم نه وي، پتمنه وي، او عفت لري، دې ته محصنه وايي. يعنې حصن او حصار لري، يعنې يو حريم لري، حدونـه او بريدونه لري. هر څوک نشـي کولی ځان ته اجازه ورکړي، له هغې سره نژدېوالی وکړي.

پر دې بنا وايي: هاغه کسان چې پر پاک لمنو ښځو تور لګوي، «...ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ...» او څلور شاهدان نه راوړي. «...فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً...» اتيا ضربې دُرې پر هغوی ووهئ. او په دې سختو، او شديدو مجازاتو پسې، دوه نور حکمونه پرې ورزياتوي: «...وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا...»، ابداً د تل لپاره له هغوی شهادت و نه منئ. يعنې اعتبار يې، خبره يې، په هغه ټولنه کې د تل لپاره نقض کېږي، او له اعتباره لوېږي. «...وَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ» دوی فاسقان دي. فسق يعنې له شريعته خروج او وتل دي، له قانونه او له نظامونو خروج دی. «فسق» په عربي ژبـه کې، د محافظ او ساتونکي پوټکي [پوستې]، غوڅېدلو يا شلېدلو ته وايي، چې د «فساد» لامل کېږي. د مېوې د پوټکي د غوڅېدلو په څېر، چې د ميکروب د نفوذ [او ننوتلو]، او د هغه د فساد، ګنديدګي او ورستېدو لامل کيږي. د انسان پوسته هم همدا شرعي حريم، حدونه، بريدونه او ايماني نظامونه دي.

تقوا هاغه ځواک او نيرو ده، چې له مورِ سره د حريم او حدودو په محافظت، او ساتلو کې مرسته کوي. او فسق د هغه پرې کولو، او له مجازو بريدونو او مرزونو څخه تجاوز، او اووښتو ته ويل کيږي. پر دې ترتيب، نه يوازې دا ډول کسان، له سختو شديدو مجازاتو لاندې نيسـي، بلکې په اوږد مهال کې هم، خبره او شهادت يې، له ارزښت او اعتباره غورځوي. چې و نشـي کولی، د پاکانو او سپېڅلو خلکو حيثيت داغلی، او تورن کړي. سربېره پر دې، د فسق داغ يې پر تندي لګوي، او په ټولنه کې يې رسوا کوي.

کېدی شي ووايـاست؛ چې که داسې يو څيز وي، نو دا خو دومره نه پېښېږي، څلور عادل شاهدان له کومه موندل کېږي، چې شهادت ورکړي، چې کومې ښځې زنا کړې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايو: مګر آيا د زنا په اړه، د اسلام بنا، پر پلټنې او تجسس او تحقيق او تفتيش ده؟ اسلام چې وايي؛ څلور شاهدان اړين دي، موخه يې دا نه ده، چې وغواړي پلټنه او تحقيق دې وشي. تر څو ووايست له سختو شرايطو سره، په سل زرو موردونو کې يو هم نه پېښېږي، چې راشي شهادت ورکړي. [په ځواب کې ويل کېږي] اصلاً اسلام غواړي زنا کمتره ثابته شي. شاهدان رانغلل، رانغلل. که زر زناګانې بڼه ونيسي او پټې پاتې شي، د اسلام له نظره آسانتر دی له دې چې يوه پاک لمنې، عفيفه ښځه چې زنا يې نه ده کړې، تر تور او اتهام لاندې راشي. او دا ډېرتر اهميت لري.

اسلام نه غواړي د زنا فعل وشي، خو دا چې نه غواړي زنا وشي، د شاهدانو او مجازاتو له لارې نه دی، بلکې نورې لارې ورته چمتو او تابيا کوي. که د اسلام په فردي روزنې او ټولنيزو مقرراتو عمل وشي زنا نه واقع کېږي، نه دا چې مجازات کوي او د مجازات له لارې د زنا مخنيوی کوي. هو دا سمه ده، مجازات هم منل شوي او اړين دي؛ هغوی چې دا تربيت پرې اغېز نه کوي، پوه دې شي چې د مجازات لار د هغوی لپاره ده.

ومو ويل؛ څلور شاهدان اړين دي. نو، شهادت د شاهدانو لپاره څومره خطر لري؟ که يو نفر وليدل، چې دوه کسان لګيا دي، زنا کوي. او نور درې کسان هلته نشته، چې له ده سره يو ځای شهادت ورکړي، بايد خپله خوله بنده وساتي. يا که دوه کسانو وليدل، بايد خپلې خولې بندې کړي؛ که درې کسانو وليدل، بايد خولې بندې کړي.

چون دا ډول نه دی، چې که راغلل شهادت يې ورکړ، هغوی ته ووايي کوم شهادت مو چې ورکړی کافي نه دی، خپلو کورونو ته لاړ شئ! بلکې وايي شهادت مو ورکړ او و مو نشو کولی جرم اثبات کړئ، نو «قاذف» [تور لګاندي] ياست، بايد هر يو اتيا ضربې دُرې وخورئ.

همدا چې قرآن وايي: هغوی چې پاک لمنې ښځې تورنوي، او څلور شاهدان نه راولي، که څه هم رښتيني اوسي. خو څرنګه چې په دې ويلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره يې يوه ښځه متهم کړې ده [او نبايد چې ويلي يې واى]، نو هغوى اتيا دُرې ووهئ. خو آيا همدا يو بدني مجازات دي؟ نه، ومو ويل چې يو ټولنيز مجازات هم شته: «...وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا...» د تل لپاره د دوى شهادت مردود دى. نور ددوى شهادت، په هيڅ مورد کې نبايد ومنل شي. دلته يو ټولنيز مجازات دى؛ يعنې له هغې ورځې څخه، نور له ټولنيز اعتباره پرېوځي. ولي؟ ځکه چې، يوه پاک لمنې، او عفيفه ښځه يې، په زنا متهم کړې ده، او نه دي توانېدلي، هغه اثبات کړي.

بل مجازات «...وَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ» دوى فاسقان دي. دلته د مفسرينو تر منځ اختلاف دى، چې آيا دا «...وَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ» يو جلا مجازات دي. د «...وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا...» هم له مجازات څخه دى. يا هماغه دى، يعنې دا دواړه په ټوله کې يو دى؟ ځينو ويلي دا دواړه مجموعاً يو دى، په دې بڼه چې «...وَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ» د «...وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا...» لپاره د علت په مقام کې دى؛ يعنې دوى له دې تور لګولو سره فاسق شوي دي، نو څرنګه چې فاسق شوي دي، شهادت يې نه منل کېږي. او هر هاغه څيز چې شرط يې عدالت دى، له هغوى څخه نه منل کېږي. خو ځينو ويلي دي چې دوه مجازاته دي: يو مجازات دا چې شهادت يې نه منل کېږي، او بل دا چې فاسق دي. او چون فاسق دي، د فسق نور اثرات پر هغوى باربږي، او دا د تفکيک وړ دي.

که کوم شاهد و نشي کولى، خپله مدعا ثابته کړي، او توبه وکړي، فسق يې له منځه ځي. [يعنې مورِ له توبې وروسته هغه عادل ګڼو، مورِ هغه پسې نمونځ کوو، کولى شي قاضي شي، ځکه چې قاضي هم بايد عادل اوسي] خو شهادت يې نور نه منل کېږي، چون هغه يو بېل مجازات دى.

همدا لامل دى، چې د ځينو په عقيده دلته درې مجازاته دي؛ يعنې ددې لامل چې د داسې شخص شهادت نه منل کېږي، د هغه فسق نه دى، فسق يو جلا مجازات دى. د اسلام له نظره فاسق ګڼل کېدل، يو مجازات

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی، د شهادت نه منل کېدل، بل مجازات دی. چې له همدې ځایه د ورپسې آیت معنا څرګندېږي، چې وروسته به توضیح شي.

نو هغه کسان چې، په پاک لمنو ښځو [چې د هغوی زنایي توب په هیڅ دلیل او لامل، او شرعي قرینه جوت نه دی.] د زنا تور ولګوي، او ورپسې د خپلې ادعا د جوتولو لپاره، څلور ګواهان را نه وړي، نو داسې خلک اتیا دُرې ووهئ. او هیڅکله کوم شهادت له هغوی و نه منئ.

دا هم د هغوی، د تور لګولو د مجازاتو برخه ده، چې د تل لپاره مردودالشهادة ګڼل کېږي. دا د دنیا د مجازاتو برخه ده، او دوی په آخرت کې هم د مجازاتو مستحق دي؛ ځکه چې فاسقان دي.

خو هغه کسان چې توبه وکړي، الله تعالی ښونکی او لوراند دی. د پاک لمنو او سپېڅلو خلکو، د حیثیت د ساتلو په اړه، دا سختګیري، یوازې په دې ځای پورې منحصره نه ده.

دا په ډېرېو اسلامي تعلیماتو کې انعکاس لري، او ټول له هاغه فوق العاده ارزښته حکایت کوي، چې اسلام د با ایمانه او پاک لمنو ښځو، او نارینو، د حیثیت لپاره، قایل دی.

لومړی حکم ږدي، چې که څوک، ددې کار کړونکی شو، او هغه یې په ښکاره توګه، سر ته رسولی وي، باید جزا وویني. یعنې که څوک دا فجیع عمل سر ته ورسوي، او لږ تر لږه څلورو کسانو لیدلي وي، باید سل دُرې ووهل شي. نو که چا ته جزا ورکول کېږي، د هاغو کسانو دا کړنه او عمل باید، څلور کسانو لیدلی وي.

زه فکر نه کوم چې په کوم ځای کې څوک دا کارونه، په عامه توګه، د خلکو مخکې، سر ته ورسوي. یعنې عملاً محال او ناشونی دی. یعنې په واقعیت کې غواړي، ووایي هره غلطي او بې لارېتوب چې کوئ. د ښار پارک او عامه ځایونه ته، د خلکو مخې ته یې مه راوړئ. او که دا کار مو وکړ، او څلور شاهدان درباندې تېر شول، « ۱۰۰ » ضربې په دُره به وهل کېږئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او څلور کسان شاهدان هم په فقه کې ذکر شوي، په کومه طريقه، چې په فقه کې ورته اشاره شوې، او ذکر شوي، په آسانۍ دلته د بيان وړ نه دی. يعنې څلورو کسانو، بايد دا عمل، په عين وخت کې، په هماغه اعتراضي حالت کې، ليدلی وي. او سل په سلو کې ثابت شي، چې د زنا عمل سر ته رسېدلی. نه دا چې تش همداسې ليدل شوي وي، او تصور يا گومان وشي، چې گواکې دا کار به سر ته رسېدلی وي. يعنې يوازې، يو ځای ليدل، بسنه نه کوي. که هغه اعتراضي حالت يې، نه وي ليدلی، له کومې پوهيږي، چې دا عمل سر ته رسېدلی دی. يعنې دا په واقعيت کې، يو ډول مخنيوی دی.

لکه د ډېرو کورونو په څېر، چې لوحه يې پرې لګولې وي. او پر لوحې يې ليکلي وي، دا کور په دې سيستم کنټرولېږي؛ دلته کامره لګېدلې ده، که راشـــئ، نو هرومرو پېژندل کېږئ. عکســـونه مو اخېســـتل کېږي، يا زنګ وهل کېږي. يا دا چې په ځېنو کورونو يې ليکلي وي؛ زمورِ ســـپي په څلورو ثانييو کې، د دروازې مخې ته رســـېږي. که له دې تيز راتلی شـــئ، دننه راشئ. ددې مطلب دا نـــــه دی، چې هرومرو دننه راشئ؛ يعنې دا يو ګواښ دی، يوه خبرتيا ده.

مورِ دلته په خپل هيواد کې، په دې هڅه کې يو، چې که غل راشي، او هرومرو بايد ونيول شي. پرته له دې چې غل پوه شي، خو مخکې له مخکې مخنيوی ډېر مهم دی. ښايي په سلو کې «۹۰» کسان، په دې طريقه له غلا منع شي. او د غلا له سر ته رسېدو، مخنيوی وشي. که غل پوه شي، دلته ځانګړی زنګ او Alarm شتون لري، او د نېول کېدو او ګير کېدو خطر يې ډېر دی، نو هرومرو، د نېول کېدو له وېرې نه راځي.

دا هم په حقيقت کې يو Alarm دی، چې وايي دا کار د خلکو په مخکې مه کوئ، او که و مو کړ دا يې جزا ده. او له بل لورې، د خلکو د پت، او ابرو د ساتلو لپاره، داسې نه، چې ايله جاريان همداسې راشي، او شهادت ورکړي. او هسې پرته له کوم عمله پاک لمنې سځې، بې پته او تورنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي، او د خلکو آبرو تويي کړي؛ وايي که دري کسان هم راشي، او شهادت ورکړي، که څه هم ښځتيا يې ويلې وي، او څلورم شاهد ورسره نه وي؛ هر دري واړه دې، په دُره «۸۰» ضربې ووهل شي. او د تل لپاره ددې کسانو د خبرې اعتبار، په هغې ټولنه کې له منځه ځي.

کېدی شي يو څوک ښځتيا هم ووايي، خو وايي؛ تر څو چې د شاهدانو شمېر څلور نه وي حق نلرئ، ځکه کېدی شي يو کس اشتباه وکړي، يعنې سل په سلو کې، يقين بايد حاصل شوی وي، چې دا کار د خلکو په مخکې وشو. يعنې دا اړيکه د انسانانو تر منځ يوه اړيکه ده؛ د خلکو د حقونو د ساتلو لپاره، د عمومي عفت، پت او ابرو د ساتلو په پار.

کورنۍ دا نه خوښوي، بچيان او اولادونه يې، په واټونو او پارکونو کې د خلکو په مخکې، د داسې صحنو شاهدان اوسي. نو پر دې بنا، د خلکو له حقونو دفاع ده، نه د خدای په رابطه، البته دا ګناه ده، په دې کې هيڅ شک او ترديد نشته. خو که اړين يې ګڼلی، دا به يې ويلی وای، چې د خلکو پلټنه وکړئ، کورونه ولټوئ، نقليه وسايل ولټوئ، چې داسې کومه ناسمه اړيکه خو څوک نلري!

لکه په ځېنو ملکونو کې، چې همدا اوس دا کار سر ته رسوي، د خلکو نکاح خطونه او تذکرې چک کوي، له هر هلک او نجلۍ پوښتنه کوي، چې تاسو يو تر بله څه اړيکه لرئ. او په اصطلاح له نامحرم سره خو به څوک سفر نه کوي، مبادا چې داسې کوم عمل تري ونشي.

لومړی د قضيې اصل او بنياد په تور او تهمت ږدي، چې مګر وروسته د هغې پر خلاف ثابت شي. وايي؛ اصلاً حق نلرئ، دا ډول کار وکړئ، دا هم ددې لپاره چې ستونزمن يې کړي، وايي اصلاً کابو کول يې ناشونی دی، چې عملي شي.

خو له کومې چې، اسلام هيڅکله د ښرته ستنېدو لار نه تړي. بلکې په هر فرصت کې، روږدي او ککړ خلک، پاکسازۍ او سپېڅلتيا ته رابولي. او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تېرو اشتباه ګانو، جبران ته يې هڅوي. په ورپسې آيت کې وايي؛ «مګر هاغه کسان چې، وروسته له دې عمله توبه وکړي، او اصلاح او جبران ته پاملرنه وکړي. چې خدای تعالی هغوی، په خپلې عفوې او بښنې کې شامل کړي، خدای تعالی غفور او رحیم دی».

د پنځم آية، ترجمه شرح او تفسير

إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ وَأَصْلَحُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴿۵﴾

مګر هغه کسان چې وروسته له دې[له بې شاهدانو تهمت کولو] څخه توبه وکړي او [حاصل شوی د حرمت سپکاوی له عذر غوښتلو سره] اصلاح کړي چې په دې صورت کې الله بښونکی مهربان دی.

إِلَّا	الَّذِينَ تَابُوا	مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ	وَأَصْلَحُوا	فَإِنَّ	اللَّهَ	غَفُورٌ	رَحِيمٌ
مګر	هغوی چې توبه وکړي	وروسته له دې	او ځانونه اصلاح کړي	نو بېشکه	الله	بښونکی	لورين دی

«إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ وَأَصْلَحُوا» مګر هاغه کسان چې، له دې کاره وروسته توبه وکړي، او اصلاح وکړي. وايي که يو تهمت او تور يې پر يوې بڼځې لګولی وي، او بيا بښنه وغواړي، او ووايي؛ چې ما اشتباه کړې وه، او خپله اشتباه جبران کړي. د «تَابُوا» جملې له ذکر وروسته د «وَأَصْلَحُوا» جمله، دې حقيقت ته اشاره کوي؛ چې بايد دا ډول وګړي، له خپلې ګناه توبه وکړي. او کوم فساد يې چې کړی دی، د هغه د اصلاح په مقام کې راووځي. «فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ» خدای تعالی غفور او رحيم دی. دا قاعدتاً په دې آيت پسې راغلی، او بايد په دې آيت کې شامل شي، چې که بې جهته يې پر چا تهمت لګولی وي، چې جبران شي.

نو په دې آية کې هاغو کسانو ته اشاره ده، چې په پاک لمنو بڼځو او مؤمنانو تور لګوي، خو ددې تهمت د اثبات لپاره څلور شاهدان نه راولي. نو دوی ته سربېره پر دې، چې هغوی اتيا ضربې دُرې ووهي، له هغوی د تل لپاره شهادت نه منل کېږي. او په آخرت کې، هم د جزاء مستحق دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه چې دوی فاسقان دي، خو هغه کسان چې له دې وروسته، د خدای تعالی په دُرشل کې توبه وکړي.

ځکه چې دوی له تهمت لګولو سره له خدای تعالی نافرماني کړې ده، او هم له هاغه چا چې، پر هغه يې تور لګولی دی، عفو وغواړي. خپل حالت اصلاح کړي، ځکه چې د هغه حق يې ضايع کړی دی. بې له شکه خدای تعالی ښونکی لورين دی. سره له دې چې د شهادت نه منل، چې دنيوي سزا وه باقي پاته کېږي، ځکه چې هغه د شرعي حد برخه ده. او د جرم له ثبوت وروسته، شرعي حدّ په توبه نه ساقط کېږي.

خو که په عام محضر کې، پر دې اقرار وکړي، چې متهم بېګناه دی، او دده تهمت په دروغو بنا وو. «توبه» يوازې استغفار او له تېره پښېماني، او حتا په راتلونکي کې، د هغه د ترک کولو هوډ نه دی، بلکې پر دوی ټولو سربېره ګنهګار وګڼی، بايد د جبران په مقام کې څرګند شي.

که واقعاً د پاک لمنې ښځې يا نارينه حيثيت يې، رټن او داغدار کړی دی، د خپلې توبې د قبلېدو لپاره، بايد خپلې خبرې، د هاغو کسانو پر وړاندې، چې دا خبرې يې د هغوی په اړه کړي دي، دروغ څرګندې کړي. او په اصطلاح د حيثيت اعاده يې وکړي.

خو دا سمه نه ده چې يو نفر، څوک په عام محضر کې [يا د مطبوعاتو او ټولنيزو رسنيو له لارې] په دروغجنه توګه، متهم او تورن کړي. او بيا په خپل کور کې، په خلوت کې استغفار وکړی، او د خدای تعالی له درشله، د عفوې او ښنې توبه وکړي. داسې يوه توبه به کله هم، د خدای تعالی په درشل کې و نه منل شي.

د شپږم او اووم آيتونو، ترجمه شرح او تفسير

وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ﴿٦﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هغه کسان چې پر خپلو همسرانو[د ژوند په شريکانو] تهمت لګوي او له خپل ځان پرته شاهدان نه لري، نو د هغوی د هر يو شهادت [د منلو شرط]، څلور ځله الله په شهادت نيول دي چې له رښتيا ويونکو څخه دی.

وَالْخَامِسَةُ أَنَّ لَعْنَتَ اللَّهِ عَلَيْهِ إِنْ كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ﴿۷﴾

او پنځم ځل [تأکيد او ټينګار وکړي] چې د الله لعنت دې پرې وي چې که له دروغجنانو څخه وي.

وَالَّذِينَ	يَرْمُونَ	أَزْوَاجَهُمْ	وَلَمْ يَكُنْ	لَهُمْ	شُهَدَاءُ	إِلَّا	أَنْفُسُهُمْ
او هغوی چې	تورنوي	خپل همسران	او نه وي	هغوی سره	شاهدان	مګر	خپل ځانونه يې

فَشَهَادَةُ	أَحَدِهِمْ	أَرْبَعُ	شَهَادَاتٍ	بِاللَّهِ	إِنَّهُ	لَمِنَ الصَّادِقِينَ
نو شهادت	د يو له دوی	څلور	شهادتونه	سوګند پر الله	چې دا	هرومرو له رښتيا ويونکو دی

وَالْخَامِسَةُ	أَنَّ	لَعْنَتَ اللَّهِ	عَلَيْهِ	إِنْ كَانَ	مِنَ	الْكَاذِبِينَ
او پنځم ځل	دا چې	د الله لعنت دې	پر ده وي	که وي هغه	له	دروغ ويونکو

که داسې يو حالت پېښ شي، مثلاً يو سړی خپل کور ته راشي، او وويني، چې کوم پردی سړی يې په بستره کې پروت دی. نو څه به کوي؟

د څلورو شاهدانو شتون هم شونی نه دی. دلته خو يوازې ځانته پخپله دی، او مصلحت هم نه دی، چې چيغې کړي، او دا موضوع ګاونډيانو او کليوالو ته څرګنده کړي؛ «وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ...» هغوی چې پر خپلو بڼځو تور لګوي «... وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنْفُسُهُمْ...» او له خپله ځانه پرته بل شاهد نلري.

له دې څخه موخه داده، چې مثلاً که کوم سړي وليدل، بڼځه يې زنا کوي. او د شريعت حاکم يا قاضي ته ولاړ شي، او شکايت يې وکړ. داسې خلکو ته په دې آية کې لارښوونه شوې ده. او دې عمل ته په شرع کې «لعان» وايي، او د خپل تصديق لپاره پر الله شاهدي ورکړي:

«...فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ.» بايد څلورځلې پر خدای شهادت ورکړي، چې رښتيا وايي، يعنې خدای تعالی څلور ځلې پر ځان شاهد ونيسي، چې لګيا دی رښتيا وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پنځم ځل ووايي: «وَالْخَامِسَةُ أَنَّ لَعْنَتَ اللَّهِ عَلَيْهِ إِنْ كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ.» او پنځم دا چې؛ [ووايي] د خدای لعنت دې، پر ده وي، که دی دروغ وايي. چون شاهد نلري، پر دې ترتيب جوتوي، چې هاغه څه يې چې ليدلي، او دلته يې نقل کوي رښتيا دي.

يعنې؛ هر هغه مېړه چې پر خپلې ښځې د زنا تور ولګوي، اصولاً لومړی به له ده څخه څلور شاهدان وغوښتل شي، که شاهدان حاضر کړي، نو اصولاً به پر ښځې حد جاري کړی شي. که يې شاهدان حاضر نشو کړلی، نو ده ته به وويل شي، چې څلور ځلې د خدای تعالی په شاهد نيولو سره قسم وخوري. چې ووايي؛ نومورې په خپله دعوه کې رښتينی دی. [په دغه تهمت چې مې پر خپلې ښځې لګولی دی، دروغ نه وايم]. ګواکې د څلورو شاهدانو پر ځای، دده څلور ځلې حلفيه شهادتونه دي. او په پای کې، په پنځم ځل به داسې ووايي؛ چې «که دی پخپله دغه دعوه کې دروغجن وي نو پر ده دې د الله لعنت وي». که له دغو پورتنيو لفظونو، له ويلو څخه انکار وکړي؛ نو د حاکم له لور به بندي کړل شي، او دې ته به اړ کړل شي، چې يا پخپلو دروغو اقرار وکړي او د قذف په حد به [چې اتيا دُرې دی] محکوم کړل شي. او که پر خپلو درواغو اقرار نه کوي او خپل ځان رښتينی ګڼي، هرومرو بايد پورتني لفظونه تکرار کړي، چې پورته يې ذکر شوی دی.

خو که د مېړه له لور پر ښځې دا تپل شوی تور، د ښځې له خوا رد کړل شي. او ووايي دا سړی دروغجن دی، او پر ما يې دروغ تپلي دي. يعنې ښځه دا تور او ګناه و نه مني.

نو که هغه ښځه هم ددې په څېر ورته کار وکړي، او څلور ځلې قسم وخوري، ګناه ترې لېرې کېږي، او جزا نه ورکول کېږي:

د اتم او نهم آيتونو، ترجمه شرح او تفسير

وَيَدْرَأُ عَنْهَا الْعَذَابَ أَنْ تَشْهَدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ﴿۸﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

او مجازات له هغې سخې [يا که بر عکس سړی وي] اړوي چې څلور ځله الله په شهادت ونيسي چې مېړه [يا سخه] يې درواغجن دی،

وَالْخَامِسَةَ أَنَّ غَضَبَ اللَّهِ عَلَيْهَا إِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ﴿۹﴾

او پنځم ځل [ووايي] چې د الله لعنت دې پر ما وي چې که هغه [همسر يې] له رښتيا ويونکو څخه وي.

وَيَدْرَأُ	عَنْهَا	الْعَذَابَ	أَنْ تَشْهَدَ	أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ	بِاللَّهِ
او دفع کوي	له هغې نه	مجازات	چې شاهدي ووايي	څلور شهادتونه	په الله سوګند

إِنَّهُ	لَمِنَ	الْكَاذِبِينَ
چې په تحقيق دا (همسر يې)	هرو مرو	له درواغ ويونکو دی

وَالْخَامِسَةَ	أَنَّ	غَضَبَ اللَّهِ	عَلَيْهَا	إِنْ	كَانَ	مِنَ	الصَّادِقِينَ
او پنځمه (ګواهي)	دا چې	د الله غضب دې	پر ده وي	که	وي هغه (همسر يې)	له	رښتيا ويونکو

«وَيَدْرَأُ عَنْهَا الْعَذَابَ أَنْ تَشْهَدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ» هغه سخه هم څلور ځلې پر خداى شهادت ورکړي، چې دا سړی لګيا دی، دروغ وايي؛ «وَالْخَامِسَةَ أَنَّ غَضَبَ اللَّهِ عَلَيْهَا إِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ» پنځم يې دادی، چې د خداى غضب دې پر ما وي، که دا سړی له صادقانو وو.

يعنې که مېړه هغه پورتنې لفظونه ووايي، او سخه ورسره موافقه نه وي. نو بيا دې سخې ته وويل شي، چې هغه دې هم له څلور ځلو قَسمونو يادولو سره داسې بيان وکړي؛ «چې مېړه مې په دغه تور لګولو کې دروغجن دی». او پنځم ځل دې سخه ووايي؛ چې «د الله غضب دې پر ما نازل شي، که مېړه مې په دغه دعوا کې رښتينی وي.» تر هاغې چې سخه دا پورتنې الفاظ و نه وايي، په بند کې دې وساتله شي. چې يا په روښانه الفاظو په صفا توګه، د مېړه د دعوا تصديق وکړي، چې د زنا حد پرې جاري شي. يا په پورته ذکر شوو لفظونو، د خپل مېړه د دعوا تکذيب وکړي. که سخه هم د مېړه په خبر دا الفاظ ووايي، د حد له تطبيق څخه ژغورله کېږي.

کله چې دا سخه او مېړه له لعان څخه فارغ شي، نو دوی نور يو ځای ژوند نه شي کولی. او ددوی تر منځ کوروالی، يو پر بل حرامېږي. نو دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید یو بل طلاق کړي. او که داسې ونکړي، قاضي مکلف دی، دوی یو له بله بېل کړي. که څه هم دوی پر دې بېلښت، راضي نه وي.

د فقهي لیده وایي؛ دا دواړه طلاق موندي شول، یعنې یو پر بل طلاق شول؛ دا ځکه چې یو پر بل چې داسې تورونه ولګوي، او قسمونه وخوري. بالاخره یو طرف خو یې دروغ وایي. خو په هر حال کې، که کوم دروغ یې هم ویلي وي، او قسم وخوري، په دنیا کې په دې اړه کوم کیفر او جزاء نلري.

باید پاملرنه ولرو؛ چې د لعان حکم یوازې د میړه او ښځې لپاره د تطبیق وړ دی. د نورو نارینو او ښځینو لپاره، د تطبیق وړ نه دی. که څوک مؤمن وي، دا کار ورته ډېر سخت او ستونزمن برېښي. چې څلور ځلې پر خدای شاهدي ورکړي، او د خدای لعنت هم د ځای لپاره وغواړي. او هغه بل طرف هم همدا کار وکړي. چې دا څیز هم په حقیقت کې محال او ناشونتیا ته نژدې دی.

د لسم آیة، ترجمه شرح او تفسیر

وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ وَأَنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ حَكِيمٌ﴿۱۰﴾

او که د الله فضل پر تاسو [ستاسو په ښوونه او روزنه او وده کې] او رحمت یې [ستاسو د ګناهونو په ښښنه کې] نه وای [تاسو ټولو به په غیر مسئولانه توګه د خلکو له ابرو سره لوبې کولې] او الله ډېر زیات توبه قبلوونکی حکیم دی.

وَلَوْلَا	فَضْلُ اللَّهِ	عَلَيْكُمْ	وَرَحْمَتُهُ	وَأَنَّ	اللَّهَ	تَوَّابٌ	حَكِيمٌ
او که نه وای	فضل د الله	پر تاسو	او لورینه د هغه	او بېشکه	الله	توبه منونکی	حکیم دی

وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ وَأَنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ حَكِيمٌ. دا مطلب په څوارلسم آیة کې، بیا ځلې تکرار شوی دی. خو تر دې، نسبتاً په مفصله بڼه راغلی. او هلته دا هم ورسره زیات شوي، چې که د الله فضل او رحمة نه وای، نو په دنیا او آخرت کې به، په ستر عذاب اخته شوي واست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته دا آیة، د مخکښې مطلب، په اړه راغلی دی. او دا موضوع توضیح کوي، چې: دا حکم، د الله تعالی د فضل او رحمت پر بنسټ دی. او دا له دې لامله دی، چې هغه د خپلو بندګانو، توبه قبلوونکی دی. د الله تعالی په هرې پربکړې او حکم کې، حکمتونه نغښتي دي. او دا د هغه فضل دی، چې په حکم کې یې دومره نرمښت څرګند دی.

په دې آیة کې، د «لو لا» ځواب حذف شوی دی. لکه څنګه چې د آیة له ترجمې څخه څرګندېږي، چې که د الله فضل او احسان پر تاسو نه وای، نو هرومرو به یې تاسو شرمولي واست. یا ژر به یې، تاسو عذاب کړي واست؛ یعنې که دغه د «لعان» حکم، مشروع نه وای، نو د «قذف» د عمومي قاعدې سره سم، به پر مېړه د «قذف» حد تطبیق کېده. او یا به یې ټول عمر له اندېښنې، لړمون خوړین وای. ځکه کېدی شي، دا ربښتینی وي. خو د شاهدانو د نه شتون له کبله، د خپلې دعوا ربښتینوالی، نه شي جوتولی.

خو د «لعان» د حکم پر بنسټ، د ښځې او مېړه لپاره، د شاهدانو د نه شتون ستونزه، آسانه او شونې شوه. له بل لورې، که یوازې د مېړه په قسم خوړلو د زنا ثبوت کېدی، نو د ښځې لپاره به ډېره سخته ستونزه او کړاو پېښېده. په داسې حال کې، چې هغه ربښتینی هم وي. همدا راز که ښځه د هغې په قسم خوړلو سره، یقیناً بري و ګټله شي. نو پر مېړه به، د «قذف» حد اړین کېده. سره له دې چې دده په صداقت کې هم، مساوي احتمال شتون لري. نو په دغه حالت کې، د «لعان» په مشروعیت کې، د دواړو رعایت وشو. او همدغه د الله د فضل او رحمة اغېز دی. ځکه چې په فریقینو کې، چې هر یو ربښتینی وي، هغه د بې ځایه سزا څخه نجات وموند. او په دې دنیا کې، د دواړو لورو پرده پوښي وشوه. او مهلت یې ورته ورکړی دی، چې ښایي توبه وباسي. چې ددوی د توبې قبلول، د الله د توابیت د صفت نښه ده. که د خدای تعالی فضل او رحمت پر تاسو نه وای، او دا ډول قوانین یې وضع کړی نه وای، ډېر په آسانۍ به هر څوک، په همدې کارونو پسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

واى. او خداى تعالى تواب او حكيم دى. تواب يعنې توبه قبلوونكى دى، كه كومه اشتباه مو وكړه، او توبه وكړئ، خداى تعالى يې قبلوي. ځكه د خداى تعالى هر كار، د حكمت پر اساس دى.

انسانان نيمگړتيا لري، او دا خطاګانې تړې كېږي. او دا شواهد لكه څنګه چې مو وكتل، لومړى يې له سختې تنبيه سره پيل كړى دى. خو كله چې ورپسې يې سړى لولي، ددې كار په حكمت پوهېږي. او هم ناشوني ده چې، څلور شاهدان وموندل شي. ناشوني خو نه البته، ناشونتيا ته نژدې ده! دا په واقعيت كې يو ډول دفاع ده، له دې څخه، چې دا خلک رانشـي، او دا ناوړه فعل علني نكړي. خو تاسو نبه پوهېږئ، چې دا نباغلي په دې فكر كې نه دي، چې شاهد وموميـ. البته كوم كسان، چې ددې مسئلو په اړه څارنې كوي، نبايي د نور سورة نه لولي. او كه لولي يې هم، پروا يې نه كوي. او په دې تورونو، ډېر په آسانۍ د خلكو سنګسار كوي، او خلک وژني. حال دا چې ومو ليدل؛ چې كه دې پړاوونو ته هم ورسېږي، يوه جسماني تنبيه ده. چې زيات نه زيات آثار يې، تر دوو درې ورځو پورې پاتې كېږي.

د سورة متن او د لُغتونو ترجمه (۱۱ ـ ۲۰) آيتونه

إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِنْكُمْ لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَكُمْ، بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَكُمْ لِكُلِّ امْرِئٍ مِنْهُمْ مَا اكْتَسَبَ مِنَ الْإِثْمِ وَالَّذِي تَوَلَّى كِبْرَهُ مِنْهُمْ لَهُ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿۱۱﴾ لَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بِأَنْفُسِهِمْ خَيْرًا وَقَالُوا هَذَا إِفْكٌ مُبِينٌ ﴿۱۲﴾ لَوْلَا جَاءُوا عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا بِالشُّهَدَاءِ فَأُولَئِكَ عِنْدَ اللَّهِ هُمُ	جَاءُوا بِـ ... = ... مطرح يې كړ ـ الْإِفْكِ = ستر تهمت، ستر تور، ستر دروغ ـ عُصْبَةٌ = سازمان موندې ډله ـ مِنْكُمْ = له تاسو ول ـ لَا تَحْسَبُوهُ = مه انګېرئ هغه، مه ګڼئ هغه ـ امْرِئٍ = يو كس، يو سړى ـ الْإِثْمِ = ګناه، داغ، اثر، تنګ نظري ـ تَوَلَّى= پر غاړه درلود، مسئول وو ـ كِبْرَهُ = ستره برخه د هغه، مهمه برخه د هغه ـ لَوْلَا = ولې مو ونكړ ـ إِذْ سَمِعْتُمُوهُ = كله چې واورېد هغه ـ ظَنَّ = ګومان ـ بِأَنْفُسِهِمْ خَيْرًا = خپلو ځانونو ته نېک ـ لَوْلَا... قَالُوا = ولې يې و نه ويل ـ إِفْكٌ = يو تهمت، يو دروغ، يو تور ـ مُبِينٌ = ښكاره، څرګند ـ لَوْلَا جَاءُوا... بِـ = ولې يې ... را

(c) ketabton.com: The Digital Library

الْكَاذِبُونَ ﴿١٣﴾ وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ لَمَسَّكُمْ فِي مَا أَفَضْتُمْ فِيهِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٤﴾ إِذْ تَلَقَّوْنَهُ بِأَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُولُونَ بِأَفْوَاهِكُمْ مَا لَيْسَ لَكُمْ بِهِ عِلْمٌ وَتَحْسَبُونَهُ هَيِّنًا وَهُوَ عِنْدَ اللَّهِ عَظِيمٌ ﴿١٥﴾ وَلَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ قُلْتُمْ مَا يَكُونُ لَنَا أَنْ نَتَكَلَّمَ بِهَذَا سُبْحَانَكَ هَذَا بُهْتَانٌ عَظِيمٌ ﴿١٦﴾ يَعِظُكُمُ اللَّهُ أَنْ تَعُودُوا لِمِثْلِهِ أَبَدًا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿١٧﴾ وَيُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٨﴾ إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿١٩﴾ وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ وَأَنَّ اللَّهَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ ﴿٢٠﴾	نه وستل؟ ـ أَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ = څلور شاهدان ـ فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا... = نو چې ... يې را نه وستل ـ الْكَاذِبُونَ = دروغجنان ـ فَضْلُ = بخښنه، نېکي، احسان، لورېنه ـ لَمَسَّكُمْ = هرومرو تاسو ته رسېده ـ فِي مَا أَفَضْتُمْ فِيهِ = په هغه [آوازه] کې چې مو هلې ځلې کولې، په هغې کې ډوب تللي واست، هغه ته مو پاملرنه وکړه ـ أَفَضْتُمْ= ورننوتئ، ډوب شوئ ـ تَلَقَّوْنَهُ بِأَلْسِنَتِكُمْ = هغه مو ژبه په ژبه اخېستی او نقل کړی دی ـ تَقُولُونَ بِأَفْوَاهِكُمْ = پر خپلو خولو مو نقل کوه ـ تَلَقَّوْنَ = يو له بله مو اخېسته ـ تَحْسَبُونَهُ هَيِّنًا = هغه مو آسان او ساده ګڼلی وو ـ هَيِّنًا = سهل، آسان، ناڅيز، کوچنی ـ لَوْلَا... قُلْتُمْ = ولې مو و نه ويل؟ ـ مَا يَكُونُ لَنَا = مور ته نه ښايي ـ أَنْ نَتَكَلَّمَ = چې خبرې وکړو ـ بِهَذَا = په دې اړه ـ سُبْحَانَكَ = ته سپېخلی يې ـ بُهْتَانٌ = تهمت، تور، هغه دروغ چې اورېدونکی يې له بدوالي هېښ پېښ شي ـ يَعِظُكُمُ = تاسو ته پند درکوي ـ أَنْ تَعُودُوا = چې و نګرځئ تاسو ـ يُبَيِّنُ = ښکاره کوي ـ يُحِبُّونَ = خوښوي ـ أَنْ تَشِيعَ = چې شايع شي، چې خپور شي ـ الْفَاحِشَةُ = ډېر زشت کار، ډېر ناوړه کار ـ رَءُوفٌ = زړه سواند.

د نور سورة تشريح (۱۱ – ۲۰) آيتونه

تر دې ځايه آيتونه د عمومي قوانينو په اړه ول. اوس په ورپسې آية کې يوې پېښې ته اشاره کوي چې په پنځم لېږديز کال کې په اسلامي ټولنه کې رامنځته شوې ده، د هغې په اړه خبره کوي، داستان يې ډېر څرګند نه دی، هغه څه چې مفسرينو ويلي، وايي: په يو له دې جنګونو کې [چې غالباً د بني مصطلق غزوه وه] کله چې لښکر يې له ښاره بيرون ايسته نو هغه مهال هلته خو له څو اوښانو او آسونو پرته نقليه وسايل نه ول، ټول به پياده تلل. نو ګهيځ مهال درې، څلور يا پنځه بجې وختي به يې حرکت کاوه. چون لښکر به معمولاً ګهيځ د وخته حرکت پيل کوه، معمولاً

(c) ketabton.com: The Digital Library

پيغمبر به د خار لپاره يو خوک لټوه چې ووينې که خوک شا ته پاتې شوی وي يا په خوب ويده پاتې شوی وي ورته ناڕې کړې چې له لښکره پاتې نشي، ظاهراً په يو له دغو موردونو کې کوم کس يې چې لټولی وو [چې غالباً صفوان بن مُعَطّل وو]، هغه وليدل چې د پيغمبر يوه مېرمن عايشه شا ته پاتې شوې وه [د حضرت رسول اکرم(ص) له اصولو سره سم کله به چې کومې غزا ته، ته او لښکر به يې له ښاره بهرون ايسته له امهات المؤمنين څخه يوه به يې د قرعې پر اساس له ځان سره بوولە].

د روايتونو له مخې چې وايي د يوې ډبرې شا ته ويده پاتې شوې وه ښکاره خبره ده چې د خار لپاره به يې يو ځوان لټوه، نو دوی دواړه چې د قافلې د شا له وروسته راتلل، په دې ترڅ کې هغوی چې د پيغمبر مخالفين ول، ددوی له وروسته راتګ څخه يې سوژه جوړه کړه، او د پروپاګند او تبليغاتو لپاره يې موضوع پيدا کړه. ددې لپاره چې پيغمبر ته يې د کورنۍ له لارې ضربه ورکړي وي، البته دا په قرآن کې نشته، مفسرين يې له تاريخه نقلوي. په ځانګړي توګه قرآن دا نه بيانوي، چې څه څيز وو او څوک وو، دا اصلاً اهميت نلري. اهميت يې پخپله په مسئله کې دی، نه په شخص يا وګړي کې. خو مورِ عادت لرو او ليوالتيا لرو، چې پوه شو، چې څوک وو او چرته وو. نو دا د يوې پېښې داستان دی، چې په ټولنه کې پېښ شوی دی او په قرآن کې په لاندې توګه تجزيه او تحليل کېږي:

د يوولسم آية، ترجمه شرح او تفسير

إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِنْكُمْ لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَكُمْ، بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَكُمْ لِكُلِّ امْرِئٍ مِنْهُمْ مَا اكْتَسَبَ مِنَ الْإِثْمِ وَالَّذِي تَوَلَّى كِبْرَهُ مِنْهُمْ لَهُ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿۱۱﴾

کوم کسان چې د هاغه تور او بهتان [= د پيغمبر په مېرمن د زنا د تهمت] مرتکب شول، [د کافرانو له ډلې څخه نه، بلکه] يوه متشکله ډله خپله له تاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه ده،[۷] دغه [پېښه] د خپل ځان لپاره شرّ مه ګڼئ [چې د رسول الله کورنۍ ته سپکاوی شوی دی] بلکه [د منافقانو د ماهیت د افشاء کیدلو او څرګندېدلو له امله] تاسو لپاره خیر دی. او د هغوی هر یو لپاره [چې د دې افواه په خپرولو کې یې یو ه برخه درلوده] د هغوی له کړنو سره متناسب عقوبت او پایله ده، او هم د هغه چا لپاره، چې په دې پېښه کې یې اصلي نقش درلود، عظیم [او ستر] عذاب دی.

إِنَّ الَّذِينَ	جَاءُوا بِالْإِفْكِ	عُصْبَةٌ	مِنْكُمْ	لَا تَحْسَبُوهُ	شَرًّا	لَكُمْ
ښکه هغوی چې	د دروغو ستر تور راوړ	یوه ډله	له تاسو	مه انګېرئ هغه	بدي	ستاسو لپاره

بَلْ هُوَ	خَيْرٌ لَكُمْ	لِكُلِّ امْرِئٍ	مِنْهُمْ	مَا اكْتَسَبَ
بلکې هغه	غوره دی تاسو ته	لپاره د هر یو وګړي	له هغوی څخه	هر هغه څه چې کړي یې دي

مِنَ الْإِثْمِ	وَالَّذِي	تَوَلَّى	كِبْرَهُ	مِنْهُمْ	لَهُ	عَذَابٌ	عَظِيمٌ
له ګناه څخه	او هغه چا چې	رهبري کړ	ډېره برخه د هغې	له هغوی	هغه لپاره	عذاب دی	ستر

۷ – «عُصبه» د «عَصَبْ» له ریښې، یو متشکل ټولي ته ویل کیږي. چې لکه د «اعصابو د لړی» په څېر، یا سازمان موندې شبکه، چې یو تر بله په یو والي او پیوستون کې، ځواکمن شوې وي. تعصب هم، چې یو سیاسي یا مذهبي سازمان ته، یو ډول سخت ړوند او کورکورانه تړاو دی، له همدغې ریښې څخه دی. د یوسف ورونه هم چې لس یو لاس ځوانان ول، خپل ځانونه یې عُصبه ګڼل: «إِذْ قَالُوا لَيُوسُفُ وَأَخُوهُ أَحَبُّ إِلَىٰ أَبِينَا مِنَّا وَنَحْنُ عُصْبَةٌ إِنَّ أَبَانَا لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ» [یوسف۸(۱۲:۸)] او «قَالُوا لَئِنْ أَكَلَهُ الذِّئْبُ وَنَحْنُ عُصْبَةٌ إِنَّا إِذًا لَخَاسِرُونَ» [یوسف۱۴(۱۲:۱۴)].

«إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِنْكُمْ». هغوی چې د «اِفک» مرتکب شوي دي، «اِفک» یعنې یوه دروغ او یوه سرچپه خبره، هر هغه څیز چې اپوټه یا اولټه وي، ستر تهمت، ښکرور دروغ، منګړت، او له ځانه توړلې دروغ ـ چې اصلاً مقابل لوری یې له هغه هیڅ خبر نه دی. یو هوای تور یې، ورپورې ترلی دی. هغوی چې، په یوې پتمنې، عفتناکې، نجیبې میرمن پسې تور لګولی، یو تهمت یې کړی. یعنې هغوی چې «افک» جوړ کړی دی، او پنځولی دی؛ «عُصْبَةٌ مِنْكُمْ» یوه شئ، چې دا ښه موندې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

متشکله ډله، او يو شمېر له يو بل سره تړلي افراد، ستاسو له خپله منځه دي. دا ستاسو د خپلو خلکو له لور، يو لړ تشکيلات دي، «عُصبه» لکه د اعصابو په څېر؛ د اعصابو لړۍ، چې په حقيقت کې يوه شبکه ده، يو جال دی. يوه ونه ده، چې په حقيت کې ريښې لري، يوه تنه لري، ښاخونه او څانګې لري، په حقيت کې يوه منظمه شبکه ده.

مورِ په خپل بدن کې، ظاهراً اوه ډوله شبکې لرو؛ تور رګونه، سره رګونه، لمفاوي سيستم، د اعصابو سيستم، او نور... دوی په خپلو کې، له يو بل سره وصل دي. عُصبه يوې ډلې ته ويل کېږي، چې ځواکمنه ده. او پخپلو کې، له يو بل سره وصل شوې ده. تعصب هم همدا دی؛ چې تاسو ددې پر ځای چې، حق درته مطرح وي، يو ډول نښتون ارتباط او تړاو، له يوه ګوند، يوې ډلې، يا يو مذهب سره ولرئ. او ستاسو شخصيت، په يوې منظمې ډلې يا ګوند کې، تعريف شي، دې ته تعصب وايي. نو «عُصبه» د «عَصَبْ» له ريښې، يو متشکل ټولي ته ويل کيږي، چې لکه د «اعصابو د لړۍ» په څېر، يا سازمان موندې شبکه، چې يو تر بله په يو والي او پيوستون کې، ځواکمن شوې وي. تعصب هم، چې يو سياسي يا مذهبي سازمان ته، يو ډول سخت ړوند او کورکورانه تړاو دی، له همدغې ريښې څخه دی.

د حضـرت يوسف په داستان کې هم، يوسف (ع) چې لس ورونه يې يو لاس متحد درلودل. هغه ورونه، چې د حضرت يوسف له خپلې مور څخه نه ول. هغوی ويل «نَحْنُ عُصْبَةٌ» مورِ يو عصبه يو. زمورِ د پلار پاملرنه، ولې يوسف ته ده، او مورِ ته پاملرنه نه کوي. «إِذْ قَالُوا لَيُوسُفُ وَأَخُوهُ أَحَبُّ إِلَىٰ أَبِينَا مِنَّا وَنَحْنُ عُصْبَةٌ إِنَّ أَبَانَا لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ» [يوسف۸(۱۲:۸)] چې کله [ديوسف ورونو يو بل ته] وويل: زمورِ پلار ته يوسف او [سکه] ورور يې [=بنيامين؛ چې له يوې مورې وول] تر مورِ ډېر ګران دي، او [سره له دې، چې] مورِ غښتلې ډله[= يو لاس، ځواکمن او د کورنۍ چارسمبالي] يو! ربښتيا خبره دا ده، چې پلار مو په ښکاره تېروتنه کې دی. او همدا راز «قَالُوا لَئِنْ أَكَلَهُ الذِّئْبُ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَنَحْنُ عُصْبَةٌ إِنَّا إِذًا لَخَاسِرُونَ» [يوسف۱۴(۱۲:۱۴)]. ويې ويل : زمور [د دومره] پياوړې ډلې په شتون کې که لېوه يې رانه وخوري؛ نو په دې صورت کې به مور ډېر زيان کاري [= بې پته او بايلونکي] يو [او دا کار کله هم شونی نه دی].

نو «عُصبه» يعنې هغه ډله چې متشکله ده، ځواکمنه ده، او يو تر بله يو لاس او متحد دي. وايي: دا يوه ناڅاپي، تصادفي او فردي مسئله نه ده، شا ته يې يو لړ تشکيلات دي. قرآن په دې وسيله، مؤمنين او مسلمين راوېښوي. چې پاملرنه ولرئ، ستاسو په خپل منځ کې، هغوی چې په اسلام تظاهر کوي، داسې وګړي، او ډلګی شتون لري. چې د داسې خطرناکو مقصدونو او موخو، پسې دي. يعنې وايي؛ دا د منافقينو ډله، چې ظاهراً مسلمانان شوي دي، هغوی چې مخکې له دې، بُت پرستان او بُت پالي ول. او اوس ددې لپاره مسلمانان شوي دي، چې د اسلامي ټولنې، له ګټو برخمن شوي وي.

«عُصْبَةٌ مِنْكُمْ» ددې اشاره؛ د منافقينو همداسې، يوې منظمې ډلې ته ده. چې د لستونې د مار په څېر، د مسلمانانو په ټولنه کې ننوتي دي. او په ظاهري بڼو او طور طريقو کې يې، له مسلمانانو څخه ټوپير نه کېده، که دوی ته به کله په ټولنه کې، د زهر خپرولو موقع لاس ته ورتله، هغه به يې له لاسه نه ورکوله. او ډېری ساده مسلمانان به، په ناخبرۍ کې، د دوی تر اغېز لاندې راتلل. – نو قرآن د «عُصْبَةٌ مِنْكُمْ» په ويلو سره، د هغوی لور ته ګوتنېونه کړې ده. او له دې نغوتې څخه د قرآن موخه، د مسلمانانو ويښيارول، او هوښيارول دي.

وايي: يوه متشکله او ځواکمنه ډله، له تاسو څخه ده. يو ټولی دی، ستاسو مسلمانانو له خپلو منځونو څخه، چې په دروغو يا رښتيا د اسلام مدعيان دي. يعنې د تور اور لګوونکي، ستاسو له خپله منځه يوه ډله ده. چې خپلو ځانونو ته، مسلمانان هم وايي. دوی څو تنه سره يو ځای شوي دي، او داسې ناوړه او ناروا تور يې، ترلی دی. او يو څو نور وګړي هم، له ساده ګۍ او ناپوهۍ سره، پرته له دې چې، سنجش وکړي، د دغو چغلګرو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ناوړه او چټې خبرو او چغلۍ غولېدلي دي. او دا د الله ستر احسان دی، چې ګرد مسلمانان، په دغه لومه کې، نه دي نښتي!.

قرآن غواړي ووايي د دغې «افک» د قصې جوړول د هاغو کسانو له خوا چې هغه يې جوړه کړه، د غفلت او ناپامۍ له مخې نه وه د يوې ځانګړې موخې او هدف لپاره وه، د هغوی موخه او هدف هم د پيغمبر(ص) له اعتباره غورځول او بې ابرو کول وو، چې خپلې موخې ته ونرسېدل. ستاسو له خپله منځه يو شمېر وګړي دي، يو ټولګی دی، چې يو تر بله تړاو او تباني لري. او دا تعبير پخپله يوه نغوته پر دې ده، چې په دې کې تهمت کارول شوی دی. او دا ددې لپاره وو، چې پر دې بنا دا دروغ وتوړي، او هغه خپاره کړي. چې دوی پخپل زړه، د رسول الله(ص) قداست او نزاهت رټن کړي، او هغه د خلکو په منځ کې رسوا کړي.

نو ځکه قرآن وايي: پوه شئ! هغوی ستاسو له خپله منځه، يو تر بله تړلې يوه ډله وه؛ نو معلومېږي، چې ذکر شوې جمله يوه فايده افاده کوي. او ورپسې وايي: دا يو شر وو، چې پايله يې خير وو. او په واقعيت کې دا ستاسو لپاره شر نه وو: «لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَكُمْ بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَكُمْ» ګومان مه کوئ، تاسو مه انګېرئ، چې دا ستاسو لپاره شر شو. فکر مه کوئ، چې ستاسو لپاره ډېره بده شوه. يا کوم شر رامنځته شو، چې وايست زمور پيغمبر ته يې توهين وکړ. زمور د پيغمبر ناموس يې تر پوښتنې لاندې راوړ، [که ربنتيا د پيغمبر ښځې ته دا پېښه شوي وي، لکه څنګه چې ډېرو ويلي دي.] څه پېښه شوې، ابرو تويه شوه.؟ خو قرآن وايي؛ فکر مکوئ، چې کوم بد کار شوی. ګومان مه کوئ، چې دا د مسلمانانو لپاره يوه بده پېښه او ماتې وه؛ نه خير، دا داستان د هغه له ټول تريخوالي سره، د اسلامي ټولنې په ګټه او خير وو.

«بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَكُمْ» بلکې دا ستاسو په ګټه دی. ولې مو په ګټه دی؟ ځکه له دې لارې، د افرادو دريځ څرګندېږي، د هغوی په اړه يو شناخت، او پېژندنه رامنځته کېږي. دا د هاغو مسلمانانو، د تسل لپاره دی؛ چې په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

موضوع او دې پروپاګند کې، ورته صدمه رسېدلې وه، او خواشيني شوي ول. ورته وايي: دا تاسو ته ډېره ښه شو. يو خو تاسو د هاغو کسانو واقعي څېره وپېژنده، او بله دا چې دا داسې يو ګوابن او د «تيارسئ» خبر وو، چې مسلمانان ويښيار او هوښيار اوسي؛ چې د دښمن له تبليغاتو څخه، چې منافقين يې د مسلمان په لباس کې کوي، هغوی ته تل هوښيار او تيار اوسي. چې په پايله کې يې، پاک او سپېڅلې مسلمانان د تل لپاره، د چغلګرو او رذيلو خلکو له تور او بهتان څخه، خوندي او وژغورل شول.

نو ځکه قرآن، دا داستان خير ګڼي نه شر. او حال دا چې، هغه داستان ډېر تريخ وو؛ داسې يو داستان چې، پيغمبر ته د ضرر رسولو، او د مسلمانانو د افتضاح لپاره، طرح شوی وو. او له دې وروسته، پر له پسې کابو څلوېښت ورځې تېرې شوې، تر دې چې وحی نازل شوه، او ورو ورو اوضاع روښانه شوه. الله تعالی پوهېږي، چې په دې موده کې، پر پيغمبر اکرم او د هاغه حضرت په کورنۍ، نژدې خپلوانو او ملګرو څه تېر شول!

قرآن په دوو لاملونو وايي چې دا خير دی: لکه څنګه چې مو وويل؛ يوه دا چې د منافقانو ډله وپېژندل شوه. په هره يوه ټولنه کې يو له سترو خطرونو دادی، چې ليکي څرګندې نه وي. مؤمن افراد او منافق افراد ټول، پر يوه ليکه برېښي. تر هاغې مهاله، چې اوضاع آرامه ده، کوم خطر نه لري؛ يو ټکان چې ټولنې ته ورسېږي، ټولنه د خپلو منافقينو له اړخه، ستره صدمه وينې. نو ځکه په مطلقه توګه، کومې پېښې چې په ټولنه کې، رامنځته کېږي. چې د ازمېښتونو په پايله کې، مخې ته راځي، او پټ وګړي راڅرګندېږي. مؤمنان د مؤمنينو په ليکه کې ځای نيسي. او له منافقانو د نفاق پرده څيرې کېږي. او په هاغه ليکه کې چې له هغوی سره ښاييږي، ځای نيسي. دا د ټولنې لپاره، يو ستر خير دی.

هاغو منافقينو چې، دا د دروغو داستان، جوړ کړی وو. هغه څه چې [د قرآن په تعبير] هغوی ته پاتې شو، د «اثم» په خبر وو [اثم يعنې تنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظري ـ د ګناه داغ] . د ګناه داغ پر دوی پاتې شو، تر څو ژوندي ول، نور يې اعتبار و نه موند. [او ټولو ورته ويل:] تاسو هماغه منافقان ياست، چې هاغه د دروغو داستان مو جوړ کړ. دا يوه فايده.

دويمه فايده: و مو ويل؛ چې د داستان جوړوونکو، دا داستان په آګاهانه توګه، په دروغو جوړ کړ، نه په ناپوهۍ کې. خو عام مسلمانان په ناپوهۍ کې، ددې «عصبه» لپاره وسيله شول. ډېرى مسلمانان سره له دې چې مسلمانان ول، ايمان والا او مخلص ول، کوم غرض او مرض يې نه درلود، د دې «عصبه» لپاره لوړغږى [لوډ سپيکر] جوړ شول، خو د ناپوهۍ او نه پاملرنې له مخې. چې پخپله قرآن هغه ډېر ښه تشريح کوي.

دا د ټولنې لپاره يو ستر خطر دى، چې افراد يې ناپوه او نا آګاه وي. دښمن کـه ځيرک وي، دوى پخپلـه، د دوى د خپـل ځـان پـر ضـد وسيله کـوي: د دروغـو يـو داسـتان جـوړوي، او بيـا دا داسـتان د دوى خپلـو ژبـو تـه اچـوي. چـې دوى پخپلـه، هغـه قصـه او خـبره، چـې د دوى دښـمنانو، د دوى پـر ضـد جعـلي جـوړه کـړې ده. بيـا ويښه يې وکړي، او تکرار يې کړي، او په لوړ غږ يې ووايي.

يو وايي؛ داسې يوه خبره مې، اورېدلې ده. بل وايي ما هم اورېدلې ده. او همداسې يوه دروغ خبره، په ناپوهۍ کې ژبه په ژبه لېږدوي. دوى نه پوهېږي، کومه خبره چې دښمن جعل کړې ده. د هغه پر وړاندې د دوى دنده ده، چې هم هلته يې تر پښو لاندې ښخه کړي. اصلاً دښمن غواړي، دا خبره د خلکو تر منځ خپره شي. تاسو يې بايد پرې خاورې واړوئ او ښخه کړئ، او يو نفر ته يې هم و نه وياست. چې په دې وسيله، له ځيرکتيا سره د دښمن نقشه، د اوبو نقش کړئ.

نو دويمه فايده دا وه، چې کومه اشتباه چې مسلمانانو وکړه، [د هغوى د وېښتيا لامل شوه]. مسلمانانو هاغه خبره، چې يوې «عصبه» [يو له بل سره په ټراو کې يوې ډلې] جعل کړه، په ساده ګۍ او ناپوهۍ له هغوى واورېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او وروسته به بيا هر يو چې، له بل سره مخامخ کېدل، ويل يې: داسې يوه خبره مې اورېدلې؛ هغه بل ويل: نه پوهېږم، خداى عالم دى، ما هم اورېدلې؛ بل ويل: عجيبه ده! زه خو نه پوهېږم رښتيا دي يا درواغ، خداى عالم دى، خو اورېدلي مې دي؛ بيا ده، هغه بل ته نقل کړ. او ... پايله دا شوه، چې د مسلمانانو ټولنه، ساده لوحانه او ناآګاهانه، د يوې اوه، اته کسيزې ټلوالې، لوډسپيکر او لوړغږې شوه.

دا د «افک» داستان، چې پيدا شو، د ټولو لپاره يو عجيبه «ويښ شئ» وو. ټولو خپلې سترګې ومښلې، او و يې ويل؛ نه يوازې هغوى مو وپېژندل، خپل ځانونه مو هم وپېژندل. مور ولې د دا ډول سترې اشتباه، ارتکاب وکړ. ولې د دوى د لاس آله، او د دوى لوړغږي شولو؟!

نو د [«افک» د داستان] دويمه ګټه، همدا وه. چې مسلمانانو ته يې يوه آګاهي، او هوښيارتيا ورکړه. او دا يې پخپله، په قرآن کې راوړې، چې تلپاتې شي؛ د قرآن آية نازل شو، چې خلک يې د تل لپاره ولولي. او تلاوت يې کړي. او د تل لپاره ترې درس واخلي، چې اى مسلمانه! ناآګاهانه وسيله مه جوړېږه، په ناپوهۍ کې د دښمن لوړغږى [لوډسپيکر] مه اوسه.

د دې خير، درېم اړخ دا دى؛ چې دې پېښې، د ټولنې د اصلاح او تنظيم پورې اړوند، د ډېرو حکمونو او هدايتونو د نزول لپاره، چاپېريال او ځمکه او ډګر برابر کړل. که له دې چاپېريال پرته، دا احکام نازل شوي واى، نو پر ډېرېو خلکو به د هغه حقيقي قدر او قيمت، څرګند شوى نه واى.

نو دا چې قرآن وايي؛ دا داستان خير دى [لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَكُمْ، بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَكُمْ] يو هم له دې کبله دى، چې دا ستاسو لپاره درس دى: اى مسلمانانو! خپل قرآن ولولئ، تلاوت يې کړئ، تفسير يې کړئ، تدبر پکې وکړئ. او له دې څخه پند واخلئ؛ او بله دا چې، د هاغو شايعاتو، لوړغږي او بلندګو مه کېږئ، چې دښمنان يې، ستاسو لپاره جعل کوي. لکه څنګه چې مو وويل؛ د دې خطاب ټولو مؤمنينو ته دى، او موخه يې د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېښې، د شريّت نفي او د خيريت اثبات دی. د صالحو ټولنو له نېمکرغيو يوه دا ده؛ چې د ضلالت او فساد اهل، په هغو ټولنو کې وپېژندل شي، او ټولنه د هغوی د وضعې په نسبت، بصيرت ومومي. او د فاسدو غړو، د اصلاح لپاره لاس په کار شي.

په ځانګړې توګه په ديني ټولنو کې، چې سروکار يې له آسماني وحی سره دی. او په هره پېښه کې په دې ټولنه کې، د خدای پر استازي، آسماني وحی نازلېږي. او د ټولنې غړو ته موعظه او تذکر کوي؛ چې څه ډول، له پېښو او واقعاتو ګټه واخلي، او نور د خپلو چارو په اړه غفلت، بې پروايي، او له سره تېرونه او تېروتنه و نه کړي. بلکې د دين په چارو کې، او د ژوندانه په هره موضوع کې، احتياط وکړي.

ددې معنا لپاره دليل، د «لِكُلِّ امْرِئٍ مِنْهُمْ مَا اكْتَسَبَ مِنَ الْإِثْمِ» جمله ده، چون اثم عبارت دی، له هاغو بدو آثارو او نښو څخه، چې له ګناه وروسته انسان ته پاتې کېږي. نو د جملې ظاهري معنا دا ده: هغوی چې دا تور لګولی وو، د خپل عمل له بدو نښو او آغېزو پېژندل کېږي. او له نورو يې په همدې توسه توپير کېږي. او په پای کې ددې پر ځای چې «رسول اکرم(ص)» ته ضرر ورسوي، او هغه رسوا کړي، پخپله مفتضح او رسوا شول.

نو هر چا چې، په دې اړه، څومره وړه اخېستې. په هماغه تناسب، د خدای په نزد ګناهکار دی. چون اثم د تنګ نظرۍ په معنا دی، دوی هر يو د خپل عمل په توسه په مختلفو کچو تنګ نظري څرګنده کړه، او د ګناه داغونه يې پر ځان پرېښوول. يعنې هر چا چې، څومره وړه، په دې فتنه کې اخېستې، په هماغه کچه ګناه يې د ځان لپاره وګټله، او په همدې کچه د سزا مستحق دي. مثلاً؛ ځېنې کسان خوښ شول، او په خوند، خوند يې د دې واهي او چټې خبرو تذکره کوله، ځېنو د افسوس او خواشينۍ د اظهار په ډول، ځېنو د څېړنې او تفتيش په اصولو ـ هرو مرو، د دغې خبرې په چاپېريال کې يې، ګروېګنې او پلټنې کولې. ځېنې د داسې خبرو له اوربدلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه، په تردد او اندېښنه کې لوېدل. ډېر کسان، په دې اړه، چپ او غلي ناست ول. ډېرو کسانو به، د دغو افواهاتو تکذیب کاوه. او دا خبره يې مطلق دروغ ګڼله، چې دا وروستني خلک، الله تعالی غوره او خوښ کړل.

«وَالَّذِي تَوَلَّىٰ كِبْرَهُ مِنْهُمْ لَهُ عَذَابٌ عَظِيمٌ» هغه چا چې اصلي نقش لوبولی، «تَوَلَّى» يعنې هغه چا چې ولايت کړی، د «كِبْرَهُ» کليمه مفسرينو د تهمت د ستر او معظم، او ددې کار د نقشې جوړوونکي په توګه معنا کړې ده، او د هغه ضمير يې تهمت ته ورګرځولی او ويلي يې دي معنا يې دا ده:

هغه څوک چې د دې «افک» مشر دی، معظم او ستر يې دی او ډېرتر مسئوليت يې پر غاړه اخېستی وي او د تور لګوونکو له منځه يې تر ټولو زيات د افک د خپرولو لپاره فعاليت کړی وي، يعنې د دې کار رهبری يې کړې، مديريت يې کړی تر ټولو ستر نقش يې پکې لرلی دی، د الله په نزد ستر عذاب لري. دوی غواړي يوه ټولنه له ستونزو سره مخامخ کړي، پرته له دې چې خلک اطلاع ولري، بې خود د هغوی ابرو يې له خطر سره مخامخ کړې ده. او په دروغو تور لګولو سره د خلکو له ابرو سره لوبې کوي، چې په دې آية کې يې بيان کړل. ورپسې د خلکو نقش په دې پېښه کې توضيح کوي:

د دولسم آية، ترجمه شرح او تفسير

لَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بِأَنْفُسِهِمْ خَيْرًا وَقَالُوا هَذَا إِفْكٌ مُبِينٌ ﴿۱۲﴾

هغه مهال مو چې هغه [بې بنسټه افواه] واورېدله، ولې مؤمنان نارينه او مؤمنانې ښځې په خپلو کې يو بل ته ښه او خوش بين نه ول او ويې نه ويل دا خو څرګند درواغ دي؟ (۸)

لَوْلَا	إِذْ	سَمِعْتُمُوهُ	ظَنَّ	الْمُؤْمِنُونَ	وَالْمُؤْمِنَاتُ
ولې نه	هغه مهال چې	چې تاسو هغه واورېد	ګومان وکړ	مؤمنانو سړيو	او مؤمنانو ښځو

خَيْرًا	وَقَالُوا	هَذَا	إِفْكٌ	مُبِينٌ
د خير، د خوشبينۍ	او ويلي يې واى	دا	درواغ دي	څرګند، ښکاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸ – «اِفک» د لغت پوهانو په وينا هر هغه څيز چې له خپل حقيقته اړول شوی وي. دا کلمه يو ډول د اند او کړنو سرچپه والی ښيئ. درواغ يي هم له دې لامله «اِفک» نومولي دي چې واقعيت اړوي.

«لَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ» کله مو چې دا خبر واورېد، ولې مؤمنو نارينو او مؤمنو ښځو، يو پر بل ښه گومان ونکړ، او يو بل ته خوشبين نه ول. او ويې نه ويل، دا يو څرگند او ښکاره «اِفک» دی، ښکاره دروغ دي. يعنې ولې مو دې خبر ته، هرکلی او استقبال وکړ. ولې په لېوالتيا او تمايل، دې خبر پسې لاړئ. يعنې ولې مو ومنه، جذب مو کړ. يعنې يوه اسلامي ټولنه بايد، په خپل منځ کې يو بل ته، خوشبين اوسي. دوی خو دليل نه دی راوړی، دوی خو څلور شاهدان، هم نه دي راوړي. «لَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ» کله مو چې واورېد، «لَوْلَا»، «لا» ورگرځي «ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ» ته، ظن يعنې گومان، فکر، انگېرنه. ولې يې د خير په اړه، انگېرنه او اندنه نه درلوده، يو بل ته خوشبين نه ول. دا «لا» قالو ته، هم ورگرځي «لا قالو» و يې نه ويل «هَذَا إِفْكٌ مُبِينٌ» دا خو ښکاره دروغ دي. يعنې؛ تاسو مؤمنينو او مؤمناتو چې د «افک» اورېدونکي واست، ولې مو و نه ويل؟ چې دا وينا «افک» او يو ښکاره دروغ دي. له دې سره چې د ديني قاعدې پر بنسټ، هاغه خبر چې مخبر يې پر هغې علم نه لري، او هغه ادعا چې مدعي يې پرې کوم شاهد نه لري، پر کذب محکوم دی. څه دا که په واقعيت کې دروغ هم وي، يا دا که رښتيا وي. دا معنا چې مورِ وکړه، دليل يې دا جمله ده؛ «... فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا بِالشُّهَدَاءِ فَأُولَئِكَ عِنْدَ اللَّهِ هُمُ الْكَاذِبُونَ...» [نور۱۳(۲۴:۱۳)] . فرمايي: کله چې مدعي شاهد نه راوړي، د خدای په نزد – شرعاً – په دروغ ويلو محکوم دی.

دا يوه روحيه ده، يو فکر دی، لگيا دی، په خلکو نيوکه کوي. څه خبره ده ولې؟ ـ يو څوک راغی، يو خبر يې راوړ، او و يې ويل؛ ولې تاسو ورته پرته له تحقيقه غوږ ونيو، او لمن مو ورته ووهله، او خپور مو کړ. د «...ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بِأَنْفُسِهِمْ...» جمله، د ضمير پر ځای د ظاهر اسم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کارولو له بابه دی، او اصل يې «و لو لا ظننتم بانفسكم» وو، او که داسې يې نه دي فرمايلي، او هغسې يې وفرمايل؛ ددې لپاره وو، چې د حکم پر علت دلالت وکړي، او وپوهوي، چې د ايمان صفت طبعاً مؤمن ته له عملي او ژبني فحشاء، او منکراتو څخه رادع او مانع دی [= ايساروونکی او مخ نيوونکی دی]. او هغه څوک چې، په ايمان متصف دی. بايد نورو وګړو ته، چې د هغه په څېر متصف په ايمان دي. د خير او ښېګڼې ظن، ګومان او انګېرنه ولري. او د هغوی په اړه، له علم پرته خبره ونکړي. ځکه ټول د ايمان اهل، لکه د واحد وجود په څېر دي. چې متصف په ايمان، او د هغه په آثارو متصف دي. پر دې بنا، د آية معنا داسې کېږي؛ ولې؟ کله چې مو «افک» واورېد، د دې پر ځای چې د متهمو مؤمنينو په نسبت، حسن ظن ولرئ. د «افک» په تورونکو مو، حسن ظن پيدا کړ. او له علم پرته مو، د ايمان د اهل په اړه، داسې خبرې وکړې.

په اسلامي ټولنه کې، د ټولنې د هر غړي نارينه او ښځينه، دا حق او دنده ده، چې د ټولنې، د نورو غړو په اړه، حسن ظن او نېکه انګېرنه ولري. او تر هاغې د دې حق درناوی وکولی شي، چې مطرح شوی خبر، د يو دليل په توسه، جوت شوی نه وي. ددې حق اړينه تقاضا دا ده، کله چې د کوم مسلمان په اړه، د بل مسلمان غوږ ته داسې خبره ورسېږي، چې دا حسن ظن او نېکې انګېرنې له خطر سره مخامخ کوي، نو هغه دې دا خبره د يوې تحقې په توګه نه ګڼي، چې د هغه نقل او روايت پيل کړي. بلکې دا د مسلمان دنده ده، چې هغه رد کړي. او تر هاغې پرې باور ونکړي، چې هغه خبره په سمه او څرګنده توګه ثابته او جوته شوي نه وي.

په دې ډول معاملاتو کې، د بې طرفۍ رويه هم، جائز نه ده. چې سړی هغه پردی جګړه وګڼي، او ووايي؛ چې بل بدنامېږي، ما ته يې څه! بلکې تر وسې وسې د خپل ورور، يا خپلې خور، مدافعت اړين دی. دا ځکه چې پر هر مسلمان، د بل مسلمان، د عزت او پت ساتنه، فرض ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلامي ټولنې، د دې اخلاقي اصولو پر بنسټ، مسلمانان يې متنبه او خبر کړي، چې کله ستاسو غوږونو ته، داسې يوه خبره ورسېده، نو تاسو ولې يو تر بله له نېک نيتۍ، او حسن ظن څخه کار وانخېست. او په ډاګه مو دا اعلان ونکړ، چې دا بنکاره بهتان، او څرګند تهمت دی.

اوس راشئ، خپله ټولنه، د اسلامي ټولنې له دې اخلاقي اصولو سره، پرتله کړئ. نو څرګنده به شي، چې زموږ ټولنه، له دې اخلاقي اصولو سره، څومره ډېر واټن لري. او همدا اوس، زموږ په ټولنه کې، سل په سلو کې، ددې اصولو، سرچپه او پرعکس رويه او کړنې، واکمنې دي.

وســـمهال زموږ په ټولنه کې، دا نظريه واکمنه ده. چې هر څوک د ســوء ظن او بدګومانۍ، مستحق دی. مــګر دا چــې، له کــوم شــخصــي، يا کوم ډله ايز غرض او سرچينې سره، څوک تړاو ولري.

ايمان، په نظر کې نه نېول کېږي، او نه ديني ورورولي. که څوک د شخصي او ډليز ايز تړاو سره اړيکه ونلري، د ټولنې هر غړی د بدګومانۍ وړ دی. او هر چا ته د شک په سترګه کتل کېږي، او په دولتي سطحه يې ورته، اداري جوړې کړي، چې شپه او ورځ د افواه او شک پر بنسټ، پلټنې کوي، چې ګواکې په دې اړوند د اشخاصو په اړه لاسوند ومومي.

د نورو په نسبت، هېښنده او حيرانوونکي خبرونه، د شايعاتو او افواهاتو خپرونه، د دې زمانې، ځانګړی او ويارلی فن دی. او دا عمل تر ټولو بريالۍ دنده جوړه شوې ده. هغوی چې څومره ډېر کولی شي، حيرانوونکي او د خلکو رسوا کوونکي، خبرونه خپاره کړي. داسې کسانو ته په ټولنه کې، او په رسنيزو حلقو کې، خاص مقام ورکول کېږي، او دا کسان د درناوي وړ ګڼي.

تاسو به ليدلي وي، چې د ډيريو، د قلم خاوندانو، او د پوهې او علم د اهل، دنده همدا ده. او پر دې ډېر ويارې، که څوک د داسې مهارت، څښتن وي. او غواړي له دې لارې، خپل اولاد ته هم ويار، وګټي. په رسنيو کې، په ځانګړې توګه، د خواله رسنيو له مطالعې، په آسانۍ پوهېدی شئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د داسې افواهاتو د خپرولو له لارې، څومره خلکو، ځانته د روزې ګټلو، وسيلې برابره کړې دي. او د ډېرو خلکو د پانګو او سپما زياتولو لپاره، بهترينه ذريعه او وسيله همدا ده. او ډېر تکړه ليکوالان، او خبرلوڅان، په دې اړه ډېر تېز او چابک دي، او په خپل زړه ويارنې پنځوي.

او د ټولنې د مفسد مزاج حال، خو دا دی؛ چې خلک دا ډول خيزونه ډېر زيات لولي، او د «هَذَا إِفْكٌ مُبِينٌ» ويل خو لا پرېږده، بلکې د هغوی پر داسې خبرو، اَمَنَّا وَ صَدَّقْنَا وايي. او د وحی او الهام په توګه يې انګېري، او په ډېر افتخار او ويار، د هغوی نقل او روايت کوي.

د ديارلسم آية، ترجمه شرح او تفسير

لَوْلَا جَاءُوا عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا بِالشُّهَدَاءِ فَأُولَئِكَ عِنْدَ اللَّهِ هُمُ الْكَاذِبُونَ﴿۱۳﴾

ولې [تور لګوونکو] څلور شاهدان پر هغې [بـــاطله ادعا] نه راوسـتل؟ اوس چې شاهـــدان يې را نه وسـتل، د الله په نزد [= د الله تعالی په شريعت کې] درواغجن ګڼل کيږي.[۹]

لَوْلَا جَاءُوا	عَلَيْهِ	بِأَرْبَعَةِ	شُهَدَاءَ
ولې هغوی نه راوستل	پر هغې	څلور	شاهدان

فَإِذْ	لَمْ يَأْتُوا	بِالشُّهَدَاءِ	فَأُولَئِكَ	عِنْدَ اللَّهِ	هُمُ الْكَاذِبُونَ
نو چون	هغوی رانغلل	له شاهدانو سره	نو همدغه کسان	د الله په نزد	همدوی درواغجن دي

---

۹ – هغه څوک چې پر چا، يو تور لګوي، او په خپله ادعا کې، واقعاً رښتينوالی هم ولري، خو د ټولنې سلامت او د خلکو د ابرو ساتنه ايجابوي، تر څو چې څلور شاهدان ونلري، دغه ډول خبر او ګزارش دې ونه منل شي. او ددغه تور مطرح کوونکي، هر څومره که رښتينی هم وي ، بايد له اتيا ضربو دُرو سره دې تنبيه شي.

دغه حکم ښايي د خبرلوڅ او ګزارشګر، د احتمالي خطا او پرځان د ناپوهی د تصوراتو او انګېرنو له لامله وي، يا د کړنو د پټولو له امله، چې د فحشاء د خپرولو اغېز، او دنيوي تنبيه پرې، نه مرتب کيږي. که تر هاغې بريده، علني او څرګند شي، چې څلور کسان پرې شاهدي ورکړي، عمومي عفت او ټولنيز حقوق، د پايلې او کيفر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضرورت ايجابوي. او که داسې نه وي، د بنده او خالق اړيکي او اخروي جزا او پايلې ته، پريښوول کيږي. دغه ټول وړانديزونه او توصيې، د ستارالعيوب الله له لور د خلکو د آبرو د ساتلو، او د هغوی د عيبونو مستور او پټ پاتې کيدلو، لپاره دي.

«لَوْلَا جَاءُوا عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ» دوی ولې څلور شاهدان رانوستل «فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا بِالشُّهَدَاءِ» نو څرنګه چې دوی شاهدان را نه وستل «فَأُولَئِكَ عِنْدَ اللَّهِ هُمُ الْكَاذِبُونَ» دوی د خدای په نزد دروغجنان دي. يعنې په هاغه څه کې، چې دوی نسبت ورکوي، او وايي؛ که رښتيني اوسي، بايد د خپلې وينا د جوتولو لپاره، شاهدان راولي. او و مو ويل چې، څلورګوني شاهدان، د زنا د عمل د جوتولو لپاره اړين شاهدان دي، چې بايد حاضر يې کړي.

نو هغه څوک چې پر چا، يو تور لګوي، او په خپله ادعا کې، واقعاً رښتينوالی هم ولري، خو د ټولنې سلامت او د خلکو د ابرو ساتنه ايجابوي، تر څو چې څلور شاهدان ونلري، دغه ډول خبر او ګزارش دې ونه منل شي. او ددغه تور مطرح کوونکي، هر څومره که رښتينی هم وي، بايد له اتيا ضربو دُرو سره دې تنبيه شي.

نو کله چې شاهدان يې رانوستل، شرعاً په کذب او دروغو محکوم دي، دا ځکه چې په اسلامي قانون کې، له شاهد پرته ادعا، کذب دی او «افک». يعنې د دغو تور لګوونکو او مفتريونو خبره، که د پاملرنې وړ کېدای شوه، په هاغه صورت کې، چې کله د شريعت له لور، د ټاکل شوي قانون سره سم، د خپل الزام د ثبوتولو او جوتولو لپاره، څلور شاهدان وړاندې کړي.

څرګنده دي وي، چې د دا ډول الزام د ثبوت، او جوتولو لپاره، د څلورو شاهدانو قانون، له دې څخه ډېر مخکې د نساء سورة په ۱۵ آية کې، نازل شوی وو. «وَاللَّاتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِنْ نِسَائِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوا عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِنْكُمْ...».

مطلب دا دی؛ کله چې دې مفسدانو دا الزام لګولی وو، نو د هغوی قانوني مسئوليت او ذمه داري وه، چې څلور شاهدان وړاندې کړي. خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرنګه چې، دوی څلور شاهدان وړاندې نشو کړای، نو د خدای د قانون له مخې همدوی دروغجنان دي. او کومو خلکو چې، د دوی لخوا د ثبوت له وړاندې کېدو پرته، د دوی پر خبره باور وکړ، نو هغوی د کوم سند او لاسوند پر بنسټ يې پرې باور وکړ؟ ووينئ؛ کېدی شي، دروغ يې هم نه وي ويلي. د خدای په نزد، يعنې د خدای په قانون کې، خدای تعالی ويلي؛ هغه مهال دا منل کېږي، چې څلور شاهدان راولي. او هغوی بايد سل په سلو کې دا پېښه ليدلي وي، او امتحان کړي يې وي، چې دا کار سر ته رسېدلی دی. نه يوازې تش په ظاهره کې، د خدای په حساب کې، اصلاً دا کار بايد تر دې ځايه ونرسېږي. خدای تعالی غواړي چې دا کار ونشي، دا تنبيه ونه شي، مگر هغه مهال چې دا کار د رسوايي تر بريده ورسېږي. الله تعالی غواړي که دا غلطي څوک کوي هم، هغوی بايد دومره جرئت ونلري، چې دا ناوړه او ناولی کار د خلکو مخکې په بې شرمۍ سر ته ورسوي.

دغه حکم ښايي د خبرلوڅ او گزارشگر، د احتمالي خطا، او پر ځان د ناپوهۍ د تصوراتو او انګېرنو له لاملـه وي، يا د کړنو د پټولو له املـه، چې د فحشاء د خپرولو اغېز، او دنيوي تنبيه پرې، نه مرتب کيږي. که تر دې بريده، علني او څرګند شي، چې څلور کسان پرې شاهدي ورکړي، عمومي عفت او ټولنيز حقوق، د پايلې او کيفر ضرورت ايجابوي، نو بايد سل درې ووهل شي.

او که داسې نه وي، د بنده او خالق اړيکي او اخروي جزا او پايلې ته، پرېښوول کيږي. دغه ټول وړاندیزونه او توصيې، د ستارالعيوب الله له لور د خلکو د آبرو د ساتلو، او د هغوی د عيبونو مستور او پټ پاتې کيدلو، لپاره دي.

خو مور ټول، مور يعنې؛ هغوی چې د فقاهت او شريعت اهل دي، هغوی غواړي، او د هغوی خوښېږي، او هغوی لېوال دي او بېړه کوي - چې هرومرو د خدای حکم، که شي او که نه شي، اجرا کړي. البته د حکم

(c) ketabton.com: The Digital Library

هاغه بڼه چې د هغوی له خپله ليده ورته سمه برېښېدلې، کوم حکم چې د هغوی خپل نظر ته رسېدلی دی.

د هغوی لید دادی، چې هر څومره چې ډېر وکولی شي، لاسونه غوڅ کړي، او هر څومره چې ډېر وکولی شي، سنګسار وکړي، چې اصلاً په قرآن کې، مورِ کوم څيز، د سنګسار په نامه نه لرو. تر ټولو ډير او سخت حد يې د زنا دی، چې دا هم د هغه چا لپاره دی، چې دنده او شغل يې همدا وي. هغه هم سل دُرې دی، دا يې اکثر حد دی. خو دوی لېوالتيا لري، او دوی په خپل زړه کې انګېري، چې هغوی خدای ته ډېر ستر خدمت کوي. او د حد په تطبيق کې، بايد تر هر چا مخکې اوسې. تر دې بريده، چې د بدحجابۍ لپاره يې هم، خلکو ته دُرې ټاکلي دي. همدا راز مالي جريمې، او داسې نورې سزاګانې يې، ورته ټاکلې دي. چې ډېرې عجيبې دي؛ که کومې ښځې بالاپوښ اغوستی وي، يا سرپټی يې لږ اخوا شوی وي، دوی ورته هم جزا ورکوي. چې دا يو هم په قرآن کې جزا او کيفر نـه لري، او له قرآنه دا يوه جزا هم نه جوتيږي.

دا حکم په واقعيت کې، د لاأُبالي وګړو لپاره، د مخنيوي او خبرداری اړخ لري. تر څو فحشاء خپره نکړي، او خپل اخلاقي رذيلتونه او فسادونه، په څرګنده توګه، د عام ولس مخکې، سر ته ونه رسوي. چې په دې بڼه کې به په ټولنه کې، د عمومي عفت څخه د دفاع لپاره، له هغوی سره ټکر وکړي.

له کومه ځايه چې دا راز کړنې، او ناوړه عملونه، معمولاً د خلکو له سترګو لېرې، او په پټه توګه سرته رسيږي. عملاً د څلورو شاهدانو پيدا کول، چې په سترګو يې دا عمل ليدلی وي، او په څرګنده توګه د دې عمل ناظر وي، محال(او ناشونی) ته نژدې يو څيز دی. مګر که ځينو مقدس مآبانو غوښتي وي، له الله او رسول څخه مخکې شي، او په سزا ورکولو کې يو تر بله مسابقه، بيړه او مخکې والی وکړي. او د احکامو له روح څخه، د ناخبرو ځينو فقيهانو د فتواګانو پر بنسټ، له برېښليد او برېښ اورېد [ويډيو – آډيو]

(c) ketabton.com: The Digital Library

او شکنجې څخه په استفادې، د اعتراف اخیستنې په ډول ډول میتودونو، د شلاق وهلو یا رجم [سنګسار] لپاره، خپل اشتیاق ارضاء کړي.

د څوارلسم آیة، ترجمه شرح او تفسیر

وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ لَمَسَّكُمْ فِي مَا أَفَضْتُمْ فِيهِ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴿۱۴﴾

او که د الله فضل پر تاسو [ستاسو په ښوونه او روزنه ، وده او لارښوونه کې] او رحمت یې [ستاسو د ګناه ګانو په نالید نیونې او ښنې سره] په دنیا او آخرت کې نه وای، مسلماً په هغه ماجرا کې چې ټول پکې غوپه شوئ [= وځلېدئ] [۱۰] په ستر عذاب به اخته شوي وئ.

وَلَوْلَا	فَضْلُ اللَّهِ	عَلَيْكُمْ	وَرَحْمَتُهُ	فِي الدُّنْيَا	وَالْآخِرَةِ	لَمَسَّكُمْ
او که نه وای	د خدای فضل	پر تاسو	او رحمت د هغه	په دنیا	او آخرت کې	رسېدلی به وای تاسو ته

فِي مَا	أَفَضْتُمْ	فِيهِ	عَذَابٌ	عَظِيمٌ
البته په هاغه څه کې چې	تاسو هلې ځلې کولې	په هغه کې دی	ستر	عذاب

---

۱۰ ـ « أَفَضْتُمْ» د «فَيضَ»، له ریښې د جاري کېدلو (بهېدلو) او ډکېدلو مفهوم لري. لکه د سېلاب بهیر او په دښته کې د هغه خپرېدل، د لوښي ډکېدل له اوبو، یا د سترګو ډکېدل له اوښکو. دا د أَفَضْتُمْ کلیمه په مکه کې هم کارول شوې ده یعنې هغه مهال چې فَإِذَا أَفَضْتُمْ مِنْ عَرَفَاتٍ له عرفات څخه میلیونونه خلک پر لار روانېږي د مشعر صحرا ته. یا وایي له مشعره منا ته په ډله ایزه توګه ځي د قربانئ لپاره. وایي؛ ببل، ببل لاړ نشئ، اصل کلیمه چې کارول شوې «أَفَضْتُمْ» یعنې؛ دسته جمعي، عاشقانه او مشتاقانه. [بقره۱۹۸(۲:۱۹۸) او ۱۹۹]. په دې آیت کې هم د ډیرېو مسلمانانو کنجکاوانه لېوالتیا د دغې شایعې او تور اوریدلو ته او هغه څه چې یې اوریدل نورو ته نقلول د «ماأَفَضْتُمْ» له فعل سره بیان کړی تر څو شایعې او تور خپرولو ته د هغوی د ټولیز بهیر او اشتیاق څرګندوونکی اوسي [والله اعلم].

دا دویم ځل دی، چې دا جمله تکرارېږي. «وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ» که د خدای فضل او رحمت نه وای، فضل یعنې همدا زده کړې دي، چې تاسو شناخت او پېژندنه پیدا کړئ. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خـدای تعـالی رحمـت، یعنـي همـدا د خـدای تعـالی زړه سـوی، او لورینـه؛ «فِي الـدُّنْيَا وَالْآخِـرَةِ» پـه دنیـا او آخـرت کـي. کـه د خـدای زړه سـوی، فضـل او رحمـت پـر تاسـو نـه وای، لَمَسَّـكُمْ یعنـی پـر تاسـو یـي تمـاس پیـدا کـاوه، «فِي مَـا أَفَضْـتُمْ فِيـهِ» یعنـي پـه هاغـه څـه کـي چـي ننـوتي یاسـت، هلـي ځلـي کـوئ. أَفَضْـتُمْ یعنـي لـه شـوق سره، پـه ډلـه ایـزه توګـه، ټـول پـر دې پروپاګنـد او تورونـو خپرولـو پسـي لګېـدلي واست، یعني هرکلی مو تري وکړ.

«أَفَضْتُمْ» د «فَيَضَ» له ریښي، د جاري کېدلو، (بهېدلو) او ډکېدلو مفهوم لري. لکه د سېلاب بهیر، او په دښته کې د هغه خپرېدل، د لوښي ډکېدل له اوبو، یا د سترګو ډکېدل له اوښکو. دا د أَفَضْتُمْ کلیمه په مکه کې هم کارول شوې ده، یعني هغه مهال چې فَإِذَا أَفَضْتُمْ مِنْ عَرَفَاتٍ له عرفات څخه میلیونونه خلک، پر لار د مشعر صحرا ته روانېږي. یا وایي له مشعره منا ته، په ډله ایزه توګه د قربانۍ لپاره ځي. وایي؛ ببل ببل لاړ نشئ، اصل کلیمه چې کارول شوې «أَفَضْتُمْ» یعني؛ دسته جمعي، عاشقانه او مشتاقانه.

«لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلًا مِنْ رَبِّكُمْ فَإِذَا أَفَضْتُمْ مِنْ عَرَفَاتٍ فَاذْكُرُوا اللَّهَ عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ وَاذْكُرُوهُ كَمَا هَدَاكُمْ وَإِنْ كُنْتُمْ مِنْ قَبْلِهِ لَمِنَ الضَّالِّينَ. ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ وَاسْتَغْفِرُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ.» [بقره۱۹۸(۲:۱۹۸) او ۱۹۹].

پر تاسو ګناه نشته چې [د حج په ورځو کې، له عبادته د فراغت پر مهال] د خپل پالونکي څښتن له فضله ولټوئ. [= په تجارت او له نورو مسلمانانو سره د اجناسو او افکارو پر تبادل او د اُمت تر منځ د اړیکو پر ټینګولو پاملرنه وکړي]، نو کله چې له عرفاته [د مشعر پر لور لکه د سېلاو په څېر] روان شوئ، په مشعرالحرام کې خدای یاد کړئ، یاد یې کړئ [ددې نعمت په پاس] چې تاسو یې هدایت کړئ له دې سره چې مخکې له بېلارو واست. وروسته له هماغه ځایه چې خلک [د مِنا د سیمې پر لور، د سېلاو په څېر] روان شوي دي، روان شئ، او

(c) ketabton.com: The Digital Library

[دقلب په دې حال او حضور کې، د ګهیځ د راختو په درشل کې] له خدای ښښه وغواړئ، چې ښښکه الله لورین ښښونکی دی.

په دې آیت کې هم، د ډیریو مسلمانانو کنجکاوانه لېوالتیا، د دغې شایعې او تور اوریدلو ته، او هغه څه چې یې اوریدل نورو ته نقلول یې، د «ماأَفَضْتُمْ» له فعل سره بیان کړی. تر څو شایعې او تور خپرولو ته، د هغوی د ټولیز بهیر او اشتیاق څرګندوونکی، اوسي. [والله اعلم].

وایي څه خبره ده؟ چې په ټولنه کې، ټولو ترې هرکلی، او استقبال وکړ. یو بل ته مو په غوږونو کې وویل؛ اورښدلې دې ده، د پلانکي دا اړیکه. ولې داسې او ولې هغسې. یو بل ته مو په غوږ کې، پس پسک کاوه. تاسو ولې باید، له دې خبرو هرکلی او استقبال وکړئ. او ولې دې خبرونو ته، اهمیت ورکړئ. که د خدای فضل او رحمة نه وای شوی، چې تاسو ته هدایت وکړي. ټولنه به مو، لـه دردمنو او خطرناکو پایلو سره، مخامخ وه. په ټولنه کې ټولو غړو، هاغه مهال چې غوښتل، یو د بل افشاګري وکړي؛ یعنې «افاضه» په خبرو کې، د اوازو او خبرونو خپرول، او د یو داستان تعقیبول دي. او دا چې و یې فرمایل: «که د خدای فضل نه وای ...» عطف دی د «لَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ» ... جملې ته. او تر بحث لاندې جمله کې، یو ځل بیا پر مؤمنینو حمله شوې ده. او که د خدای فضل او رحمت یې، دنیا او آخرت ته مقید کړی، ددې لپاره دی، چې پر دې دلالت وکړي؛ چې کوم عذاب چې تر آیت لاندې راځي، د دنیا او آخرت هر دواړو عذاب دی. او معنا یې دا ده؛ چې که په دنیا او آخرت کې، که د خدای فضل او رحمة پر تاسو نه وای شوی، د دغې لېوالتیا او تعقیب له کبله، چې د «افک» د داستان په اړه مو وکړ، په دنیا او آخرت کې به، ستر او عظیم عذاب تاسو ته دررسېده.

له لسم آیة وروسته، دلته یو ځل بیا مسلمانان تنبیه کوي؛ چې په دې معامله کې، چې تاسو په کومه طریقه عمل وکړ، او ټولو له تحقیق او څېړنې پرته، د دې افواه او تور په خپرولو کې، برخه واخېسته. او ټولو نالیدلې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې ډنډ کې، غوپه وخوړه. نو که په دنيا او آخرت کې، د خدای تعالی فضل او رحمت، پر تاسو نه وای، د دې عمل پايله او تقاضا خو دا وه؛ چې تاسو يو ستر عذاب نيولې واست. نو څرنګه چې، پر تاسو د خدای تعالی فضل او رحمة دی، له دې کبله هغه ستاسو له دې ګناه تېر شو. مطلب دادی؛ چې د الله د دې فضل او رحمة قدر وکړئ. داسې نه چې په دې ډول فتنو کې بيا ځلې اخته شئ، او خپل ځان پخپل لاس دې، عذاب ته برابر کړئ.

دا خطاب ټولې ټولنې ته دی، او د اسلامي ټولنې په تسلسل، پر له پسې، د هرې زمانې اسلامي ټولنې ته، خطاب دی؛ حال دا چې په دې معاملې کې ککړ شوي، يا بې پروايي کولو والا، ډېر خلک نه ول. د دې عام خطاب لامل دا دی؛ چې د دا ډول مفاسدو نوعيت، لکه د وبا په څېر دی ـ که د څو محدودو کسانو، په منځ کې هم ښکاره شوې وي. نو هر څوک بايد د هغې له خطره آګاه شوی اوسي. داسې نه، چې دا وبا عامه شي، او په پايله کې يې ټوله ټولنه، په عذاب اخته او ککړه شي.

د پنځلسم آية، ترجمه شرح او تفسير

إِذْ تَلَقَّوْنَهُ بِأَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُولُونَ بِأَفْوَاهِكُمْ مَا لَيْسَ لَكُمْ بِهِ عِلْمٌ وَتَحْسَبُونَهُ هَيِّنًا وَهُوَ عِنْدَ اللَّهِ عَظِيمٌ﴿۱۵﴾

هغه مهال چې د هغې [شايعې او تور] موندنه مو ژبه په ژبه کوله او خوله په خوله به مو يو بل ته ويل داسې څيز چې هيڅ پوهه او علم مو په هغه [او هيڅ ډاډ مو د هغه په سموالي] نه درلود او هغه مو ډېره آسانه ګڼلې وه په داسې حال کې چې[د نورو د ابرو سره لوبې کول] د الله په نزد عظيمه [ګناه] ده.

إِذْ تَلَقَّوْنَهُ	بِأَلْسِنَتِكُمْ	وَتَقُولُونَ	بِأَفْوَاهِكُمْ	مَا لَيْسَ
کله چې تاسو مونده دا	له خپلو ژبو سره	او ويلې به تاسو	په خولو خپلو	هغه چې نه وو

لَكُمْ	بِهِ	عِلْمٌ	وَتَحْسَبُونَهُ	هَيِّنًا	وَهُوَ	عِنْدَ اللَّهِ	عَظِيمٌ
تاسو ته	پر هغه	پوهه	او تاسو انګېرلې	ساده	او هغه	په نزد د الله	ستره خبره ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

«إِذْ تَلَقَّوْنَهُ بِأَلْسِنَتِكُمْ» د «اذ» ظرف د «افضتم» جملې پورې اړوند دی. او د قول تلقي، د يوې خبرې د اخېستلو او منلو په معنا ده، چې انسان ته يې القاء کوي. او که تلقي يې، «السنه» ته مقيد او اړين کړې، د دې لپاره ده، چې دلالت وکړي پر دې، چې د «افک» داستان صرف له يوې ژبې بلې ژبې ته د خبرې لېږد دی، پرته له دې چې، د هغې خبرې په اړه، کوم څېړنه، تدبر او تحقيق وکړي. يعنې وايي: تاسو دا خبر له کوم ځايه، لاسته راوړی دی. تَلَقُّوْنَهُ يعنې تلقي؛ موندل، لاسته راوړنه. تاسو دا خبر له کومه پيدا کړ؟ بِأَلْسِنَتِكُمْ له خپلو ژبو سره، زباني، له ژبو. يعنې ژبه په ژبه دا خبر ولېږدېد. پر دې بنا، دا چې و يې فرمايل: «وَتَقُولُونَ بِأَفْوَاهِكُمْ مَا لَيْسَ لَكُمْ بِهِ عِلْمٌ» د تفسيري عطف له ډلې دی، چې هماغه تلقي، تفسير کوي. او بيا که وينا او ويل يې خولې ته مقيد کړل، د دې لپاره اشاره ده، چې دا قول، له تحقيق او قلبي تبين څخه پرته، له هاغو ويناو څخه عبارت ده، چې له خولې پرته بل کوم ظرف او ټاټوبی نه لري. او له فکر او اند او تحقيق او څېړنې څخه يې، سرچينه نه ده نېولې. او معنا يې دا ده؛ چې تاسو د هاغه څه په اړه چې اوربدلي مو دي، پرته له دې چې کومه څېړنه او تحقيق وکړئ، او کوم علم پرې لاس ته راوړئ، هغه مو ومنل. او د هغه په نشرولو کې داسې غوپه او ډوب شوئ، چې خوله په خوله مو وگرځاوه او خپور مو کړ.

په دې آية کې، د هاغې خبرې د دروندوالي، اظهار دی، کومه چې ځېنو خلکو يوه معمولي خبره وگڼله، او له تکلف پرته يې د هغې نقل او روايت پيل کړ. او هغوی دا فکر ونکړ، کوم خبره چې هغوی، معمولي گڼي، هغه د الله په نزد، ډېره درنده او د پام وړ خبره ده.

د يوې خبرې د منلو او قبلولو، اصلي لار عقل دی، نه چې ژبه او نقل. او هاغه خبره د روايت وړ وي، چې د اعتماد وړ علم پر بنسټ وي، نه پر افواه او هوايي پروپاگنډ. که کوم انسان، خپل عقل معطل کړی وي، او له هغه سره يوازې يو گز ژبه پاتې وي، نو له نقد او درايت پرته، په دُکان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پرتې هرې خبرې روايت پيل کوي. او په دې توګه هغه پخپله هم د شيطان په خپرې شوې فتنې کې، ککړ او مبتلا کېږي، او نور هم اخته کوي.

په دې آيت کې يې مسلمانان، له دې خطر څخه آګاه کړي دي، چې په دې معامله کې، خپلو خلکو د عقل پر ځای، يوازې ژبه د روايت د منلو ذريعه جوړه کړه. او د علم او څېړنې پر ځای يې، محض د يوې افواه روايت پيل کړ. وايي له تاسو څخه خپلې خلک، هر يو چې هر چا ته ورسېدئ؛ يو بل ته مو وويل: آيا اورېدلې دې ده، خلک وايي داسې يوه پېښه شوې ده، آيا ته په دې پېښه پوهېږي؟ همدا هوايي خبرې مو، خوله په خوله يو بل ته ولېږدولې. حضرت علي فرمايي: د حق او باطل تر منځ، د څلورو ګوتو په کچه توپير دی؛ لاس مخ ته وروړي، او د غوږ او سترګې تر منځ فاصلې کې يې ږدي، وايي: حق دا دی چې و مې ليد، او باطل دادی چې وا مې ورېد. تر دې کچې، د حق او باطل تر منځ واټن لږ دی. تاسو چرته ليدلی، دا خبر مو له کومې لاسته راوړی؟ اورېدلی مو دی، نو تاسو څه وکړل؛ او دا مو يو بل ته څنګه منتقل کړ؟ وَتَقُولُونَ بِأَفْوَاهِكُمْ دا مو يو بل ته افواهي بيان کړ.

ښکاره خبره ده، چې يوه خبره چې يو بل ته څوک کوي، په خوله يې کوي، دا څرګنده ده، چې پخپله «تقولون» د ويلو په معنا دی، او سړی خو خبره په خوله کوي؛ وايي: خوله په خوله مو دا خبره يو بل ته ورسوله، هيڅ سند او لاسوند شتون نه درلود، له ژبې مو اورېدلې، او په خوله مو همداسې يو بل ته لېږدولې، او منتقل کړې ده.

مَا لَيْسَ لَكُمْ بِهِ عِلْمٌ داسې يو څيز چې علم پرې نه لرئ، يو مطلب چې هيڅ پوهه او شناخت ترې نه لرئ، زباني مو موندلی دی، او په زباني توګه مو نورو ته همداسې منتقل کړی دی. وَتَحْسَبُونَهُ هَيِّنًا، او تاسو آسانه انګېرلې ده، وَهُوَ عِنْدَ اللَّهِ عَظِيمٌ. او دا د الله په نزد ستره او عظيمه ده. هغوی دا خبره معمولي وګڼله، حال دا چې د خپلو نتيجو او پايلو په اعتبار، دا څيز ډېر خطرناک، او د الله په نزد عظيم او ستر جرم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعنې دا چې و يې فرمايل: «وَتَحْسَبُونَهُ هَيِّنًا وَهُوَ عِنْدَ اللَّهِ عَظِيمٌ» معنا يې دا ده، چې تاسو خپل دا چلن ساده کار انګېرلی، او حال دا چې دا د خدای په نزد، ډېر ستر او عظيم کار دی.

چون بهتان، او د دروغو تهمت دی. سربېره پر دې چې، رسول الله(ص) ته بهتان او تور دی، چون د «افک» شايع کېدل، او خپرېدل د هاغه جناب په باره کې، د خلکو تر منځ ددې لامل کېږي، چې هاغه حضرت په ټولنه کې رسوا شي، او د ديني بلنې کار يې ټکنی شي. «هيِّن» يعنې آسان ګڼل، لکه چې ځېنې وايي: مورِ خو څه نه دي کړي، دا خو هسې يوه خبره ده. نو، مورِ خو د چا ګيډه نه ده څيرې کړې، غلا خو مو نه ده کړې، دا خو بس تش خبره ده، دومره مهمه نه ده. دا اصطلاحات په ټولنه کې، ډېر دي چې؛ دا خو تش خبره ده نو، خبره يې په نظر کې هيڅ نه راځي.

په قرآن کې د صف په سورت کې فرمايي: «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ» [صف۲(٦١:٢)] ای هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی! تاسو هغه (خبره) ولې وایاست چې عمل پرې نه کوئ! «كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللَّهِ أَنْ تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ» [صف۳(٦١:٣)] دا (خبره) د الله په نزد، [د غضب په لحاظ] لويه ده، چې تاسو هاغه (خبره) وواياست، چې نه يې کوئ.

د قرآن په بل هيڅ ځای کې، داسې سخته خبره نه ده شوې. البته خدای تعالی خو نه غوسه کېږي، دا زمورِ د پوهې لپاره وايي. او که نه، نو مورِ خو هر يو، د ورځې په زرګونو ځلې، داسې کارونه کوو، او هر يو عمل مو داسې دی، چې له هر يو کار سره به مو، خدای تعالی خشمګين کولی. خدای تعالی خو له هيڅ څيز اغيز نه اخلي.

غواړي مورِ پوه کړي، او مورِ ته ووايي؛ چې دا څومره بد عمل دی. مورِ ته ددې عمل، د پايلې سترواڼی، څرګندوي وايي: «كَبُرَ مَقْتًا» پخپله «مقت» يعنې شديد خشم دی، د غضب په نسبت، كَبُرَ مَقْتًا يو ستر شديد خشم دی، چې خبره وکړئ او عمل پرې نکوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورِ عادت يو، او وايو؛ يوه خبره ده نو، دا خو کومه غټه معامله نه ده. خو آيا د قرآن په بل کوم ځای کې، داسې سخته خبره، د نورو عملونو په اړه شوې ده؟ کـه پرتلـه يې کړو، په قـرآن کې د بل هيڅ عـمـل په اړه، دومره سخـته خـبره نـه ده شوې. آيا ويلي يې دي؟ کـه څـوک بې حـجابه وي، دا عـــمل يې، د الله په نزد د ستر خشم سبب کېږي، يا کـــه شراب وخوري، د ستر خشم سبب کېږي؟

البته دا ټول څيزونه ناروا دي، خو د هيڅ يو لپاره، دومره سخت او شديد عبارتونه، نه دي راغلي. تاسو پاملرنه وکړئ؛ په هر ځای کې چې په قرآن کې «واى» راغلی، لکه: «واى پر هاغو کسانو...» له ځمکې تر آسمانه توپير لري، له هاغه څه سره، چې دا ښاغلي يې وايي؛ هلته چې دوی وايي؛ «واى اسلاما» کفن اغوندي، او واټونو ته راځي، اصلاً عمل او خبرې يې يو تر بله اړيکه نه لري. ددوی دا خبرې د قرآن له خبرو سره هيڅ سمون نلري.

قرآن وايي: «وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِلْمُكَذِّبِينَ»، هلاکت دی د ټولو دروغ ګټونکو لپاره. «وَيْلٌ لِلْمُطَفِّفِينَ»، واى پر سپک پلورونکو، هلاکت دی پر هغو چې په پيمانه کې کمی کوي. «وَيْلٌ لِكُلِّ هُمَزَةٍ لُمَزَةٍ»، واى پر هغو، چې د خلکو د عيب پلټنه کوي، د هغوی شخصيت کوچنی کوي. «وَيْلٌ لِكُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ» د هر سخت دروغ ټړونکي لپاره سخت هلاکت دی، يعنې هاغه څوک چې پر خلکو دروغ تړي، هغوی ته هلاکت او افسوس دی.

«فَوَيْلٌ لِلَّذِينَ يَكْتُبُونَ الْكِتَابَ بِأَيْدِيهِمْ...» نو د هاغو کسانو لپاره هلاکت دی چې په خپلو لاسونو (له خپل ځانه) کتاب ليکي، «ثُمَّ يَقُولُونَ هَذَا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ» بيا وايي: دا د الله له جانبه دی، وايي دا دين دی، دا مذهب دی، همماغه ولايت چې الله او رسول يې لري، دوی وايي؛ مورِ يې هم لرو، د څه لپاره؟ ددې لپاره چې؛

«لِيَشْتَرُوا بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا» چې يو پُست، مقام او پورِ، مال او جايداد ته په دنيا کې ورسېږي، طبقاتي سلطه او برلاسی وموميِ. «فَوَيْلٌ لَهُمْ مِمَّا كَتَبَتْ

(c) ketabton.com: The Digital Library

أَيْدِيهِمْ» نو د دوی لپاره هلاکت دی، په سبب د هغه څه چې د دوی لاسونو لېکلي دي. په خپلو لاسونو يې ليکلي، دا خو څرګند دی، چې په خپلو لاسونو يې ليکلي، خو په ځانګړي توګه پر دې زور راوړي، چې په خپل لاس دې ليکلي، نو ولې وايي چې دا دين دی «وَوَيْلٌ لَهُمْ مِمَّا يَكْسِبُونَ» او د دوی لپاره هلاکت دی، په سبب د هغه څه چې دوی يې کسب کوي. يعنې وای پر هاغه څه چې لاسته يې راوړي.

دړې ځلې «وای» په يو آية کې راغلی، په قرآن کې بل هيڅ يو داسې آية نشته، چې حتا دوه ځلې «وای» پکې راغلی وي. دا په دې اړه دی، چې يو څوک خپل فکرونه او اندونه، د دين په نامه خلکو ته وړاندې کړي. بدې پېښې، زيان او پايلې يې، مورِ همدا اوس په خپل ژوند، او خپله ټولنه کې وينو؛ دا چې له اوږدو کلونو راپدېخوا څه بلاګانې يې، پر خلکو راوړي دي.

د دين په نامه تشه يو ادعا، چې د اسلام په تاريخ کې هيڅ مخينه نلري، چې د خلکو د مال او ناموس واک، د يو شمېر کسانو په لاس کې وي. وايي؛ مورِ پر تاسو حق لرو، او خدای تعالی مورِ ته، دا حق راکړی دی. دلته دی چې وينو، څومره د ځمکې او آسمان د واټن په څېر توپير، ددوی او د قرآن د تعليماتو تر منځ شتون لري. کوم څيزونه چې په قرآن کې مهم دي؛ دوی يې مورِ ته نه وايي. په اصل کې ددوی له ليده، دوی پخپله معيار دي، دوی پخپله د اخلاقو نمونې دي. دوی غواړي مورِ ته ووايي؛ چې دوی مهم دي، دوی غواړي د خلکو په منځ کې، د خدای نماينده ګي وکړي، او خپلې خبرې د خدای تعالی د خبرو په نامه پر خلکو ومني. او په دې توګه د خلکو له ناموس، پت او ابرو سره لوبې وکړي. او غواړي مورِ ته ووايي؛ يوه خبره ده نو! ومو کړه. حال دا چې وينئ؛ «خبره» د خدای په نزد څومره مهمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شپاړسم آية، ترجمه شرح او تفسير

وَلَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ قُلْتُمْ مَا يَكُونُ لَنَا أَنْ نَتَكَلَّمَ بِهَذَا سُبْحَانَكَ هَذَا بُهْتَانٌ عَظِيمٌ ﴿١٦﴾

او کله مو چې دا [خبره] واورېده ولې مو و نه ويل: مونږ مجاز نه يو [مونږته پکار نه دي] چې په دې [اړه] يوه خبره په ژبه راوړو، سبحان الله [سپېځلتيا الله ته ده، الله ته پناه وړو]! دا يو عظيم [او ستر] بهتان دی.[11]

وَلَوْلَا	إِذْ	سَمِعْتُمُوهُ	قُلْتُمْ	مَا يَكُونُ	لَنَا
او ولې ونشو	کله چې	چې تاسو هغه واورېده	ويلی وای تاسو	نه ښايي	مونږ لپاره

أَنْ نَتَكَلَّمَ	بِهَذَا	سُبْحَانَكَ	هَذَا	بُهْتَانٌ	عَظِيمٌ
چې خبرې وکړو مونږ	په دې خبره	پاکې ده تا لره	دا	تور او بهتان دی	ستر

۱۱ – بهتان ، يو اتهام، تهمت يا تور دی چې يو څوک «بهت وهلی» [(هيبن پيښن)] کړي. ته به وايي چې روح يې هم له دې ماجرا او پېښې خبر نلري!

«وَلَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ قُلْتُمْ» او چې دا خبرې مو واورېدې، ولې مو و نه ويل؛ چې مونږ حق نلرو، په دې اړه خبرې وکړو. «مَا يَكُونُ لَنَا أَنْ نَتَكَلَّمَ بِهَذَا». مونږ ته نه ښايي، دا سمه نه ده، چې يو مؤمن د خلکو د ناموس په اړه، د خلکو د ابرو په اړه، خبرې وکړي. حق نلرو، مجاز نه يو. «سُبْحَانَكَ هَذَا بُهْتَانٌ عَظِيمٌ» ولې مو و نه ويل؛ ای خدايه تاته پناه دروړو، ته سپېځلی يې، دا ستر بهتان دی. دا آية د «وَلَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ...» پر جمله عطف دی «او په هغه کې د درېم ځل لپاره پر مؤمنينو حمله شوې، او هغوی يې رټلي او توبيخ کړي دي چې ولې مو داسې و نه ويل؟ او په دې منځ کې د «سبحانک» کليمه يوه معترضه کليمه ده، او دا د قرآنکريم له ادب څخه دی چې هر ځای کې يو څوک له عيبه پاک او منزه معرفي کړي، د ادب د رعايت کولو لپاره لومړی د خدای تعالی منزه والی او سپېځلتوب بيانوي.

دلته د «سبحانک» کليمه بالکل په هماغه مفهوم کارول شوې، په کوم مفهوم چې مونږ «مَعَاذَ اللَّه» وايو. – مطلب دا دی؛ چې کله ستاسو مخې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه داسې خبره راغلې وه، چې د جوتوالي، ثبوت او شهادت څخه پرته او تشه وه، او د بېګناه مؤمنيو په اړه غليظ بهتان او تور وو، ولې مو و نه ويل؟ چې له ثبوت او شهادت پرته، د مؤمنينو په شان کې مورِ ته نه ښايي، او مورِ هيڅ حق نه لرو، داسې خبرې په ژبه ووايو. داسې حالت کې مو بايد ويلی واى، «معاذ الله» دا خو څرګند بهتان دى.

د «بهتان» کليمه، د تور او افتراء په معنا ده. او که هغه يې «بهتان» نومولى دى، ځکه د تور او افتراء لاندې راغلي وګړى، مبهوت او هېښ پېښ کوي، ته به وايي چې روح يې هم له دې ماجرا، او پېښې خبر نلري! له ځان سره وايي چې؛ دا خو عجيبه ده! ما کله دا ډول خبره کړې ده، او يا دا ډول کار مې کړى دى؟ او که هغه ته يې ستر بهتان ويلى، له دې لامله دى، چې تهمت د ناموس اړوند، هغه هم د رسول الله(ص) په ناموس پورې اړه درلوده. او بهتان والى يې له دې سببه وو، چې يو خبر له علم پرته، او يوه ادعا پرته له شاهده وه. هاغه شاهد چې شرح يې په لاندې جمله کې تېره شوه. «... فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا بِالشُّهَدَاءِ فَأُولَئِكَ عِنْدَ اللَّهِ هُمُ الْكَاذِبُونَ»

د اوولسم او اتلسم آيتونو، ترجمه شرح او تفسير

يَعِظُكُمُ اللَّهُ أَنْ تَعُودُوا لِمِثْلِهِ أَبَدًا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ﴿۱۷﴾

الله تاسو ته وعظ کوي [م شوره او پند درکوي] چې هيڅکله د دې کار مثل ته ونه ګرځئ [= هغه تکرار نه کړئ] که په رښتيا تاسو مؤمنين ياست.

وَيُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ﴿۱۸﴾

او الله [دغه ډول] څرګند آيتونه تاسو ته بيانوي او الله ډير پوه حکيم دى.

يَعِظُكُمُ	اللَّهُ	أَنْ	تَعُودُوا	لِمِثْلِهِ	أَبَدًا	إِنْ كُنْتُمْ	مُؤْمِنِينَ
تاسو ته پند درکوي	الله	چې	و نه ګرځئ تاسو	د دې کار لپاره مثل	تل	که ياست تاسو	مؤمنان

وَيُبَيِّنُ	اللَّهُ	لَكُمُ	الْآيَاتِ	وَاللَّهُ	عَلِيمٌ	حَكِيمٌ
او بيانوي	الله	لپاره ستاسو	آيتونه	او الله	ډېر ښه پوه	او د حکمت څښتن دى

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دوه آيتونـه پنـد او نصـيحت ورکـوي، چـې د دې پـه څېـر عمـل، بېـا هيڅکلـه هـم تـر ابـده تکـرار نکـړئ. او معنـا يـې روښـانه ده، چې په لاندې توګه توضيح کېږي:

«يَعِظُكُمُ اللَّهُ أَنْ تَعُودُوا لِمِثْلِهِ أَبَدًا» خداى تعالى تاسو ته موعظه کوي، تاسو ته نصيحت کوي، چې هيڅکله دا کار نور تکرار نکړئ. د «وَعظٌ» په لفظ کې، د پند او اندرز، جر او نه، مفهوم پخپله پټ او مضمر دى، له همدې لامله له هغې وروسته د «لا» حرف د راوړلو اړتيا نشته، په دې آية کې هم، د مخکينيو دريو ټپرو شوو آيتونو په څېر، تنبيه ده.

په دې سورة کې، چې کوم هدايتونه ورکړل شوي دي. هغه د خداى تعالى له قهر او غضب او د ګناه له پايلو څخه د خوندي کېدلو، او ځان ساتلو لپاره، په لوړه کچه اړين دي. له همدې لامله، پر له پسې تنبيهات راروان دي. - مطلب يې دا دى؛ چې خداى تعالى تاسو تنبيه کوي، چې په راتلونکي کې داسې کړنې، کله هم له تاسو صادرې نشي. - «إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ» که واقعاً مؤمنين ياست، مؤمن له امنيته راځي، د خداى تعالى يو نوم مؤمن دى. المؤمن المهيمن العزيز الجبار. مګر آيا کېدى شي؟ سړى د امن په فضا کې وي، يعنې د ايمان په فضا کې راغلى وي، او خلک د هغه له ژبې امنيت ونلري، بدوبنه وکړي، د خلکو پت او ابرو تويه کړي. يعنې ددې ډول خبرو څخه ځان ساتنه، د ايمان اړينه تقاضا ده. که له داسې خبرو ځان و نه ساتي، نو د ايمان دعوا به بالکل بې معنا پاتې شي.

«وَيُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ» او الله تعالى په دې توګه څرګند آيتونه تاسو ته بيانوي، او الله ډېر پوه حکيم دى. وَيُبَيِّنُ اللَّهُ... يعنې الله تعالى خپل هدايتونه، په ښه طريقه واضح او روښانه توګه بيان کړې دي. اوس پر دې هدايتونو عمل کول، ستا دنده او ذمه واري ده. او دا ياد لره، چې الله تعالى د پوهې او حکمت والا دى. له دې لامله هر څه چې هغه ويلي دي، په هغه کې ستا لپاره خير او برکت دى. مطلب دا دى؛ چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

احکام يو عليم او حکيم ذات ويلي او ښوولي دي، هيڅا ته نه ښايي؛ له خدايه زيات د پوهې او حکيم والي په دعوا کولو کې په غلطۍ کې مبتلا شي.

د نولسم آية، ترجمه شرح او تفسير

إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴿۱۹﴾

هغه څوک چې خوښوي، فحشاء [او زشتي] د هاغو کسانو په منځ کې خپاره شي، چې ايمان يې راوړی دی. د دوی لپاره ستر دردونکی عذاب، په دنيا او آخرت کې دی. او الله [د داسې تمايلاتو د بدو ټولنيزو اغيزو په پايلو] پوهېږي، او تاسو نه پوهېږئ.

إِنَّ الَّذِينَ	يُحِبُّونَ	أَنْ	تَشِيعَ	الْفَاحِشَةُ	فِي	الَّذِينَ
بېشکه هغه کسان چې	خوښوي	چې	خپره شي	بې حيايي	په منځ	د هغوی کې

آمَنُوا	لَهُمْ	عَذَابٌ	أَلِيمٌ	فِي الدُّنْيَا	وَالْآخِرَةِ
چې ايمان يې راوړی	د هغوی لپاره	عذاب	دردناک	په دنيا	او آخرت کې

وَاللَّهُ	يَعْلَمُ	وَأَنْتُمْ	لَا تَعْلَمُونَ
او الله	ښه پوهېږي	او تاسو	نه پوهېږئ

«إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا» هغوی چې خوښوي او لېوالتيا لري، چې دا بدۍ اشاعة ومومي، [خپرې شي] د هاغو خلکو په منځ کې، چې ايمان يې راوړی دی.

لکه څنګه چې مخکې مو ورته نغوته وکړه؛ قرآن کريم پر دې مطلب، ډېره زياته تکيه کړې ده. د اسلامي ټولنې په جو او چاپېريال کې، بايد هيڅ ډول تهمت، بهتان او تور لګول نه وي. مسلمانو وګړو چې هر مهال، د خپلو مسلمانانو وروڼو او خويندو په اړه، يو څه واورېدل، تر هاغه مهاله چې د يقين تر بريده، [نه تش ظّن يا انګېرنه او ګومان،] نه دي رسېدلي، چې نور پکې د شک او شبهې هيڅ ځای نه وي. او يا شرعي دليلونه او شرعي بيّنات اقامه شوي نه دي، دا يې دنده ده؛ هاغه څه چې اوري، [په اصطلاح په يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوږ يې واوري، او له بله غوږه يې وباسي.] او يا په بل تعبير هم هلته يې چې واورېدل، ښخ يې کړي. او حتا په دې ښه چې [ما واورېدل] هم نقل نکړي؛ يعنې نه دا چې يوازې د يو قطعي امر په ښه يې نقل نکړي، حتا په دې ډول هم بايد و نه وايي، چې «ما داسې يو څه اورېدلي دي.» همدا د «وا ومې ورېدل» خبره هم «خپرول» دي. ځکه دا د «ما اوريدلي» لړۍ هم په دروغو جوړه شوې خبره، تر لېرې ځايه رسوي. او اسلام په څرګنده توګه، د داسې په دروغو جوړو شوو ناپاکو او ناولو خبرو، له خپرولو ناراضي دی.

وسمهال په ډېرو ځايونو کې، سره له دې چې ټولنې، ايماني ټولنې هم دي، دا عادي دود ګڼي، او وايي؛ څه توپير کوي؟ لکه زمور په ټولنه کې چې دا عادي عمل ګڼي، او ډېر خلک پرې رورېدي دي. خو کومه ټولنه که داسې خوښ کړي، چې خلک د نورو د شخصي مسئلو او اړيکو په اړه، پلټنې وکړي، او پر دې پوه شي، دا له هغه سره اړيکه لري، هغه له هاغه بل سره. دا د هغه کور ته لاړ، او هغه بل د پلانکي کره. پاملرنه وکړئ، څومره خلک له داسې خبرو سره علاقه لري. که مور په خپله ټولنه کې، د غيبت موضوع ته پاملرنه وکړو، دا به راته جوته شي، چې د غيبت مسئله زمور په ټولنه کې څومره زياته خپره ده. زمور د ټولنې ډېرى وګړي، په ډېره آسانه توګه وايي؛ چې غيبت ونکړو، نو په مجلس کې څه ووايو، وايي غيبت د مجلس نُقُل دي، راځئ چې راټول شو، او يو څه غيبت وکړو. اخوا ديخوا خبرې وکړو، خپله درنه او د بل سپکه وکړو، تا ويلى ما ويلى ووايو، چې پام مو غلط شي، او فکر مو لږ څه جوړ شي. همدا يعنې غيبت ته ليوالتيا ده، او خوښوي چې ټولې خبرې، د نورو په اړه وکړي.

مور چې، د نورو په اړه خبرې کوو، هغوى هم زمور په اړه خبرې کوي. نو څه توپير کوي، په دې کې خو کومه استثنا، شتون نلري. يعنې د ټولو برخه، نوبت په نوبت کېږي. او دا يو څرخ دى، چې ګرځي، او د څرخ په تاوېدو کې، د هر چا نوبت راځي، چې غيبت يې وشي. لکه څنګه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی د نورو غیبت کوي، نور به هم دده غیبت وکړي. او دا څرخ همداسې تاوېږي، او په حقیقت کې ټوله ټولنه، د یو بل غیبت کوي.

وایي: هغوی چې خوښوي، دا بدی افشاء شي. او لیوال دي، چې نور هم پرې پوه شي. له بدو پایلو سره به، مخامخ شي. او په آخرت کې هم، همدا ډول دی: «لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ» د هغوی لپاره دردناک عذاب، په دنیا او آخرت کې دی. عذاب هم، نه په دې معنا، چې خدای راځي، خلک عذابوي. عذاب د سوکالۍ او راحت، ضد دی. یعنې ټولنه په بدمرغۍ، اخته کېږي. ټولنه عذاب کاږي، د ټولنې د ټولو غړو ابرو توئېږي، او ټول یو بل ته بدبین کېږي. اخلاقیات له منځه ځي، او هر څه بد ښکاره کېږي. په ځانګړې توګه په پای کې، یوه جمله لري، چې فرمایي: «وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ» خدای تعالی پوهېږي، او تاسو نه پوهېږئ.

خدای تعالی پوهیږي، چې دا څیزونه درته وایي. تاسو نه پوهېږئ، چې څه عوارض لري. تاسو نه درک کوئ، چې ددې کار، ټولنیزې پایلې آثار او آغېزې، څومره زشتې او ناوړه دي. دا په حقیقت کې، ټولو مسلمانانو ته تنبیه ده. چې د دوی په منځ کې، د پټو مفسدینو د ناپېژاندې له کبله، د هغوی له طرفه د راولاړې شوې فتنې، ښکار کېږي. او ناخود آګاه د نورو د سپکولو لپاره، پلټنه او تبلیغات کوي.

غواړي ووایي؛ چې تاسو نه پوهېږئ؟ چې دا جنایت څومره ناوړه دی، او څومره بدې پایلې لري. او طبعاً نه پوهېږئ، چې دا جنایت څومره ستر دی. اسلام غواړي چې د اسلامي ټولنې جو او چاپېریال، د متقابلې وېښا او اعتماد پر بنسټ، د حسن ظنّ، نېکو انګېرنو او نېکو وینا پر بنسټ وي. نه د بې اعتمادۍ، بدګومانۍ او بد ویلو پر اساس. او له همدې لامله اسلام، د قرآن په تعبیر، غیبت ډېر ستر عذاب ګڼلی چې وایي:

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا

(c) ketabton.com: The Digital Library

فَكَرِهْتُمُوهُ...» [حجرات۱۲(۴۹:۱۲)] «ای هاغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی، له ډېرو ګومانونو او انګېرنو پرهېز وکړئ چې بې له شکه، ځینې له [منفي] ګومانونو ګناه ده، او [د خلکو د عیبونو د کشف لپاره] پلټنه مکوئ او یو د بل غیبت مکوئ، آیا له تاسو کوم یو دا خوښوي چې د خپل مړه ورور غوښه وخوري!؟ جوته ده چې دا کار بد ګڼئ! ...»

د مالک اشتر عهد نامه ولولئ؛ چې پکې کښل شوي دي: حضرت علي چې کله غوښتل، مالک اشتر، د مصر د واکمن او حاکم په توګه، مصر ته ولېږي. هغه مهال خو د مصر خلک، لا ټول مسلمانان نه ول، حضرت علي هغه لېږه، چې هلته حکومت وکړي؛ لومړی ورته وايي: «فلا تَكْشِفَنَّ عَمَّا غابَ عنكَ منها» داسې نه چې لاړ شې، هغه څيزونه کشف کړې، چې پرې نه پوهېږې. «إنَّ للنَّاسِ عُيُوبًا» خلک عيبونه لري، «الوالي أحقُّ بسترِها» د والي وظيفه ده، چې پر خلکو پرده واچوي. د حکومت او دولت وظيفه ده، چې د خلکو عيبونه وپوښي. «فلا يَكْشِفَنَّ ما قد أُقِيمَ عنك» هيڅکله هڅه مکوه، چې هغه کشف کړې. [د ښلګې په توګه د موټرو ټول بکس يې خلاص کړې، او و يې پلټې، چې شراب پکې شته که نشته]. «فإنَّما عَلَيْكَ تَطْهِيرُ ما ظَهَرَ لَكَ» ستا يوازينۍ دنده داده؛ هغه ځايونه چې ښکاره شوي دي، پاک يې کړه. «فإنَّ للنَّاسِ عُيُوبًا» خلک عيبونه لري. د دولت دنده ده، چې دا وپوښي. هغوی په داسې نظام کې ول، چې «يُؤتَى على أيديهم عَمْدًا أو خَطَأً» دوی په عمد يا خطا يو لړ کارونه کړي دي، ته حق نلري افشاګري وکړې. داسې نه چې دا افشاء کړې. هغوی هم يو بل افشاء کړې، او ټولنه ټوله په همدې ابرو تويولو کې اخته شې، چې يو تر بله پخپلو کې يو د بل ابرو تويه کړې.

ووينئ؛ داسې بريښي، لکه چې همدا اوس، زمور د ټولنې مسئلې تشريح کوي؛ که پاملرنه وکړو، مور ددې کارونو په توسه کوم ځای ته ورسېدلو. قرآن غواړي، چې مور ټول يو بل ته خوشبين اوسو. که کوم عيبونه مور کې موجود دي، الله پرې پوهېږي. البته که د کوم خيانت او

(c) ketabton.com: The Digital Library

جاسوسی په اړه موضوع هم وي، هغه د دولت دنده ده. خو بیا هم دا په دې معنا نه ده، چې په ټولنه کې ټول خلک پرې خبري وکړي. او یو او بل ته وویل شي، او افشاء ګري وشي. په ځانګړې توګه، په داسې حالت کې چې لا اثبات شوې هم نه وي. [البته دا یوه استثناء ده] خو که مورِ وغواړو، ټول یو د بل په بدیو پوه شو، تاسو په نظر کې ونیسئ، یو کار یا یوه ګناه چې مو کړې، او نور پرې و پوهېږي. که تاسو پخپله د نورو پر ځای واست، آیا له ځان سره به مو دوستي کړې وای، آیا اړیکه به مو برقرار کړې وای.

مورِ که پخپلو کې، یو د بل په بدیو پوه شو، یو له بله څومره متنفر کېږو. خو پر عکس یې، که د یو د بل په بدیو پوه نشو، او یو د بل په نېکیو پوه شو، څومره به مو اړیکې، صمیمي او صادقانه شي. مورِ ته یې څه، یو وخت یې یو لړ کارونه کړي دي، او بیرته یې خپل خدای ته، مراجعه کړې ده، ستانه شوي دي، توبه یې کړې ده. مورِ ته څه ضرورت دی، چې ورپسې ببل راواخلو، او بیخ یې راوسپړو، چې څه یې کړي دي. هغه پوهېږي او خدای یې. مورِ باید د نورو د بدیو راسپړلو هڅه ونکړو. او باید په نېکو کارونو کې، یو تر بله مسابقه وکړو.

ټولنه باید ټول پخپلو کې، یو بل ته خوشبینه اوسي. نو ځکه وایي چې غیبت مه کوئ. څوک چې غیبت کوي، د خپل ورور له غوښو تغذیه کوي. دا په حقیقت کې، یو ډول ترور دی. نه جسمي ترور، وایي؛ ته د هغه په شخصیتي ترور، لګبا یې، او خپل ځان اوچتوي، خپل ځان پورته وړې. دا چې څوک وایي دا بد دی، هغه بد دی، که د خپل ځان په اړه تعریف او ستاینه هم ونکړې، په حقیقت کې یې، د نورو په غندلو کې، خپل ځان پورته وړی دی.

ددې پر ځای چې، خپل ځان کې وړتیا پیدا کړي، د نورو په غندلو ځان پورته وړي. چې دا په حقیقت کې، د انسان د ودې او تکامل مخه نیسي، او څه چې باید ونکړل شي، هغه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ځکه قرآن فرمايي؛ هاغه خلک چې پر نورو تور لګوي، او هغوی چې خوښوي، زشت او ناوړه نسبتونه، د ايمان د اهل په اړه خپاره شي، د هغوی لپاره، ډېر دردناک عذاب دی.

سربېره پر دې، چې په آخرت کې، له ستر عذاب سره مخامخ کېږي. په دنيا کې هم، د خپل عمل عقوبت او پايله ويني. نو وايي: «لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ» د دوی لپاره په دنيا او آخرت کې، دردوونکی عذاب دی؛ يعنې خدای تعالی نه يوازې دوی ته، په آخرت کې، دردوونکی عذاب ورکوي، بلکې په دنيا کې هم، له ستر دردوونکي عذاب او پايلې سره، مخامخ کېږي. د مکافات، پايلې او جزا مسئله، د پاملرنې وړ ده. موږ ته يې داسې نه دي ويلي؛ چې هره ګناه په دې دنيا کې، جزا او عقوبت لري. ډېرى له ګناه ګانو داسې دي، چې اساساً په دې دنيا کې، جزا او عقوبت نه لري. موږ پوهېږو چې هره ګناه، په آخرت کې عقوبت او عذاب لري، خو خدای تعالی به له ځينو ګناه ګانو په دې دنيا کې هم تېر نه شي.

يوه له هاغو ګناه ګانو، چې په همدې دنيا کې عکس العمل لري، [چې کولی شـو هغه تجربه او ازمېښـت کړو] هغه پر نورو د تهمت کولو او تور لګولو او آبرو تويولو، ګناه ده.

هاغه کسان چې يو تهت او تور، په ناحقه يې پر چا لګوي، يوه ورځ به هرو مرو، د هغه په نېواک کې راشي. اوس کېدی شي، نور لکه د ده په څېر، د غيبت پـه څـرخـه کې، د ده غيبتونـه وکـړي. او يا به يې لکه د ځان په څېر، پر ده ناحق تور او بهتان ولګوي. او يا به په يوه بڼه، دی پخپله په ټولنه کې، رسوا او مفتضح شي. او په همدې ترتيب به، ټوله ټولنه، يو د بل په رسوا کولو کې، په عذاب او بدمرغۍ ککړه شي. ځکه چې د الله په نزد، پر نورو تور او بهتان لګول، ستره ګناه ده.

او دا چـې اللـه تاسـو تـه دا خـبري کـوي، لـه دې کبلـه دي چـې هغـه پـوهېږي، او تاسـو نـه پـوهېږئ. «وَاللَّـهُ يَعْلَـمُ وَأَنْـتُمْ لَا تَعْلَمُـونَ».

(c) ketabton.com: The Digital Library

غـواړي ووايـي دا مطلـب ډېـر سـتر دی. او يـوازې اللـه پـوهېږي، چـې دا کار څومره ستر دی، خو تاسو نه پوهېږئ!

د شلم آية، ترجمه شرح او تفسير

وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ وَأَنَّ اللَّهَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ﴿۲۰﴾

او که د الله فضل پر تاسو[په داسې لارښوونو کې] او رحمت يې [په عفو او مغفرت کې] نه واى، [مسلماً ټول به د داسې اخلاقي بې مسئوليتۍ په لومه کې نښتې واست] او مسلماً الله ډير رؤف او رحيم دی.

وَلَوْلَا	فَضْلُ اللَّهِ	عَلَيْكُمْ	وَرَحْمَتُهُ	وَأَنَّ	اللَّهَ	رَءُوفٌ	رَحِيمٌ
او که نه واى	د خداى فضل	پر تاسو	او رحمت د هغه	او دا چې	الله	شفقت والا	لورين دى

وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ وَأَنَّ اللَّهَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ [دا درېم ځل دى چې تکراريږي] که د خداى تعالى فضل او رحمت نه واى، او دا چې خداى تعالى رءُوف او رحيم دى. بعينه آية پورته تېر شوى دى. «۱۰» آية ته دې پاملرنه وشي؛ بس توپير يې دا دى، چې هلته تَوَّابٌ حَكِيمٌ دى، او دلته رَءُوفٌ رَحِيمٌ دى. وايي: که الهي فضل او رحمت نه واى، او که دا نه واى چې خداى تعالى رئوف او رحيم دى، د داسې غفلت په حکم چې سر ته مو رسولى دى، تاسو ته به ستر عذاب رسېده، خو الهي فضل د دې مانع شو؛ يعنې دا غفلت مو چې وکړ، او د منافقينو مبلغين او لوړغږي جوړ شوئ. تاسو به يې، په دنيا کې، د يو ستر عذاب، مستحق کړي واست. او ستاسو ټولنه به، له بېخه شېندل کېدله. خو الهي فضل او رحمت، د ټولنې له دې شېندل کېدو، مانع شو.

د «لَوْ» ځواب دلته هم محذوف دى، او دا حذف د تنبيه پر شدت دلالت کوي. مطلب يې دا دى؛ چې دا د الله فضل او رحمة دى، چې هغه، تاسو پر دې سختې او شديدې غلطۍ و نه نيولئ. او که نه ستاسو له دننه، خپلو کسانو، چې کوم ډول د منافقينو او اسلام دښمنو د موخو پوره کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره، بشپړ سامان برابر کړی وو، پر دې تاسو ددې وړتیا درلوده، چې د خدای په نېواک کې راغلي واست. ستاسو له دې غلطۍ سره سره يې، تاسو ته د اصلاح او توبې مهلت درکړ. ځواب يې تاسو پخپله وسنجوئ، څه کار به مو کاوه، يو د بل پر سر به مو څه بلا راوړلی. آيا يو بل ته به مو ابرو پرېښوده؟ په دې رقابتونو کې به هرو مرو پرېوتئ، او ټولنه به مو له ګډوډۍ او شېندل کېدو سره، مخامخ کېده.

د دې هدايتونه له لامله دی، چې ددې سورة نوم «نور» دی. چون دا سورة ټول، احکام دي، يوازې پند او نصيحت نه دی. وايي؛ «و فرضناها» دا خدای فرض کړي دي، دا يوازې اخلاقي مسئلې نه دي، چې ويې لولو او ووايي چې ښه دی، که دا کارونه وکړئ. قرآن وايي؛ دا حکم دی.

آيا په دې کتابونو کې چې يو شمېر نومورو ښاغلو ليکلي دا خبرې شته دي؟؛ څرګنده ده چې نشته، دې ښاغلو خو د فرض او ګناه لپاره له ځانه احکام را ايستلي. او په دې اړه د نومورو په کتابونو کې هيڅ نه موندل کېږي. خو قرآن په څرګنده توګه وايي دا فرض دي، واجب دي، اړين دي.

د سورة متن او د لُغتونو ترجمه (۲۱ ـ ۲۶) آيتونه

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ وَمَنْ يَتَّبِعْ خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ فَإِنَّهُ يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ مَا زَكَىٰ مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ أَبَدًا، وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يُزَكِّي مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿۲۱﴾ وَلَا يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ أَنْ يُؤْتُوا أُولِي الْقُرْبَىٰ وَالْمَسَاكِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا أَلَا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ	لَا تَتَّبِعُوا = پيروي مه کوئ، پلويني مکوئ ـ خُطُوَاتِ = ګامونه، قدمونه، پلونه ـ مَا زَكَىٰ = نه پاکيزه کېږي، نه سپېڅلی کېږي، د ګناه ناپاکي يې نه لرې کېږي ـ يُزَكِّي = پاکيزه کوي، سپېڅلی کوي ـ سَمِيعٌ = تل اورېدونکی ـ لَا يَأْتَلِ = قسم مه خورئ، لنډون مه کوئ، نبايد کوتاهي وکړئ، نه ښايي له ورکړې لاس ونيسئ ـ أُولُو الْفَضْلِ ... وَالسَّعَةِ = د برتری .. او [مالي] پراختيا خاوندان ـ أَنْ يُؤْتُوا = چې ورکړي ـ أُولِي الْقُرْبَىٰ = خپلوان، نژدې کسان ـ الْمَسَاكِينَ = بېوزلي، بېنوايان ـ وَلْيَعْفُوا = او بايد عفو وکړي، او بايد ښېنه وکړي ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿۲۲﴾ إِنَّ الَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ الْغَافِلَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ لُعِنُوا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿۲۳﴾ يَوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ أَلْسِنَتُهُمْ وَأَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿۲۴﴾ يَوْمَئِذٍ يُوَفِّيهِمُ اللَّهُ دِينَهُمُ الْحَقَّ وَيَعْلَمُونَ أَنَّ اللَّهَ هُوَ الْحَقُّ الْمُبِينُ ﴿۲۵﴾ الْخَبِيثَاتُ لِلْخَبِيثِينَ وَالْخَبِيثُونَ لِلْخَبِيثَاتِ وَالطَّيِّبَاتُ لِلطَّيِّبِينَ وَالطَّيِّبُونَ لِلطَّيِّبَاتِ أُولَئِكَ مُبَرَّءُونَ مِمَّا يَقُولُونَ لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴿۲۶﴾

وَلْيَصْفَحُوا = او بايد تېر شي، او بايد سترګې پټې کړي ـ أَلَا تُحِبُّونَ = آيا تاسو نه خوښوئ ـ أَنْ يَغْفِرَ... لَكُمْ = چې تاسو وبښي ـ يَرْمُونَ = د تور په غشو وولي، د زنا نسبت ورکوي ـ الْمُحْصَنَاتِ الْغَافِلَاتِ = [له ګناه] ناخبره پاک لمنې ښځې ـ تَشْهَدُ = ګواهي ورکوي ـ أَلْسِنَتُهُمْ = ژبې د هغوی ـ أَرْجُلُهُمْ = پښې د هغوی ـ يُوَفِّيهِمُ = په کامله توګه ورکوي، په بشپړه توګه ورکوي ـ دِينَهُمُ الْحَقَّ = د هغوی وړ جزا ـ الْخَبِيثَاتُ = ناپاکې ښځې ـ الْخَبِيثِينَ = ناپاک نارينه ـ الطَّيِّبَاتُ = پاکې ښځې ـ الطَّيِّبُونَ = پاک نارينه ـ أُولَئِكَ مُبَرَّءُونَ = هغوی مبرّا او پاک دي ـ مِمَّا = له هغه څه نه چې ـ يَقُولُونَ = چې وايي ـ مَغْفِرَةٌ = بښنګرې ـ رِزْقٌ = روزي ـ كَرِيمٌ = عزتمن، اوچت، غوره ـ

د نور سورة تشريح (۲۱ – ۲۶) آيتونه

د سورة ددې برخې آيتونه، هم لکه د تېرو آيتونو په څېر، د هجرت په پنځم کال کې نازل شوي، او د کور او کورنۍ د مسئلو پورې اړوند، ټولنيزو برخو ته نغوته کوي. او همدا راز وايي؛ مؤمنين نبايد، د شيطان له پلونو او ګامونو پليوني وکړي. چې شيطان په ټوله کې، پرله پسې انسان ته په فحشاء او مُنکر، فرمان ورکوي. او خداى تعالى هاغه څوک چې وغواړي، [له عدل او احسان سره] تزکيه کوي.

بډايان نبايد خپل انفاق او لاس نېوى، له هاغو کسانو قطع کړي، چې د دا ډول خطاګانو ارتکاب يې کړى. [انفاق ډيرى د نفس د تزکيې لپاره دى، او فردي اړخ يې، له ټولنيز اړخه، ډېر مهم او ارزښتمن دى].

هغه کسان چې پر پاک لمنو، او له لولې توب او کچنيتوبه پر ناخبرو ښځو، تور لګوي، پر هغوى په دنيا او آخرت کې لعنت ويل شوى. او هغوى ته به ستر عذاب وي. په هاغې ورځ کې به پر هغوى، د هغوى ژبې او لاسونه او پښې، پر هاغه څه چې کړي يې دي، ګواهي ورکوي. په هاغې ورځ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

به، هغوی ته، پوره بدله، د هغوی د عمل په مقابل کې، او د کومې بدلې چې حقدار يې دي، پوره ورکول کېږي.

ناپاکې ښځې، د ناپاکو نارينو لپاره وړ دي، او ناپاک نارينه، د ناپاکو ښځو لپاره، وړ دي؛ او پاک لمنې ښځې، د سپېځلو نارينو لپاره وړ دي. او سپېځلي نارينه، د پاک لمنو ښځو لپاره، وړ دي؛ دوی له هغه څه چې، د دوی په اړه يې وايي، پاک او سپېځلي دي.

د يوويشتم آية، ترجمه شرح او تفسير

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ وَمَنْ يَتَّبِعْ خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ فَإِنَّهُ يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ مَا زَكَى مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ أَبَدًا، وَلَكِنَّ اللَّهَ يُزَكِّي مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴿۲۱﴾

ای هغه کسانو چې ايمان مو راوړی دی [د ايمان، د فردي او ټولنيز امنيت اړينتيا ده چې] د شيطان له ګامونو [او پلونو] پليوني ونکړئ [= د شيطاني تحريکاتو فرېب ونه خورئ] او هر څوک چې شيطان پسې ځي [پوه دي شي چې] بې له شکه هغه [بنيادم ته] په فحشاؤ [او زشتيو] او ناسمو [چارو] فرمان ورکوي [امر کوي]، او که پر تاسو د الله فضل او رحمت نه وای[۱۲] هيڅ يو به له تاسو څخه هيڅکله [له داسې اخلاقي ضعفونو څخه] پاک شوی نه وای، خو الله هر چا ته چې وغواړي [د نظامونو پر بنسټ ، وړتيا او د لاس ته راوړي استحقاق سره] پاکوي او الله [ستاسو په ظاهري او باطني دعاګانو او غوښتنو] عليم سميع [پوه اورېدونکی] دی.[۱۳]

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ	آمَنُوا	لَا تَتَّبِعُوا	خُطُوَاتِ	الشَّيْطَانِ	وَمَنْ
ای هغو کسانو	چې ايمان مو راوړی	تاسو پليوني مکوئ	ګامونه (پلونه)	د شيطان	او هر څوک چې

يَتَّبِعْ	خُطُوَاتِ	الشَّيْطَانِ	فَإِنَّهُ	يَأْمُرُ	بِالْفَحْشَاءِ	وَالْمُنْكَرِ	وَلَوْلَا
پليوني وکړي	ګامونه	د شيطان	نو ببشکه هغه	امر کوي	په بې حيايي	او بدو چارو	او که نه وای

فَضْلُ اللَّهِ	عَلَيْكُمْ	وَرَحْمَتُهُ	مَا زَكَى	مِنْكُمْ	مِنْ أَحَدٍ	أَبَدًا
فضل د خدای	پر تاسو	او لَوَر د هغه	نه به وو پاک شوی	له تاسو نه	له هيڅ يو نه	هيڅ کله

وَلَكِنَّ	اللَّهَ	يُزَكِّي	مَنْ يَشَاءُ	وَاللَّهُ	سَمِيعٌ	عَلِيمٌ
او خو	الله	پاکوي	هغه څوک چې وغواړي	او الله	اورېدونکی	پوه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲ـ دا څلورم ځل دی، چې د «وَ لَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ» جمله، په دې سورت کې، تکرارېږي [۱۰، ۱۴، ۲۰ او ۲۱ آیتونه]. دا جمله هر ځل د غیراخلاقي کړنو د یو مورد له ذکر څخه وروسته، د الله تعالی د هدایت او ځانګړي رحمت، یادونه کوي.

۱۳ ـ د «سميعٌ عليم» د صفتونو ذکر، د وړ او شایسته کسانو، د نفس په تزکیه کې، سره له دې چې په ژبه یې، یوه دعا هم کړې نه وي، د سمیع د معنا په عام والي دلالت کوي. چې د الله تعالی په هر ډول اطلاع موندنې، شامل دي. له هاغو اړتیاو چې په ژبه نه دي راغلي، او د ودې او کمال په مسیر کې دننې او ذاتي دي.

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ» ای هاغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی؛ یعنې تاسو چې د ایمان په مدرسه کې نوم لیکلی، نوم مو ثبت کړی دی، نو ددې ثبت نام اړینتیا او لزوم امنیت دی. نو د شیطان له ګامونو پلیوني مه کوئ. یعنې خپل پل د شیطان د پل پر ځای مه اړدئ.

که څوک پوښتنه وکړي، چې مور خو شیطان نه پېژنو، یا هغه نه وینو، له کومه ځایه به پوه شو، چې د شیطان د پل پر ځای پل ږدو؟ په ځواب کې ویل کېږي چې دا خو په سترګو لیدل نه غواړي، شیطان د هغه له وسوسو وپېژنئ. کله چې تاسو وینئ، یوه وسوسه ستاسو په زړه کې پیدا شوه، چې تاسو یو مُنکر، زشت او ناپسند عمل ته بولي، پوه شئ، چې هلته د شیطان پښه په منځ کې ده. شیطان مخکې شوی دی، او تا ته وایي: راځه. همدا وسوسه، د شیطان د «راځه» وسوسه ده. نو اړینه نه ده، شیطان په سترګو وویني، په زړه یې وویني. تَتَّبِعُوا؛ تبعیت، یعنې د څه شي پسې تلل، ځېنو ځایونو کې یې په قرآن کې ویلي:

له شیطانه تبعیت مه کوئ، خو پنځه ځلې یې ویلي؛ د شیطان له ګامونو او پلونو، پلیوني مه کوئ. ولې وایي له ګامونو[او پلونو]؟ چې دوه ځله یې په همدې سورة کې راوړي دي، په درې نورو ځایونه کې هم، د ګامونو [پلونو] لفظ کارول شوی دی، چې دوه یې د خوراکي څیزونو په اړه دي، او بل یې د دعوو او اختلافونو په اړه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

«يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ» [بقره۱٦۸(۲:۱٦۸)] ای خلکو، هاغه څه چې په ځمکه کې دي، حلال او پاکيزه وخورئ او د شيطان له پلونو پليوني مه کوئ چې هغه ستاسو لپاره ښکاره دښمن دی.

وَمِنَ الْأَنْعَامِ حَمُولَةً وَفَرْشًا كُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ [انعام۱۴۲(٦:۱۴۲)] او له څارويو يې، ځينې بار وړونکي او ځينې يې فرش [= د سورلۍ لپاره يا د هغه له پوستکي او وړيو څخه د استفادې لپاره] وګومارل. هاغه څه چې الله تاسو ته روزي کړې ده وخورئ او [د حلالې روزۍ په حرامولو] د شيطان له پلونو پليوني مه کوئ چې هغه بې له شکه ستاسو لپاره ښکاره دښمن دی.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ [بقره۲۰۸(۲:۲۰۸)]. ای هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی، ټول د [الله] تسليم او اطاعت ته داخل شئ او د شيطان له ليکو او پلونو پليوني مه کوئ، چې بې له شکه هغه تاسو ته ښکاره دښمن دی.

دلته ددې سورة د تنبيهاتو له لړۍ، يوه بله تنبيه ده؛ يعنې هغه چا چې د ايمان په مدرسه کې نوم ليکلی، هغوی ته ګوابنه کوي، هغوی آګاه کوي؛ چې د شيطان له چالونو او پلمو څخه، هوښيار او ويښيار اوسئ. او تاسو ته نه ښايي، چې شيطان پسې، قدم په قدم مخکې لاړ شئ. او له شيطان سره، پل په پل يون وکړئ. يعنې کله چې څوک د شيطان په لومه او چل کې، ايسار شي. د هغه په پليونۍ کې، هاغه څيزونه کوي، چې ناروا دي. او هغه ګام په ګام مخکې وړي. د شيطان ګامونه، په دې ډول نه دي، چې په يو ځل يو ناڅاپه څوک په بشپړه توګه د شيطان پسې روان شي. بلکې پاتکی په پاتکي ورو، ورو مخکې ځي.

که له زنايي څخه وپوښتې؛ چې ولې دې زنا وکړه؟ وايي؛ لومړی مې يوه ليدنه وکړه، بيا ورغلم ورسره مې سلام وکړ، بيا مو يوه وعده کښوده

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاړو، يوه قهوه مو سره وڅښله، بيا نو همداسې پراو په پراو مخکې لاړو، له ۱۰، ۱۵ پراوونو وروسته، پايله يې دا ناروا کار وو.

دا هغه ګامونه دي، چې لومړی له يوه ساده څيز سره پيل کېږي. چې همدا ساده څيز، د هاغه ناروا عمل د تعميل لپاره، د پيل يو ګام دی. مخکيني آية کې مو، يوه خبره د غيبت په اړه وکړه، بايد پاملرنه وکړو، چې غيبت او داسې نور څيزونه، ورو ورو خپل آغېز اچوي. د ښلګې په توګه؛ لومړی د ټوکې په انداز کې، پيل کېږي. چې ټول يو له بل سره، له داسې خبرو خوند اخلي. بيا پل په پل خبره بې خونده کېږي، خبره جدي کېږي. او بيا پاټکی په پاټکی د سړي بدې راځي، بيا ورپسې، سختې خبري يو بل ته کوي، بيا ورو، ورو اړيکه يې پرې کېږي. چې اړيکه غوڅه شوه، يو له بله بېليږي، او يو تر بله نفرت ورو ورو زېاتيږي. اختلافونه او داسې نور موردونه، چې په قرآن کې راغلي دي، وايي؛ چې په پيل کې ستاسو نظر ته نه راځي، او ورو ورو ګام په ګام هغې لور ته کښل کېږئ.

«وَمَنْ يَتَّبِعْ خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ فَإِنَّهُ يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ» او که څوک د شيطان له ګامونو پليوني وکړي، هغوی چې د شيطان پر ګامونو ګام ږدي، بايد پوه شي، چې شيطان څه کوي؟ «فَإِنَّهُ يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ» شيطان زشت او ناوړه کارونو ته بلنه کوي، فحشاء ډېر زشت، بد او رسوا کارونه دي، نو وايي هغه، دې کارونو ته تاسو بولي، او فرمان درکوي. منکر هغه څيزونه دي، چې د انسان نفس يې نه خوښوي، او ترې انکار لري. خو که څوک د شيطان په چال کې راشي، پل په پل ورسره روږدی کېږي. او ورپسې هغه کارونه چې پخوا يې بدې راتلل، اوس ترې خوند اخلي، او عادي کېږي. چې په پايله کې به، پر فحشاو داسې معتاد شي. چې د هغه لپاره به د ځان خلاصول، ترې ناشونتيا ته نژدې شي.

«وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ» دا څلورم ځل دی چې دا جمله په دې سورت کې تکرارېږي [۱۰، ۱۴، ۲۰ او ۲۱ آيتونو کې]. دا جمله هر ځل

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غیراخلاقي کړنو، د یو مورد له ذکر څخه وروسته، د الله تعالی د هدایت او ځانګړي رحمت، یادونه کوي.

وایي: که د خدای فضل او رحمة پر تاسو نه وای، دلته هم هماغه خبره تکراروي، او د هرې دورې مسلمانانو ته اخطار ورکوي. او وایي: ای مسلمانانو! د پیغمبر په زمانه کې یو ځل د کندې او غورځېدا څنډې ته ورسېدئ، که د خدای فضل او رحمة نه وای؛ ټولنې به مو داسې سقوط کړی وای، چې د نجات او ژغورېدا موندل مو، ناشوني ول. دا ټول ددې لپاره دي، که په ورپسې زمانو کې، له داسې پېښې سره مخامخ شوئ، او پخپلو کې مو، یو تر بله د تور لګولو او پروپاګند بازار تود کړ، پوه شئ؛ چې سقوط به وکړئ، او بد مرغه به شئ. [لکه څنګه چې مورِ اوس یو].

«وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ مَا زَكَىٰ مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ أَبَدًا» که الهي فضل او رحمة نه وای هیڅوک به له تاسو د پاکۍ او سپېڅلتوب پرلو ته رسېدلي نه وئ، یعنې هیڅ یو به له تاسو د ابد لپاره، نه تزکیه کېدای. چون زمورِ نفس همداسې کارونو ته تمایل لري، خدای تعالی تاسو ته وایي؛ دا کارونه مه کوئ، یو د بل شخصیت تر پښو لاندې مه کوئ، توهین مه کوئ، یو پر بل تور مه لګوئ.

که د خدای فضل او رحمة نه وای؛ «مَا زَكَىٰ مِنْكُمْ» نه تزکیه کېده له تاسو «مِنْ أَحَدٍ أَبَدًا» هیڅ یو، د تل لپاره، د ابد لپاره. «وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يُزَكِّي مَنْ يَشَاءُ» او لیکن خدای تعالی تزکیه کوي، هغه څوک چې وغواړي، [وغواړي نه په دې معنا چې زړه یې وغواړي]، د خدای مشیّت، یعنې د خدای تعالی نظامات او قوانین، یعنې که څوک پخپله وغواړي، چې د نفس تزکیه ومني، یعنې د خدای تعالی له قوانینو او نظاماتو سره سم عمل وکړي. نو خدای تعالی هر هغه چا ته چې وغواړي، او مستحق یې وګني، له ګناه یې تزکیه کوي. «وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ» خدای تعالی هم اورېدونکی دی، او هم دانا. ستاسو د دننیو غوښتنو اوریدونکی، یا هغه غوښتنې چې په ژبه مو راغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي، يا نه دې راغلي، او تاسو ته وده او رشد درکوي، او پورته مو راوړي. د «سميع عليم» د صفتونو ذکر، د وړ او شايسته کسانو د نفس په تزکيه کې، سره له دې چې په ژبه يې يوه دعا هم کړې نه وي، د سمع د معنا په عام والي دلالت کوي. چې د الله په هر ډول اطلاع موندنې شامل دي. له هاغو اړتياو چې په ژبه نه دي راغلي،او د ودې او کمال په مسير کې دننې او ذاتي دي.

د دوه ويشتم آية، ترجمه شرح او تفسير

وَلَا يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ أَنْ يُؤْتُوا أُولِي الْقُرْبَى وَالْمَسَاكِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا أَلَا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴿۲۲﴾

ستاسو ځواکمن او بډايه[خلک] دې لوړه نکوي [دوی ته نه ښايي] چې د خپلوانو [نژدې کسانو]، مسکينانو او مهاجرينو له مالي مرستې [او لاس نېوي] څخه د الله په لار کې [چې اړ دي، خو د افواه په خپرولو کې يې ګډون درلود] ډډه وکړي، [بلکې] بايد عفو وکړي [او ترې تېر شي] او سترګې پرې پټې کړي، مګر آيا [تاسو پخپله] نه خوښوئ چې الله ستاسو [خطاګانې] وبښي؟ او الله بښونکی مهربان دی.[۱۴]

وَلَا يَأْتَلِ	أُولُو الْفَضْلِ	مِنْكُمْ	وَالسَّعَةِ	أَنْ يُؤْتُوا
او سوګند دې نه يادوي	د فضل لرونکي	له تاسو نه	او د پراخې لرونکي	چې (نه) ورکوي هغوی

أُولِي الْقُرْبَى	وَالْمَسَاكِينَ	وَالْمُهَاجِرِينَ	فِي سَبِيلِ اللَّهِ	وَلْيَعْفُوا	وَلْيَصْفَحُوا
خاوندانو د خپلوئ	او مسکينان	او مهاجرين	د خدای په لار کې	او بايد عفو کړي	او تېر شي

أَلَا تُحِبُّونَ	أَنْ	يَغْفِرَ اللَّهُ	لَكُمْ	وَاللَّهُ	غَفُورٌ	رَحِيمٌ
آيا تاسو خوښوئ	دا چې	الله وبښنه وکړي	تاسو ته	او الله	بښه بښونکی	او ډېر رحم والا دی

۱۴ – دغه توصيه، د دې حقيقت بيانوونکې ده، چې له نورو سره مالي مرسته، د هغوی د نمونځ کولو يا نه کولو پورې، او د هغوی په ايمان او اعتقاداتو پورې، الزاماً تړاو نه لري. همدا چې اړ او محتاج وي، کفايت کوي. مور ګومارل شوي نه يو، چې په دنيا کې د چا د ايمان مزد ورکړو، دغه چارې الله ته ځانګړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا آية هم چې لولو، لومړی توضيح ورکوي، چې دا آية په کومې موضوع کې خبره کوي. هاغه پېښه چې په اسلامي ټولنې کې، رامنځته شوه، يو شمېر کسانو، چې ددې شايعې په خپرولو او هغه ته په لمن وهلو پيل وکړ، په دې حساب چې په تاريخ کې ويل شوي، د پيغمبر مېرمن وه، ځېنې له تور او تهمت لګوونکو هم د ټولنې له اړمنو کسانو څخه ول.

ځېنو له مؤمنانو چې، لـه دې مخکې يې، لـه همـدا راز اړمنو کسانو سره، مالي مرستې کولې، خـو کله چې يې وليدل، ځـېنو لـه هغوی [اړمنو کسـانو] په دې پېښـه کې رول درلود، دوی تصـميم يې ونېو، او ويې ويل؛ چې نور مورِ له هغوی سره مرسـته نه کوو. هغوی چې د پيغمبر ناموس يې رټن او خدشـه دارکړ، او پيغمبر ته يې هم و نه کتل، او سـپکاوی يې ورته وکړ. نو په دې توګه پر هغوی، مرسـته کوونکي مؤمنين غوسـه کېږي، او له هغوی سره له مرستې کولو څخه لاس نيسي.

دلته قرآن ورته وايي؛ تاسـو پورې څه اړه لري، آيا تاسـو د وګړو د ايمان مزد ورکوئ؟ که اړمن دي، خو بايد مرسـته ورسره وشي. له اړمنو سره مرسـته کول، له دې موضـوع سره څه اړيکه لري؟ که سـتاسـو د پيغمبر پر مېرمن يې، داسې تهمت او تور لګولی دی، په دې اړه هغوی ګرم دي، خو دا تور او تهمت د مرسـتې کولو په مورد پورې هيڅ اړه نلري. که هغوی د مرستې مستحق دي بايد مرسته ورسره وشي، او له هيڅ اړمن څخه، بايد په دې نامه مرسته و نه سپمول شي.

ځکه چې دا دواړه موضوع ګاني، يوه تر بلې جلا دي. له هغوی سره مرسـته کول، د هغوی له عمل سره هيڅ تړاو نه لري. که هغوی په ربـتيا اړمن دي، صرفنظر له دې چې څه کوي، بايد مرسته ورسره وشي.

[انفاق ډيری، د نفس د تزکيې لپاره دی. او فـردي اړخ يې، لـه ټولنيز اړخ څخه، ډېر مهم او ارزښتمن دی].

چې دا پخپله زمورِ لپاره، يو تلپاتې ستر او مهم درس دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

«وَلَا يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ» - لَا يَأْتَلِ، يعنې کوتاهي مه کوئ، مه سپموئ. أُولُو الْفَضْلِ، هغوی چې خاوندان د فضل دي. هغوی چې زيات لري، هغوی چې بډايان دي. السَّعَةِ هغوی چې پراختيا لري، لاس او پښې يې خلاصې دي. سپمول دې نه کوي؛ «أَنْ يُؤْتُوا أُولِي الْقُرْبَى وَالْمَسَاكِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ» چې ورکړي «أُولِي الْقُرْبَى» ته، خپلوانو ته، خپلو نژدې کسانو ته او مسکينانو ته، بېوزلو ته، بېنوايانو ته او د خدای په لار کې هجرت کوونکو ته. «وَلْيَعْفُوا» او عفو کړئ، ناليدلي ونيسئ. «وَلْيَصْفَحُوا» او تېر شئ، سترګې پرې پټې کړئ. «أَلَا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ»، آيا تاسو نه خوښوئ، چې خدای تعالی تاسو وبښي. «وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ» او خدای تعالی، بښونکی مهربان دی.

يعنې له تاسو څېنو کسانو ته، چې الله تعالی وسه او پراختيا ورکړې ده، دوی ته نه ښايي، چې داسې قسمونه وخوري! او د اړمنو له مرستو او لاس نيوي څخه، ددې په بدل کې، چې هغوی د «افک» په ناوړه عمل کې ونډه اخېستې، کوتاهي او سپماوی وکړئ.

وايي: لکه څنګه چې تاسو هم، خلاف او خطاګانې کړي دي. او تاسو هيله من ياست، چې خدای تعالی تاسو وبښي، نو ولې تاسو خلک نه بښئ، هر کار يې چې کړی، د بښنې له دريځه ورسره لوری ونيسئ. دا آية يو جريان ته، تصريح او نغوته کوي. او هغه دا دی، چې څېنې له مسلمينو، چې د قرآن په تعبير «اولواالفضل» يعنې د فضل خاوندان ول، [دلته له «فضل» څخه مقصد د مال، شتمنۍ او ثروت درلودل دي، يعنې شتمن والی دی.] چې دوی هاغه وګړو ته، له انفاق او مرستې څخه لاس نېولی وو، چې په تور لګولو او د هغې په خپرولو کې يې ونډه اخېستې وه.

د «فضل» کليمه زمونږ په ورځنۍ اصطلاح کې، علمي فضل ته ويل کېږي. وسمهال که مونږ ووايو؛ پلانکی سړی فاضل دی، يعنې عالم سړی دی. «هغه له فاضلانو دی» يعنې له عالمانو دی، د معلوماتو او فضل خاوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی. خو په قرآن کې هاغه مال، ثروت او شتمنۍ ته، چې له مشروع لارې، لاس ته راوړل شوې وي، د «فضل» کلیمه اطلاق شوې ده.

لکه د «جمعه» په سورة کې فرمايي: «... فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ...» «...نو کله چې نمونځ پای ته ورسېد، په ځمکه کې [= په خپل بنار او ټاټوبي کې] خپاره شئ. او د خدای فضل [=کسب او کار او د ژوندانه نورو چارې] ولټوئ...» يعنې د کسب او کار او تجارت، او له مشروعې لارې، د پانګې او شتمنيو لاسته راوړلو، پسې لاړ شئ.

قرآن فرمايي: هاغه ثروتمندان او شتمن خلک، چې د مشروع لارې د مال او ثروت خاوندان شوې، او د سعه (تمکن) او شتمنۍ خاوندان دي، [د مرستو د بندولو لپاره دې قسم نه خوري.]

ځينې له مسلمينو، چې متمکّن او شتمن ول، ځينو نورو ته چې يا له مهاجرينو يا لـه مسکينانو، او يا د هغوی لـه خـپلو بېوزلو خپلوانو څخه ول، مالي مرسـتې کولې. نو لکه چې مخکې مو هم وويل؛ بيا په يو بهير کې يې [چې ظاهراً همدا د افک جريان وو] لـه دوی، بـدي وليدله. نو ځکه ترې خوابدي شـول. او ويې ويل: عجب! مورِ د خدای تعالی د رضـا لپاره، له دوی سره مرسـته کوو، او دوی پروپاګنډ کوي، او دروغ خبرې خپروي. هوډ يې وکړ، هاغه څه چې په پر له پسـې توګه، په مباشـتينۍ يا کلنۍ بڼه يې، دغو بېوزلو او مسـکينانو ته ورکول، قطع کړل، [چې د «افک» په پېښـه کې يې، شرکت کړی وو]. قسم يې وخوړ، او لوړه يې وکړه، چې مورِ به نور له دوی سره، مرسته ونکړو.

خو قرآن چې، د مسلمينو وحدت او يووالي ته، له هر څيزه زيات اهميت ورکوي. سره له دې چې، دلته د «افک» قضيه او ستر تهمت رامخته شو، او ډېرېو مسلمانانو هم اشتباه وکړه، چې د هغوی دا عمل اوس يوازې د تېرې شوې اشتباه په مقام کې دی. عامه مسلمينو ته وايي؛ تاسو خو ډېره اشتباه وکړه، چې د يوې منظمې ټرلې ډلګۍ لورغړي شوئ، او ورپسې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځپنې نورو هوډ کړی وو، خپلې مالي مرستې قطع کړي. چون ددوی د مالي مرستو قطع کېدل ددې سبب کېږي چې هاغه ېلله شوې ډله د تل لپاره ېلله شوې وي؛ فرمايي: په عين حال کې چې هغوی تېروتنه کړې خو تاسو تېرېدنه او ګذشت ولرئ، او له دوی تېر شئ، او دوی ته عفو وکړئ. او ېله دا چې اړمنو سره مرسته کول، د اړمنو کسانو له عقېدې او عمل سره، هيڅ اړيکه او تړاو نه لري. ځکه اړمن که هر څوک وي، او که مرستې ته اړتيا ولري، ېايد مرسته ورسره وشي: «وَلَا يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ...» قسم دې نه خوري، ستاسو متمکّنان او شتمنان، چې خپل کومکونه او مرستې يې، له مهاجرينو يا مسکينانو او ېېوزلو، او د خپلو خپلوانو له هاغې ډلې سره، چې تر اوسه مو له هغوی سره مالي مرستې کولې، او هغه غواړي قطع کړي، داسې دې نه کوي او دا مرستې دې نهه بندوي، او ددوی له دې تېروتنې سره، سره دې بيا هم له دوی سره خپلې مرستې جاري وساتي.

«...وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا أَلَا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ ...» عفو وکړئ، تېر شئ، ګذشت ولرئ، آيا تاسو نه خوښوئ چې خداى تعالى له تاسو تېر شي؟ دا آية چې نازل شو، هاغې ډلې چې هوډ کړی وو، خپلې مرستې او کومکونه قطع کړي، و يې ويل نور خپل کومکونه نه قطع کوو. «...وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ.» او الله ېښونکی رحيم دی.

دلته يې څلور پړاوونه بيان کړي دي چې د قرآن په نورو سورتونو کې هم تکرارېږي: ۱- عفو ۲- صفح ۳- غفر ۴- رحم

چې په ځلونو په نورو سورتونو کې توضيح کېږي، دلته په لنډه توګه ورته نغوته کوو: که چا له تاسو سره بدي وکړه نو؛

«...وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا أَلَا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ.».

۱ - عفو ده. عفو، يعنې نالېدلی نېول، صرفنظر کول. يو څيز چې زمونږ په زمانه کې، ډېر معمول او دود دی؛ وايي چې ما ېښلی، خو نه يې هېروم. دا ډېره عامه خبره ده، او له ډېرو مهمو او سترو شخصيتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه به مو په ځلونو اوربدلي وي، او په ډېريو ځايونو کې داسې شوی دي. چې وايي؛ بښم دې خو له يادە يې نه وباسم. خو چې نه يې هېروې، معنا دا چې ستا په آرشيف او زيرمتون کې خو پاتې کېږي، هلته خو شته دی، او يوه ورځ به سر راوباسي، او خپل ځان به څرګند کړي، او دا به د غچ په بڼه يوه ورځ څرګندېږي. دويم دا چې؛ قرآن وايي: بايد هېر يې هم کړئ. وَلْيَصْفَحُوا، «يصفحوا» له صفح اخېستل شوی؛ ځېنو هغه، د مخ صفحه ګڼلې، په دې معنا چې، ځېنې بښل کوي، خو ورسره يو آخ هم کوي، په غوسه ناک انداز کې، په کړو سترګو مقابل لور ته ګوري. خپله خواشيني او غوسه په لفظ کې نه، بلکې په څېره کې څرګندوي. چې دا هم په حقيقت کې، د زړه صفحې ته وړل دي. وايي؛ د زړه صفحې ته يې مه وړه؛ يعنې په خپل مخ کې دې يې مه راوړه، اصلاً نالېدلې يې ونيسه. خداى تعالى خو پوهېږي، نو همدا بسنه کوي، زه يې ولې زېرمه کړم. وايي اصلاً مه يې ساته. د اروا پېژندنې له ليده هم، دا يو اصل دی. چې وايي؛ دا مه ساته. ځکه چې دا يو بار دی، چې پر ځان دې اوچت کړی دی، او پر اوږو دې ساتلی دی. دا بار له ځانه لېرې کړه، او خپل ځان ترې هوسا کړه. ولې پر ځان هسې بار وساتو، ولې يې زېرمه کړو.

درېم يې غفران دی. وايي خداى تعالى غفور او رحيم دی. «وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ». غفران، يعنې د بدۍ جبران په نېکۍ سره وکړي، مثلاً له يو چا دې څه وغوښتل، در يې نکړل، اوس چې هغه له تا څه غواړي، ور يې کړه. له دې ولې خواشينی يې؟ چې کله تا ضرورت درلود، در يې نکړ. اوس چې هغه ضرورت لري، نو ته يې ورکړه. يا يو چا ستا په اړه ناسمه خبره کړې ده، اوس چې تا ته موقع په لاس درغلې، ته د هغه په اړه سمه خبره وکړه. درناوی يې وکړه، ته بايد ولې غچ او انتقام واخلي.

څلورم پړاو؛ له نورو پړاوونو لا هم ډېر سختتر دی. رحم يعنې زړه سوی، او لورينه ده. يعنې اصلاً د طبيب په سترګو، بيمار ته وګوره. زړه دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید وسوځېږي. دوکتور خو له ناروغ سره، کینه نه پیدا کوي. دا ډېر بشپړ او کاملتر دی. دا پنځه، شپږ ځلې په قرآن کې راغلی، د کورنیو د اړیکو په هکله هم راغلی، وایي: «...إِنَّ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ وَأَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَكُمْ» کېدی شي ستاسو د ښځو او اولاد تر منځ، تاسو ته دښمني رامخې ته شي. «فَاحْذَرُوهُمْ وَإِنْ تَعْفُوا وَتَصْفَحُوا وَتَغْفِرُوا» که تري تېر شئ، او عفو وکړئ، اصلاً په خپل مخ یې را نه وړئ، د بدیو عوض په نېکیو ورکړئ. «فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ» پوه شئ چې الله غفور او رحیم دی. [تغابن۱۴(۶۴:۱۴)]

وایي: تاسو هم خدایي صفتونه پیدا کړئ، تاسو هم باید وکولی شئ؛ بدي په نیکیو جبران کړئ، او په واقعیت کې هغوی ته، زړه سواندي اوسئ. او له خپله منځه دا کینې، بدغوښتنې او نفرتونه په ټولیزه توګه پاک کړئ. دا ډېر سخت چار دی، خو موخه داده، چې دې پرېږو ته، وکولی شو ورسېږو.

دلته د پاملرنې وړ، په زړه پورې خبره شته. هاغه کسان، چې د اسلام له منطق سره، آشنا نه دي، او پرې نه پوهېږي، له دې غافل دي، چې اسلام د محبت منطق، په خپل ځای کې، په لوړه کچه کارولی دی. سره له دې چې د اسلام مخالفینو، په دې اړه چې اسلام د خشونت دین دی، ډېر زیات تبلیغات کړي دي. چې دا پخپله ستره اشتباه ده.

اسلام، هم د تورې او شمشېر دین دی، او هم د مینې او محبت دین. هم د سختۍ دین دی، او هم د نرمۍ دین. سختي په خپل ځای کې تجویز کوي، او نرمي په خپل ځای کې، او د اسلام ستروالی، عظمت او اهمیت، په همدې کې دی. اسلام داسې یو دی، چې وایي: «زور ته له زور سره، او منطق ته له منطق سره، ځواب ورکړئ. د محبت په اړه محبت وکړئ. او حتا په ځېنو ځایونو کې وایي؛ د بدیو په مقابل کې هم محبت وکړئ».

اسلام کله هم نه وایي چې که یو قلدر او زورواکی په یو مخ څپېړه درکړي، بل مخ دې ورته ونیسه؛ بلکې وایي: «... فَمَنِ اعْتَدَى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ ...» [بقره۱۹۴(۲:۱۹۴)] هغه چې پر تاسو تېری

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي، په هماغه کچه حق لرئ، د هغه تېري ته ځواب ورکړئ. چې دا آية د قصاص، عدالت او دفاع مشروع اصل بيانوي. او دا اجازه هم نه چې انسان له خپل حد او بريده زيات انتقام واخلي. چې د فقيهانو له ليده دا د تناسب [Proportionality] قاعده ګڼل کېږي.

همدا راز قرآن د فصلت په سورة کې فرمايي: «وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللَّهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ» [فصّلت۳۳«۴۱:۳۳»] او [داسې نعمتونو ته د رسېدلو لپاره] څوک تر هاغه چا، د نېکې وينا لرونکی دی، چې د خدای لور ته بلنه کوي، او صالح [او ور] عمل وکړي، او وايي زه له تسليم شوو يم. [= له ځانه پيل کړي او د اصلاح پيلوونکی اوسي]. دلته خبره د خدای لور ته، له بلنې څخه ده.

ورپسې فرمايي:«وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ» [فصلت۳۴(۴۱:۳۴)] او نيکي او بدي کله هم سره نه برابرېږي؛ ته په بهترينه طريقه [بدي له خپله ځانه] دفع کړه، په دې صورت کې [به ووينې] هاغه څوک چې ستا او د هغه تر منځ دښمني ده، لکه د ګرمې [او صميمي] دوستۍ په څېر به وګرځي.

خدای تعالی پيغمبر ته، په خطاب کې فرمايي: ای پيغمبره! [ستا دنده د خدای لارې ته بلنه ده] پوه شه، چې نېکي او بدي يو وزن نه لري. حتا بدي ګاڼي هم هموزن نه دي، او نيکي ګاڼي هم، يو شان وزن نه لري. ته بدی، د بهترينو نېکيو په توسه، دفع کړه: «... ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ ...» که نور بدي هم کوي، ته نيکي وکړه. ورپسې، اروايي خصلت ذکر کوي، وايي؛ هغه مهال چې دښمن، بدي کوي. او ته د هغه د بدی په مقابل کې نيکي کوې، و به وينې چې د نېکۍ کولو خاصيت د بدی په اړه د کيميا خاصيت دی، يعنې ماهيت يې اووښتی دی: «...فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ» يو مهال وينې، هماغه چې ستا سرسخت دښمن وو، ماهيت يې واوښت او په يو مهربانه دوست تبديل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ځکه قرآن وايي: چې قسم مه خورئ، له دې چې وايست، نور تور لګوونکو سره مرسته نه کوو. دا سمه نه ده، خپل غيرت په ځوښ مه راولئ. سره له دې چې هغوی بدي وکړه، خو تاسو بيا هم نېکي وکړئ؛ «وَلَا يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ ...» قسم مه خورئ، چې د خپلو خپلوانو يا مسکينانو يا مهاجرينو، [هغوی چې د خدای په لار کې يې لومړی مهاجرت کړی] [له مرستې ورکولو صرفنظر کوي،] ددې بد کار له کبله چې کړی يې دی، او په دې تهمت کې يې برخه اخېستې ده؛ ورته وايي:

وَلْيَعْفُوا او عفو يې کړئ. وَلْيَصْفَحُوا او ترې تېر شئ، سترګې پرې پټې کړئ. أَلَا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ، آيا ستاسو نه خوښېږي، چې خدای تعالی تاسو وبښي؟ (څه عجيبه تعبير دی!) ای انسانانو، په خپلو کې يو تر بله له گناه تېر شئ، ځکه تاسو پخپله گنهگار ياست، او هيله من ياست، خدای تعالی ستاسو له گناه گانو تېر شي.

هاغه څه چې تاسو انتظار لرئ، خدای تعالی ستاسو په اړه چلن وکړي، د خدای د بندگانو په اړه هماغسې چلن وکړئ؛ سخت نيواکي مه اوسئ، چې کېدی شي گنهگاران د نبه کولو، له لارې معالجه کړئ؛ تاسو نشئ کولی، د مجازاتو او سختگيری له لارې، وارد شئ. خدای تعالی ښبونکی او مهربان دی، تاسو هم مهربان او تېروونکي اوسئ.

د درويشتم آية، ترجمه شرح او تفسير

إِنَّ الَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ الْغَافِلَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ لُعِنُوا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿۲۳﴾

هغه کسان چې په پاک لمنو [او له لولی،توب او هوسرانی څخه په] ناخبرو او مؤمنو ښځو [د فساد او فحشاء] تور لګوي،[۱۵] په دنيا او آخرت کې د الله له رحمته محروم دي او د دوی لپاره سزا، [ستر او] عظيم عذاب دی.

إِنَّ الَّذِينَ	يَرْمُونَ	الْمُحْصَنَاتِ	الْغَافِلَاتِ	الْمُؤْمِنَاتِ	لُعِنُوا
بېشکه هغه کسان چې	د تهمت غشي وولي	پر پتمنو	ناخبرو	مؤمنو ښځو	لعنت کړل شوي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

فِي الدُّنْيَا	وَالْآخِرَةِ	وَلَهُمْ	عَذَابٌ	عَظِيمٌ
په دنيا	او آخرت کې	او د دوی لپاره دی	عذاب	ستر

۱۵ – غفلت، نه پاملرنه او يو څيز ته رغبت نه درلودل او نه لېوالتيا ده، غوښتې يا نا غوښتې له هغه څخه بې خبري ده. غافلات د هغو ښځو وصف دی چې فحشاء او اخلاقي بې بند او باری ته بې رغبته، بې اعتنا او بې پامه دي او هيڅ تمايل او لېوالتيا هوسرانۍ ته نه لري ځينو يې ژباړه بې خبري کړي ده چې يو خنثی وصف دی، خو فحشاء او فساد ته رغبت نه درلودل فضيلت ګڼل کيږي.

کومې موضوع ته، چې په تېرو آيتونو کې، نغوته وشوه. په اسلامي ټولنې کې، چې په هاغې زمانه کې، پېښه شوې وه. د يو تور او تهمت په اړه، د شايعې خپرونه وه. چې د دا ډول ټولنيزې، بې مسئوليتۍ په اړه يې، اړينې توصيې او نصيحتونه درلودل. په ځانګړي توګه، د دا ډول جرمونو او تهمتونه، د جوتولو لپاره، چې څلور شاهدان ونلري، يو لړ جزاګانې هم ټاکل شوې دي. زه فکر نه کوم، په قرآن کې، په دې کچه چې د تهمت په اړه، [په ځانګړې توګه پر ښځو د تهمت په اړه] ټينګار شوی، د کومې بلې موضوع په اړه ټينګار شوی وي. ددې سورة په دې «۲۳» آية کې، د هغه اخلاقي او اخروي جنبې مطرح کوي: «إِنَّ الَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ الْغَافِلَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ لُعِنُوا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ» هغوی چې پر عفيفو او پاک لمنو غافلو مؤمنو ښځو تهمت لګوي، په دنيا او آخرت کې په الهي لعنت کې شامل دي او د دوی لپاره ستر عذاب دی. [په دې آية کې؛ غافله ښځه يعنې هغه چې هوسرانۍ او کچنيتوب ته هيڅ ميل او رغبت نلري؛ يعنې له بدو کارونو او کچنيتوب سره يې هيڅ اړيکه نه وي].

«إِنَّ الَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ الْغَافِلَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ» هغوی چې «يَرْمُونَ» يعنې د تهمت غشي خوشې کوي «الْمُحْصَنَاتِ» محصنات ته، يعنې پاک لمنو ښځو ته، حصن يعنې قلعه، يعنې هغه کسان چې عفت لري، پت او عزت لري، پاک لمنې دي، پر هغوی تهمت لګوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

«الْمُحْصَنَاتِ الْغَافِلَاتِ» هغوی چې غافلې دي، ناخبرې دي. اصلاً دې مسئلې ته پاملرنه او لېوالتيا نه لري، له دې خبرو يې لمن پاکه ده، روح يې هم لا له دې موضوع خبر نه لري الْمُؤْمِنَاتِ دوی مؤمنانې هم دي. او په ټولیزه توګه عفتناکې دي، اړینه نه ده چې هرومرو ټولې مؤمنانې وي کومې ښځې چې پتيالې او پاک لمنې وي؛ ځکه ډېرې ښځې شته چې ايمان هم نلري، خو پاک لمنې دي. او دوی خو لا هم پاک لمنې دې، هم بې خبرې دي او هم مؤمنې دي. دا درېواړو شرطونو پکې شتون درلود، او دا درې واړه يې په ترتيب سره مخکې راوړي دي.

«لُعِنُوا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ» لعنت يعنې له رحمته محروميت، دلته هم لُعِنُوا مجهول فعل دی، نه يې دي ويلي چې خدای دې يې لعنت کړي، لعنت يعنې په دنيا او آخرت کې، د خدای تعالی له رحمته لېرې شوی دي. د قرآن په ځېنو ځايونو کې راغلي دي، چې وايي:

«أُولَئِكَ جَزَاؤُهُمْ أَنَّ عَلَيْهِمْ لَعْنَةَ اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ» دغه خلک، د دوی جزا دا ده؛ چې يقيناً پر دوی باندې د الله لعنت دی، او د ملائکو او د خلکو، د ټولو (لعنت دی). ځېنې موردونه دي چې سړی د خدای، ملائکو او خلکو تر لعنت لاندې راځي، مطلب يې يوازې لفظ نه دی، يعنې کله چې په يوه ټولنه کې يو شمېر کسان ووينې، چې د خلکو پر ناموس تعرض کوي، خلکو پسې بدې خبرې کوي، طبيعي چې دوی د چا نه خوښېږي، د ټولنې لخوا طرد کېږي، د هغوی په اړه د خلکو قضاوت او نياو تغيير کوي، دا پخپله لعنت دی.

يعنې هم په خدايي نظام کې دوی د خدای له رحمته محرومېږي، چون يو زشت کار يې سر ته رسولی دی، او هم هاغه ځواکونه چې په طبيعت کې دي، پرېښتې او هم خلک، دوی له ځانه طرد او دفع کوي. او سربيره پر دې وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ په قيامت کې به ستر او عظيم عذاب ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څلورويشتم آية، ترجمه شرح او تفسير

يَوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ أَلْسِنَتُهُمْ وَأَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴿۲۴﴾

هغه ورځ چې د دوي ژبې، لاسونه او پښې پر هغه څه چې کول يې د دوي پر ضد شاهدي ورکوي.[۱۶]

يَوْمَ	تَشْهَدُ	عَلَيْهِمْ	أَلْسِنَتُهُمْ	وَأَيْدِيهِمْ	وَأَرْجُلُهُمْ	بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ
هاغه ورځ چې	گواهي ورکوي	پر دوی	ژبې د دوی	او لاسونه د دوی	او پښې د دوی	پر هاغه څه چې دوی کول

۱۶ – په ۱۵(۲۴:۱۵) آيه کې په ژبنۍ توګه، د شايعې ميندنه [إِذْ تَلَقَّوْنَهُ بِأَلْسِنَتِكُمْ] او نورو ته يې، د لېږدونې خبره، په افواهي توګه شوې ده. او په دې آيه کې، د قيامت په ورځ د ژبو، لاسونو او پښو د شهادت خبره ده. د ژبې نقش په دې شايعې خپرولو کې، څرګند دی. خو د لاس او پښو نقش، د غور او تأمل وړ دی! آيا تګونو راتګونو او افـ شاګرانه تحرکاتو ته، اشاره لري، يا د کومې بلې نکتې پر لور پام اړوي؟ [والله اعلم].

«يَوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ أَلْسِنَتُهُمْ وَأَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ» هاغه ورځ، چې د هغوی ژبې او لاسونه او پښې به، د هغوی پر هاغو عملونو، چې مرتکب شوي دي. شهادت ورکړي. يَوْمَ په هغه ورځ کې د قيامت به تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ أَلْسِنَتُهُمْ پر هغوی د هغوی ژبې گواهي ورکوي وَأَيْدِيهِمْ او لاسونه يې وَأَرْجُلُهُمْ او پښې يې بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ پر هاغه څه چې، عمل يې کاوه. يعنې مجرم به په خپله خوښه، په خوله او ژبه د هغو ويل او اظهار کول، نه غواړي. مګر د ده ژبه، لاسونه او پښې، به د الله په اذن په وينا راځي، او له هغو څخه هر غړی به، هر هغه عمل څرګندوي، چې د هغوی په توسه شوی دی.

قرآن په بشپړه څرګنده بڼه وايي: چې د آخرت عالم، ژوندی عالم دی. د آخرت د عالم هر څيز، ژوندی دی. او په هاغې دنيا کې هر څيز او هر غړی پر هاغه عمل، چې مرتکب شوی دی، گواهي ورکوي: لاسونه گواهي ورکوي، ما څه کړي دي، پښې گواهي ورکوي، چې ما څه کړي دي، سترګې او غوږونه، هر يو گواهي ورکوي، چې ما څه کړي دي، د بدن

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوټکی ګواهي ورکوي، چې ما څه کړي دي؛ حتا په ژبه مهر وهي: ای ژبې! ته ساکت اوسه، پربږده، پخپله غړي او ارګانونه خبري وکړي؛ ژبه هم [یوازې] په هاغو ګناهګانو چې پخپله مرتکب شوې ده، ګواهي ورکوي.

په ۱۵(۲۴:۱۵) آیة کې په ژبنی توګه، د شایعې مینډنه [إِذْ تَلَقَّوْنَهُ بِأَلْسِنَتِكُمْ] او نورو ته یې د خبرې لېږدونه، په افواهي توګه شوې ده. او په دې آیة کې، د قیامت په ورځ د ژبو، لاسونو او پښو، د شهادت خبره ده. د ژبې نقش په دې شایعې خپرولو کې، څرګند دی. خو د لاسونو او پښو نقش د غور او تأمل وړ دی! آیا تګونو راتګونو او افشاګرانه تحرکاتو ته اشاره لري، یا د کومې بلې نکتې پر لور پام اړوي؟ [والله اعلم].

قرآن فرمایي: په هاغه ورځ کې، د دې وګړو ژبې [چون د دوی ګناه د ژبې ګناه وه] او لاسونه او پښې یې، د دوی پر هماغو اعمالو، چې مرتکب شوي دي، ګواهي ورکړي. داسې بریښي؛ چې ګواکې کومه نغوته چې، ژبې او لاسونو او پښو ته شوې؛ ښایي له دې امله وي، چې د قاذف د ژبې رول خو، د دې تور او تهمت په لګولو کې څرګند دی، او دا تور یې د ژبې په توسه خپور کړی وو، او د جوتولو لپاره، ترې د څلورو شاهدانو غوښتنه شوې وه، چې هغه یې پوره نشوه کړای. بالمقابل د هغه دلته د پنځو شیانو ذکر وشو، ژبه چې د قذف اصلي اله ده، او څلور نور لاسونه او پښې، چې د هغه پر شرارت، او دې ناوړه عمل باندې، شاهدي وایي.

د قرآن په نورو ځایونو کې هم، دا مطلب بیان شوی. له هغې جملې د فصلت په سورة کې دی، چې وایي؛ د قیامت په ورځ چې کله انسانان راشي: «حَتَّى إِذَا مَا جَاءُوهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ وَأَبْصَارُهُمْ وَجُلُودُهُمْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ» [فصلت۲۰(۴۱:۲۰)] تر دې چې کله دوی ده ته (څنګه) راشي، (نو) پر دوی باندې به، د دوی غوږونه په هاغه څه چې یې اورېدلي، او د دوی سترګې پر هاغه څه چې لیدلي یې دي، او د دوی پوټکي پر هاغه څه چې لمس کړي یې دي، ګواهي ورکړي، د هاغو کارونو په اړه چې دوی به کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[او دوی هم تعجب کوي!] «وَقَالُوا لِجُلُودِهِمْ او خپلو پوټکو ته به وايي لِمَ شَهِدْتُمْ عَلَيْنَا تاسو ولې پر موږ شاهدي ورکوئ قَالُوا أَنْطَقَنَا اللَّهُ الَّذِي أَنْطَقَ كُلَّ شَيْءٍ [پوټکي وايي] هغه الله چې هر څيز يې په خبرو راوړی، موږ يې هم په خبرو راوړي يو. نه دا چې پوټکی انسان سره خبري کوي، يعنې دا په واقعيت کې زموږ د پوهې په ژبه دي. يعنې وايي ستاسو ټولې کړنې او چلن ستاسو د وجود په سلولونو کې ثبتېږي. ستاسو سترګو هاغه څه چې ليدلي، ستاسو غوږونه چې هاغه څه اوربدلي دي، ټول د هغوی د سلولونو په زيرمتون کې شته، همدا راز ستاسو پوټکی چې وايي، پر تاسو شهادت ورکوي، يعنې مدرک يې ستاسو په خپل وجود کې دی.

همدا راز په قيامت کې، داسې نه دی، چې څوک راشي، او شاهدي ورکړي، چې ومې ليدل؛ چې داسې شايعه يې خپروله. په حقيقت کې، د انسان مسئوليت، د هاغو شاهدانو پر وړاندې، څرګندوي، چې په خپل ځان کې يې دي [خپل حواس يې].

د پنځه ويشتم آية، ترجمه شرح او تفسير

يَوْمَئِذٍ يُوَفِّيهِمُ اللَّهُ دِينَهُمُ الْحَقَّ وَيَعْلَمُونَ أَنَّ اللَّهَ هُوَ الْحَقُّ الْمُبِينُ﴿۲۵﴾

په هغه ورځ کې الله د هغوی [له عملونو سره] متناسبه جزا ټوله بشپړه ورکوي او [هغه مهال] به پوه شي چې الله، هماغه څرګند او ښکاره حقيقت دی.

يَوْمَئِذٍ	يُوَفِّيهِمُ	اللَّهُ	دِينَهُمُ	الْحَقَّ	وَيَعْلَمُونَ
په هغې ورځ کې	دوی ته بشپړه ورکوي	الله	سزا د هغوی	وړ او مناسبه	او هغوی پوهېږي

أَنَّ	اللَّهَ	هُوَ	الْحَقُّ	الْمُبِينُ
چې بېشکه	الله	هغه	حق	ښکاره دی

«يَوْمَئِذٍ يُوَفِّيهِمُ اللَّهُ دِينَهُمُ الْحَقَّ» په هاغه ورځ کې به خدای تعالی د دوی دين او د دوی جزاء، هغه څه چې د دوی حق وي او د دوی وړ وي پوره ورکړي [دلته دين، نه د شريعت په معنا، بلکې د دين مطلب جزا او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاداش دی]، یعنې مطلب یې د دین ریښه یې معنا یعنې جزا ده، د هر هیواد اساسي قانون ته هم دین وایي، د یوسف په سورة کې راغلي دي، چې وایي:

د فرعون په دین کې شوني نه وه چې یوسف خپل ورور له ځان سره وساتي؛ «...كَذَلِكَ كِدْنَا لِيُوسُفَ مَا كَانَ لِيَأْخُذَ أَخَاهُ فِي دِينِ الْمَلِكِ...»، د مَلِک په دین کې شوني نه وه، چې یوسف خپل ورور له ځان سره وساتي. «دین الملک» یعنې هماغه قوانین چې د هاغه پر اساس خلک تشویق کېږي، یا تنبیه کېږي، د خدای تعالی دین هم هغه نظامونه او مقررې دي، چې د هغه پر اساس د خلکو نیاو او قضاوت کېږي. [د موټروانۍ له لیده هم د ټرافیکو دین همدا د ټرافیکو قوانین کېږي].

وایي: د قیامت په ورځ کې «يُوَفِّيهِمُ» وفا یعنې کامل، بشپړ؛ پر عهد وفا یعنې سل په سلو کې سړی یو کار ته رسیدګي وکړي «يُوَفِّيهِمُ اللَّهُ دِينَهُمُ الْحَقَّ» یعنې هغه حق جزاء، واقعي جزاء، تحقق مونـدې جزاء یې په بشپړه، کامله توګه، سل په سلو کې د خدای تعالی لخوا هغوی ته ورکول کېږي. «وَيَعْلَمُونَ أَنَّ اللَّهَ هُوَ الْحَقُّ الْمُبِينُ» او هلته به پوه شي چې الله تعالی ښکاره او څرګند حق دی، چې له هر څه یې خبر درلود او هر څیز د هغه په نزد تحقق مومي. هغه ذات چې د یوې ذرې په کچه د هر چا د عمل حساب کتاب په رون او څرګند ډول هغه ته په صافه بڼه ښکاره کوي، او د هغه په دربار کې ظلم او تعدّی نه کېږي، دغه مضـمون به د قیامت په ورځ کې ګردو ته مکشوف او بربنډ وي.

چون دا بحث د هاغه تهمت او تور په اړه دی چې لګولی یې وو، شأن نزول ته مو مخکې اشاره کړې، ویلې مو ول دا مسئله د حضرت عایشې(رض) په اړه وه، دوی لیدلي ول چې له یو ځوان سره، چې نوم یې غالباً صفوان وو، یو ځای راروان ول، دې ته مو هم اشاره کړې وه چې کله به له ښاره بیرون د جنګ لپاره تلل، په صحرا کې د شپې تېرولو وروسته به ګهیځ د وخته له خوبه پاڅېدل او حرکت به یې کاوه، ظاهراً لکه څنګه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي چې عايشه(رض) وه نو ويده پاتې شوې وه، او هغه څوک چې پيغمبر لېږلی وو، ددې لپاره چې ووينې که کوم څيز پاتې شوی وي يا دا چې کوم څوک ويده پاتې شوی وي راويښ يې کړي، هغه ځوان د ورسپارل شوې دندې پر بنسټ حضرت عايشه(رض) راوېښوي او راروانېږي، نو پرته له دې چې ددې دواړو تر منځ دا ډول کومه سابقه موجوده وي، دا تهمت او تور پرې لګوي؛ چې ګواکې دوی د کومې خطا ارتکاب کړی دی. چې په تېرو آيتونو کې يې په تفصيل ورته نغوته وکړه.

دا موضوع په جوته توګه ثابته شوه چې دا برېښنده او څرګند «افک» دی، او د تور لګوونکو دروغ ټولې ټولنې ته څرګند شول. دا څرګنده شوه چې دا لګول شوی تور يې يو څرګند بهتان وو. او هغوی دواړه مؤمنان ول او پرته له دې چې داسې کارونو ته لېوالتيا ولري، پاک لمنې ول. ورپسې آية کې الله تعالى فرمايي: ناپاکې ښځې، د ناپاکو نارينو لپاره وړ دي. او ناپاک نارينه د ناپاکو ښځو لپاره وړ دي؛ او پاک لمنې ښځې، د سپېځلو نارينو لپاره وړ دي او سپېځلي نارينه، د پاک لمنو ښځو لپاره وړ دي؛ دوی له هغه څه څخه چې، د دوی په اړه يې وايي، پاک او جلا دي. په پای کې وايي چې؛ د دوی لپاره بښنه او نيک رزق چمتو دی.

د شپږ ويشتم آية، ترجمه شرح او تفسير

الْخَبِيثَاتُ لِلْخَبِيثِينَ وَالْخَبِيثُونَ لِلْخَبِيثَاتِ وَالطَّيِّبَاتُ لِلطَّيِّبِينَ وَالطَّيِّبُونَ لِلطَّيِّبَاتِ أُولَئِكَ مُبَرَّءُونَ مِمَّا يَقُولُونَ لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ﴿٢٦﴾

ناپاکې ښځې، د ناپاکو نارينو لپاره [وړ] او ناپاکه نارينه د ناپاکو ښځو لپاره [وړ] دي؛ او پاک لمنې ښځې، د سپېځلو نارينو لپاره [وړ] او سپېځلي نارينه، د پاک لمنو ښځو لپاره [وړ] دي؛ دوی له هغه څه څخه چې، د دوی په اړه يې وايي، مبرّا او جلا دي، د دوی لپاره بښنه او نيک رزق چمتو دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الْخَبِيثَاتُ	لِلْخَبِيثِينَ	وَالْخَبِيثُونَ	لِلْخَبِيثَاتِ	وَالطَّيِّبَاتُ
ناولې ښځې	د ناولو سړو لپاره	او ناولي سړي	د ناولو ښځو لپاره	او سپېڅلې ښځې

لِلطَّيِّبِينَ	وَالطَّيِّبُونَ	لِلطَّيِّبَاتِ	أُولَئِكَ	مُبَرَّءُونَ	مِمَّا
د سپېڅلو سړو لپاره	او سپېڅلي سړي	د سپېڅلو ښځو لپاره	دا خلک	پاک دي	له هاغه څه

يَقُولُونَ	لَهُمْ	مَغْفِرَةٌ	وَرِزْقٌ	كَرِيمٌ
چې هغوی وايي	ددوی لپاره	ښښه ده	او روزي	ښه عزتمنه

«الْخَبِيثَاتُ لِلْخَبِيثِينَ وَالْخَبِيثُونَ لِلْخَبِيثَاتِ» کوم کسان چې ناپاک دي، [خبيث د طيب په مقابل کې دی] هاغه کسان چې اخلاقي مشکل لري، د طينت خبث لري، دوی په خپلو کې يو د بل لپاره وړ دي؛ يعنې ناپاکې ښځې د ناپاکو سړو لپاره، او ناپاک سړي د ناپاکو ښځو لپاره دي. وَالطَّيِّبَاتُ لِلطَّيِّبِينَ او پاک لمنې ښځې، د پاک لمنو سړو لپاره وَالطَّيِّبُونَ لِلطَّيِّبَاتِ او پاک سړي، د پاک لمنو ښځو پورې اړه لري.

که کومه ښځه [خدای مکړه] پاک لمنې نه وي، او لمن يې ککړه وي. د نارينه شرافت رټنی، او لکه دار کېږي. خو مور د خپلو ټولنيزو اړيکو پر بنسټ، پوهېږو که کوم نارينه ککړ وي، د ښځې شرافت ته دومره صدمه نه رسوي، بلکې اصلاً صدمه نه رسوي. دا پخپله يو ځانګړی اروايي رمز لري.

د اسلام ډېری دستورونه، د همدې مطلب، پر بنسټ دي. که ښځه آلوده او ککړه وي، سړی نشي کولی، د شرافت ادعا وکړي. خو ډېری پاکې ښځې دي، چې مېړونه يې آلوده او ککړ دي؛ هېڅکله خلک هغه ښځه، آلوده او ناپاکه نه ګڼي. وايي مېړه يې ناپاکه او ککړ دی، هغې ته يې څه؟ دا د موضوع يو اړخ. د موضوع بل اړخ دا دی؛ چې ښځه په عفتي او پتمني اړخ کې، د نارينه ناموس دی. خو په شخصي او فردي اړخونو کې، نارينه سره اړينتيا نه لري؛ يعنې که کومه ښځه [خدای مکړه] د پت او ناموس ککړتيا ولري، د نارينه لمن ورسره ککړېږي. خو که په کومه ښځه کې، له ايماني نظره نقص وي، دا، د نارينه نقص نه دی. مثلاً که کومه ښځه مؤمنه نه وي، او په باطن کې کافره يا منافقه وي، دا په نارينه پورې اړيکه نه لري؛ نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه قرآن د نوح ښځې، او د لوط ښځې ته، مثال ذکر کوي، چې نوح او لوط دوه پيغمبران ول. په داسې حال کې، چې د دوی ښځې، مؤمنې نه وې. او د فکر او عقيدې له نظره، د دوی مخالفينو پورې تړلې وې.

دلته چې قرآن وايي: «الْخَبِيثَاتُ لِلْخَبِيثِينَ وَالْخَبِيثُونَ لِلْخَبِيثَاتِ». ناپاکې ښځې، د ناپاکو سړو لپاره دي. او ناپاک سړي، د ناپاکو ښځو لپاره دي. او همدا راز پاکې ښځې، د پاکو سړو لپاره دي. دا د ناموسي سپېځلتيا له ليده دی؛ يعنې ناپاک سړی، چې غيرت له لاسه ورکوي، او ناپاکه ښځه غوره کوي او مني، او له دې خواشينی هم نه دی، چې ښځه يې ناپاکه ده. خو ناشوني ده، چې پاک سړی، ناپاکه ښځه ومني. همدا ځای دی، چې طبعاً يو انتخاب او غوراوی، بڼه نيسي. دا د شرعي حکم بيان نه دی، بلکې قرآن يو طبيعي قانون بيانوي: طبعاً داسې دی، چې پاکان، پاکانو پسې ځي، او ناپاکان، ناپاکانو پسې. تاسو خپل چاپېريال کې ووينئ؛ پاک ځوانان، هاغو نجونو پسې ځي، چې پاکې وي. او پاکې نجونې هم پاک مېړونه غوره کوي. خو يو کثيف او آلوده ځوان، هيڅ اهميت نه ورکوي، چې له يوې داسې نجلۍ واده وکړي. چې لسګونو نورو ځوانانو [د هغوی په خپلې اصطلاح] هغه تجربه کړې وي. د يو کثيف سړي کثيف روح، يوه کثيفه ښځه خوښوي، او د يوې کثيفې ښځې کثيف روح، يو کثيف سړی خوښوي. خو د يو پاک سړي پاک روح، پاکه ښځه د ځان لپاره غوره کوي. او د يوې پاکې ښځې پاک روح، پاک نارينه غوره کوي.

د مولانا په مثنوی کې، همدې ته ورته خبره راغلې وايي:

ناريان مر ناريان را جاذب اند نوريان مر نوريان را طالب اند

هغوی چې «ناري» دي، «اوروالا» دي، اوروالا تـه جـذب کېږي. طبيعتاً کوتره له کوترې، باز له بازه، هر يو خپل هم جنس پسې ځي. پاکان، پاکانو پسې دي، او ناپاکان ناپاکانو پسې. [قرآن د پيغمبر د زمانې خلکو ته فرمايي:] تاسو د پيغمبر او د پيغمبر د ناموس په اړه، دا څه خبرې کوئ؟ دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناشـــونی او محال دی، چې دا ډول ناپاکی، د یوه پیغمبر په کور کې لار ومومي. کفر کېدی شي، د یو پیغمبر په کور کې لار پیدا کړي. یا د کوم پیغمبر زوی کافر شي، خو فسق محال دی.

خپله د خدای تعالی پیغمبر (ص) له حضـرت عایشې (رض) سره، ډېره مینه کوله، او هغه ورته ډېره ګرانه وه. دا شوني نه ده؛ چې خدای تعالی حضـرت عایشه، د خپل معصوم او سپیڅلي پیغمبر لپاره محبوبه ګرځولي وي، او هغه پاک لمنې، او سپیڅلې نه وي، که هغه پاکه او سپېڅلې نه وای؛ نو د دغې ستر محبت لپاره به یې، وړتیا نه درلودلی. یعنې هغوی ته وایي؛ دا دوه کسان هر دواړه پاک ول، په څه دلیل مو دا ناوړه او ناسم نسبت دوی ته ورکړی دی، ناپاک سړی ناپاکې ښځې پسې ځي، نه په پاکې پسې. او ددې پرعکس، هم همداسې دی. هغه پاک سړی او پاک لمنې ښځه، له هاغه څه چې، دوی ورپورې تور او تهمت تړي سپېڅلي او جلا دي.

«أُولَئِكَ مُبَرَّءُونَ مِمَّا يَقُولُونَ» هغوی له دغو ناموسي ناروا نسبتونو، چې هغوی ته نسبت ورکوي، مبرا او جلا دي. پاک خلک که نارینه وي، که ښځینه، سپېڅلي او پاک دي، له هاغه څه چې، دا خلک یې ددوی په اړه وایي. هغوی د پاک فطرت لرونکي دي، او دا تورونه د هغوی په پاکو لمنو پورې، نه ښلي، او نه د ناپاکې ګومان پر هغوی کېدی شي.

«لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ» د هغوی لپـاره مغفرت دی، [مغفرت یعنې ښښه او لـــه نقصونو پاکول] او هغوی ته کریم رزق دخدای له لورې دی. دوی لـه الهي مغفرت او ښښې څـخه، برخـمن دي. او د ارزښتمنې روزۍ لرونکي دي. [چې تلپاتې جنت او لـــه تصوره اوچت نعمتونه دي]. مغفرت او ښسـنه د هغوی د هاغو تېروتنو او اشـتباه ګانو لپاره، شـاملېږي، چې ترې کېږي. اوچته او ارزښتمنه روزي یې په برخه کېږي، چې د پالونکي څښتن په درشـل کې، دهغوی د اوچتوالي او ارزښـتمنوالي بیانوونکی دی. یعنې په یو ډول بیا هاغه کسـان محکموي، چې دې شـایعې ته یې لمن وهلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرته له دې، چې د ناپاکۍ يوه کوچنۍ نښـــه او اثر، په يو له هغو دواړو اړخونو کې، چې دا نسبت يې هغوی ته ورکړی دی، شتون ولري. او دوی پرته له پوهې او څېړنې، دې تور او بهتان ته لمن وهلې ده.

د سورة متن او د ژباړې ترجمه (۲۷ ـ ۳۴) آيتونه

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿۲۷﴾ فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا فِيهَا أَحَدًا فَلَا تَدْخُلُوهَا حَتَّى يُؤْذَنَ لَكُمْ وَإِنْ قِيلَ لَكُمُ ارْجِعُوا فَارْجِعُوا هُوَ أَزْكَى لَكُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿۲۸﴾ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ مَسْكُونَةٍ فِيهَا مَتَاعٌ لَكُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا تَكْتُمُونَ ﴿۲۹﴾ قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ ﴿۳۰﴾ وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ

لَا تَدْخُلُوا = مه داخلېږئ ـ بُيُوتًا = کورونو ته ـ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا = تر هغې چې اذن او اجازه واخلئ، پېژندنه وکړئ ـ وَتُسَلِّمُوا = سلام وکړئ ـ أَهْلِهَا = د هغې [کور] اهل ته، د هغې [کور] اوسېدونکو ته ـ خَيْرٌ = ښېګڼه، بهترواليـ تَذَكَّرُونَ = متذکر شئ [پند واخلئ]، په ياد راولئ ـ إِنْ لَمْ تَجِدُوا = که تاسو و نه مومند ـ حَتَّى يُؤْذَنَ = تر هاغې چې اجازه در کړل شي ـ إِنْ قِيلَ = که وويل شي ـ ارْجِعُوا = بېرته وګرځئ، ستانه شئ ـ أَزْكَى = ډېر سپېځلی، پاکيزه تر ـ أَزْكَى لَكُمْ = تاسو ته پاکيزه تر دی ـ جُنَاحٌ = کومه ګناه ـ بُيُوتًا = کورونو ته ـ غَيْرَ مَسْكُونَةٍ = غير مسکوني، عمومي ودانۍ ـ مَتَاعٌ = ګټه، برخمنتيا ـ مَتَاعٌ لَكُمْ = تاسو ته ګټه او مصلحت دی ـ تُبْدُونَ = ښکاره کوئ، څرګندوئ، کمې کړي ـ تَكْتُمُونَ = پټوئ ـ يَغُضُّوا = ښکته واچوي، ټيټې کړي ـ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ = [د نامحرمانو] د کتلو پرمهال په سترګو کې ټيټوالی وکړي، سترګې ټيټې واچوي ـ غُضّ = راټولول، پټول، ټيټ نيول ـ يَحْفَظُوا = وساتئ، پټ کړئ، وپوښئ ـ فُرُوجَهُمْ = عورت خپل، شرمځايونه خپل ـ خَبِيرٌ = آګاه، پوه، باخبر ـ يَصْنَعُونَ = په چل ول سر ته رسوي، په ماهرانه توګه کوي، په مصنوعي توګه کوي، د نورو له سترګو په غلا سر ته رسوي، د لوبغاړي په توګه سر ته رسوي ـ لَا يُبْدِينَ = ښکاره نکړي، څرګند نکړي ـ ظَهَرَ = ښکاره دي، څرګند دي ـ وَلْيَضْرِبْنَ = او بايد واچوي، او بايد خپور کړي ـ وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ = او بايد سرپټي يې واچوي ـ عَلَى جُيُوبِهِنَّ = د هغې پر ځايونو [سينې او غاړې] واچوي ـ جُيُوبِهِنَّ = سينې يې، تټرونه يې ـ بُعُولَتِهِنَّ = د بعل جمع

(c) ketabton.com: The Digital Library

إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ
بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا
مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ
أُولِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ
الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى
عَوْرَاتِ النِّسَاءِ وَلَا يَضْرِبْنَ
بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ
زِينَتِهِنَّ وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا
أَيُّهَ الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ
﴿۳۱﴾ وَأَنْكِحُوا الْأَيَامَى مِنْكُمْ
وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ
وَإِمَائِكُمْ إِنْ يَكُونُوا فُقَرَاءَ يُغْنِهِمُ
اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ
﴿۳۲﴾ وَلْيَسْتَعْفِفِ الَّذِينَ لَا
يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّى يُغْنِيَهُمُ
اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَالَّذِينَ يَبْتَغُونَ
الْكِتَابَ مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ
فَكَاتِبُوهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًا
وَآتُوهُمْ مِنْ مَالِ اللَّهِ الَّذِي
آتَاكُمْ وَلَا تُكْرِهُوا فَتَيَاتِكُمْ عَلَى
الْبِغَاءِ إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا لِتَبْتَغُوا
عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَمَنْ
يُكْرِهْهُنَّ فَإِنَّ اللَّهَ مِنْ بَعْدِ
إِكْرَاهِهِنَّ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿۳۳﴾
وَلَقَدْ أَنْزَلْنَا إِلَيْكُمْ آيَاتٍ مُبَيِّنَاتٍ
وَمَثَلًا مِنَ الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ
قَبْلِكُمْ وَمَوْعِظَةً لِلْمُتَّقِينَ ﴿۳۴﴾

– مېرونه يې، همسران يې ـ **أَبْنَائِهِنَّ** = زامن يې ـ **إِخْوَانِهِنَّ** = ورونه يې ـ **بَنِي** = زامن ـ **بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ** = د خويندو زامن، خورېيونه ـ **نِسَائِهِنَّ** = خپلې [هم دينه خپلوانې] ښځې ـ **مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ** = وينځې يې، هغوی چې تر ملکيت لاندې يې دي ـ **التَّابِعِينَ ... مِنَ الرِّجَالِ** = کورنۍ ته تابع [وروسته پاتې] نارينه ـ **غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ** = له جنسي شهوت پرته، هغه کسان چې جنسي شهوت نه لري، هغوی چې ښځې ته اړتيا نلري ـ **لَمْ يَظْهَرُوا** = آگاهي نه لري، نه ښکاره کوي ـ **عَوْرَاتِ** = د عورت جمع – شرمځايونه، [د جنسي مسئلو] ناوړتيا ـ **لَا يَضْرِبْنَ** = [پر مځکه] و نه وهي، [پر مځکه] و نه ټکوي ـ **بِأَرْجُلِهِنَّ** = له خپلو پښو سره يې ـ **يُخْفِينَ** = پټوي ـ **تُوبُوا** = توبه وکړئ ـ **تُفْلِحُونَ** = نجات وموندئ، بری وموندئ، غوره‌ډا ته ورسېرئ ـ **وَأَنْكِحُوا** = په همسرۍ ورکړئ، نکاح ورته وکړئ ـ **الْأَيَامَى** = د أيّم جمع – ناواده کړي، جره ګان، جره ښځې او نارينه ـ **الصَّالِحِينَ** = صالحين، وړ کسان ـ **عِبَادِكُمْ** = غلامان خپل ـ **إِمَائِكُمْ** = وينځې خپلې ـ **إِمَاءِ** = د أمه جمع – وينځې ـ **يُغْنِهِمُ** = هغوی غني کوي، هغوی نااړمن کوي، هغوی بې نيازه کوي ـ **وَاسِعٌ** = پراختيا ورکوونکی، پراختيا ښودونکی ـ **وَلْيَسْتَعْفِفِ** = او بايد ځان وساتي، او بايد پاک لمنې خپله کړي ـ **لَا يَجِدُونَ** = نه مومي، نه پيدا کوي ـ **نِكَاحًا** = [د] نکاح [شوني کېدل] ـ **يَبْتَغُونَ الْكِتَابَ** = [د آزادۍ لپاره] د ټرون غوښتونکي دي ـ **مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ** = وينځې او غلامان خپل ـ **فَكَاتِبُوهُمْ** = له هغوی سره قرار داد وتړئ، له هغوی سره ټرون وليکئ ـ **خَيْرًا** = وړتيا ـ **آتُوهُمْ** = هغوی ته ورکړئ ـ **تُكْرِهُوا** = مه مجبوروئ، مجبور نکړئ ـ **فَتَيَاتِكُمْ** = ستاسو ځوانې وينځې ـ **الْبِغَاءِ** = زنا، فحشا ـ **إِنْ أَرَدْنَ** = که وغواړي ـ **تَحَصُّنًا** = د پاک لمنې د رعايت لپاره ـ **لِتَبْتَغُوا** = چې وغواړئ، غوښتنه وکړئ ـ **عَرَضَ** = مال، ناڅيزه متاع، بې کچې پانګه ـ **خَلَوْا** = [د هغوی دوران] تېر شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نور سورة تشريح (۲۷ – ۳۴) آيتونه

تردې ځايه هاغه برخه د تهمت او تور، چې لګول شوی وو. چې په پورته آيتونو کې، مو په تفصيل ورته نغوته وکړه. و مو ليدل چې، تر کومه بريده، ددې افواهي بې بندوباری پر وړاندې، سخت او جدي برخورد لري. په هيڅ لامل او بنې، هيڅ مؤمن، تر هاغې چې، علم يې پرې نه وي راغلی، او تر هاغې چې څلور شاهدان موجود نه وي، حق نه لري، چې د نورو د ابرو او ناموس په اړه، يوه خبره هم وکړي.

ورپسې بحث په واقعيت کې داسې يوه نکته څېړي، چې هغه هم په واقعيت کې، له همداسې پېښو څخه يو ډول مخنيوی دی. مخکې مو وويل؛ چې دا سورة، د کور او کورنۍ په اړه دی، يعنې کورنۍ د لومړني ټولنيز واحد په توګه، چې د ټولنې د ودانۍ يوه خښته تشکيلوي، او کور ددې ټولنيز واحد مرکز او پايګاه ده. ورپسې آيتونه د کور د مقرراتو په اړه دي:

د اووه ويشتم آية، ترجمه شرح او تفسير

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ﴿۲۷﴾

ای هغه کسانو چې ايمان مو راوړی دی، [هيڅ] کورونو ته بې له خپلو کورونو [نابېره، سر په خود] مه ننوځئ، مګر دا چې پيژندنه ورکړئ [ترڅو نه راغلاست درته ووايي] او د کور اهل ته سلام وکړئ.[۱۷] دا [مقررات] تاسو ته ډير ښه دي، ښايي تاسو [له دې ښوونو سره] پند واخلئ.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ	آمَنُوا	لَا تَدْخُلُوا	بُيُوتًا	غَيْرَ	بُيُوتِكُمْ
ای هغو کسانو	چې ايمان مو راوړی	مه ننوځئ تاسو	کورونو ته	غير له	ستاسو خپلو کورونو

حَتَّى	تَسْتَأْنِسُوا	وَتُسَلِّمُوا	عَلَى أَهْلِهَا	ذَلِكُمْ	خَيْرٌ
تر هاغې چې	پيژندنه وکړئ	او سلام واچوئ	پر هستوګونکو د کور	دا تاسو ته	غوره دی

لَكُمْ	لَعَلَّكُمْ	تَذَكَّرُونَ
ستاسو لپاره	ښايي تاسو	پند واخلئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۷ – «تَسْتَأْنِسُوا» د «اُنس» له ریښې، الفت، آسایش غوښتنه او سوکالي ده. یعنې په یو ډول او د وینا په توسه، د آشنائي اظهار او له بنه راغلاست [Welcome] سره، مخامخ کیدل دي. البته اجازه اخیستل کولی شي، پر دې عمل یو مصداق وي. خو د تستأنسوا معنا، ډېره جامع ده. د یا الله، سبحان الله، الحمد لله او د دې په څېر نور ذکر، هم کولی شي، آرامش او خپلوي وګټل شي. مور او پلار هم، د خپلو بچیانو لپاره، له رسمي «اجازې» پرته، نور مینه ناک الفاظ کاروي.

«يَا أَيُّهَا الَّـذِينَ آمَنُوا» ای هاغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی. «لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ» له خپلو کورونو پرته، هیڅ کور ته، مه ننوځئ. «حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا»، «تَسْتَأْنِسُوا» «د انس د استفعال باب دی.» یعنې تر هاغې چې انس واخلئ، یا انس ومومئ. معمولاً دا ترجمه کوي چې اجازه واخلئ، دلته خو یې نه دي ویلي؛ تستأذنوا، کېدی شي؛ مقابل لوری وډار شي، اجازه هم ورکړي. یعنې لفظي اجازه بسنه نه کوي. مثلاً د یو خپلوان کور ته که څوک ورځې، د ورور کور ته، یا د خور کور ته ځي، هلته خو اجازه ضروري نه ده. په یو شکل خپله پېژندنه کوي، چې څوک دی یا نوم اخلي، یا یې له غږ پېژني، چې دا پخپله یو خبر هم دی.

نو «تَسْتَأْنِسُوا» د «اُنس» له ریښې، الفت، آسایش غوښتنه او سوکالي ده. یعنې په یو ډول مینه ناکې خبرې او د وینا په توسه، د آشنائي اظهار او له بنه راغلاست [Welcome] سره، مخامخ کیدل دي. البته اجازه اخیستل کولی شي، پر دې عمل یو مصداق وي. خو د تستأنسوا معنا، ډېره جامع ده. د یا الله، سبحان الله، الحمد لله او د دې په څېر نور ذکر، هم کولی شي، آرامش او خپلوي وګټل شي. مور او پلار هم، د خپلو بچیانو لپاره، له رسمي «اجازې» پرته، نور مینه ناک الفاظ کاروي.

«وَتُسَلِّمُوا عَلَىٰ أَهْلِهَا» هر کور ته چې داخلېږئ، د کور اهل ته سلام وکړئ. «ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ» دا طریقه، دا مقررات، ستاسو په ګټه دي، ستاسو لپاره خیر دی. ګوندي وي چې متذکر شئ، پند واخلئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ټول څیزونه، د انسان د عقل تقاضا ده، د انسان فطرت کې دا شته، چې کور حرمت لري، نباید د کور حرمت له منځه ولاړ شي. خو کله داسې هم کېږي، چې د انسان له یاده وځي. نو ځکه قرآن وایي؛ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ چې ستاسو لپاره یو تذکر وي، په یاد راوړل دي، که نه نو هسې خو د انسان په توګه ستاسو عقل دې شیانو ته رسېږي.

په دې آیة کې، او ورپسې دوو نورو آیتونو کې، سره له دې چې، موضوع یې ښځو ته ځانګړې نه ده، خو زیاتره برخه یې، د ښځو له موضوع سره اړیکه لري. چې دا آیتونه له «اِذْن» سره تړاو لري که کوم سړی غواړي د چا کور ته وارد شي، له مخکینۍ اجازې پرته، د ننوتو حق نلري. «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا...».
ای هغو کسانو، چې ایمان مو راوړی دی! هیڅکله کورونو ته غیر له ستاسو خپله کوره، [خپل کور استثنا دی] او حتا د خپلو مور او پلار او خویندو او ورونو کورونو ته، لکه د خپل کور په څېر مه ننوځئ. مګر دا چې له مخکې «استیناس» وکړئ، او د کور پر اهل سلام وکړئ. [«استیناس وکړئ» یعنې د هغه کور د اهل انس او الفت، سوکالي او آرامتیا جلب کړئ.]

دلته یوې روښانه او څرګندې نکتې ته نغوته شوې ده؛ چې د هر چا داخلي او کورنۍ ژوند، هغه ته مخصوص او ځانګړی دی، او هر څوک له بل هر چا له لور، دهغه د ژوند داخل ته، د ننوتو له اړخه، اندېښمن کېږي. او له دې لامله که هر څوک، په خپل سر د بل انسان په ژوند کې داخل شي، انسان د وارخطایي او ترهې یو حالت پیدا کوي. قرآن وایي: دا کار مکوئ، په خپل سر، نابېره سر وهلي، د چا کور ته مه داخلېږئ. له مخکې «استیناس» وکړئ، یعنې داسې یو کار وکړئ، یو عمل سر ته ورسوئ، چې د هغوی وار خطایي او ترهه له منځه ولاړه شي. یعنې یو ډول خبر او اطلاع ورکړئ.

په پخوانیو مهالونو کې دا معمول نه وو، چې خلک د کور دړه وټرې. [او همدا اوس هم په ځینو کلیو کې، همداسې دی]. په ښارونو کې معمول دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د کورونو دړې د شا لخوا ټرلې دي، او که څوک هم وغواړي، په خپل سر کور ته ننوځي، دړه پرانېستې نه ده؛ باید زنګ ووهي، یا ټک ټک وکړي، چې د کور دړه پرانیزي. د جاهلیت په عربو کې هیڅکله دا دود نه وو، چې کوم مهال به یې غوښتل، د چا کور ته داخل شي اطلاع ورکړي، او اجازه واخلي. او دا اجازه اخېستل یې د خپل ځان لپاره د شان کسر او ټیټوالی ګڼه. اسلام دا دستور راوړ، چې هیڅکله د چا کور ته په خپل سر، نابېره مه ننوځئ. [وسمهال مورِ د چا کور ته په خپل سر نه ننوځو، چون اصلاً دړه ټرلې ده، وایي: که دړه پرانېستې هم وي مه داخلېږئ.] «وَتُسَلِّمُوا عَلَىٰ أَهْلِهَا» او د کور پر اهل سلام هم وکړئ، له سلام پرته د چا کور ته مه ننوځئ.

د هر وارد دنده ده، چې پر مورود سلام وکړي. او هر څوک چې د چا کور ته ننوځي، باید د کور پر اهل سلام وکړي. پیغمبر اکرم(ص) دا سنت دود کړ، او و یې فرمایل هر څنګه چې وي، کله چې د چا کور ته داخلېږئ، له مخکې خبر ورکړئ. چې هغوی خپل ځانونه جمع او جوړ کړي، او تر هاغې پورې چې اجازه یې نه ده درکړې، او نه یې دي ویلي، «وفرمایاست»! کور ته مه داخلېږئ. کېدی شي، کوم مهال چې تاسو غواړئ، کوم کور ته وارد شئ. یو اعلام وکړئ، یو خبر ورکړئ، چې زه غواړم کور ته داخل شم، او په اصطلاح «تَـنَحنُح» یا ټوخی وکړئ، یا غاړه تازه کړئ. خو ولې دا کار وکړئ؟ یوازې دا طریقه نه ده، بله طریق هم غوره کولی شئ، بنسټیزه موخه ستاسو له راتګه، او د هغوی کور ته ستاسو له ننوتو څخه، د هغوی خبرول دي. ددې پر ځای د خدای ذکر وکړئ. مثلاً ووایاست «الله اکبر» او یا «سبحان الله». لکه څنګه چې وسمهال هم زمورِ په کلیو کې، او زمورِ په منځ کې، دا سنت معمول دی. چې وایو «یا الله»، او دا ښه دود هم دی. سره ددې چې لږ لږ د پرنګي پالو په منځ کې، «یا الله» ویل منسوخ شوی، خو باید پوه شو چې، دا یو اسلامي سنت دی. هم سلام کول [د هغوی تر منځ] منسوخ شوی، او هم «یا الله» ویل، او دا هم، د تعجب وړ، یو څیز دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پيغمبر اکرم(ص) دود، تل دا وو؛ چې هيڅ کور ته، له اجازې پرته نه داخلېده. او دا «استيناس» يې ډيرى، له هماغې اسلامي طريقې سره، سر ته رسوه. حتا د خپلې لور، حضرت فاطمې(رض) کور ته، له اجازې پرته نه داخلېده؛ د کور د درې شا ته به ودرېده، او په لوړ غږ به يې ويل: اَلسَّلامُ عَلَيْكُمْ يا اَهْلَ الْبَيْتِ. که د سلام ځواب به يې ورکوه او ويل يې: «مهرباني وکړئ» نو حضرت رسول اکرم(ص) به، هاغه کور ته داخلېده. او که ځواب يې نه ورکوه، دويم ځل به يې غږ کوه [ښايي اورېدلى يې نه وي]: اَلسَّلامُ عَلَيْكُمْ يا اَهْلَ الْبَيْتِ. او که بيا به يې هم ځواب نه مونده، احتياطاً [چې کېدى شي نه يې وي اورېدلي] درېم ځل به يې سلام کوه، او که درېم ځل به هم کوم ځواب نه راته، نو ستنېده. ويل به يې: يا نشته، يا وضع يې په داسې ډول ده، چې نشي کولى، ځوک ومني. او له دې يې بد هم نه وړل.

«ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ» دا تاسو ته بهتر دى، گوندې وي ستاسو لپاره يو تذکر شي، تاسو متذکر شئ او پند واخلئ. او ستاسو لپاره مصلحت هم همدا دى. کېدى شي وروسته دې کار ته متوجه شئ؛ يعنې کله چې عمل وکړئ، بيا ددې کار په گټه پوهېږئ.

د اته ويشتم آية، ترجمه شرح او تفسير

فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا فِيهَا أَحَدًا فَلَا تَدْخُلُوهَا حَتَّى يُؤْذَنَ لَكُمْ وَإِنْ قِيلَ لَكُمُ ارْجِعُوا فَارْجِعُوا هُوَ أَزْكَى لَكُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿۲۸﴾

نو که ځوک مو په کور کې و نه موند، هغه ته مه ننوځئ تر څو [د کور خاوند راورسېږي يا ويښ شي او] تاسو ته اجازه درکړي او که تاسو ته وويل شي بيرته وگرځئ [بې له ځنډه] بيرته وگرځئ. دغه [حرمت پېژندنه] تاسو ته ډېره سپېخلې ده او الله په هغه څه چې تاسو يې کوئ، عليم [(ډېر پوه)] دى.

فَإِنْ	لَمْ تَجِدُوا	فِيهَا	أَحَدًا	فَلَا تَدْخُلُوهَا	حَتَّى
نو که	تاسو و نه موند	په هغه (کور) کې	کوم ځوک	نو مه ننوځئ تاسو هغه ته	تر هغه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يُؤْذَنَ	لَكُمْ	وَإِنْ	قِيلَ لَكُمُ	ارْجِعُوا	فَارْجِعُوا	هُوَ
اجازه درکول شي	تاسو ته	او که	وويل شول تاسو ته	بېرته وګرځئ	نو بېرته ستانه شئ	همدا

أَزْكَىَ	لَكُمْ	وَاللَّهُ	بِمَا	تَعْمَلُونَ	عَلِيمٌ
ډېر پاک دی	لپاره ستاسې	او الله	په هغه څه چې	تاسو کوئ	ښه پوه دی

«فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا فِيهَا أَحَدًا» که کوم کس مو په کور کې پيدا نکړ [حق نلرئ هلته کښئ او اخوا ديخوا ګرځېدنه او پلټنه پيل کړئ] «فَلَا تَدْخُلُوهَا» نو مه داخلېږئ «حَتَّى يُؤْذَنَ لَكُمْ» تر هغې چې تاسو ته اجازه درکول شي [کېدی شي په کور کې څوک ويده وي، استراحت يې کړی وي، يا ځواب نه ورکوي، دړه نه خلاصوي، د ميلمه هرکلي ته چمتو والی نه لري، نو]

«وَإِنْ قِيلَ لَكُمُ ارْجِعُوا» که درته وويل شول ستانه شئ «فَارْجِعُوا» نو [پرته له ځنډه] ستانه شئ. دا خبره ځان پورې مه نيسئ، يعنې تکبر مه کوئ. «هُوَ أَزْكَىَ لَكُمْ» دا ستاسو لپاره سپېڅلی دی، «أَزْكَىَ» له تزکيه اخېستل شوی، تزکيه؛ د سالميت پر لور وده، رشد او نمو ده، ستاسو شخصيت همداسې جوړېږي، رشد او وده کوي، دا ومنه. ته څه حق لرې، که درته وويل شول؛ څه بيرون ته لاړ شه، پرته له ځنډه څه، بيرون ته لاړ شه.

«وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ» خدای تعالی، پر هاغه څه چې کوئ، بې کچې، پوه دی. دا په حقيقت کې، يو ډېر متمدن او مترقي، دستور دی؛ که مور لاړو او څوک په کور کې نه وو، او يا ددې پر ځای چې مور ته ووايي؛ «مهرباني وکړئ»، مور ته يې ويل: «هيله کوم ستانه شئ، فعلاً نشو کولی تاسو ومنو». نو په دې حالت کې، مور بايد څه وکړو؟ قرآن په څرګنده توګه، په بشپړ صراحت کې وايي: که د کور خاوند تاسو ته وويل؛ «څوک نه منو» ستانه شئ. نو ځان پورې يې مه نيسئ، او تکبر مکوئ. دا داسې يو دستور دی، چې حتا زمور له اوسني ژوند څخه، هم ډېر مترقي او پرمختللی دی، او مور ورته متوجه نه يو. قرآن دلته مور ته وايي: نه له اشخاصو بيځايه شرم او حيا ولرئ، نه نازک رنځي اوسئ، چې بېخوده يې ځان پورې ونيسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که غواړئ د کوم کس کور ته وارد شئ، چې له مخکې يې تاسو ته بلنه درکړې ده، او وخت مو اخېستی، بيا هم؛ له اجازې وروسته يې کور ته داخل شئ، او له اجازې پرته يې په هيڅ حالت کې کورته داخل نه شئ.

کـه لـه مخکينۍ اطلاع پرته، د چـا د کـور دړه ټکوئ، معنا يې دا ده؛ چې ورته وايـاست: زه غواړم ستا کور ته داخل شم. اولاً د کور خاوند، [چون له مخکې وخت نه دی اخېستل شوی.] که واقعاً په داسې شرايطو کې وي، چې نشې کولی، څوک ومني. له شرم او خجالت پرته دې ووايي؛ چې زه په کور کې يم، [نـه دا چې نـه يم] خو له بده مرغـه، اوس کار لرم، او نشم کولی تاسو ومنم. [دېرى داسې پېښېږي، چې انسان اړين کار لري. او هغه څوک چې راغلی، چندان اړين کار هم ونلري.] او ورتـه ووېـل شـي؛ تـا چـې لـه مـا وخـت نـه دی اخـېستی، اوس لاړ شه، يو بل وخـت راشه، او دا ورتـه په صراحـت ووايي. کـه د کـور خـاوند يې په صراحـت ووايي، هـغه بل لوری هم، بايد دومره شهامت او شجاعت، او نارينتوب ولري، چې دا صراحت يې بدې رانشي، او له دې ستنولو خوابدی نه شي.

خو آيا د کوربه دا صراحت، او د مېلمه دا شهامت او شجاعت، زمونږ په ټولنه کې شـتون لري؟ کومه بڼه چې، د اسـلام له نظره غوره او منلې ده. او هغه دا چې؛ که کوربـــه وخت نه لري، او نشي کولی [په خپل سر راغلی مېلمه ومني]. په بشپړ صراحت سره ورته ووايي:

«بناغليه عذر مې ومنه، نشم کولی ستاسو ملاقات ومنم.» او مېلمه هم پرته له دې چې، پر ځان يې ونيسي، او خواشينی شي، ستون شي او لاړ شي.

قرآن په همدې بڼه دستور ورکوي، فرمايي: «وَإِنْ قِيلَ لَكُمُ ارْجِعُوا فَارْجِعُوا» او که تاسو ته يې ووېل، ستانه شئ، نو ستانه شئ. «هُوَ أَزْكَىٰ لَكُمْ» دا تاسو ته سپېخلی او پاکيزه دی «وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ» او الله ستاسو په کړنو پوه او دانا دی. تاسو چې هر عمل کوئ، الله پرې پوهيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نهه ويشتم آية، ترجمه شرح او تفسير

لَّيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ مَسْكُونَةٍ فِيهَا مَتَاعٌ لَّكُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا تَكْتُمُونَ﴿۲۹﴾

کومه ګناه پر تاسو نشته، چې غير مسکوني ودانيو [عمومي مکانونو] ته، چې هلته تاسو کومه ګټه لرئ[کوم کاروبار لرئ]، ننوځئ. او الله پوهېږي، پر هغه څه چې تاسو يې ښکاره يا پټ کوئ [که هر څومره يې د خلکو له سترګو پټ کړئ].

لَيْسَ	عَلَيْكُمْ	جُنَاحٌ	أَنْ	تَدْخُلُوا	بُيُوتًا	غَيْرَ مَسْكُونَةٍ	فِيهَا
نه شته	پر تاسو	څه ګناه	دا چې	ننه وځئ تاسو	کورونو ته	چې له اوسېدونکو پرته دي	په هغو کې

مَتَاعٌ	لَكُمْ	وَاللَّهُ	يَعْلَمُ	مَا تُبْدُونَ	وَمَا	تَكْتُمُونَ
ګټه ده	ستاسو لپاره	او الله	ښه پوهېږي	هاغه څه چې تاسو په ښکاره کوئ	او هغه څه چې	تاسو پټوئ

«لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ مَسْكُونَةٍ» پر تاسو هيڅ ګناه نشته، [دلته د جُناح لفظ هماغه د فارسي او پښتو «ګُناه» لفظ دی. چې کېدی شي له فارسي، عربي ته داخل شوی دی. چون عربي «گ» نلري، د ګ پر ځای «ج» تلفظ کېږي. قرآن کې د لس، پنځلس ژبو لغاتونه وارد شوي دي، قرآن په ټوله کې له عربي ژبې، چې په هغه وخت کې، په عربستان کې معمول وه، او د نورو ژبو لغتونه چې له مخکې په عربي ژبه کې داخل ول، قرآن هم په هماغو روزمره کليمو، چې په خلکو کې معمول وې، خبرې کړي دي، ددې لپاره، چې خلک پوه شي. په زړه پورې دا چې، په قرآن کې«۱۵، ۱۶» ځلې «لا جُناح» راغلی، يعنې پر تاسو ګناه نشته.

د قرآن په هيڅ ځای کې نه دي راغلي، چې ووايي ګناه ده. يعنې اصلاً قرآن هيڅ څيز ته، ګناه نه ده ويلې. قرآن چې کوم کار منع کوي، داسې نه وايي، چې ګناه ده. بلکې داسې لغتونه يې کارولي، چې معنا يې، د هماغه کار تأثير او آغېز څرګندوي. لکه ځېنې ځايونه چې وايي؛ دا کار مکوئ دا ذنب دی، ذنب يعنې دنباله، لکی، غځونه يې، ورپسې ادامه يې، يعنې دا کار په پايله کې، ورپسې عوارض لري؛ لکه شراب چې خورې، له

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوړلو وروسته آثار او عوارض لري. ځينو ځايونو کې يې ويلي «اثم». اثم يعنې تنګ نظري، ځان غوښتنه، ځان ليدنه، دا کار چې کوې سړی تنګ نظره او خود خواه کېږي. مثلاً «زنا» چې کوې وايي؛ «فَإِنَّهُ آثِمٌ قَلْبُهُ»، زړه يې ګنهکار کېږي، يعنې ډېر خودخواه کېږي، دنيا يې دومره کوچنۍ کېږي، چې د يوې شېبې خوند او لذت لپاره، دومره زشت او ناوړه کار، سر ته ورسوي. يا وايي؛ که د چا په ګټه، رښتينی شاهدي ورکولی شي، او که دا کار ونکړې، دا کار «اثم» دی. خودخواهي او ځان غوښتنه ده. دلته دې هم يوازې خپل ځان ليدلی، يو کس چې بېګناه محکومېږي، تـا تـه مهم نـه دی، او وايي ولې خپل سر په درد کړم.

ځينې ځايونو کې وايي دا کار مکوئ، جرم دی. جرم د غوځولو او د اړيکې د پرې کولو، په معنا دی. يعنې دا کار کول دې، د خدای او د هغه له مخلوق سره د اړيکو د پرې کولو لامل کېږي، تا له هغوی جلا کوي تا ببلوي. په هاغو هيوادونو کې، چې روغتيا او ورپورې اړوندو څيزونو ته اهميت ورکوي، خلک آګاه شوي دي، او خوراکي توکي چې، د انسان په وجود کې کوم آغېز پرېږدي، څرګند او معلوم دي. مثلاً تاسو هر څيز چې پيرئ پر مخ يې جدول وي، او په هغه کې يې، په دې غذايي مادې کې شامل، ټول اجزاء او سلنه يې ليکل شوي وي، او هر څوک د خپل وضعيت سره مناسب، خوراکي توکي غوره کوي. ته چې ځانته د خوراک ډول غوره کوي، انتخاب يې ستا په خپل لاس کې دی. که تاته غوړ يا خواړه ښه نه دي، خو بيا هم ته يې د خوند له کبله غوره کوي، دا نو ستا خپل کار دی، بايد آغېز او آثارو ته يې منتظر اوسې، ددې پر ځای چې ووايي ګناه ده.

همدا راز قرآن آزادي ورکړې، نه وايي چې دا ګناه ده، خو په هر ځای کې يې چې تعريف کوي، آثار او آغېزې يې څرګندوي. وايي: دا ظلم دی، دا اثم دی، دا جرم دی، همدا راز نور اقسام يې، دا ټول تعريف لري؛ مطلب که هر لغت ته يې پاملرنه وکړو، شا ته يې يوه معنا شتون لري. په اصل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې، قرآن زمور سره متحدالمالی سلوک نه دی کړی، چې ووایي دا کار گناه ده دا کار ثواب دی. ثواب هم د عمل نتیجه ده، [ثواب خو یوازې، او هرومرو مثبته پایله نه ده، چې له دې هم ناسمه معنا اخیستل شوې.]

په هر حال دا چې وایي؛ «لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ مَسْكُونَةٍ» تاسو ته کومه گناه نشته، که عمومي ودانیو ته چې غیر مسکوني دي داخل شئ. پر تاسو کوم باک نشته، چې له اجازې پرته داخل شئ. په هاغو کورونو کې، [یعنې هاغو ځایونو کې] چې یو شمیر انسانان هلته شته، چې کار او کسب او دنده او ژوند کوي، خو د شخصي هستوگنې ځایگی نه دی، که هلته له اجازې پرته لاړ شئ، خیر دی. «فِيهَا مَتَاعٌ لَكُمْ» هلته ستاسو لپاره توکي، گټې او منافع دي. [لکه فروشگاه یا پلورنځي ته چې داخل شئ، یا جمنازیوم ته لاړ شئ، یا روغتون او داسې نور ځایونه خو اجازه نه غواړي].

«وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا تَكْتُمُونَ» او الله پوهیږي پر هاغه څه چې بڼکاره یې سر ته رسوئ او هاغه څه چې پټوئ. په هر حال په هر نیت چې هر ځای ته وارد شوي یاست، خدای تعالی پرې بشپړ علم لري.

ورپسې آیت که څه هم په ظاهر کې داسې برېښي چې له مخکې سره کومه اړیکه نلري، خو په حقیقت کې په هماغه لړی کې دی. چون د غیراخلاقي تهمتونو مسئله ده، غوښتې یې دي تر یوې کچې مخنیوی وکړي. نو پر دې بنا پر سترگو او اندامونو مراقبت او څارنه ده چې په راتلونکو آیتونو کې مطرح کیږي.

د دېرشم آیة، ترجمه شرح او تفسیر

قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ﴿۳۰﴾

[ای پیغمبره] مؤمنینو ته ووایه : په خپلو کتلو کې دې [نامحرمانو ته د هوس له ډکو پاملرنو پر مهال] کمښت وکړي[۱۸] او خپل شرم ځایونه[او عفت] دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وساتي،[۱۹] دغه [پر نفس واکمني] د هغوی لپاره ډېره سپېخلې ده، مسلماً الله پر هغه څه چې دوی يې [ماهرانه او د نورو له سترګو لیرې] کوي، کاملاً باخبر دی.[۲۰]

قُلْ	لِلْمُؤْمِنِينَ	يَغُضُّوا	مِنْ	أَبْصَارِهِمْ	وَيَحْفَظُوا	فُرُوجَهُمْ
ووایه	(نرینه) مؤمنانو ته	کمښت [ټیټوالی] وکړي	له	خپلو سترګو کتنو	او ودې ساتي	شرم ځایونه خپل

ذَلِكَ	أَزْكَىٰ	لَهُمْ	إِنَّ اللَّهَ	خَبِيرٌ	بِمَا	يَصْنَعُونَ
دا	پاکیزه تر دی	هغوی ته	بېشکه الله	ښه خبر دی	په هغه څه چې	دوی يې [په چل ول] کوي

۱۸- «غَضّ»، د غړ او يا کتلو راټيټول او لنډول دي. لکه څنګه چې غړ ښکته او پورته ځي، او زير او زبر [زير او بم] کيږي، کتل هم د اړتيا پر بنسټ، حالت غوره کوي، او معنا پيدا کوي. له «غَضّ ابصار» څخه مطلب، د سترګو ټړل يا د نامحرم نه ليدل نه دي. په عادي توګه په ساده او لنډه کتنه بسنه کول، او په کتلو کې له ډيرو ډوبډو، له سترګو لاندې کتلو، پټ او په غلا کتلو، او په اصطلاح له سترګو څرولو او سترګکونو څخه ځان ساتنه، او پرهيز کول دي.

۱۹ - مطلب يې، جنسي اندامونه، او د شهواني غريزو، کنټرول دی.

۲۰ - د «يصنعون» فعل، د يعملون او يفعلون، له فعلونو سره، ډير ظريف توپير لري؛ يصنعون، چې له صنعت او هرمندانه تصنع سره، مل دی. هغه کړنو او چلن ته، ويل کيږي، چې د خلکو د غولونې، او فريب لپاره، په ښکلي شوي ظاهر، او حق په جانب، او په هنر مندانه ډول، سر ته رسيږي. لکه د دين د دکانداراتو، ظاهري تقدس، تصنع، او رياکاري. «لَوْلَا يَنْهَاهُمُ الرَّبَّانِيُّونَ وَالْأَحْبَارُ عَنْ قَوْلِهِمُ الْإِثْمَ وَأَكْلِهِمُ السُّحْتَ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَصْنَعُونَ» [مائده٦٣(٥:٦٣)]. په دې ځای کې يې منظور؛ په غلچکيو کتنو، او په پټه د خلکو له سترګو څخه چې، او لږې اړيکو کې، له ځيرکتوب څخه دی.

دا آية، او ورپسې آية، مسلمانو نارينه او ښځو ته، د کتلو او د پوښښ حد جوتوي؛ «قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ» مؤمنانو ته ووايه؛ خپلې سترګې دې، نامحرمانو ته د کتلو پر مهال ټيټې کړي، او په خپلو کتلو کې دې، کمښت وکړي. او د خپلو کتلو ساحه دې، د ناروا تر بريده نه غځوي. او خپله پاک لمنې دې، وساتي. دا د هغوی لپاره، سپېخلی او پاکيزه تر، دی. [يعنې دا د عفاف او پاک لمنې دستورونه، د پاکيزګۍ لپاره، ورکړل شوې دي.] او خدای تعالی پوه دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر هاغه څه چې، دوی يې سر ته رسوي. «قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ» ووايه [ای پيغمبره] مؤمنانو ته؛ «يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ» [يَغُضُّوا] په حقيقت کې، «يَغُضُّون» وو. مضارع فعل دی، او چون د يو شرط په ځواب کې راغلی، په دې بڼه اووښتی. دا د امر حالت نه لري. پيغمبر ته وايي؛ خلکو ته ووايه، هغوی يې پخپله عملي کوي؛ «يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ» دلته «مِنْ»، تبعيضي بڼه لري، يعنې ځينې له کتنو يې، وپوښي. «وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ» فروج يوه اصطلاح ده، يعنې مخصوص اندام يې، جنسي اندام يې، تمايلات يې، جنسي او غريزي تمايلات يې، حفظ کړي. ويې ساتي، مراقبت يې وکړي. پر خپلو غريزو، نظارت او څارنه، ولري. مطلب يې د جنسي اندامونو، او د شهواني غريزو، کنټرول دی. «ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ» دا ددوی په ګټه دی، «أَزْكَى» يعنې رشد او وده، يعنې د دوی، د ډېرې ودې او رشد لامل کېږي، دا کار سپېځلی دی. «إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ» الله پر هغه څه چې، دوی يې کوي، خبير دی.

دلته يې نه دي ويلي؛ «عَلِيمٌ بِمَا يَعْمَلُون»، يا «عليم بما يفعلون» ؛ دلته يې د عليم پر ځای، خبير ويلی، او د يعملون پر ځای يې ويلي؛ «يصنعون». «خبير»، خِبره توب دی، پر جزئياتو. په ډيټايل خبرېدل دي. يصنعون هم، له صنع اخېستل شوی. يعنې هاغه رفتار او چلن، چې په هنرمندۍ او ځيرکۍ، سر ته رسېږي. يعنې چشم چراني، مقابل جنس ته ځانګړې پاملرنه او لېوالتيا، د سترګو په کنج کتل، د سترګو لاندې پټ پټ کتل، دا کارونه هغه څوک کولی شي، چې په دې ډګر کې هنرمند وي. او کوښښ کوي داسې چلن وکړي، چې بل څوک پرې پوه نه شي. دا يو ډول په چلن کې صنعت دی. وايي؛ هاغه کارونـه چې، په هنر او ځيرکۍ کوي، او څوک پرې نه پوهيږي، خدای تري خبر دی. «يَغُضُّوا» يعنې ټيټول، دا لغت هم، د غږ په اړه په قرآن کې، کارول شوی دی، او هم د سترګو په اړه. يعنې د غږ فريکونسي دې، ټيټه کړل شي. دا شونی دی چې، د غږ ټئون راټيټ شي. سترګې هم همدا راز دي، يعنې اړين نه دی، سړی سترګې وټومبي، خيره

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي. ځينې له کتنو چې وايي؛ يعنې هاغه کتنې چې، له ربب او دوکې سره مل دي، هغه کتنې چې له شهوت سره وي، له لېوالتيا او تمايل سره وي؛ او که داسې نه وي، دليل نه شته، چې اصلاً څوک و نه گوري. مهمه داده؛ کتنه چې کوي، د کومې موخې لپاره ده؟ دا سترگې ټومبل، او خيره کېدل، په کوم بنسټ دي؟ آيا کومو دنننيو انگېزو، ورته فرمان ورکړی. آيا کوم خاص مطلب لري، او که نه عادي خبرې کوي. يا دا چې د مقابل لورې، سترگو او وريځو ته يې، پام هم نه دی. دادی چې وايي؛ ځينې له کتنو مو، لنډې کړئ. دلته چې وايي؛ سر دې ټيټ واچوه، سترگې دې ټيټې کړه، مطلب يې ټيټوالی نه دی. يعنې؛ وايي د کفايت تر کچې گوره، ډېر مه خيره کېږئ. په دې آية کې ډېرې مسئلې دي، چې بايد بحث پرې وشي.

مفســـرينو د «يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَ يَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ» په اړه ډېر بحث کړی دی. د ځينو اعتقاد پر دې دی، چې دا دوه جملې عورت پورې اړه لري. چون يو لـــه واجباتو، چې مورِ په اسلام کې لرو، دا دی؛ چې هم پر نارينه او هم پر ښځې فـرض دي، چې له همسر پرته له نورو ټولو څخه دې، خپل عورت وپوښي، او پټ کړي.

د عورت ستر پر نارينه او ښځې، هر دواړو فرض دی. غير له مېړه او ښځې، چې يو د بل د عورتونو په نسبت، محرم دي. نور هېڅوک، د بل چا د عورت په نسبت، محرم نه دی. پلار او مور، د خپل زوی او لور په نسبت، او ورونه او خـــويندې، د يو او بـــل په نسبت، په دې اړه محـــرم نه دي. د عورت پټول او پوښـــل، فرض دي. او د غير، عورت ته کتل، او نظر کول، حرام دي. دا د اسلام د مقدس دين، له مسلماتو څخه دي.

قرآن چې په دې آيت کې، د سترگو د کنټرول، او د عورت د ساتلو پسې، سمدلاسه د «ذَلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ» مسئله بيانوي، وايي؛ دا دستور بيا هم، ستاسو د روح، د پاکولو لپاره دی. ددې مطلب فلسفه دا ده، چې اسلام نه غواړي، په خلکو کې له هاغه بريده زيات، چې طبيعت يې د جنسي غريزې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ارضا، اقتضا کوي، په دې اړه، د فکر او ذهن، د اشتغال او بوختېدو، او د شهوت د تهيج او پارېدو، لاملونه او موجبات، رامنځته کړي.

هر څيز چې انسان نه وينې، د هغه په اړه، اندنه هم نه کوي. خلک له دې لامله، چې عورت يې، يو له بله پټ دي. [البته په اسلامي او ديني ټولنه کې] هيڅکله داسې نه پېښيږي، چې يو څوک د بل د عورت په اړه، فکر وکړي. اصلاً دا يو څيز دی «مغفولٌ عنه»، يعنې هيڅکله د پاملرنې وړ نه دی. د انسان فکر، د انسان مغز، د انسان زړه، د انسان اندنه، له دې ډېر مقدس او سپېڅلي دي، چې د داسې مسئلو په اړه، اندنه وکړي. او هېڅ اړتيا نشته، چې په دې اړه اندنه وکړي. ددې لپاره، چې ستاسو زړونه، ستاسو فکرونه او ستاسو ماغزه پاک وي، او د داسې مسئلو په اړه اندنه ونکړئ، [چې د پلانکي عورت، دا ډول دی، يا هاغه ډول]. او هيڅکله، داسې يو څيز، شتون ونلري. [چون اسلام، د عورت د ستر، دستور ورکړی دی.] او له دې اړخه، نتيجه او پايله يې، هم تر ډېرې کچې ښه ده. نتيجه يې، همدا ده، چې د خپلو اتباعو، فکر او ذهن، له دې څخه، پاک او لوړ وساتي، چې په دې اړه، فکر وکړي. او هغوی اصلاً، په دې اړه فکر نکوي. د ډېرو ناسمو سنتونو له جملې، چې پر له پسې په غربي نړۍ کې، رواج شوی، او آغېز يې، نورې نړۍ ته، هم ورو ورو خپرېږي. او د «برتراند راسل» غوندې کسانو، دا سنت او طريقه تشويق کړې، او د هغه ملاتړ يې کاوه.

د عورت د کشف او څرګندوالي مسئله، او له ستر عورت سره مبارزه ده. راسل په خپل کتاب کې، چې د تربيت په اړه يې ليکلي، او د کتاب نوم يې هم، «په تربيت کې» دی. ټينګار لري، چې بايد په بنسټيزه توګه، د عورت د ستر مسئله، له منځه ولاړه شي؛ خو قرآن، ټينګار لري، چې بايد دا قضيه، محفوظه پاتې شي. او په ځانګړې توګه دا کلمه، چې فرمايي: «ذَلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ» غواړي ووايي؛ مور بهتر پوهېږو، چې دا مطلب بيانوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ځينې معتقد دي، چې دا «يَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ» يعنې خپله لمن او عورت دې، د نورو له نظرونو وساتي، او پټ کړي. «يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ» خپلې سترګې پټې کړي، او خپل ليدل محدود کړي. له څه څيز؟ ځينو ويلي له عورت لېدلو. خو په اصل کې، دا آيت عمومي دی. يعنې «يَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ» د عورت پوښل هم دي، خو عورت ته ځانګړتيا نه لري. او له روايتونو هم څرګندېږي، چې دلته په دواړو کې شامل دی. او د «يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ» په اړه، تقريباً جزم لرو، چې عورت ته، د نظر په اړه، ځانګړتيا نه لري. بلکې ښايي، د غير عورت نظر ته، ډېره پاملرنه لري. و مو ويل چې، «غضّ» يعنې کمول او ټيټول، يعنې د کتلو کمول او محدودول، [لکه د آواز ټيټول]، د سترګو له ټومبلو ځان ساتنه، او ليدل د نه ليدلو لپاره.

په اصـــل کې «غَضّ»، د غږ او يا کتلو، راټيټول او لنډول دي. لکه څـنګه چې، غږ ښـکته او پورته ځي، او زير او زبر [زير او بم] کيږي. کـتل هم د اړتيا پر بنســټ حالت غوره کوي، او معنا پيدا کوي. له «غَضّ ابصـار» څخه مطلب د ســترګو ټرل، يا د نامحرم نه ليدل نه دي. په عادي توګه، په ســاده او لنډه کتنه، بســنه کول، او په کتلو کې له ډيرو ډوبډو، له ســترګو لاندې کتلو، پټ او په غلا کتلو، او پـه اصــطلاح لـه ســترګو څرولو، او سترګکونو څخه، ځان ساتنه، او پرهيز کول دي.

په «إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ» د «يصنعون» فعل، د يعملون او يفعلون له فعلونو سره، ډير ظريف توپير لري؛ يصنعون، چې له صنعت او هرمندانه تصنع سره، مل دی. هغه کړنو او چلن ته ويل کيږي، چې د خلکو د غولونې او فريب لپاره، په ښکلي شوي ظاهر، او حق په جانب، او په هنر مندانه ډول، سر ته رسيږي. لکه د دين د دکانداراتو، ظاهري تقدس، تصنع او رياکاري، چې د مائده سورة په «٦٣» آية کې ورته نغوته شوې ده:

«لَوْلَا يَنْهَاهُمُ الرَّبَّانِيُّونَ وَالْأَحْبَارُ عَنْ قَوْلِهِمُ الْإِثْمَ وَأَكْلِهِمُ السُّحْتَ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَصْنَعُونَ» [مائده٦٣(٥:٦٣)]. ولې ربانيّون [= واقعي خداى پېژاندي]

(c) ketabton.com: The Digital Library

او [مذهبي] عالمان هغوی له گناه ککړو [فردي او قومي ځان ستايونکو] ويناو او له حرام خوړلو [= باړي ماری او بډي خوری] څخه نه منع کوي؟ څومره بد ځاندړي [او زشت] دي، رياکاری [مصنوعي ځان جوړونه] چې کوي.

په دې ځای [دنور سورة ۳۰ آيـة] کې يې منظور؛ په غلچکيو کتنو او په پټه د خلکو له سترگو څخه پټ او چپ او په لبړې او په ناسمو اړيکو کې له ځيرکتوب څخه دی.

د يو دېرشم آية، ترجمه شرح او تفسير

وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاءِ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴿۳۱﴾

او مؤمنو ښځو ته ووايه: چې په خپلو سترگو او کتنو کې [د نامحرمانو د لېدلو په وخت کې] د ټيټوالي پر لور کمښت راولي[۲۱] او خپل عفت وساتي او خپل زينت [سينگار او ښکلا] بېله هغه چې [په طبيعي توگه] څرگند دي، ښکاره نه کړي[۲۲] او خپل سرپټی دې پر خپلو گرېوانونو واچوي[۲۳] او خپله ښکلا دې چاته څرگنده نه کړي پرته له خپلو مېړونو ته يې، پلرونو ته يې، د مېړونو پلرونو [خسرانو] ته يې، ورونو ته يې، وريرونو ته يې، خوريونو ته يې، خپلو [هم کيشه او هم دينه] ښځو ته يې،[۲۴] تر ولکې لاندې غلامانو ته يې،[۲۵] تر تبعيت لاندې خواجگانو [= نرښځو خدمتگارانو] ته چې ښځو ته بې رغبته وي او هغه ماشومان چې [لا بالغ شوي نه دي او] د ښځو پر شرم ځايونو [= جنسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسئلو] پوه شوي نه دي او [پر لار د تګ پر مهال ، دا راز] پل پر ځمکه ونه وهي تر څو هر هغه څه له زينتونو [بڼکلا او سينګار] څخه چې پټوي [لکه خلخال، پازېب] څرګند شي.[۲۶] ای مؤمنانو ټول د الله په لور بېرته وګرځئ [توبه وکړئ]،[۲۷] تر څو نجات وموميئ.

وَقُلْ	لِلْمُؤْمِنَاتِ	يَغْضُضْنَ	مِنْ	أَبْصَارِهِنَّ	وَيَحْفَظْنَ	فُرُوجَهُنَّ
او ووايه	مؤمنو ښځو ته	ټيټوالی وکړي	له	په خپلو سترګو کتنو	او وساتي	شرم ځايونه خپل

وَلَا يُبْدِينَ	زِينَتَهُنَّ	إِلَّا	مَا	ظَهَرَ مِنْهَا	وَلْيَضْرِبْنَ
او هغوی دې نه ښکاره کوي	سينګارونه خپل	مګر	هغه چې	ښکاره دی له هغوی	او بايد واچوي

بِخُمُرِهِنَّ	عَلَى	جُيُوبِهِنَّ	وَلَا يُبْدِينَ	زِينَتَهُنَّ	إِلَّا	لِبُعُولَتِهِنَّ
پروني خپل	پر	ګرېوانونو خپلو	او ښکاره دې نکړي	سينګارونه خپل	مګر	د خپلو مېړونو لپاره

أَوْ	آبَائِهِنَّ	أَوْ	آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ	أَوْ أَبْنَائِهِنَّ	أَوْ	أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ	أَوْ	إِخْوَانِهِنَّ	أَوْ
يا	پلرونه يې	يا	د مېړونو پلرونه	يا زامن يې	يا	د مېړونو زامن	يا	ورونه يې	يا

بَنِي إِخْوَانِهِنَّ	أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ	أَوْ نِسَائِهِنَّ	أَوْ مَا	مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ
ورېرونه يې	يا د خور زامن يې	يا خپلې[مسلمانې] ښځې يې	يا هغه چې	واکمن دي ښې لاسونه د دوی (وينځې)

أَوِ التَّابِعِينَ	غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ	مِنَ الرِّجَالِ	أَوِ الطِّفْلِ	الَّذِينَ	لَمْ يَظْهَرُوا
يا لاس لاندې	چې د شهوت خاوند نه وي	له سړيو نه	يا کوچنی	هغه چې	آګاه نه دي

عَلَى	عَوْرَاتِ النِّسَاءِ	وَلَا يَضْرِبْنَ	بِأَرْجُلِهِنَّ	لِيُعْلَمَ	مَا يُخْفِينَ
پر	شرم ځای د ښځو	او نه دي وهي	پښې خپلې	لپاره ددې چې معلوم شي	هغه چې پټوئ

مِنْ زِينَتِهِنَّ	وَتُوبُوا	إِلَى اللَّهِ	جَمِيعًا	أَيُّهَ الْمُؤْمِنُونَ	لَعَلَّكُمْ	تُفْلِحُونَ
له سينګار خپل	او توبه وکړئ	الله ته	ټول	ای مؤمنانو	ښايي تاسو	نجات وموميئ

۲۱ـ معمولاً نارينو ته ويل کيږي، چې سترګي مو وپوښئ. او ښځو ته ويل کيږي، چې اندام مو پټ کړئ! خو په دې دوو آيتونو کې، هر دواړو لورو ته، دا توصيه شوې ده. سره ددې چې، شدّت او ضعف يې، د هر يو د جنسيت پر بنسټ، توپير لري.

۲۲ – هغه څه چې، په طبيعي توګه څرګند دي، ډيرېو مخ او لاسونه[تر مړوندونو] ګڼلي دي. خو د بشپړ پټولو سره هم، د نارينه او ښځې د اندام توپير له ورايه څرګنديږي. هغه څه چې ترې نهي شوې ده، د نن ورځې په پرتله بدن ليدې تنګې او شفافې [رڼې] جامې دي.

۲۳ – «خُمُر» د خِمار جمع، له هغه پوښښ څخه عبارت دی، چې په سر به يې اچوه. [د عربستان له تودې او سوځوونکې هوا، دوړو او خاورو څخه د ساتنې لپاره، يا د عفت د نښې په توګه]. د هغې اچول د ګريوان له پاسه د غاړې، ټټر او سينو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پټولو له پاره دي. که د سر د ويښتانو د پټولو په اړه، د قرآني ليد له مخې د متشرعانو له پرله پسې ټينګار سره، ځپنې ترديدونه څرګند شوي دي. خو د غاړې او سپنې د پټولو په اړه، چې په کوم صراحت په دې آيت کې راغلي دي، هيڅ شک نه پاتې کيږي. سره له دې چې دې ته، ډير لږ اهميت ورکول کيږي.

۲۴ – له «نِسَائِهِنّ» څخه موخه، هم کيشه ښځې ګڼل شوي دي. داسې هم اټکل کيدای شي، چې موخه يې خپلوانې او آشنا ښځې وي. په دې صورت کې، د خصوصي مسائلو د ساتلو په اړه، پردیو ښځو ته، د هغوی د ژمنتيا د نه شتون له امله، حريم او برید ټاکل شوی دی.

۲۵ – «مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُنَّ» هماغه په جګړه کې، نيول شوي اسيران او يرغمل شوې، ښځې او نارينه دي، ځينو مفسرينو د «نِسَائِهِنَّ» په قرينه، چې ترې تر مخه راغلې، د وينځو مطلب يې ترې اخيستی، او ځينو هم غلامان، د مملوکوالي او د اختيار د نشتوالي له لامله، چې د هغوی له لوري، د نګرانۍ او د خطر د رفع لامل وو، په دې ځانګړيتوب کې شامل ګڼلي دي.

۲۶ – مفسرينو خالخالونو [پازيب] ته اشاره کړې ده چې پخوا به يې په پښو پورې تړل او په مځکه د پښو په وهلو به يې [لکه د اوسنيو جګپوندو بوټانو په څير] راکښونکی غږ کاوه، نن ورځ هم کښدی شي پر لارې د تګ په ډول کې د انـدام د ښکلا او سينګار توکو د نندارې شاهدان اوسو.

۲۷ – د آيت په پايله کې، ټولو مؤمنانو ته توصيه، د دې ښکارنـدوی ده؛ چې ډير لږ خلک داسې موندل کيږي، چې په خپل عمر کې د سترګو خيانت، يا د جنسي غريزو لغزش، ترې نه وي سرته شوی!

په مخکيني آية کې، لکه څنګه چې په عمومي توګه، ټولو مؤمنينو ته، د سَترْ او پوښښ د برید او حد په اړه، خطاب وو. په دې آية کې، د موضوع د اهميت، ټينګار او توپير د جوتولو لپاره، مؤمنو ښځو ته په ځانګړې توګه، خطاب کوي: «وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ» او مؤمنو ښځو ته [هم] ووايه، «يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ» [هغوی دې هم،] خپلې سترګې وپوښې، او د خپل پت مراقبت وکړي. دا زمورِ په ټولنه کې، معمول دی، سړيو ته وايو؛ خپلې سترګې وپوښئ، ښځينو ته وايو؛ خپل ځانونه پټ کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو قرآن هر دواړو ته ويلي، هم ښځو ته يې ويلي؛ سترګې مه څروئ او هم نارينو ته، او هر دواړو ته هم وايي؛ چې خپل عورت وپوښئ. خو زمونږ په ټولنه کې معمولاً نارينو ته ويل کيږي، چې سترګې مو ټيټې کړئ. او ښځو ته ويل کيږي؛ چې اندام مو پټ کړئ! خو په دې دوو آيتونو کې، هر دواړو لورو ته دا توصيه شوې ده. سره له دې چې، شدّت او ضعف يي، د هر يو د جنسيت پر بنسټ توپير لري.

خو زمونږ په ټولنه کې، د نارينو د ځان پوښل، مهم نه دي. د مثال په توګه؛ دا چې کوشتي نيسې، هلته خو خاص وضعيت رامخته کيږي. که هغه طرف بد دی، او د ښځو لپاره پټول اړين دي، دا بل طرف يې هم بد دی. خو زمونږ په ټولنه کې، خلک عملاً، يوه استثناء له دې جهته، قايل دي. چې تنبيه معمولاً، ښځو ته متوجه ده. څادر دې ولې داسې دی، او بالا پوښ او چپن دې، ولې داسې دي، لباس دې ولې داسې دی، سرپټی دې ولې داسې دی، معمولاً د ښځو طرف تر څار لاندې دی. خو د نارينه په اړه دا څار نشته؛ مګر دا چې باريک ځای ته خبره ورسېږي، تر هغې پورې کوم ايراد پرې نه نيسي. خو پرعکس، ټول ايرادونه او نيوکې، پر ښځو دي. په داسې حال کې، چې دا د عرضې او تقاضا، مسئله ده. محال دی، په يوه ټولنه کې، که نارينه اړمن او نيازمند نه وي، تر څو خريدار نه وي، له هاغه بل لوري دا شوني نه ده، چې عرضه وشي. په بشپړه توګه، دلته مسئله [۵۰، ۵۰] ده. دا نه شي کېدی، يو لوری تل محکوم وګڼو. زمونږ په ټولنه کې، معمولاً مور او پلار هم، تل په لوڼو نيوکه او ايراد نيسي. که زامن يې چا پسې وي، خوښيږي، او ويار هم کوي. چې ماشاالله، دومره ښکلی زوی مې دی؛ هغوی يې نه پرېږدي. کله کله، تشويق او هڅونه يې، هم کوي. خو حاضر نه دي، لور يې له چا سره، حتا سلام عليک، هم وکړي.

خو قرآن هر دواړه، د قضاوت او نباو، په يوه پله کې، اچولي دي؛ نو ځکه دې مسئلې ته، دوه ځلي نغوته کوي. او ښځو ته، په ځانګړې توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خطاب کوي. او وايي چې متقابلاً، مسلمانو ښځو ته هم ووايه؛ چې عين مطلب رعايت کړي؛ د نورو عورت ته و نه ګوري، او خپله لمن له زنا، او خپلې سترګې، نورو ته په بده سترګه، له ليدو وساتي.

هر څه چې په تېر آية کې، مو د «غضّ بصر»، او «حفظ فرج»، په اړه، وويل؛ دلته هم دي. يعنې په پورتني آية کې، چې عمومي دی، او په ځانګړي توګه، نارينه ته هم دی. دوه فرمانونه، نارينو ته، ورکول شوي دي:

يو له سترګو ګډولو او څرولو، او په بده سترګه نورو ته له کتلو، مخنيوی او نهي شوې. او بل د عورت، په سَترْ، او يا په پورتني تعبير، له زنا څخه په ځان ساتنه، امر شوی دی؛ يعنې د لمنې پاک ساتل، او هم نو رو ته، له ژورو کتلو او سترګو څرولو، څخه ځان وساتي. او هم خپل اندام، له ښکاره کولو وساتي [چې معنا يې ستر عورت دی]، او هم له فحشا ځان بچ کړي. نو نارينه دنده لري، هم خپل ځانونه، له سترګو څرولو، او نورو ته په بده سترګه له کتلو وساتي. او هم خپله لمن، له فحشاو پاکه وساتي.

کوم آية چې د نارينه په اړه دی [د ښځو په اړه له آية څخه] لنډ دی او له همدې کچې زيات نه دی پرته له دې چې ورپسې توصيه کوي: دا چې مور وايو د سترګو له څرولو ځان ساتنه وکړئ، او خپلې لمنې له فحشا پاکې او بچ وساتئ، داسې و نه انګېرئ چې مور ستاسو بده غواړو؛ نه، بلکې ستاسو پاکې او سپېڅلتيا غواړو، او ستاسو خدای بهتر پوهېږي او بهتر ستاسو په چارو آګاه دی. په دې آية کې، چې ښځو پورې، پـه ځانګړې توګه اړه لري. ټکی په ټکی، همدا دوه دستوره، راغلي دي. لـه هماغه تعبير سره، له دې توپير سره، چې دلته ضميرونه، مؤنث دي. «وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ...» فرمايي: او ښځو ته ووايه؛ چې سترګې له څرولو، او د هاغـه څه له کتلو څخه، چې نبايد ورتـه وکتل شي، ځان وساتي. او لمنې خپلې هم، د نورو له کتلو، او هم له فحشا، بچ او پاکې وساتي. يعنې هماغه دستورونـه او عبارتونه، چې د سړو په اړه راغلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل ته په بده سترګه د کتلو، او د عورت د سَترْ مسئله، د ښځې او نارينه لپاره، يو شان دي. دا دستور له دې سره سره چې، د ښځينه او نارينه په منځ کې، هيڅ توپير نه کوي. خو دا د ښځو په اړه، تر ډېرې کچې، کوچنی ګڼل کېږي: يو دا چې، ښايي يو شمېر ښځې و انګېري، چې يوازې نارينه مجاز نه دي، ښځو ته وګوري. خو ښځې داسې ممنوعيت، د نارينه په نسبت، نه لري. او حال دا چې، هيڅ توپير نه کوي، که جايز نه دی، د هر دواړو لپاره جايز نه دی. او که جايز دی، هر دواړو ته جايز دی؛ يعنې په هماغه برید کې، چې سړی ممنوع دی، ښځه هم ممنوعه ده. خو معمولاً داسې انګېري چې؛ نه، يوازې نارينه دی، چې نبايد سترګې يې، پر ښځه ولګېږي، يا که په بد نظر وي، نبايد ووېني. خو که د ښځې سترګې، پر نارينه پرېوځي، کومه ستونزه نشته. ځکه هغه ښځه ده، چې نارينه ته ګوري!

خو داسې نه ده، بلکې قرآن، د ښځې او نر تر منځ، د «کتلو» په مسئله کې، هيڅ توپير قايل نه دی. البته ځېنې مېرمنې، دې مسئلې ته پاملرنه لري. خو ښايي ډېرې له هغوی، پاملرنه او توجه نه لري.

دويم دا چې: کېدی شي، دې مسئلې ته، ډېر شمېر توجه ولري، او ښايي لږ شمېر، توجه ونلري. ـ هغه دا چې؛ خيال کوي ښځه، ښځې ته مطلقاً محرمه ده. يعنې دوی انګېري، چې ښځه، حتا د بلې ښځې عورت ته، هم محرمه ده؛ يوازې نارينه دی، چې د بل نارينه په نسبت، نامحرم دی. خو ښځه، د بلې هرې ښځې، د ټول بدن په نسبت، حتا د هغې د عورت په نسبت، محرمه ده. البته ډېرې ښځې، لکه څنګه چې مو وويل، په دې پوهېږي، چې داسې نه دی، يعنې ښځه هم ښځې ته محرمه نه ده.

خو لږه کي د ښځو داسې انګېري، چې ښځه، ښځې ته [مطلقاً] محرمه ده، خو داسې نه ده. د عورت په اړه، ښځه هم ښځې ته محرمه نه ده. حتا مور هم، خپلې لور ته، محرمه نه ده. لور هم، مور ته. محرمه نه ده. خور هم، خور ته، محرمه نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بښځو ته د پوښښ دنده: لکه څنګه چې مو وويل؛ قرآن نارينه ته ددې دوو مطلبونو په اړه، دستور ورکوي. او دې ته ورته دستور، بښځې ته، هم ورکوي. او کوم دستور، چې بښځې ته ورکوي، د هغې ورته دستور، نارينه ته هم ورکوي. خو د بښځو لپاره، يوه بله زياته دنده، قايل شوی دی. چې دا دنده، نارينه ته نشته. او هغه دا چې، بښځه يې مکلف کړې ده، چې خپل ځان وپوښي. خو سړی يې، پر دې مکلف کړی نه دی. يعنې دا تکليف بښځې ته متوجه دی، نه نارينه ته.

قرآن وايي: «وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا» خپل زينتونه او سينګار دې، څرګند نکړي، مګر هغه چې، په طبيعي توګه، څرګند دي. له زينت څخه مطلب، يوازې ګاڼه، يعنې ګوتمه، غاړکی او ددې په څېر نور څيزونه نه دي. ځينو ويلي؛ چې دا دې نه بښاره کوي. خو ګاڼې، خو په ځانله توګه، تحريک کوونکي نه دي. ګاڼې خو د زرګرانو په دوکانونو کې، بې شمېره موندل کېږي. قاعدتاً زينت او سينګار، د زينت له ځای سره دی.

[د ټوکې په بڼه، يو تمثيل دی. وايي: د چا په غاړه کې، د الوتکې په څېر، يو نښان په زنځيري غاړکی کې، د هغې پر ټټر ځوړند وو. يو سړی ورته ډېر په ځير شو. بښځې ترې پوښتنه وکړه، دا الوتکه دې خوښه شوه؟ هغه ورته ځواب ورکړ، د الوتکې ډګر مې ډېر خوښ شو].

نو ګاڼه او سينګار، د سينګار له ځای سره، مفهوم پيدا کوي. که د غاړې غاړکی وي، يا لاسبند او داسې نور وي، يا طبيعي زينتونه. پرته له هاغه څه چې بښاره دي، او څه پرې کولی نشې. يعنې بښځه که هر څومره په اغوستن کې، تاوه او وپېچل شي، بيا هم پېژندل کېږي، چې بښځه ده، نور پرې څه کولی نشې. يعنې په طبيعي توګه، اوسئ. عادي اوسئ. په غير عادي توګه، و نه برېښئ. هغه څه چې، په طبيعي توګه، څرګند دي. ډيريو مخ او لاسونه[تر مړوندونو] ګڼلي دي. خو د بشړ پټولو سره هم، ومو ويل چې د نارينه او بښځې، د اندام توپير، له ورايه څرګندېږي. هغه څه چې ترې نهې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې ده، د نن ورځې په پرتله، بدن لیدې، تنګې او شفافې جامې دي. «وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ»، «وَلْيَضْرِبْنَ» [يعنې واچوي]، دلته په دې اوږد آية کې، «۲۵» ځلې د مؤنث ضمير، کارول شوی دی؛ يَضْرِبْنَ، خُمُرِهِنَّ، جُيُوبِهِنَّ، لَا يُبْدِينَ، زِينَتَهُنَّ، بُعُولَتِهِنَّ...، دا ټول چې د مؤنث ضمير په توګه راځي په آخر کې «ن» اخلي.

«خُمُر» د خِمار جمع، له هاغه پوښښ څخه عبارت دی، چې په سر به يې اچوه. [د عربستان، له تودې او سوځوونکې هوا، دوړو او خاورو څخه، د ساتنې لپاره، يا د عفت د نښې په توګه]. د هغې اچول، د ګريوان له پاسه، د غاړې، ټټر او سينو د پټولو لپاره دي.

کـــه د سر د ويښـــتانو د پټولـــو په اړه، د قـــرآني ليد له مـــخې د متشـرعانو له پرله پسې ټينګار سره، ځينې ترديدونه څرګند شوي دي. خو د غاړې او سينې د پټولو په اړه، په کوم صراحت چې په دې آيت کې راغلی دی، هيڅ شک نه پاتې کيږي.

سره له دې چې، دې تـه، ډير لږ اهميـت ورکول کيږي. نو «خُمُر» هاغه څيز چې په سر يې اچوي [سرپټی]، سړي يې هم اچوي. همدا اوس هم په عربســتان کې يې، نښـځې او ســړي، پر سرونو اچوي، له پخوا هم، همداسې ول. چون عربستان استوايي منطقه ده، او سوځوونکی لمر لري. په ځانګړې توګه په مکه کې. دوړې او خاورې هم، هلته بې حده وې، او د هوا ککړتيا، او لمر دا ټول سره يو لاس ول. هغوی خولې نه درلودې، نو پر خپل سر به يې، سرپټی اچوه. بس يوازې دا چې ځينو به، بې بندوباري کوله، د حرکت پر مهال به يې، سرپټی شا خوا ته، ته، او غاړه او سينه به يې نښـکاره کېدل. هاغه څه چې قرآن يې دلته توصـيه کړې، وايي: دا سرپټی مخې ته راوړئ، چې ګريوان او سينه مو وپوښي.

ځينو په دې اړه؛ په دې کې ترديد کړی، چې آيا په قرآن کې، د سر د وښتو پوښل، توصيه شوي که نه؟ په ځانګړی توګه په دې وروستيو کلونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې، چې ځینې لیکني راوتلي. وایي: په قرآن کې، په هیڅ ځای کې صریحاً نه دي ویل شوي، چې د سر وښته دې وپوښل شي.

خو دوی پاملرنه نه کوي، چې هلته چون د سر وښته ټولو پوښل، هغه که د جغرافیایي شرایطو له لامله هم وو، نو معنا یې نه درلوده، چې په قرآن کې ووایي، دا کار وکړئ [سر وپوښئ]، ځکه هغه خو ټولو له مخکې کاوه. خو کوم څیز چې مسلّم دی، او ډېره لږه بها، او اهمیت ورته ورکول کېږي، د غاړې او ټټر پوښل او پټول دي. یعنې د قرآن د دستور پر بنسټ نه شي کېدی، پرانیستې وي. په داسې حال کې، چې دې موضوع، د سر د پوښلو پر وړاندې، لږ اهمیت موندلی دی.

په داسې حال کې، چې زمونږ په ټولنه کې، اصل او اساس، د سر وښته تلقي شوي دي. نو که د سر په پوښلو کې، د خلکو په نزد تردید شتون لري. خو قرآن دا په ټینګار ویلې، چې؛ خپلې غاړې او سینې مو وپوښئ.

«وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ» او خپل زینتونه مو مه ښکاره کوئ. «إِلَّا» مګر، دا مګر د دولس کسانو لپاره، چې د محرمانو جزء تلقي کېږي؛ «إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ»؛ مګر د مېړونو په نسبت یې: مېړه ته بَعْل وایي [بَعْل مفرد دی چې جمع یې بُعُول یا بُعُولة دی] «لِبُعُولَتِهِنَّ» یعنې: مګر مېړونو ته یې، «أَوْ آبَائِهِنَّ» یا پلرونه ته یې، «أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ» یا د مېړونو پلرونه ته یې، [چې زمونږ په اصطلاح کې ورته خسر هم وایي]، «أَوْ أَبْنَائِهِنَّ» یا زامن یې، «أَوْ أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ» یا د مېړونو زامن یې، [یعنې «بن زي» یې]، «أَوْ إِخْوَانِهِنَّ» یا ورونه یې، «أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ» یا ورېرونه یې، «أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ» یا خورېیونه یې، «أَوْ نِسَائِهِنَّ» یا ښځې یې، یعنې خپلې خپلوانې ښځې، د پردو او نابلدو ښځو په اړه ډېره اجازه نشته. چې مسلمانه ښځه، د هغوی په مخکې، داسې ښکاره شي. له «نِسَائِهِنَّ» څخه موخه، هم کیشه، ښځې ګڼل شوي دي. داسې هم اټکل کیدای شي، چې موخه یې خپلوانې او آشنا ښځې وي. په دې صورت کې، د خصوصي مسائلو د ساتلو په اړه، پردیو ښځو ته د هغوی د ژمنتیا د نه شتون له امله، حریم او

(c) ketabton.com: The Digital Library

برید ټاکل شوی دی. په بل ځای کې یې، په دې اړه توضیح ورکړې، او لاملونه یې هم څرګند کړي، چې ولې مجاز نه دي.

«أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ» یا هغه چې مالک شوي یې دي، او تسلط یې موندلی دی لاسونو یې. چې مطلب یې جنګي اسیرانې دي، چې په هاغه دوران کې یې، شتون درلود. البته دا د داسې مریانو او اینځو، په عنوان مطرح نه ول، لکه څنګه چې په اروپا او امریکا کې، مطرح ول. چې مریان به یې د کار د قوې په توګه د استعمال لپاره، له افریقا او نورو ځایونو څخه غلا کول، او د عمر تر پایه به مریان ول. او د هغوی اولادونه به هم همداسې نسل په نسل، مریان پاتې کېدل، دا ډول مریانو هلته شتون نه درلود.

خو «مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُنَّ» لکه چې ومو ویل؛ په جګړه کې نیول شوي اسیران، او یرغمل شوې، ښځې او نارینه ول. ځینو مفسرینو د «نِسَائِهِنَّ» په قرینه، چې ترې تر مخه راغلې، د وینځو مطلب ترې اخیستی، او ځینو هم د غلامانو مطلب ترې اخیستی.

د مملوکوالي او د اختیار د نشتوالي له لامله، چې د هغوی له لورې د نګرانۍ او د خطر د رفع لامل وو، په دې ځانګړیتوب کې شامل ګڼلي دي. نو ځکه هلته مریان په هاغې معنا نه ول، چون کار هم شتون نه درلود. جنګي اسیران به یې نېول، د تبادلې لپاره، چون د جنګ، دواړو طرفونو به، اسیران نېول. هڅه دا وه، چې اسیران ونیسي، که ددوی لخوا څوک اسیر شي، چې ورسره تبادله یې کړي. یا هاغه څوک چې اسیر کېدل، قبلې یا کورنۍ به یې مقابل لور ته، پیسې یا مال ورکوه، او هغوی به یې آزادول.

دا په حقیقت کې، د مالي امتیاز د لاسته راوړلو، یوه وسیله هم وه. که چا به څوک نه درلود، یا شتمن نه ول، یا قیمت ورکولو ته یې حاضر نه ول، دوی هلته پاتې کېدل. یو لړ ضابطې او قوانین پر هغوی ول، او په کورونو کې، د کاریګر په توګه به، مصروفیدل. چون دوی خو د جنګ لپاره راتلل، او اسیر کېدل. د ټولنیزو حقوقو له نظره یې، له نورو سره توپیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

درلود. دوی هلته ول، په کور کې دننه، یا له کوره بیرون به یې، د عبد یا اینځې په توګه کار کاوه. او په قرآن کې ددوی په اړه، آیتونه راغلي دي.

داسې نه وه، چې دوی له انساني حقوقو څخه، بیخي محروم ول. قرآن ددې پر ځای چې، له هماغه پیله ووایي، چې اسیر مه نیسئ، دا کار ممنوع دی، تدریجي برخورد یې ورسره، کړی دی. چون دا کار شونی نه وو، نه شونی وو، نه د چا په ځواک کې وو، او نه مصلحت وو. ځکه چې جنګونه پرله پسې واقع کېدل، او دښمنانو له دوی هم اسیران نیول. نو که دوی اسیر نه نیولی، خپل اسیران به یې څنګه خلاصول. او دا په حقیقت کې، مقابل لور ته، ستر امتیاز ورکول وو. نو په هاغـه دوران کې دا څـیز عام وو، چې قرآن په تـدریجي توګه، لـه منځه وړی دی.

په هر حال وایي؛ وینځې چې په کور کې دي، د هغوی پر وړاندې پوښل اړین نه دي. لکه څنګه چې مو وویل: په دې قرینه چې «نسائهن» راغلی، ځېنو ویلي وینځې دي، او د «أَوْ مَا مَلَكَتْ» پر بنسټ، مریان هم پکې شامل دي، ځکه هغوی هم، آزاد او خپلواک نه ول.

«أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ». «أَوِ التَّابِعِينَ» یا تابعین «غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ» چې جنسي تمایل نه لري، ځېنو ویلي؛ بنایي مقصد یې خواجګان وي، لکه د حرمسرای خواجګان، دوی ته د تابع کلیمه راغلې.

«مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاءِ» له نرینه یا کوچنیانو، چې لا یې پر جنسي مسئلو، آګاهي نه ده موندلې، یعنې هغه ماشومان چې په دې اړه، کوم شناخت نه لري، هاغه نارینه چې له ذهني پلوه وروسته پاتې دي. داسې برېښي چې؛ مقصد یې ذهني وروسته پاتې، یا هغوی چې ذهن یې وده نه ده کړې. چون دوی، لـه دې مسئلې سره، کومه پېژندنه، او شناخت نلري. کوم تمایل، او لېوالتیا هم، ورته نه لري. دا خلک تل په ټولنه کې ول، دا چې تابع ول، یعنې؛ له خپله ځانه کوم اختیار نه لري، نور یې باید اداره کړي، له ذهني پلوه وروسته پاتې ول. [بنایي داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي والله اعلم]. دلته يې يو لړ هاغو کسانو ته، اشاره کړې، چې د زينت او سينګار ښکاره کېدل، د هغوی مخکې مهم نه دي.

«وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ» بله نکته د حرکت طريقه څرګندوي، مفسرينو خالخالونو ته اشاره کړې ده؛ چې پخوا به يې په پښو پورې تړل، او په مځکه د پښو په وهلو به يې، [لکه اوسني د جګپوندو بوټانو، او همدا راز، د پازېبونو په څير] راکښونکی غږ کاوه. نن ورځ هم کېدی شي، پر لارې د تګ په ډول کې، د اندام د ښکلا او سينګار توکو، د نندارې شاهدان اوسو. نو لکه څنګه چې ويل کېږي، په هاغه مهال کې به ښځو، يو ډول خلخال څيزونه، يا پازېبونه، پر پښو پورې تړل. او چې پر لارې به تلل، تق او تُق به يې، لکه د اوسنيو لوړپوندو بوټانو په څېر کاوه. او همدا راز شرنګهار به يې، د اوسنيو پازېبونو په څېر کاوه. او آواز به يې، د خلکو تر غوږونو ښه راتله، او د خلکو توجه به يې، ځانته اړوله. نو ځکه وايي:

«وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ» پښې دې، پر ځمکه نه وهي. «لِيُعْلَمَ» چې وپېژندل شي، هغه زينتونه يې، چې پټ کړي دي. يعنې هغه زينتونه، چې بايد وپوښل شي، او بايد ظاهر نشي. البته دا ټول، د خپلې زمانې په تناسب، ويل شوي دي. چې په اصل کې، دا يو پيغام لري؛ يعنې دليل نه لري، چې شخص وغواړي، مخالف جنس ځانته جذب کړي. که اصل او اساس کورنۍ ده، او د ښځې او مېړه تر منځ، يو تر بله، ژمنه او تعهد دی. او د کورنۍ تشکيل، چې پکې، په سلامته توګه، بچيان وروزل شي. نور هيڅ لامل شتون نه لري، چې دا ډول هڅې وشي، چې نورو ته دې شين څراغ وښودل شي.

«وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ» دا ددې اوږد آية پای ده. چې وايي: ای مؤمنينو دسته جمعي، په ټولیزه توګه، ټول توبه وکړئ. د آيت په پايله کې، ټولو مؤمنانو ته دا توصيه، د دې ښکارندوی ده؛ چې ډير لږ خلک، داسې موندل کېږي، چې په خپل عمر کې ترې، د سترګو خيانت، يا د جنسي غريزو لغزش، نه وي شوی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

[يعنې په دې لړ کې، چې څومره وويل شول، داسې څوک نشته، چې ډاډه اوسي، چې واقعاً له عيب او نقصه خالي وي. چې هيڅ مهال يې، د سترګو لاندې پټه، په غلا کتنه او ليدنه، هم نه وي کړې. او ددې ځواکمنې جنسي غړېزې، پر وړاندې يې، کله هم، پښه نښويه شوې، نه وي.]

نو پر دې بناء مؤمنينو ته، په خطاب کې وايي:

«تُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ الْمُؤْمِنُونَ» تاسو ټول توبه وکړئ، توبه هم د خداى لور ته ستنېدل دي، «لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ» ددې لپاره، چې فلاح وموميئ. غوړېدا ته ورسېږئ. فلح يعنې شګوفايي، غوړېدا، رشد او وده کول، غوړېدل او فلوريش کېدل دي.

ورپسې آية، له دې ټولنيزو مفاسدو څخه، د يوه د مخنيوي طريقه توضيح کوي؛ هغه مهال چې، يو شمېر بې همسره پاتې شوي وي، او جنسي غريزه هم ځواکمنه ده، طبيعي ده، چې يو لړ عوارض رامنځته کوي. دا ټول جنايتونه، چې په مختلفو ښارونو کې کېږي، زياتره يې له دې لامله دي، چې واده کول، سخت او ستونزمن شوى دى. د ځوانانو لپاره، د واده کولو امکان نشته. او دا ستونزه، په هر هيواد کې شته. خو زمور هيواد کې، تر ټولو زياته ده. جنسي غريزه، پخپله يو اور دى، چې د هر ډول، اور بلولو لپاره، کافي دى.

د دوه دېرشم آية، ترجمه شرح او تفسير

وَأَنْكِحُوا الْأَيَامَى مِنْكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ إِنْ يَكُونُوا فُقَرَاءَ يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿۳۲﴾

له تاسو خپلو څخه ناواده کړو[جوړه ګانو][۲۸]، وړ او صالحو غلامانو او وينځو ته نکاح وکړئ، که څه هم فقير او اړمن وي [او د واده او کورنۍ د تشکيل د مصارفو په اړه تشويش ولري]، الله به هغوى له خپله فضله غنيان [نااړمن او بې نيازه] کړي او الله پراختيا ښونکى، ډېر پوه دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَأَنْكِحُوا	الْأَيَامَى	مِنْكُمْ	وَالصَّالِحِينَ	مِنْ عِبَادِكُمْ	وَإِمَائِكُمْ	إِنْ يَكُونُوا
نکاح وکړئ	ناوادە	له تاسو	او نېکان	له غلامانو ستاسو	او وینځو ستاسو	که وي هغوی

فُقَرَاءَ	يُغْنِهِمُ	اللَّهُ	مِنْ فَضْلِهِ	وَاللَّهُ	وَاسِعٌ	عَلِيمٌ
تنګلاسي	هغوی به غنیان کړي	الله	له خپله فضله	او الله	پراختیا ښونکی	ډېر پوه دی

۲۸ – «الْأَيَامَى» د «اَيِمْ» جمع، جره ښځې یا نارینه ته ویل کیږي ، که څه هم مخکې یې واده کړی وي او طلاق یې اخیستی وي او یا کونډ شوي وي، د خپلوانو او آشنایانو لپاره، حتی د هاغو تر لاس لاندې کسانو لپاره چې د هغوی په اړه ډیر لږ احساس د دندې کوو، د جوړې او یا د ژوند د شریک پیدا کول د ټولو دنده ده چې ګټه یې نه یوازې هغوی ته بلکه له بې شمېره اړخونو څخه ټولنې ته رسیږي.

دا آیة د ځوانانو په اړه، توصیه کوي چې؛ مجردانو ته ښځې وکړئ او پېغلې او ناوادە کړې مېړه ته ورکړئ. «وَأَنْكِحُوا الْأَيَامَى مِنْكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ»، «وَأَنْكِحُوا» او [نکاح یعني] واده یې وکړئ، «الْأَيَامَى» د «أَيِّم» جمع ده، أَيِّم یعني مجرد، تنها – دا کېدی شي، داسې څوک وي، چې واده یې نه وي کړی، که نرینه وي یا ښځینه وي. یا کېدی شي، واده یې کړی وي، طلاق یې اخیستی وي، یا ښځه یې یا مېړه یې وفات شوی وي، چې په پایله کې یوازې وي.

«مِنْكُمْ» له تاسو، یعني په کلي، کور، چم، ګاونډ کې، خپلو خپلوانو کې، آشنایانو، دوستانو کې، هغوی چې تاسو یې پېژنئ، د واده شرایط ورته برابر کړئ. دا کار په پټه نه کېږي، نو باید یو لړ تشکیلات او مؤسسې، ددې لپاره، په کار واچول شي، چې همسر موندنه وکړي.

نو هاغه جره ښځې، یا نارینه، چې په ټولنه کې شتون ولري، که څه هم، مخکې یې واده کړی وي، او طلاق یې اخیستی وي، او یا کونډه شوې وي. یا کوم څوک وي، چې ښځه یې وفات شوې وي، یعني کونډ شوی وي، د خپلو خپلوانو، او آشنایانو په منځ کې، یو بل ته یې واده کړئ. دا په حقیقت کې، د اسلامي ټولنې لپاره، یوه دنده ده، چې د هغوی دا ستونزه رفع کړي. نه یوازې د هغوی چې؛ حتا د هاغو تر لاس لاندې کسانو لپاره،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د هغوی په اړه، ډير لږ احساس د دندې کوو، د جوړې او يا د ژوند د شريک پيدا کول، د ټولو دنده ده. چې ګټه يې نه يوازې هغوی ته، بلکې له بې شمېره اړخونو، ټولنې ته رسېږي.

«وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ» «او ستاسو له عبادو صالحو کسانو څخه» او د خپلو عبادو وړ کسانو، عباد نه دا چې، ستاسو بندګان دي، بلکې هاغه اسيران چې ستاسو په واک کې دي. مقصد هغه جنګي اسيران، چې صالح کسان دي، د هغوی په اړه هم وظيفه لرئ، چې هغوی ته هم، د ژوند شريک او همسر ومومئ.

«وَإِمَائِكُمْ»، «إِمَا» اينځو ته وايي، يعنې هغه جنګي اسيرانې، چې ښځينه دي، او صالحانې دي. هغوی ته هم، د ژوند شريکان، او همسران ومومئ. هغوی هم انسانان دي، او اړتيا لري. کېدی شي، ددوی له اړخه ټولنې ته، خطرونه هم رامنځته شي. دا هم کېدی شي، وويل شي چې؛ دوی خو امکانات نه لري، پيسې نه لري، عايد نه لري.

وايي «إِنْ يَكُونُوا فُقَرَاءَ» که څه هم فقير، اړ او نيازمن دي. «يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ» خدای تعالی به يې، په خپل فضل، غنيان او بې نيازه کړي. يعنې همدا چې واده وکړي، هغه انګېزې چې، د کورنۍ د تشکيل لپاره رامنځته کېږي. د اولاد او بچيانو د اداري لپاره لېوالتيا، کار او هڅه او توليد، رامنځته کوي. نه دې ډارېږي، رزق د خدای په لاس کې دی. واده چې وکړي، باقي يې، خدای تعالی پخپله سموي. «وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ» او الله تعالی، د پراخې والا، ښه عالم دی.

د درې دېرشم آية، ترجمه شرح او تفسير

وَلْيَسْتَعْفِفِ الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّى يُغْنِيَهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَالَّذِينَ يَبْتَغُونَ الْكِتَابَ مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ فَكَاتِبُوهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًا وَآتُوهُمْ مِنْ مَالِ اللَّهِ الَّذِي آتَاكُمْ وَلَا تُكْرِهُوا فَتَيَاتِكُمْ عَلَى

(c) ketabton.com: The Digital Library

الْبِغَاءِ إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا لِتَبْتَغُوا عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَمَنْ يُكْرِهْهُنَّ فَإِنَّ اللَّهَ مِنْ بَعْدِ إِكْرَاهِهِنَّ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿۳۳﴾

او هغه کسان چې، نکاح [لپاره وسه] نه پيدا کوي، بايد [د جره توب په شرايطو کې] ځان وساتي [او پاک لمنې خپله کړي] تر هغه [مهاله چې] الله په خپل فضل دوی غني [بې نيازه او وسمن] کړي. او هغه کسان چې ستاسو تر واک لاندې دي، او [د خپلې آزادۍ د بيرته اخيستلو او پيرودلو لپاره] د ټرون د تنظيم غوښتونکي وي، که په هغوي کې کوم خير [او ښېګڼه] وينئ، ويې منئ او [حتا] د الله له ماله چې تاسو ته يې در کړی دی [د هغوی د خوشې کولو لپاره] تاديه کړئ.[۲۹] او هغه اسيرې ښځې چې په واک کې لرئ، که د پاک لمنې[= د کورنۍ د تشکيل] هوډ لري،[۳۰] هغوی تن پلورلو ته[په دې تمه] مه مجبوروئ چې تاسو د دنيوي ژوند ګټو ته ورسېرئ او هر څوک چې هغوی مجبورې کړي، نو الله له دې اجبار وروسته [په مجبور شوو کسانو] غفور او رحيم دی [بښونکی او مهربان دی].

وَلْيَسْتَعْفِفِ	الَّذِينَ	لَا يَجِدُونَ	نِكَاحًا	حَتَّى	يُغْنِيَهُمُ اللَّهُ
او بايد ځان وساتي	هغوی چې	نه مومي	نکاح	تر هغې چې	الله هغوی غنيان کړي

مِنْ فَضْلِهِ	وَالَّذِينَ	يَبْتَغُونَ	الْكِتَابَ	مِمَّا	مَلَكَتْ	أَيْمَانُكُمْ
له خپله فضله	او هغه کسان چې	غواړي	ټرون ليکل	له هغوی	واکمني	ستاسو لاسونو کې ده

فَكَاتِبُوهُمْ	إِنْ عَلِمْتُمْ	فِيهِمْ	خَيْرًا	وَآتُوهُمْ
نو مکاتبت وکړئ هغوی سره	که تاسو پوه شوئ	په هغوی کې	وړتيا او ښېګڼه	او تاسو هغوی ته ورکړئ

مِنْ	مَالِ اللَّهِ	الَّذِي آتَاكُمْ	وَلَا تُكْرِهُوا	فَتَيَاتِكُمْ	عَلَى الْبِغَاءِ
له	مال د الله	هغه چې هغه تاسو ته درکړ	او مه مجبوروئ تاسو	وينځې خپلې	پر زنا

إِنْ أَرَدْنَ	تَحَصُّنًا	لِتَبْتَغُوا	عَرَضَ	الْحَيَاةِ	الدُّنْيَا	وَمَنْ
که هغوی وغواړي	د پاک لمنې	چې لاسته راوړئ	مال	د ژوند	د دنيا	او هغه څوک چې

يُكْرِهْهُنَّ	فَإِنَّ اللَّهَ	مِنْ بَعْدِ	إِكْرَاهِهِنَّ	غَفُورٌ	رَحِيمٌ
مجبوري کړې هغوی	نو بېشکه الله	له وروسته	د مجبورولو د هغوی	ښه بښونکی	ډېر لورين ذی

۲۹ – د عربي قبيلو په مناسباتو کې، د اسيرانو نيول، او د هغوی مبادله يا ساتل يې، د غرب د برده داری او مريتوب له سيستم سره، چې د کار د ځواک په توګه به يې، له هغوی څخه ګټه اخيستله، ماهيّتي توپير لري. د جنګي اسيرانو له موضوع

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره، د اسلام مخامخ کېدنه او تعامل، د نابېره لغو او بښلو د فرمان پر ځای [چې شونی نه وو]، ددغه ستونزې تدريجي راټولول، د مسلمانانو د روزنې له لارې، او د اسير او آزاد تر مېنځ، د اړيکو د تغير پر بنسټ وو. مسلمانانو ته ددغه آيت توصيه، د هغوی د آزادۍ لپاره، د ټرون تنظيم، حتی له عمومي بوديجې څخه، د برده داری د تدريجي لغو کولو لپاره، د اسلام د جهت نېونې او دريځ، ښکارندوی دی.

۳۰ - «تحصّن» د «حِصْن» [قلعه] له ريښې، په مجازي توګه، په هغو موردونو کې، چې مراد تري حفظ او ساتل وي، کارول کيږي. لکه د هاغو ښځو په څير چې خپل ځان له بې عفتی، بې پتی او اخلاقي ناوړتيا ليرې ساتي. همدا راز کومه ښځه چې د نکاح [واده] په حِصن او د هغه په ژمنو کې داخله شوې وي . تحصّن [د تفعّل په باب] عفت او پتمنی ته تمايل او لېوالتيا څرګندوي.

«وَلْيَسْتَعْفِفِ الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّى يُغْنِيَهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ» او يو شمېر که ددې امکان نه پيدا کوي، چې واده وکړي، حتماً خپل ځانونه دې وساتي، خپل پت دې وساتي، تر هغه وخته، چې خدای تعالی يې، په خپل فضل غني او بې نيازه کړي. يا څوک ورته، د واده لپاره پيدا شي، يا مالي وضعيت يې سم شي. بايد هڅه وکړي، چې دا مسئله په يوه بڼه حل شي.

«وَالَّذِينَ يَبْتَغُونَ الْكِتَابَ مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ» او هغه کسان چې «يَبْتَغُونَ الْكِتَابَ»، دلته له کتابه مقصد، قرار داد او ټرون دی، [مکتوب]. چون جامعه بېسواده وه، نو هغوی چې ستاسو جنګي اسيران دي، او غوښتنه کوي، مور غواړو چې آزاد شو، نو له دوی سره، يو قرارداد تړي. چې په پايله کې يې، مثلاً د شپږو مياشتو، يا يو کال فعاليت وروسته، هغوی آزادېږي.

[دا د پيغمبر په وخت کې معمول وو ،چې مثلاً ورته بـه يې ويل؛ «۵» کسانو ته که سواد زده کړې، آزادېږي. په دې ډول به يې، ټرون کاوه، او تر دې کار وروسـته به آزادېدل. يا همدا راز يو بل کار، لکه ودانيز کار به يې، ورته سپاره، او تر ختمېدو وروسته به يې، آزادېده.] وايي؛ هغه کسان، چې ددې کار، غوښـتنه لري، «فَكَاتِبُوهُمْ» ورسره ټرون وليکئ، او ويې منئ. «إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًا» که تاسـو پوه شـوئ، په دې کې خير دی. يعنې که دا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خير سړی دی، د اعتماد او وپسا وړ سړی دی، او کومه ستونزه نه لري. «وَآتُوهُمْ مِنْ مَالِ اللَّهِ الَّذِي آتَاكُمْ» د خدای تعالی له ماله، چې تاسو ته يې درکړی، دوی ته ورکړئ، [چې دوی آزاد شي]. د خدای مال زمونږ په مالونو کې څه شی دی؟ زکات دی، يعنې خپل زکات دوی ته ورکړئ، چې د خپل اسارت قيمت ورکړي، او خپل ځان آزاد کړي.

که مريتوب، قرآن ته د قبول وړ وای، نو نه به يې ويل؛ چې له دوی سره قرارداد وترئ، چې دوی آزاد شي. د امريکا او اروپا په کوم ځای کې داسي شوي، چې څوک غلام ته پيسې ورکړي، او ورته ووايي؛ خپل ځان دې آزاد کړه. هلته خو نسل تر نسله، خلک غلامان پاتې کېدل.

قرآن غواړي، دوی په تدريج، ټولنې ته راداخل شي. او د يو لړ آدابو او روزنې وروسته، ورو ورو د ټولنې برخه شي. او يا که غواړي بيرون لاړ شي، هم ورسره قرارداد ترې، او هم ورته زکات ورکوي، چې خپل ځان آزاد کړي. او دا ستا د الهي حقوقو جزء، ګڼل کېږي. او د وينځو په اړه، ډيرېو دا برداشت کړی، او نتيجه يې اخېستې، چې په اصطلاح وينځې خو ملي دي، هر څه چې غواړې، پرې کولی شې. خو ووينئ؛ چې په دې اړه قرآن څه ويلي؟ «وَلَا تُكْرِهُوا فَتَيَاتِكُمْ عَلَى الْبِغَاءِ إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا» هيڅکله خپلې وينځې [اسيرې ښځې]، «فَتَيَاتِ» يعنې اسيرې ښځې، «بِغَاء» يعنې فحشاء «إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا» که د عفت اهل دي، پتمنې دي، او د فحشاء اهل نه دي، داسې نه چې د فحشاء دې کار ته يې مجبورې او اړ کړئ.

«لِتَبْتَغُوا عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا» چې وغواړې، په خپل دنيوي ژوند کې، له دې لارې، يو درآمد او عايد ولرې. داسې نه چې، فکر وکړې، دا يوه وسيله او توکی دی. او له دې لارې د تن پلورنې بازار ولرې، او له دې طريقه وغواړئ سوء استفاده وکړي، او ځانته پرې مال جمع کړي.

همدا اوس هم، د جنګونو په نتيجه کې، دا مسئلې د ټولنو لـه سترو ستونزو څخه دي. کومې ښځې چې، بې سرپرسته پاتې کېږي، د هغوی له

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسه، او يا د هغوی په اړه، په ټولنه کې ګډوډي رامنځته کېږي. هر کال پر زرګونو ښځو او نجونو، تجاوز کېږي، چې اسلامي هيوادونه هم، له دې بې برخې نه دي. وايي حق نلرئ، د دنيايي ګټو لپاره، هغوی تن پلورنې ته مجبورې کړئ. «وَمَنْ يُكْرِهْهُنَّ فَإِنَّ اللَّهَ مِنْ بَعْدِ إِكْرَاهِهِنَّ غَفُورٌ رَحِيمٌ!» که په زور او ځور، پر يوه ښځه تجاوز او زياتی وکړي، [په زور يې دې کار ته، اړ کړې وي] خدای تعالی د هغې [ښځې] په نسبت، غفور او رحيم دی. [دوی ښځو خو، کومه ګناه نه ده کړې] دا چې دوه ځلې، د اکراه کليمه کارول شوې ده، پر دې ټينګار کوي؛ چې واقعاً په زور او اکراه شوی وي. نـه دا چې يو څه يې ورته ويلې وي، او دې کار ته يې تن ورکړی وي.

د څلور دېرشم آية، ترجمه شرح او تفسير

وَلَقَدْ أَنْزَلْنَا إِلَيْكُمْ آيَاتٍ مُبَيِّنَاتٍ وَمَثَلًا مِنَ الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ وَمَوْعِظَةً لِلْمُتَّقِينَ﴿۳۴﴾

او په تحقيق سره مونږ تاسو ته روښانه آيتونه او مَثَل [له پنده ډکو تجربو څخه نمونې] له هغو کسانو، چې تر تاسو د مخه ول، او موعظه [او پند] مو د پرهېزګارانو لپاره نازل کړل. (۳۱)

وَلَقَدْ	أَنْزَلْنَا	إِلَيْكُمْ	آيَاتٍ	مُبَيِّنَاتٍ	وَمَثَلًا	مِنَ الَّذِينَ
او بېشکه	مونږ نازل کړي دي	ستاسو پر لور	آيتونه	روښانګر	او مثال او داستان	له هاغو کسانو چې

خَلَوْا	مِنْ قَبْلِكُمْ	وَمَوْعِظَةً	لِلْمُتَّقِينَ
تېر شول	مخکې له تاسو	او پند	لپاره د پرهېزګارانو

۳۱ – په دې آية کې، د هغه څه لپاره، چې د الله له لورې نازل شوي. درې شأنه ګڼل شوي دي؛ مبينات آيتونه، مَثَل، او موعظه؛ لومړنی يې، د «الله» د آيتونو پېژندنې پورې، اړوند کېږي. دوهم يې، د هغه له «خلق» څخه، په عبرت اخېستنې. او دريم يې، د پند اخېستنې او پاملرنې او پروا کولو [د تقوا د تقويت او ځواکمن کولو] له لارې، په «ځان» جوړونې [خود سازی] پورې اړه لري. درې اړخونه: خالق، خلق او خپل ځان، د وګړي د ودې او کمال ډګر، څرګندوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَلَقَدْ أَنْزَلْنَا إِلَيْكُمْ آيَاتٍ مُبَيِّنَاتٍ وَمَثَلًا مِنَ الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ وَمَوْعِظَةً لِلْمُتَّقِينَ. مورِ تاسو ته روښانګر آيتونه لېږلې دي، [دا په دې سورة کې څلور ځلې تکرار شوی دی. خو دا «وَلَقَدْ أَنْزَلْنَا إِلَيْكُمْ آيَاتٍ مُبَيِّنَاتٍ»، په هر ځل کې د يوه نوي مطلب سرفصل دی، له دې وروسته غواړي، يو تازه مطلب پيل شي]. وايي: مورِ پر تاسو آيتونه نازل کړي، چې روښانګر دي. دا آيتونه رانه او د واضحه هنداري په څېر دي، او تاسو هم روښانه کوي.

«وَمَثَلًا مِنَ الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ» او يو مثال، يوه نمونه، او يو موډل چې تاسو ته، د عبرت وړ وي. له هاغو کسانو چې، له تاسو مخکې ول، يعنې هم آيتونه مو، تاسو ته وويل. او هم تاريخي تجربې مو، درته وړاندې کړې دي. «وَمَوْعِظَةً لِلْمُتَّقِينَ» يو پند او اندرز دی، د هاغو کسانو لپاره چې تقوا لري، پرهېزګاران دي، ځان کنټرولولی شي.

په دې آية کې، د هغه څه لپاره چې د الله له لورې نازل شوي، درې شأنه ګڼل شوي دي؛ مبينات آيتونه، مَثَل او موعظه؛ لومړنی يې، د «الله» د آيتونو پېژندنې پورې، اړوند کيږي. دوهم يې؛ د هغه له «خلق» څخه، په عبرت اخېستنه، او دريم يې، د پند اخېستنې او پاملرنې او پروا کولو، [د تقوا د تقويت او ځواکمن کولو] له لارې، په «ځان» جوړونې [خود سازی] پورې، اړه لري. درې اړخونه: خالق، خلق او خپل ځان، د وګړي د ودې او کمال ډګر څرګندوي. دې پسې، څو راتلونکي آيتونه، د قرآن ډېر مشهور او نامتو آيتونه دي، چې د خدای تعالی هدايت معرفي کوي:

د سورة متن او د لُغتونو ترجمه (۳۵ ـ ۴۰) آيتونه

اللَّهُ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ مَثَلُ نُورِهِ كَمِشْكَاةٍ فِيهَا مِصْبَاحٌ الْمِصْبَاحُ فِي زُجَاجَةٍ الزُّجَاجَةُ كَأَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ يُوقَدُ مِنْ شَجَرَةٍ مُبَارَكَةٍ زَيْتُونَةٍ لَا شَرْقِيَّةٍ وَلَا غَرْبِيَّةٍ يَكَادُ زَيْتُهَا يُضِيءُ	مِشْكَاةٍ= خراغداني، ډيوټ، څراغځای، تاخچه چې څراغ پکې له باده د بچ کولو لپاره ږدي - مِصْبَاحٌ = يو څراغ - زُجَاجَة = شيشه يي حباب، شيشه يي کوبی، شيشه يي پوکانه - كَوْكَبٌ = يو ستوری - دُرِّيٌّ = ځلاند - يُوقَدُ = بلېږي - شَجَرَةٍ = ونه - يَكَادُ = نږدې دی - زَيْتُهَا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ نُورٌ عَلَى نُورٍ يَهْدِي اللَّهُ لِنُورِهِ مَنْ يَ َشاءُ وَيَضْـــرِبُ اللَّهُ الْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿۳۵﴾ فِي بُيُوتٍ أَذِنَ اللَّهُ أَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ يُسَبِّحُ لَهُ فِيهَا بِالْغُدُوِّ وَالْآصَـــالِ ﴿۳۶﴾ رِجَـالٌ لَا تُلْهِيهِمْ تِجَـارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللَّـهِ وَإِقَـامِ الصَّـــلَاةِ وَإِيتَـاءِ الزَّكَاةِ يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَـــارُ ﴿۳۷﴾ لِيَجْزِيَهُمُ اللَّـهُ أَحْسَـــنَ مَـا عَمِلُوا وَيَزِيدَهُمْ مِنْ فَضْلِهِ وَاللَّهُ يَـــرْزُقُ مَنْ يَ ـشاءُ بِغَيْرِ حِسَـــابٍ ﴿۳۸﴾ وَالَّذِينَ كَفَرُوا أَعْمَالُهُمْ كَســـرَابٍ بِقِيعَةٍ يَحْسَبُهُ الظَّمْآنُ مَاءً حَتَّى إِذَا جَاءَهُ لَمْ يَجِدْهُ شَـــيْئًا وَوَجَدَ اللَّهَ عِنْدَهُ فَوَفَّاهُ حِسَـــابَهُ وَاللَّـهُ سَرِيـعُ الْحِسَـــابِ ﴿۳۹﴾ أَوْ كَظُلُمَاتٍ فِي بَحْرٍ لُجِّيٍّ يَغْ ـشاهُ مَوْجٌ مِنْ فَوْقِـهِ مَوْجٌ مِنْ فَوْقِـهِ سَـــحَـابٌ ظُلُمَاتٌ بَعْضُـــهَا فَوْقَ بَعْضٍ إِذَا أَخْرَجَ يَدَهُ لَمْ يَكَدْ يَرَاهَا وَمَنْ لَمْ يَجْعَلِ اللَّهُ لَهُ نُورًا فَمَا لَهُ مِنْ نُورٍ ﴿۴۰﴾

= تبل يې، غوړي يې - يُضِـيءُ = شعله ور شي، روښانه شي، لمبه شي - وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ = که څه هم هغه ته اور و نه رسـېږي - بُيُوتٍ = کورونو کې - أَنْ تُرْفَعَ = چې [د هغوی نوم او مقام او جوړښـت] پورته يوړل شي، لوړ شي - يُذْكَرَ = ياد شي - يُسَبِّحُ = د هغه تسبيح کوي - بِالْغُدُوِّ = په ګهيځ کې - الْآصَـــالِ = مابنـــام - رِجَالٌ = وګړي چې - لَا تُلْهِيهِمْ = هغوی نـه غـافلوي - تِجَارَةٌ = ســوداګري - بَيْعٌ = راکړه ورکړه - إِقَامِ = ولاړول - إِيتَاءِ = ورکول - يَخَافُونَ = ډاريږي - تَتَقَلَّبُ = پرمخه اوړي، بل شـان کيږي، بېتابه کيږي - الْأَبْصَارُ = سترګې - سَـــرَابٍ = څلوبی، اوبخېر لِيَجْزِيَهُمُ = چې هغوی ته جزا ورکړي، چې هغوی ته اجر ورکړي - أَحْسَنَ = [په پرتله] بهترين - يَزِيدَهُمْ = پر [اجر د] هغوی ورزيات کړي، يَرْزُقُ = روزي ورکوي - بِقِيعَةٍ = بيديا، دښـته، بيابان - يَحْسَـبُهُ = هغه انګيري - الظَّمْآنُ = تږی - لَمْ يَجِدْهُ = هغه نه مومي - وَفَّاهُ = په بشپړه توګه ورکوي - بَحْرٍ = يو سمندر - لُجِّيٍّ = ژور او پراخ - يَغْشَـــاهُ = نغاړي - مَوْجٌ = څپه - سَحَابٌ = يو لړ وربځې - أَخْرَجَ = راوباسي - لَمْ يَكَدْ يَرَاهَا = داسې نـــه دی چې [څوک] هغه ووينې - لَمْ يَكَدْ = شـونی نه دی، نژدې نه دی - فَمَا لَهُ = نو د هغه لپاره نشته -

د نور سورة تشريح (۳۵ – ۴۰) آيتونه

د نور سورة دا برخه، چې د «کور او کورنۍ د حريم» په اړه، تشريعي آيتونو پسې، يې ځای نېولی دی، له تکويني آيتونو څخه، خبره کوي. په يوه سرسري ليد کې بريښي، چې دا لړۍ، د آيتونو له مخکينيو آيتونو څخه، خپلواکه، او له هغو سره بې اړيکې وي. خو واقعيت دادی، چې هر دواړه برخې، له يوه حقيقته خبره کوي. له دې توپير سره چې؛ لومړۍ برخه له

(c) ketabton.com: The Digital Library

تشريعي آيتونو، او دويمه برخه له تکويني آيتونو څخه، د يوې واحدې موضوع د جوتولو لپاره، آيتونه او نښانې راوړي.

ددې برخې مهمترين آيتونه، همدا «۴» آيتونه (۳۵ تر ۳۸) دي، چې په «نور» پورې اړه لري. چې له ډېر ښکلي او لطيف تمثيل سره يې، خداى تعالى، د آسمانونو او ځمکې نور نومولى دى. لکه څنګه چې د عالَم ټولو څيزونو، د نور په توسه، لوړېدنه او څرګندېدنه، موندلې ده، او تر کتنې او برېښېدنې لاندې، واقع شوې دي. د آسمانونو او ځمکې، او د عالم د ټولو موجوداتو د برخو لوړېدنه او څرګندېدنه، چې په حقيقت کې، د هستۍ او خلقت، او د هغوى د ژوند په صحنه کې د هغوى وجود ، په الهي مشيت کې سر ته رسېدلى. همدا راز له دې دا هم جوتېږي چې د نور په نشت، او د تورتم په دننه کې، هيڅ څيز ځلا او څرګندوالى نه مومي.

که الهي مشيّت، د عالم په خلق کېدو او پنځونه کې، دا ټراو نه واى موندلى، هيڅ څيز، ژوند او حيات نه موند. په دې څلورو آيتونو کې، «۲» ځلې، د آسمانونو او ځمکې نور ته، له خداى تعالى سره تشبيه او تمثيل والې ته، نغوته کوي. دا ددې لپاره دى، چې څوک و نه انګېري، چې واقعا خداى تعالى، د نور له جنسه دى! او څرګندوي چې، له هاغه نور څخه چې د داسې وګړو په کورونو کې ځلېږي، موخه يې همدا د هدايت او ايمان نور دى.

له دې سره مل، دا دوه آيتونه، دا لړۍ د آيتونو، د لومړۍ برخې آيتونو سره نښلوي. او د کور او کورنۍ د حريم په اړه، د لومړۍ برخې تشريعي آيتونه، په داسې کورونو [بيوت] کې، د هدايت د نور اخېستنې او جذب ته مشروطوي.

په دوو نورو مثالونو کې، چې د «نور» د آيتونو پسې راځي، د (نُور په نسبت د ناشکرو) کافرانو، د کړنو پايلو ته، پاملرنه کوي. په ړومبي کې، د هغوى د دنيايي هڅو حاصل، له سراب سره، چې پر صحرا د نور د لګېدو محصول دى، تشبيه کوي. چې د اوبو په څېر بريښي، خو واقعيت نلري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي: دا يو ډول لارورکي او ببلاري ده، چې وګړی په خپل ګومان کې، هغه هدايت انګېري. په دويم مثال کې، د هغوی دريځ او موقعيت، د ژورو دريابونو له تيارو سره، چې بېشمېره لوړو څپو، له ټينګې ورېځې سره، هغوی نغاړلې دي، پرتله کوي. او د واقعيت په عالم کې، ددې تمثيل پايله، دا راز بيانوي؛ چې ددې ډول لارورکی توپير، له مخکينی لارورکی سره، د هغه په شدت کې، او د لارورکي وګړي په تصور او انګېرنه کې، د هغه له خپل عمل سره دی. په ړومبي کې، باطل وهمونه او انګېرنې بربېنې، او په دويم کې پخپله لاروکی وګړی، په خپلو لارورکيو کې ډوب شوی دی.

د پنځه دېرشم آية، ترجمه شرح او تفسير

اللَّهُ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ مَثَلُ نُورِهِ كَمِشْكَاةٍ فِيهَا مِصْبَاحٌ الْمِصْبَاحُ فِي زُجَاجَةٍ الزُّجَاجَةُ كَأَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ يُوقَدُ مِنْ شَجَرَةٍ مُبَارَكَةٍ زَيْتُونَةٍ لَا شَرْقِيَّةٍ وَلَا غَرْبِيَّةٍ يَكَادُ زَيْتُهَا يُضِيءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ نُورٌ عَلَى نُورٍ يَهْدِي اللَّهُ لِنُورِهِ مَنْ يَشَاءُ وَيَضْرِبُ اللَّهُ الْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿۳۵﴾

الله د آسمانونو او ځمکې نور دی. د هغه د نور مَثَل [= د پوهې وړ پرتله]، لکه د هاغې تاخچې [څراغ ځای (ډيوټ)] په څېر دی، چې په هغې کې يو څراغ دی. هغه څراغ په يو کرستالي حباب [شيشه ئي پوکنی] کې دی. او هغه حباب لکه د ځلېدونکي ستوري په څېر د هاغې زيتون د مبارکې ونې [له تيلو] څخه روښانه کيږي، چې نه ختيځ والا ده او نه لوېديځ والا.[۳۲] نژدې ده چې د هغه تېل، چې لا اور هم ورته نه وي رسېدلی، [له خپله ځانه د زښت ډېر صفاوالي او سپېځلتوب له امله] وځلېږي [= بل شي]. يو نور دی د نور له پاسه [= له هدايته د پوړونو لړی].[۳۳] الله هغه چا ته چې وغواړي [= وړ يې وګڼي] د خپل نور په توسه يې هدايت کوي او الله خلکو ته مَثَلونه وهي او الله پر ټولو څيزونو ډېر ښه پوه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اللَّهُ	نُورُ	السَّمَاوَاتِ	وَالْأَرْضِ	مَثَلُ	نُورِهِ	كَمِشْكَاةٍ	فِيهَا
الله	نور	د آسمانونو	او ځمکې	مثال	د نور د هغه	په څېر د يو تاخچې [ډيوې] دی	په هغې کې

مِصْبَاحٌ	الْمِصْبَاحُ	فِي زُجَاجَةٍ	الزُّجَاجَةُ	كَأَنَّهَا	كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ	يُوقَدُ
يوه ډيوه وي	ډيوه	دننه په يوه شيشه کې	هغه شيشه	لکه چې وي	ځلانده ستوری	بلېږي

مِنْ	شَجَرَةٍ	مُبَارَكَةٍ	زَيْتُونَةٍ	لَا شَرْقِيَّةٍ	وَلَا غَرْبِيَّةٍ	يَكَادُ	زَيْتُهَا
له	ونې	مبارکې	زيتون	نه ختيځ والا	او نه لوېديځ والا	نژدې دی	چې تېل د هغه

يُضِيءُ	وَلَوْ	لَمْ تَمْسَسْهُ	نَارٌ	نُورٌ عَلَى نُورٍ	يَهْدِي اللَّهُ	لِنُورِهِ
و ځلېږي	او که څه هم	نه وي رسېدلی هغه ته	اور	رڼا پر رڼا	لارښوونه کوي الله	د خپل نور په لور

مَنْ يَشَاءُ	وَيَضْرِبُ	اللَّهُ	الْأَمْثَالَ	لِلنَّاسِ	وَاللَّهُ	بِكُلِّ شَيْءٍ	عَلِيمٌ
هغه چا ته چې وغواړي	او وهي	الله	مثالونه	د خلکو لپاره	او الله	پر ټولو ځيزونو	ډېر پوه دی

۳۲ – دغه مَثَل، د الهي هدايت د پوهې او فهم لپاره، يوه استعاره [Metaphor] او يو موډل دی. مشکات، د څراغ ايښودځای دی؛ چې په پخوانيو وختونو کې به يې څراغ، په يو سوري کې، چې شفافه شيشه اي ډېره يې درلوده، ځای پر ځای کاوه. چې د ساتنتوکي په څېر به يې، په پلنو ديوالونو کې شتون درلود. تر څو څراغ [له خطر يا اور لګېدو څخه] محفوظ پاته شي.

وسمهال څراغونه، په بل ډول محفوظ ساتي. د امام صادق(رح) په تعبير، مشکات د مؤمن سينه، او مصباح[څراغ] د مؤمن قلب [زړه] دی. قرآن هم، سينه د زړه ځايګی ګڼلی دی. «...تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ» ـ [حج ۴۶ (۲۲:۴۶)]. «...هاغه زړونه چې په سينو کې دي، رڼدېږي». د څراغ پلته [فتيله] له باد څخه د ساتلو لپاره، او د وړانګو د سموالي او پرله پسې توب لپاره، چې په يو شيشه ای يا بلورين حباب [پوکنۍ] کې ايښوول کيږي. [الْمِصْبَاحُ فِي زُجَاجَةٍ].

د آدمي قلب هم چې، د هغه د لارې څراغ ګڼل کيږي، ښايي د شيطان له شر څخه په يو محافظ حريم او حباب کې، ځای پر ځای شي، چې «نور» يې خاموش نه شي. دغه زجاجه [بلورين حباب]، چې د څراغ فتيله [پلته] يې، له شا او خوا پوښلې، چې د هغه نور، لکه د ځلېدونکي لمر په څېر، هر لور ته خپروي.

له دې تر مخه، چې بريښنا نه وه اختراع شوې، څراغونه پلته اي او له لوګي ډک ول. او د زيتون تيل، تر ټولو خالص، صاف او بې لوګي سونګ ګڼل کېده. د آدمي قلب هم، که د محبوب له محبت او هدايت څخه، تومنه واخلي، نورانيت، وينا او چلن يې، د بندګانو لپاره، خالص او مطلق خير ګرځي. مګر داسې نه ده، چې قرآن پخپله «نور» وو، چې الله د روح الامين په توسه، د پيغمبر پر قلب القاء کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

[شعراء۱۹۴(۲٦:۱۹۴)] او بقره۹۷(۲:۹۷)]. او د رسول الله په توسه نورو ته ولېږدېد [وَكَذَلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحًا مِنْ أَمْرِنَا ... جَعَلْنَاهُ نُورًا نَهْدِي بِهِ مَنْ نَشَاءُ – د شورىٰ سورة ۵۲(۴۲:۵۲)] دا هماغه توحيدي نور دی، چې د شرک په لوګي ککړ شوی نه دی.

د «شجره» [د شبکې او سيستم «Network» سمبول] او «زيتون» [د خلوص، سپېڅلتيا او رښا سمبول] وييونه، هم په قرآنکريم کې، په خپلو مجازي معناو کې، څو ځلې کارول شوي دي. خو د هغه نه ختيځوالی، او نه لويديځوالی، ښايي د لمر لوېدلو او لمر ختلو، مهالني نفې او د جغرافيايي لورو، مکاني نفې کول وي[والله اعلم].

۳۳ – مخکښې او پخواني څراغونه، به په ټبلو روښانه کيدل. او ننني او اوسني څراغونه، د برېښنا په ځواک. ټبل اورلګيت ته اړتيا لري، او برېښنا باندينې محرکه ځواک ته اړ ده. خو د الهي څراغ سونګ، ذاتي او زېږدوونکی دی «... وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ نُورٌ عَلَىٰ نُورٍ...» [نور۳۵(۲۴:۳۵)]. دا البته يو مَثَل دی، چې الله تعالی يې د خپل هدايت له نوره، زمونږ د پوهې لپاره څرګندوي.

د نور مبارک سورة ته، د همدې آية له امله، «سورةٌ نور» وايي؛ او داچې د «نور» آية، په دې سورة کې راغلی دی، نو ځکه د هغه نوم «د نور سورة» دی. دا آية کريمه د تفسير له ليده، د قرآن مجيد له ستونزمنو آيتونه څخه ګڼل کېږي. په ځانګړې توګه، قرآن کريم د همدې آية په پای کې، يوه جمله ذکر کوي؛ چې ډېره زياته، د تـدبر او پاملرنې وړ ده. او هر څوک د خپلې وړتيا او ظرفيت په کچه، يو څه لـه دې آية کريمه څخه پوهېږي. چون د آية په پای کې، د مـثَل لـه ذکـر وروسـته فـرمايي: «وَيَضْـرِبُ اللَّهُ الْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ» خدای تعالی د خلکو لپاره، مثالونه ذکر کوي. په ځېنو نورو آيتونو کې فرمايي: «خدای تعالی، د خلکو لپاره، مثالونه ذکر کوي. خو ددې مثالونو، عمق او ژورتيا ته نه رسېږي، مګر عالمان او پوهان». دا څرګندوي چې د قرآن مثالونه، يو لړ ژورتياوې لري. چې هر څوک ادعا نه شي کولی، چې د هغه ژورتياو ته به، رسېدلی وي.

په لاندې توګه، ددې آية په اړه، يو لړ توضيحات وړاندې کوو: «اللَّهُ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ» الله د آسمانونو او ځمکې نور دی. بايد پاملرنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولرو، چې آسمانونه او ځمکه، چې دلته په قرآن کې ذکر کېږي. نه دا چې، د مخلوقاتو د عالم يوه برخه ده، بلکې د ټولو مخلوقاتو په عنوان، او بلکې دا ټول عِلوی او سِفلي، او غيب او شهادت، مخلوقات دي. د آية معنا دا کېږي؛ چې خدای تعالی د ټول جهان «نور» دی، نو ځکه ددې آية په پيل کې، خدای تعالی ته د «نور» کليمه اطلاق شوې ده.

هاغه څه چې بشر له پيله، د «نور» له کلمې پوهېږي، همدا محسوس «نورونه» دي. چې لا تر اوسه هم، حقيقت يې، سل په سلو کې، د فيزيک پوهانو له نظره کشف شوی نه دی. خو دا يو جوت حقيقت دی، چې په مادي جهان کې، يو څيز د «نور» په نامه شتون لري. که څه هم له علمي ليده، پېژندنه يې ستونزمنه وي. ځېنې له اجسامو نيّر دي، او «نور» خپروي. لکه لمر، ډېرى له ستورو، او هاغه څراغونه او لامپونه، چې مورِ يې پخپلو کورونو او چاپيريال کې لرو. که دا «نورونه» نه واى، جهان به سراسر تياره واى. او په اصطلاح، «سترګه به په سترګې نه ښکارېدی»، خو دا «نور» چې شتون لري فضا روښانه ده. چې دې نور ته، حسي او مادي نور وايي.

خو هاغه څه چې جوت دی، دا دی؛ چې له دې څخه مقصد، چې «خدای د ځمکې او آسمانونو (نور) دی»، دا فزيکي «نور» نه دی. ځکه چې دا «نور» خو، د خدای تعالی، له مخلوقاتو څخه دی. د انعام سورة په پيل کې لولو: «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَجَعَلَ الظُّلُمَاتِ وَالنُّورَ...» [انعام۱(٦:١)]. حمد او ستاينه ده، د آسمانونو او ځمکې پنځګر او د «نور» او «تياره» ګومارونکي ته... نو خدای تعالی د دغه «نور» خالق او پنځوونکی دی [نه پخپله دا «نور»!]. دا داسې يو مطلب دی، چې د قرآن له ليده، يکې زيات د بحث ځای نشته. چون نه يوازې دا چې دا «نور»، د خدای مخلوق دی، بلکې قرآن تل د دغه «نور» د سرچينو، يعنې لمر او ستورو، په اړه بحث کوي. چې دوی پخپله، د الهي اقدس ذات، مخلوقات دي. دا «نور» هغه دی، چې مورِ يې په سترګو وينو، [په داسې حال کې چې]

(c) ketabton.com: The Digital Library

قرآن د خدای تعالی په اړه وایي: «لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الْأَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ» [انعام۱۰۳(٦:۱۰۳)] خدای تعالی په سترګو نه لیدل کیږي، خو خدای تعالی هر څه وینې، او خدای تعالی، ډیر زیات لطیف خبردار، او کک وینی دی. که یو څوک خدای تعالی ـ [العیاذ بالله] ـ یو موجود، د «نور» له جنسه وګڼي. په جوته توګه، په توحید کې یې، خلل دی. او دا ځکه یې په توحید کې خلل دی؛ چې خدای تعالی یې، جسم او د اِبصار او لیدلو وړ، فرض کړی دی، او د داسې وګړي توحید، ضعیف او ناقص دی.

خو د «نور» د کلیمې مصداق، یوازې [حسي نور] ته، ځانګړی نه دی. د «نور» لفظ، د هر هاغه څیز لپاره، چې روښانه او روښانه کوونکی وي، وضع شوی دی. یعنې هر هغه څیز چې، ښکاره او ښکاره کوونکی وي.

مورِ [حسي نور] ته، له دې جهته «نور» وایو، چې پخپله زمورِ سترګو ته ښکاري، او هم ښکاره کوونکی وي. نو هر یو څیز چې ښکاره وي، او هم ښکاره کوونکی وي، کولی شو، هغه ته «نور» ووایو. ـ که څه هم دا حسي او جسم [مادي] نه وي. مثلاً مورِ د علم په اړه وایو، «علم نور دی». او دا ځکه چې، علم روښانه او روښانه کوونکی دی. علم پخپله، پخپل ذات کې، رڼایي ده، او انسان ته جهان رڼا کوي.

خو دا جوته ده، چې د [علم نور] د برېښنا د «نور»، او د لمر د «نور» له نوعه، او له دا راز نورو «نورونو» په څېر نه دی. خو په عین حال کې، مورِ علم ته «نور» وایو. عقل ته هم «نور» وایو، عقل پخپله یو «نور» دی. قرآن کریم ایمان ته هم، د «نور» اطلاق کړی دی:

«أَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ وَجَعَلْنَا لَهُ نُورًا يَمْشِي بِهِ فِي النَّاسِ كَمَنْ مَثَلُهُ فِي الظُّلُمَاتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِنْهَا ...» [انعام۱۲۲(٦:۱۲۲)] آیا هغه چې مړ وو او مورِ ژوندی کړ، او هغه ته مو یو «نور» وګومارە، چې له هاغه «نور» سره، د خلکو په منځ کې چلن وکړي. ګواکې د هاغه چا په څېر دی، [د مثال په مقام کې] چې په تیارو کې دی، او له هغه څخه د وتو لار نه لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه «نور» همدا [د ايمان نور] او د زړه رڼا ده، خو ايمان چې اصلاً د راز، راز څراغونو يا د برېښنا څراغ، او يا د لمر «نور»، او ددې په څېر نورو «نورونو» څخه نه دی. ايمان پخپله يو غيرجسماني حقيقت دی، چې خاصيت يې روښانه کول دي، چون د انسان باطن ته يو ډول آگاهي ورکوي، انسان ته موخه، هدف او مقصد څرګندوي. ايمان، چون انسان ته مقصد ورکوي، او انسان د سعادت بښونکي او نېکمرغه مقصد لور ته کښوي، هغه ته هم «نور» وايو. عارفان هم عشق ته «نور» وايي. مولوي وايي:

عشق قهّار است و من مقهور عشق چون قمر روشن شدم از نور عشق

کله چې مور «نور» په دې معنا واخيست، يعنې څرګند او څرګندوونکی حقيقت، روښانه او روښانه کوونکی حقيقت، او له دې زيات مو پکې سربېره څه ورځای نکړل؛ چې د سترګو لپاره يا د عقل لپاره، يا د زړه لپاره څرګند دی. او له دې اړخ سره يې، کوم کار ونلرو، چې څه ډول څرګند، او څرګندوونکی دی. په دې معنا سم دی، چې مور خدای تعالی هم «نور» وګڼو. «خدای نور دی» يعنې يو حقيقت دی، پخپل ذات کې څرګند، او څرګندوونکی دی. لکه څنګه چې پورته مو ورته نغوته وکړه؛ پخپله قرآن مجيد، ځينو چارو ته د «نور» اطلاق کړی دی. چې له هغې جملې يې پخپله قرآن ته، د «نور» اطلاق کړی دی. چې قرآن د خدای «نور» دی؛ يعنې يو «نور» دی، چې د خدای مخلوق دی:

«...قَدْ جَاءَكُمْ مِنَ اللَّهِ نُورٌ وَكِتَابٌ مُبِينٌ. يَهْدِي بِهِ اللَّهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهُ سُبُلَ السَّلَامِ وَيُخْرِجُهُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِهِ وَيَهْدِيهِمْ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ» [مائده۱۵(۵:۱۵) او ۱۶].

«... بېشکه د خدای له لورې «نور» [هدايت] او روښانګر کتاب [يو قانون] تاسو لپاره راغلی دی. [دا قرآن چې] الله ددې په توسه هاغه کسان چې د هغه په رضا [او خوښۍ] پسې دي [له بې لاريتوب او د شيطان له شره] د سلامتۍ لارو ته هدايت کوي او هغوی په خپل اذن [= مقدر او اندازه شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظامونه يې] [د جهل او شرک] له تيارو [د آګاهۍ او توحيدي ايمان] «نور» ته راوباسي، او سمې لارې ته د هغوی هدايت کوي.

قرآن «نور» دی، او د «نور» پر لور، چې د خدای تعالی معرفت دی، هدايت کوي. نو «د الله معرفة» «نور» دی. نو په دې آية کې، دا چې وايي؛ [خدای تعالی يو «نور» دی] مقصد يې د «نور» په واقعي مفهوم کې نه، بلکې د «نور» په حقيقي مفهوم کې دی. نو ځواب، څرګند دی.

که څوک وپوښتي: آيا خدای تعالی واقعاً نور دی؟، د «نور» له جنسه دی، يا دا چې، دا په مجازي بڼه يو تمثيل دی. «نور» د ظلمت، په مقابل کې دی. نو دويمه جمله يو مَثَل دی، د خدای تعالی د «نور» لپاره، نه پخپله د خدای تعالی لپاره، «مَثَلُ نُورِهِ».

لومړی فرمايي: «اللَّهُ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ»، خدای تعالی پخپله د آسمانونو او ځمکې «نور» دی، خو خدای تعالی په خپلو مخلوقاتو کې، د هغوی د هدايت لپاره «نورونه» لېږلي دي. لکه چې وايي: قرآن «نور» دی، وايي؛ مور يو «نور» ستا پر قلب [زړه] وځلوه. په واقعيت کې وايي: چې خدای تعالی، د آسمانونو او ځمکې، هدايت کوونکی دی. چون «نور» لاره روښانه کوي. په ځلونو په قرآن کې تکرار شوی؛ خدای تعالی چې هر څيز خلق کړی، هدايت يې ورته کړی. «... رَبُّنَا الَّذِي أَعْطَى كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهُ ثُمَّ هَدَى» [طه۵۰(۲۰:۵۰)] «... زمور رب هغه ذات دی، چې هر څيز ته يې، د هغه (موافق) بڼه ورکړې ده، بيا يې [ورته] لار ښوولې ده [هدايت يې ورته کړی]...». په دې جمله کې، دوو برهانونو ته اشاره شوې ده:

يو د نظم برهان دی، چې خدای تعالی هر مخلوق ته، هاغه څه چې د هغه د مخلوق لپاره، شوني وه، او وړتيا يې درلوده ورکړل. يعنې موجوده نظام. [او بل برهان د هدايت د اصل له لارې.] «ثُمَّ هَدَى» ورپسې يې هدايت ورته وکړ. دا بل مطلب دی. يعنې وروسته يې هم هر موجود، د هغه د خپل راتلونکي، هدف، موخې او کمال په نسبت روښانه کړ، او لارښوونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې ورته وکړه. د «سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى» په سورة کې هم لولو: «الَّذِي خَلَقَ فَسَوَّى. وَالَّذِي قَدَّرَ فَهَدَى» [اعلى۲(۸۷:۲) او۳]. او بنايي دا تعبير د فخر رازي وي چې: د لومړي ځل لپاره، قرآن دا نکته خلکو ته بيان کړه؛ چې د مخلوقاتو نظام، د حق پر وجود يو شاهد دی. او د موجوداتو د هدايت اصل، د حق پر وجود بل شاهد دی.

جهان له دې جهته، چې يو ماشين دی، يو حساب لري. [او جهان له دې امله، چې هدايت کېږي، بل حساب لري]. يا په بل عبارت، د مخلوقاتو نظام، يو اصل دی. [او دا چې؛ يو نا پېژاندی «غريزه ډولی» مرموز ځواک، هر موجود مخکې لور ته کښوي، بل اصل دی].

اوس بايد پر دې موضوع پوه شو چې؛ د موجوداتو هدايت، او دا چې خدای تعالی؛ هر يو موجود، له مقصدونو څخه، يو مقصد ته هدايت کړی، څه ډول دی؟ دا هم کټ مټ، د معرفت د موضوع، په څېر دی؛ يعنې هر موجود، لومړی د خدای لور ته، هدايت کېږي، وروسته بيا د کوم بل مقصد پر لور؛ يعنې خدای تعالی «غاية الغايات» دی. او هر يو مقصد، خپل مقصدوالی له خدايه لري، او پرته له دې به، هيڅ مقصد، مفهوم او شتون ونلري.

دا چې خدای تعالی، د آسمانونو او ځمکې «نور» دی، او هر څيز خپل نورانيت له خدايه لري. هماغه مطلب دی، چې هر څيز خدای تعالی ته په اړوندتيا او تړاو کې، پېژندل کېږي، خو خدای تعالی خپل ذات ته. هر څيز خدای تعالی ته، ظاهر دی، او خدای تعالی خپل ذات ته ظاهر دی؛ او هر څيز د خدای تعالی په توسه «مهتدی اليه» دی. يعنې څيزونه د هاغه څيز پر لور لارموندي کېږي، او هاغه څيز مقصد واقع کېږي. پرته له خدايه، چې خپل ذات ته مقصد، او د ټولو کاياناتو او موجوداتو مقصود دی. او همدا لامل دی چې قرآن، ټول موجودات او ټولې ذرې، د يو ډول حيات او ژوند او شعور لرونکي ګڼي، چې دا د کاياناتو د غړو غريزي هدايت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی. یعنې د جهان ټول موجودات پوهېږي، چې څه وکړي. نو خدای تعالی، د هستی د عالم «نور» دی، یعنې هر څیز ته یې هدایت کړی دی. د جهان ټول اجزاء، په خپله دنده نه پوهېږي، چې څه باید وکړي. اوس غواړي مور ته دلته وښایي، چې دا هدایت څه ډول دی، او په کومه طریقه ښه نیسي؟ یعنې دلته د خدای د «نور» بحث دی، چې موخه او مقصد یې هدایت دی؛ «مَثَلُ نُورِهِ» غواړي چې مور پوه شو، دا نور څه ډول دی؟

زمور د پوهېدو لپاره، غواړي یو موډل، وړاندې کړي. د خدای تعالی د «نور» مثال؛ دلته د «نور» لپاره، په یو له ډېرو پخوانیو وسیلو او توکو، یو مثال وهي. خدای تعالی یو ستر او لوړ پوړی کور، یا کورونه او معبدونه، د نندارې وړ او څرګندې ودانی، مثال راوړي؛ چې هلته یو «مشکاة» دی. [مشکات یعنې ډیوټ یا څراغځای].

وایي: دا «نور» لکه د [مشکاة] په څېر دی. «کَمِشْکَاةٍ»؛ د [مشکات] په څېر دی. په پخوانیو کورونو کې، چې خټین دیوالونه به یې درلودل، په دیوال کې به یې یوه تاخچه کنله، چې څراغونه به یې پکې ایښوول. په هغه مهال کې، د برېښنا څراغونه خو نه ول، یا به ډیوه وه، یا د تېلو نور څراغونه به ول، او څراغونه به یې په دې تاخچو کې ایښوول، چې د کور د اور لګېدو څخه به یې، مخنیوی کاوه، او د ماشومانو له لاسرسي به هم، خوندي ول. معمولاً د څراغ مخې ته به یې یوه ښیښه وه، او شا به یې هم همداسې پرانیستې وه، چې ښیښه به یې درلوده، ددې لپاره چې څراغ وکولی شي، هغه بلې کوټې ته هم نور ورکړي. ځکه د څراغونو شمېر خو به، دومره زیات نه وو، او په دې طریقه به یې شونې کوله، چې وکولی شي، انګړ او دهلېز ته هم نور ورکړي. او همدې دوه طرفه تاخچې ډوله، سورې ته به یې، مشکاة ویل. چې لکه د فانوس په څېر وو. ومو ویل مشکاة یعنې؛ د څراغځای او یا ډیوټ په معنا دی، د خدای نور «کَمِشْکَاةٍ» یعنې د څراغځای په څېر دی. «فِيهَا مِصْبَاحٌ» په دې تاخچه یا مشکاة کې، یا په دې څراغځای کې، یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

«مِصْبَاحٌ» دی. «مِصْبَاحٌ» يعنې څراغ، پلته يې څراغ. «الْمِصْبَاحُ فِي زُجَاجَةٍ» دا پلته يې څراغ په يوه «زُجَاجَةٍ»، يا حباب يا کوبۍ وزمه ښيښه کې دی.

که يو اورلګيت ولګوئ، باد يې سمدلاسه مړ کوي، يا لمبه يې اخوا دېخوا وړي، او بيا بد سوځېږي. ددې لپاره چې يو نواخت وي، نو ددې نقص د رفع کولو لپاره، قاعدتاً د حباب يا کوبۍ په څېر ښيښه ورته ړدي. چې دا حباب وزمه ښيښه، د پلتې لمبه، ټيکاو او يونواخت کوي، او د باد مخه نيسي. او دا ددې سم سوون لپاره، يو ډول محافظ او ساتونکی دی. د امام صادق(رح) په تعبير، مشکات د مؤمن سينه، او مصباح[څراغ] د مؤمن قلب [زړه] دی. قرآن هم سينه د زړه ځايګی ګڼلی دی «...تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ» [حج ۴۶ (۲۲:۴۶)]. د مصباح يا د مؤمن د قلب ګردچاپېره حباب، يا د ښيښې کوبۍ، هغه حريم او کوټ دی، چې خدای تعالی ورته، قايل شوی دی، چې د مؤمن قلب، د شيطان له لاسرسۍ، خوندي وي.

دغه مَثَل، د الهي هدايت، د پوهې او فهم لپاره، يوه استعاره [Metaphor] او يو موډل دی. نو لکه څنګه چې ومو ويل؛ مشکاة، د څراغ ايښودځای دی؛ چې په پخوانيو وختونو کې به يې، څراغ، په يو سوري کي، چې شفافه ښيښه اي درې يې درلوده، ځای پر ځای کاوه. چې د ساتنتوکي په څېر به يې، په پلنو ديوالونو کې شتون درلود. تر څو څراغ [له خطر يا اور لګېدو څخه] محفوظ پاته شي. وسمهال څراغونه، په بل ډول محفوظ ساتي.

له باد څخه د څراغ دپلتې [فتيلې] د ساتلو په پار، او د هغې د وړانګو سموالي، او پرله پسې توب لپاره، په ښيښه ای يا بلورين حباب [پوکانه] کې يې ايښوول، ښه او محفوظه طريقه وه. [الْمِصْبَاحُ فِي زُجَاجَةٍ].

د آدمي قلب هم چې، د هغه د لارې څراغ ګڼل کيږي، ښايي د شيطان له شر څخه، په يو محافظ حريم او حباب کې، ځای پر ځای شي. ددې لپاره، چې نور يې، خاموش نه شي. دغه زجاجه [بلورين حباب] چې د څراغ فتيله [پلته] يې، له شا او خوا پوښلې، چې د هغه نور، لکه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځلېدونکي لمر په څير، هر لور ته خپروي. «الْمِصْبَاحُ فِي زُجَاجَةٍ» دا څراغ په زجاجه کې، يعنې په يو ډول حباب، يا بلور يا پوکانې وزمه ښيښه کې دی، ددې لپاره چې رڼا يې ډېره ښه ځلا وکړي. «الزُّجَاجَةُ كَأَنَّهَا كَوْكَبٌ» دا بلور چې د څراغ گردچاپېره دی، نو څراغ لکه د لمر په څېر هرې خوا ته ځلېږي، او که داسې نه وي، نور او ځلا به يې ټوله يوې نقطې ته، برابره شي، او چاپيريال او هر لوری به، نه رڼا کوي. که د موټر د څراغ ښيښه مو ماته وي، «نور» يې په يوه نقطه کې، مخامخ يو لور ته لګېږي. خو که ښيښه سمه وي، «نور» هرې لور ته په مساوي، توګه خپرېږي.

«الزُّجَاجَةُ كَأَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ» دا څراغ، لکه د يو ځلېدونکي ستوري، په څېر برېښي. دا له کوم ځايه سوځېږي؟ زمونږ اوسني څراغونه خو برقي دي، مخکې خو برق او برېښنا نه وه، په هغه وخت کې څراغونه، معمولاً پلته يي ول، چې تېل پکې سوځېدل. پلته يي څراغونه خو لوګی کوي. خو بهترين سوون توکي يې، معمولاً زيتون دي، چې تر ټولو خالص دي.

نو دا جوته ده، چې بهترين ډول، د سوون لپاره، د زيتون تېل دي، چې دا هم يو تمثيل دی. چې د مثال په توګه يې، زمونږ د پوهې لپاره، مونږ ته وايي. له دې تر مخه، چې بريښنا نه وه اختراع شوې، څراغونه چون پلته اي ول، او له لوګي به ډک ول. خو د زيتون تيل د سوون توکو په منځ کې تر ټولو خالص، صاف او بې لوګي سونګ ګڼل کېدل. د آدمي قلب هم، که د محبوب له محبت او هدايت څخه، تومنه واخلي، نورانيت، وينا او چلن يي د بندګانو لپاره خالص، او مطلق خير ګرځي.

مګر آيا داسې نه دی، چې قرآن پخپله «نور» وو، چې الله د روح الامين په توسه، د پيغمبر پر قلب القاء کړ: «عَلَى قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنْذِرِينَ» [شعراء۱۹۴ (۲۶:۱۹۴)] «ستا پر قلب [زړه] ، چې ته له ډار [انذار] ورکوونکو څخه اوسې». او «قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِجِبْرِيلَ فَإِنَّهُ نَزَّلَهُ عَلَى قَلْبِكَ بِإِذْنِ اللَّهِ...» [بقره۹۷(۲:۹۷)] «ووايه: هر څوک چې د جبرائيل دښمن دی، نو [پوه دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي] هغه دا [قرآن] د الله په اذن، ستا پر قلب [زړه] نازل کړی دی...». او د حضرت رسول الله په توسه نورو ته ولېږدېد.

«وَكَذَلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحًا مِنْ أَمْرِنَا...جَعَلْنَاهُ نُورًا نَهْدِي بِهِ مَنْ نَشَاءُ...»

[شورىٰ ۵۲(۴۲:۵۲)]. «او په همدې ډول مو له خپله امره يو روح [د قرآن په بڼه] پر تا وحی کړ... خو مورږ هغه نور وګرځاوه چې [د قرآن په رڼا کې] له بندګانو هر يو ته چې وغواړو، د هغه په توسه هدايت کوو...». دا هماغه توحيدي نور دی چې د شرک په لوګي ککړ شوی نه دی.

وايي؛ چې دا «مِصْبَاحُ» له کوم ځايه روښانه کېږي؛ «يُوقَدُ مِنْ شَجَرَةٍ مُبَارَكَةٍ» له يوې مبارکې شجرې «زَيْتُونَةٍ» د زيتون شجره، يعنې نور يې خالص، خالص دی، په توحيد کې، چې کله شرک نه وي، هر څيز يې بشپړ او پېرفيکټ دی. «لَا شَرْقِيَّةٍ وَلَا غَرْبِيَّةٍ» نه شرقي دی او نه غربي. شرقي يعنې لمر خاته، د لمر راختل، داسې نه دی چې په عامه معنا طلوع لري، چې کله طلوع وکړي او کله غروب کوي. له جغرافيايي ليده هم نه شرقي دی، او نه غربي دی، يعنې يو خاص ځای، او لور ته ځانګړی نه دی، دا هر ځايي دی. د زمان له ليده هم همداسې دی. نو نه کوم خاص زمان لري، نه مکان لري.

د «شجره» او «زيتون» وييونه هم، په قرآنکريم کې، په خپلو مجازي معناو، څو ځله کارول شوي دي. [شجره د شبکې او سيستم «Network» سمبول دی. او «زيتون» د خلوص، سپېڅلتيا او رڼا سمبول دی.] خو د هغه نه ختيځوالی او نه لويديځوالی، ښايي د لمر لوېدلو او لمر ختلو، مهالنی نفې، او د جغرافيايي لورو، مکاني نفې کول وي. [والله اعلم].

الهي هدايت، تر ټولو ځانګړی دی. د هغه د هدايت روح او تومنه خو، په يو خاص زمان او مکان کې نه ده، او ځانګړی ځای او مهال نه لري. زر کاله مخکې، لس زره کاله مخکې، هم هدايت وو، اوس هم هدايت شته، او په راتلونکي کې هم شته. نه خاص مکان لري، او نه خاص زمان لري، په هر ځای کې، د تل لپاره شته دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

«يَكَادُ زَيْتُهَا يُضِيءُ» دا د خداى تعالى د هدايت نور، لګيا دى پخپله روښانه کېږي، دا «غوړي» يا «تېل» نژدي دي، چې پخپله روښانه شي. «وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ» که څه هم، اور ورته نه دى رسېدلى، اورلګيت يې ورته، لا بل کړى نه دى، پخپله، ذات يې، ماهيت يې، د «نور» خپرونکى دى.

مخکښي او پخواني څراغونه به، چې په تېلو روښانه کيدل. او ننني او اوسني څراغونه، چې د برېښنا په ځواک روښانه کېږي. تېلو او اورلګيت ته اړتيا لري، او برېښنا، باندينې محرکه ځواک ته اړ ده. خو د الهي څراغ سونګ، ذاتي او زېږدوونکى دى.

«... وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ نُورٌ عَلَى نُورٍ...» [نور۳۵(۲۴:۳۵)]. او که اور ورسره لا تماس نه دى کړى؛ البته دا يو مَثَل دى، چې الله تعالى يې، د خپل هدايت له «نوره»، زمونږ د پوهې لپاره څرګندوي.

«نُورٌ عَلَى نُورٍ» نه دا چې يو «نور» دى، «نور» پر «نور» دى. هر څومره چې سړى مخکې لاړ شي، بيا هم پاى ته يې نه رسېږي. يو «نور» د بل «نور» له پاسه، يو هدايت د بل هدايت له پاسه، تل تر تله، الى الابد، چون الهي ذات بې نهايت دى، الهي هدايت هم بې نهايت دى. «يَهْدِي اللَّهُ لِنُورِهِ مَنْ يَشَاءُ» الله د خپل «نور» په طرف، هغه چا ته چې وغواړي لار ښئ. «وَيَضْرِبُ اللَّهُ الْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ» دا مثالونه دي، چې الله يې، د خلکو لپاره وايي. [او که نه، خداى خو «نور» نه دى]، يعنې ددې مراتبو لړى ته، پاملرنه وکړئ. «وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ» او الله پر هر څيز عليم [او پوه] دى.

اوس نو دا «نور» چرته دى؟ دا خو په تاخچو او څراغونو کې نه دى. په کورونو کې دى، په کومو کورونو کې دى؟ دا په بل آية کې روښانه کوي.

نو دا آية، د سورة له پاتې برخې سره، اړيکه لري. چون دا سورة، د کور او کورنۍ په اړه دى. د مور او پلار، په اړيکو کې دى. په ورپسې آية کې وايي؛ چې د خداى تعالى دا «نور» چرته دى؟:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شپږ دېرشم آية، ترجمه شرح او تفسير

فِي بُيُوتٍ أَذِنَ اللَّهُ أَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ يُسَبِّحُ لَهُ فِيهَا بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ ﴿٣٦﴾

[دا د هدايت څراغ] په هاغو کورونو کې دی چې الله اذن کړی [رخصت ورکړی] تر څو د هغه نوم په هغو [کورونو] کې اوچت او ذکر[= ياد] شي.[۳۴] په هغو [کورونو] کې ګهيځ او ماښام د هغه تسبيح کوي.[۳۵]

فِي بُيُوتٍ	أَذِنَ	اللَّهُ	أَنْ تُرْفَعَ	وَيُذْكَرَ	فِيهَا	اسْمُهُ
په هاغو کورونو کې	فرمان ورکړی	الله	چې اوچت شي	او ياد شي	په هغو کې	نوم د هغه

يُسَبِّحُ	لَهُ	فِيهَا	بِالْغُدُوِّ	وَالْآصَالِ
تسبيح وايي	د هغه لپاره	په هغو کې	ګهيځ	او ماښام

۳۴ – د «تُرْفَعَ» فعل، ځينو مفسرينو، بيوت ته [ودانيو يا د هغوی اوسېدونکو ته] او د «يُـذْكَـرَ» فعل يې، د الله تعالی اسمائو [نومونو] ته نسبت ورکړی. خو داسې ښکاري، چې هر دواړه فعلونه، د الله تعالی اسمائو ته، ور وګرځي. همدا راز الله تعالی، د رسول الله، ذکر پورته يووړ، [اوچت کړ] [و رفعنا ذکرک]. د الله ياد هم کولی شي، د مؤمنينو په زړونو کې، او دهغوی په کور او کورنيو کې، تر هر ذکر او هرې توجه [پاملرنې]، ډير اوچتتر لاړ شي، او تر ټولو، ډير اهميت پيدا کړي. کافي ده، خپلو کورونو ته، يوه کتنه وکړو. او ووينو چې، کومو موضوع ګانو او مسئلو، د کورنۍ د غړو ډير وختونه، او د هغوی زړونـه بوخت کړي دي. او د مور او پلار او بچيانو تر منځ خبرې اترې، په کوم شاليد، لړليک او کټه ګوريو کې دي؟

۳۵ – تسبيح په قرآني مفهوم کې پخپله، په مثبته کړنـه او اصلاحي چاره، چې د عيب او نقص د رفع کولو سبب شي، اطلاق شوې ده. د الله تعالی شپېنې ورځنې تسبيح، په داسې کورونو کې، نـه تش د الفاظو او ورادو د ذکر په بڼه، بلکې د سپېڅلو عملونو او کړنو د سرته رسولو، او د الله تعالی مخلوق ته، د خدمت کولو او چوپړ په بڼه دی. د دې آيت لومړنۍ نيمايي کې، د الله تعالی اسمائو ته، چې نظري او قلبي جنبه لري، اشاره شوې ده، او په دويمه نيمايي کې، يې خالص عمل ته.

د تېر آيت په څېر، دلته بيا هم، کور او کورنۍ ته، راستنېږي، او د هدايت د «نور» څرک، په هاغو «کور»ـونو کې ورکوي، چې د خدای د نوم يادونه په کې کېږي، او ګهيځ او بيګاه د هغه تسبيح کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

«فِي بُيُوتٍ أَذِنَ اللَّهُ أَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ ...» [دا د هدايت څراغ]

په هاغو کورونو کې دی، چې الله اذن کړی، تر څو د هغه نوم، په هغو کې اوچت او ذکر شي. د «تُرْفَعَ» فعل ځينو مفسرينو، بيوت [ودانيو يا د هغوی اوسېدونکو] ته، او د «يُذْكَرَ» د فعل نسبت يې، د الله تعالی اسمائو [نومونو] ته ورکړی. خو داسې برېښي، چې هر دواړه فعلونه د الله تعالی اسمائو [نومونو] ته نغوته کوي.

همدا راز، الله تعالی، د رسول الله ذکر، پورته يووړ [اوچت کړ] . [و رفعنا ذکرک]، د الله ياد او ذکر هم کولی شي، د مؤمنينو په زړونو کې، او دهغوی په کور او کورنيو کې، تر هر ذکر او هرې توجه ډير اوچت لاړ شي، او تر ټولو ډير اهميت پيدا کړي.

کافي ده خپلو کورونو ته، يوه کتنه وکړو. او ووينو چې کومو موضوع ګانو او مسئلو، د کورنۍ د غړو ډير وختونه، او د هغوی زړونه بوخت کړي دي. او د مور او پلار او بچيانو تر منځ، خبرې اترې په کوم شاليد، لړليک او کټه ګوريو کې دي؟ په ناسته ولاړه کې، د ورونو او خويندو تر منځ، او د کورنۍ د غړو، د راټولېدو پر مهال، کومې مسئلې مطرح کېږي.

په هاغو کورونو کې چې، د خدای نوم پورته ځې، او د خدای نوم اهميت لري. د خدای تعالی نوم، په دې معنا نه چې، يوازې د خدای د لفظ يادونه وکړي، بلکې د خدای تعالی نومونو ته، په عمل او کړنو کې پاملرنه وشي؛ لکه دا چې، د خدای يو نوم عليم دی. يعنې په هاغو کورونو کې چې، علم اهميت لري. مور او پلار خپلو اولادونو ته، د علم او پوهنې ښوونه کوي. خدای تعالی حکيم دی، په دې کورونو کې، مور او پلار د اخلاقو ښوونه کوي. الله تعالی غفور دی، په دې کورونو کې، پلار او مور خپل اولاد ته، د نورو د ښېلو تعليم ورکوي. د خدای تعالی نور صفتونه، خدای لطيف دی، خدای عزيز دی، د خدای تعالی ټول صفتونه په همدې ډول دي. نو د خدای تعالی اسماء، په دې کورونو کې اهميت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د کور ديوالونو ته وګورئ، وينئ چې کوم عکسونه، او انځورونه پرې پورته تللي «تُرْفَعَ» کوم تصويرونه پورته تللي، د کور د غړو فکري او ذهني بوختياوې څه څيزونه دي. د خپل ژوند لپاره يې، کومې نمونې او الګو ګانې ټاکلي دي. څه څيزونو ته پاملرنه لري، رول ماډل يې په ژوندانه کې کوم څيزونه دي. پلار او مور د څه په اړه، خبرې کوي. د دسترخوان پر سر بحثونه، له کوم ډګره کېږي.

د خدای تعالی «نور»، په هاغو کورونو کې دی، چې په کومو کورونو کې، الهي صفتونه پورته ځي، او ذکر يې په عمل کې، د تطبيق په بڼه کېږي. «يُسَبِّحُ لَهُ فِيهَا بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ» په هغو [کورونو] کې چې ګهيځ او مابنام د هغه تسبيح کوي. په هاغو کورونو کې چې شپه او ورځ، د خدای د نوم تسبيح کېږي. تسبيح معمولاً عملي جنبو ته دي، هم د خدای ذکر دی او هم خدايي عمل دی، چې په دې کورونو کې کېږي. تسبيح په قرآني مفهوم کې پخپله، په مثبتو کړنـو او اصلاحي چارو، چې د عيبونو او نقصونو د رفع کولو سبب شي، اطلاق شوې دي. د الله تعالی شپېنې ورځنې تسبيح، په داسې کورونو کې، نـه تش د الفاظو او اورادو د ذکر په بڼه، بلکې له سپېڅلو عملونو او کړنو سره رسولو څخه، او د الله تعالی مخلوق ته د خدمت کولو، او چوپړ څخه عبارت دی. د دې آيت لومړنی نيمايي کې د الله تعالی اسمائو ته، چې نظري او قلبي جنبه لري، اشاره شوې ده. او په دويمه نيمايي کې يې، خالص عمل او په الهي صفتونو متصف شوو کړنو ته نغوته شوې ده.

په راتلونکي آيت کې، دې ته نغوته کوي. چې په دې کورونو کې، څوک، او د کومو اخلاقو، او کومو اوصافو لرونکي خلک، استوګن دي:

د اوه دېرشم آية، ترجمه شرح او تفسير

رِجَالٌ لَا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ﴿۳۷﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګړي چې هيڅ تجارت[سوداګري] او راکړه ورکړه هغوی د الله له ذکر [او یاد] او د لمانځه له اداء کولو او د زکات له ورکولو څخه نه بوختوي. [ځکه چې] له هغې ورځې ډارېږي چې زړونه او سترګې په هغې کې په بل مخ اوړي.(۳۶)

رِجَالٌ	لَا تُلْهِيهِمْ	تِجَارَةٌ	وَلَا بَيْعٌ	عَنْ	ذِكْرِ اللَّهِ	وَإِقَامِ الصَّلَاةِ
هاغه سړي	چې نه غافلوي هغوی	کوم تجارت	او نه پلورنه پېرودنه	له	ذکر د الله	او ولاړونې د نمانځه

وَإِيتَاءِ	الزَّكَاةِ	يَخَافُونَ	يَوْمًا	تَتَقَلَّبُ	فِيهِ	الْقُلُوبُ	وَالْأَبْصَارُ
او له ورکړې	د زکات	هغوی ډارېږي	له هاغې ورځې	بل مخ اوړي	پکې	زړونه	او سترګې

۳۶ - په آخرت کې د زړونو او سترګو لاندې باندې کېدل، منقلب کېدل او پر بل مخ اوښتل، د دنيوي پردو د لېرې کيدلو، او د حقايقو له ښکاره کېدلو حکايت کوي؛ چې وګړي به د خپلو اعمالو، د تجسم له لامله به هک پک شي، او په وحشت کې به پريوځي. [د خپلو عملونو له شر څخه هغه ته پناه ور وړو.]

په دې آيت کې، په هاغو کورونو کې، چې هلته د خدای نور دی، د هغې د هستوګونکو په اړه، دا هم زياتوي چې؛ په داسې کورونو او کورنيو کې، داسې سړي يا وګړي دي [يا روزل کېږي]، چې د هغوی د بيع، ورکړې راکړې او تجارت بوختيا، هغوی د خدای له يادە نه غافلوي. او نمونځ ولاړوي، او زکات ورکوي، او د قيامت له ورځې ډار لري. چې په هغې ورځ کې به زړونه او سترګې، [له ډېره هيبته] په بل مخ اوړي:

«رِجَالٌ لَا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ»

وګړي چې هيڅ تجارت[سوداګري] او راکړه ورکړه، هغوی د الله له ذکر [او یاد] او د نمانځه له اداء کولو، او د زکات له ورکولو، څخه نه بوختوي.

«رِجَالٌ» رجال نه د نارينو په معنا، دا لفظ که په ځانګړې بڼه نه وي راغلی، مقصد يې خلک دي. که ښځينه وي که نرينه، توپير نه کوي. بلکې په اصطلاح، د جنس الغاء يې کېږي. او سربېره پر دې، چون پاملرنه پر همدې ده، يعنې همتناک او د نارينتوب والا. ځېنې مهال چې، مور غواړو «همتناک» وګړي ذکر کړو، د «رجل» کليمه راوړو [لکه مور چې په پښتو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايو: ډېر نارينه سړی دی، يا ډېره نارينه ښځه ده، يعنې باهمته ښځه ده] نو توپير نکوي، چې که له مذکر جنسه وي، يا له مؤنث جنسه.

نو داسې همتناک کسان، په دې کورونو کې دي، نارينه او ښځينه. داسې خلک چې؛ «لَا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ»، د هغوی سوداګری او راکړې ورکړې، هغوی په بېهوده ګی، نه دي مشغول کړي. د هغوی بزنس، د هغوی تجارت، پېرودنې او پلورنې، يعنې د ژوندانه مادي بوختياوو، د هغوی ټول وخت [فُل ټايم] يې نه دی نېولی. او د نن ورځې په اصطلاح، په کار معتاد [ورک هوليک Workaholic] شوي نه دي، چې د خدای له ياده غافل شي.

په ټولیزه او دسته جمعي توګه، د نمانځه له اقامه کولو (ولاړولو) څخه، او نورو ته له پاملرنې، او د زکات ورکولو، يعنې ټولنيزو حقوقو ته، له پاملرنې ډډه نه کوي. يعنې ټوله پاملرنه يې، يوازې ځانته نه ده. يعنې د خدای ياد، او د نورو ټولنيزو حقونو ته، پاملرنه لري. صلاة اقامه کوي، او زکات ورکوي.

له دې ځايه، د قرآن د عرفاني منطق توپير، له نورو عرفانونو څخه څرګندېږي. قرآن نه وايي، چې هاغه وګړي چې، له کار او تجارت او راکړې ورکړې، پلورنې پېرېدنې، او معماری او پښګری او ترکانۍ او معلمۍ، او لنډه دا چې له «دندې» لاس اخلي، او د خدای په ذکر بوختېږي؛ ددې پر ځای فرمايي چې؛ په هماغه حال کې چې، پر خپلو کارونو بوخت دي، خدای تعالی نه هيروي. يوازينی څيز، چې هيڅ مهال يې نه هيروي، خدای تعالی دی. د داسې سړي بدن، واقعاً مسجد دی. چون تل په دې بدن کې، د خدای ياد، او د خدای ذکر، او تسبيح دي. ټول سم او مناسب کارونه، چې نور يې کوي، دا يې هم کوي؛ نور خلک، مثلاً د خپلې اداري د مېز شا ته حاضرېږي، او خلکو ته خدمت کوي. دا هم لکه د نورو په څېر حاضرېږي، او خپل خدمت سر ته رسوي. خو توپير په دې کې دی، چې دا پر خپلې دنده، د بوختيا پر مهال، يوه شېبه هم، له خپله خدايه غافل نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سربېره پر دې: «يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ» [څکه چې] له هغې ورځې ډارېږي، چې زړونه او سترګې په هغې کې، پر بل مخ اوړي. اندېښنه لري، ډار لري، په تشويش کې دي، له هاغې ورځې، چې په هاغې ورځ کې زړونه، او د سترګو لید، لاندې باندې کېږي. يعنې نه يوازې په دنيا کې، بلکې د راتلونکي ابديت، په فکر کې دي. نه زر کاله، نه ميليون کاله بلکې د ابد لپاره، د تل لپاره. د هاغه ابديت په ياد چې، زړونه او سترګې لاندې باندې کېږي، منقلب کېږي. پردې لېرې کېږي، او ټول هر څه په څرګنده توګه وينې. هلته سړی متوجه کېږي، چې په دنيا کې څومره غافل وو. څومره افسوس بايد وکړي، او څومره حسرتونه بايد وخوري.

په آخرت کې، د زړونو او سترګو کښته او پورته کېدل، او په بل مخ اوښتل، د دنيوي پردو د لېرې کيدلو، او د حقايقو له ښکاره کېدلو، حکايت کوي. چې وګړي به، د خپلو اعمالو د تجسم له لامله، په وحشت کې پريوځي. د خپلو عملونو له شر څخه هغه ته پناه وړو.

له دې دوو آيتونو [۳۶ او ۳۷] سره دا تمثيل بشپړېږي. او څرګندوي چې، له هاغه نور څخه چې، د داسې وګړو په کورونو [بيوت] کې ځلېږي. موخه يې همدا د هدايت او ايمان نور دی.

له دې سره مل، دا دوه آيتونه، دا لړۍ د آيتونو د لومړۍ برخې آيتونو سره نښلوي. او د کور او کورنۍ د حريم په اړه، د لومړۍ برخې تشريعي آيتونه، په داسې کورونو کې، د هدايت د نور جذب ته مشروطوي.

د اته دېرشم آية، ترجمه شرح او تفسير

لِيَجْزِيَهُمُ اللَّهُ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا وَيَزِيدَهُمْ مِنْ فَضْلِهِ وَاللَّهُ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۳۸﴾

تر څو الله هغوی ته تر هغه څه چې هغوی کول بهتره جزا [= پايله] ورکړي او له خپله فضله پر هغوی ورزيات کړي[۳۷] او الله هر چاته چې وغواړي [= وړ يې وګڼي،] بېحسابه [= بېدرېغه] روزي ورکوي.[۳۸]

(c) ketabton.com: The Digital Library

لِيَجْزِيَهُمُ	اللَّهُ	أَحْسَنَ	مَا عَمِلُوا	وَيَزِيدَهُمْ
ددې لپاره چې جزاء ورکړي هغوی ته	الله	ډېر غوره	هغه څه چې دوی کول	او پر هغو ورزيات کړي

مِنْ	فَضْلِهِ	وَاللَّهُ	يَرْزُقُ	مَنْ يَشَاءُ	بِغَيْرِ حِسَابٍ
له	فضل خپله	او الله	روزي ورکوي	هغه چا ته چې وغواړي	پرته له حسابه (بېدرېغه)

۳۷ – د الهي فضل زياتوالی، د اجر پر ځای، پخپله هغوی او د هغوی شخصيت ته نسبت ورکړل شوی دی، ګواکې دوی پخپله له دې عملونو سره وده کوي.

۳۸ – د الهي عطا، اجر او رزق له بې حسابوالي څخه موخه [چې د نور؛ ۳۸ (۲۴:۳۸)، زمر ۱۰(۳۹:۱۰)، او ص ۳۹(۳۸:۳۹) آيتونو کې راغلي دي] د هغوی بيقاعده والی نه دی. په حسابګری کې، راکړه ورکړه او تعادل او تناسب، د کار او اجرت په مېنځ کې رعايت کيږي. دا عدالت دی، خو په دعاګانو کې وايو: الهي ربه، له مونږ سره، نه په عدالت، بلکه په خپله عفو رفتار وکړه [اللهم عاملنا بعفوک و لا تعاملنا بعدلک]. په اجر او پاداش کې هم همداسې ده او الله تعالی بې درېغه روزي ورکوي.

په دې آيت کې د پاداش درې پړاوونه ذکر شوي دي؛

۱ – له عمل څخه بهتر پاداش، ۲ – په هغه باندې زياتوالی، ۳ – بېحساب والی.

«لِيَجْزِيَهُمُ اللَّهُ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا وَيَزِيدَهُمْ مِنْ فَضْلِهِ وَاللَّهُ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ». تر څو الله هغوی ته، تر هغه څه چې هغوی کول بهتره جزا ورکړي، او له خپله فضله پر هغوی ورزيات کړي، او الله هر چاته چې وغواړي بېحسابه او بېدرېغه روزي ورکوي.

«لِيَجْزِيَهُمُ اللَّهُ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا» دا ډول هغه انسانان چې، ويښ او بيدار دي، او غافل شوي نه دي، دا بيداري ددې لامل کيږي، چې خداى تعالی هغوی ته جزاء او پاداش ورکړي؛ «أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا» ډېر بهتر له هغه څه چې عمل يې کړی. وخت يې ورکړی، او له خپله ځانه يې څه ورکړي دي، او خرڅ يې کړی دی. ځېنو ويلي، بهترين ريکارډ يې، او تر ټولو اوچت او ښه عمل يې معيار نيسي، او په هماغه تناسب ورته اجر او پاداش ورکوي.

سربېره پر دې؛ «وَيَزِيدَهُمْ مِنْ فَضْلِهِ» خداى تعالی په خپل فضل، پر هغه هم زياتوالی کوي. نه اجر يې، چې پخپله هغوی زياتوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

«وَيَزِيدَهُمْ» نه «يَزِيدَ اجْرُهُمْ» يعني ددوی خپل شخصيت، زياتوالی مومي، پورته ځي او وده کوي. – د الهي فضل زياتوالی، د اجر پر ځای، پخپله هغوی، او د هغوی شخصيت ته، نسبت ورکړل شوی دی. گواکې دوی پخپله، له دې عملونو سره وده کوي.

«وَاللَّهُ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ» خدای تعالی، له خپل مشيّت سره سم، هغوی چې وړ او قابل وگڼي، بېدرېغه روزي ورکوي. نه دا چې حساب او کتاب نشته. د الهي عطا، د اجر او رزق، له بې حسابوالي څخه موخه، د هغوی بيقاعده والی نه دی. په حسابگری کې، راکړه ورکړه، او تعادل او تناسب، د کار او اُجرت، په مېنځ کې رعايت کيږي. چې په لاندې آيتونو کې راغلي: د نور سورة ۳۸ آية [همدا آيت] «لِيَجْزِيَهُمُ اللَّهُ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا وَيَزِيدَهُمْ مِنْ فَضْلِهِ وَاللَّهُ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ» [نور۳۸(۲۴:۳۸)]

زمر۱۰آية «...اتَّقُوا رَبَّكُمْ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا فِي هَذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ وَأَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةٌ إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ» [زمر۱۰(۳۹:۱۰)]

له خپل پالونکي څښتنه [= ستاسو ارباب او ستاسو د اختيار له خاونده] پروا، خپله دنده ګڼئ، د هاغو کسانو لپاره چې په دې دنيا کې يې نېکي وکړه، ښېګڼه ده او د خدای ځمکه [هم] ارته ده [که د خالص ايمان او د خدای د حکمونو آزادي شتون نلري هجرت وکړئ]، له دې پرته نه دی، چې صابران [او زغم والا] خپله بدله بې حسابه [= بشپړه او پوره] مومي.

ص ۳۹ آية «هَذَا عَطَاؤُنَا فَامْنُنْ أَوْ أَمْسِكْ بِغَيْرِ حِسَابٍ» [ص۳۹(۳۸:۳۹)].

دا [ټول] امکانات، زمونږ بې حسابه ورکړه ده، نو آزاد کړه [هاغه سرغړوونکي چې اصلاح شوي دي]، يا بې حسابه يې وساته [هغوی چې لا سرغړوونکي دي].

دا عدالت دی، خو په دعاګانو کې وايو: الهي ربه، له مونږ سره، نه په عدالت، بلکه په خپله عفو رفتار وکړه. دا يوه دعا ده چې مونږ يې کوو [اللهم عاملنا بفضلک، و عاملنا بعفوک و لا تعاملنا بعدلک]. په اجر او پاداش کې هم همداسې ده، او الله تعالی بې درېغه روزي ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې آيت کې، د پاداش درې پړاوونه ذکر شوي دي:

۱- له عمل څخه بهتر پاداش، ۲- په هغه باندې زياتوالی، ۳- بې‌حساب والی.

په مخکښې آيتونو کې، دې پايلې ته ورسېدو؛ چې خدای تعالی د ټولو هدايتونو اصل دی. او د خپل هدايت د «نور» لپاره يې، يو مثال ذکر کړ. او و يې فرمايل: «يَهْدِي اللَّهُ لِنُورِهِ مَنْ يَشَاءُ» خدای تعالی هر چا ته چې و غواړي، خپل نور ته يې هدايت کوي. يو له دې آثارو، چې انسان له الهي هدايته استفاده وکړي، دا دی چې؛ د انسان کړنې او عمل ارزښت مومي؛ يعنې څه؟ انسان يو لړ کارونه او عملونه، په دنيا کې سر ته رسوي. او بلکې د انسان ټول ژوند، هڅه او تلاش او حرکت او کار دی. تاسو د ګهيځ له پيله چې وينېږئ، که خپل ځان ته، او يا که خلکو ته پاملرنه وکړئ. وينئ؛ چې يوه نړۍ هڅې او تلاش، او حرکت او غورځنګ، او مندې ترڅې او کارونه دي. که و پوښتئ د څه لپاره؟

البته موخې او مقصدونه ډېر توپير کوي، خو ټول په پايله او نهايت کې، يو څيز غواړي. او هغه د هغوی، خپله نېکمرغي او سعادت دی. انسان فطرتاً، د خپلې نېکمرغۍ او سعادت، طالب او غوښتونکی دی، نه د خپلې بدمرغۍ او شقاوت طالب. او که د داسې کارونو پسې ځي، چې پايله يې شقاوت او بدمرغي کېږي، هغه د شقاوت او بدمرغۍ په تمه او قصد، خو سر ته نه رسوي. بلکې په دې حال کې هم، د هغه په خپل خيال کې، سعادت او نېکمرغي يې، په دې لار کې ده.

نو انسان په قطعي او جوته توګه، له خپل کار او عمل او هڅو څخه، د خپلې نېکمرغۍ او سعادت طالب دی. او هيڅوک دا نه غواړي، چې له هڅو او حرکت، او کار او فعاليت څخه يې، بدمرغي او شقاوت ورته نصيب شي. البته کله هم، انسانان په همدې دنيا کې، ډېرې هڅې او کوښښ، په دې انګېرنه کوي، چې نېکمرغۍ او سعادت ته ورسېږي. خو له څه مودې وروسته، پوهېږي، چې ټولې هڅې يې، بېځايه او بېهوده وې. او يا وينې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې له دې هڅو يې اړولې، او معکوسه پايله اخېستې ده. او که هڅې يې نه واى کړې، د سعادت لپاره يې، نه او بهتره وه.

نو انسانان، په خپلو هڅو کې، يو مقصد او موخه لري، چې هغه، د هغه سعادت او نېکمرغي ده. دا سمه ده، چې ټول، د سعادت او نېکمرغۍ طالب او غوښتونکي دي، خو خپله نېکمرغي، په څه څيز کې لټوي؟ دا د هغه د عمل او د کړنو د پايلې لپاره د نېکمرغۍ بنسټ او بنياد جوړوي.

يو مهال دى چې انسان، په دې دنيا کې هڅه او تلاش کوي، عمل کوى، زيار او زحمت کاږي، د داسې يو محصول او پايلې لپاره، چې غواړي په همدې دنيا کې يې واخلي. او اصلاً له خداى او آخرت سره، کوم کار هم نه لري، يعنې کوم تخم چې کري، يوازې دنيايي دى. کر يې کوي، په همدې دنيا کې د حاصل لپاره.

خو يو مهال دى، چې انسان داسې کار کوي، چې يوازې د مادي نتيجې لپاره، په دې دنيا کې نه دى. بلکې ددې لپاره دى، چې حق تعالى ته قرب پيداکړي. خداى تعالى ته نژدې شي، او په بل جهان کې يې محصول واخلي. قاعده دا ده، چې که څوک د هاغې دنيا لپاره، تخم وکري؛ په هغې دنيا کې، ورته محصول ورکوي. او که کوم تخم يې ددې جهان لپاره کرلى دى؛ په دې جهان کې، محصول ورته ورکول کېږي.

قرآن وايي: «كُلّاً نُمِدُّ» مورِ خپل مدد او مرسته هم هغوى ته رسوو چې، خدايپالي او آخرتپالي دي، او موخه او مقصد يې، لـه مادیته اوچت دى. او هم هغوى ته چې نه غواړي، تر دې ځايه مخکې لاړ شي، او غواړي محصول او نتيجه يې همدلته واخلي؛ له يو توپير سره، او هغه دا چې چون دنياپال پر لاملونو او اسباب زور راوړي، خداى تعالى ددې تضمين نه کوي، چې هر څوک د دنيا، او د دنيا د مقصد لپاره، هڅه او تلاش کوي، سل په سلو کې يې حاصل ورته ورسېږي. ځکه کېدى شي، لـه يو خنډ سره مخامخ شي. يو تخم وشيندي، ددې لپاره، چې په دنيا کې يې حاصل واخلي، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تخم يې همدلته، فاسد او خراب شي، او کوم آفت ورته ورسېږي. نه د افرادو په اړه تضمين کوي، چې ټولو ته به سل په سلو کې [محصول او نتيجه] ورکولې شي. او نه په ټولو کړنو، هڅو او عملونو کې، سل په سلو کې د [محصول او نتيجې] د ورکولو تضمين کېږي.

هغه تخم چې، د دنيايي مقصد لپاره دی، ډېرې وختونه له آفت سره مخامخ کېږي. خو هاغه تخم چې، د خدای لپاره او حق ته د نژدېوالي لپاره، او د آخرت لپاره وشيندل شي، نور تخلف نـه مني. چون دا تخم يې د هستۍ له مزاج سره سم دی، او هرومرو ټوکېږي او زرغونېږي. او بلکې له هاغې کچې چې شخص کرلی دی، زيات محصول ورکوي.

په يو بل آيت کې، همدا مطلب، په بله بڼه راغلی دی. د شـوریٰ په سورة کې فرمايي: «مَـنْ كَانَ يُرِيدُ حَـرْثَ الْآخِرَةِ نَزِدْ لَـهُ فِي حَـرْثِهِ وَمَنْ كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ الدُّنْيَا نُؤْتِهِ مِنْهَا وَمَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ نَصِيبٍ» [شوریٰ۲۰(۴۲:۲۰)]. هر څوک چې پر له پسې د آخرت په کښت پسې وي [= د ټول عمر پانګه د تلپاتي ژونـد لپاره ولګـوي] د هـغـوی پر کښـت ورزياتـوو او هـر څـوک چـې پرله پسې د دنيا په کښت پسې وي [= تل په مادي موخو او هدفونو پسې وي] له هـماغې هـغه ته ورکـوو او [خو] هـغه ته لـه آخرته برخـه نشته [= د آخرت لپاره کوم کر يې نه دی کړی چې و يې رېبي].

اصلاً دا د کښت او زراعت کولو تعبير، پخپله له قرآن څخه دی: هر څوک چې وغواړي، د آخرت لپاره تخم وکري، او موخه يې آخرت وي، وايي؛ حاصل يې لا ډير ورکوو. او د هر چا چې موخه دنيا وي، هغه هم نه محروموو: «نُؤْتِهِ مِنْهَا» هغه ورکوو [نه وايي چې ورکوو او ډېر تر له هاغه څيزه ورکوو]. يو بل مطلب هم، پخپله له قرآنه استفاده کېږي. چې که څوک، د دنيا په موخه هڅه وکړي، آخرت بالتبع هغه ته نه رسېږي. خو که څوک د آخرت په موخه هڅه او تلاش وکړي، دنيا بالتبع هغه ته رسېږي. او دا هم يو بل حساب دی، چې د قرآن له آيتونو څخه کېدی شي استفاده وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو له پورتنيو توضيحاتو، دا استفاده کېږي؛ چې د خدای په نزد، د عمل د قبول شرط ايمان دی. هاغه څوک چې ايمان نه لري، او اصلاً خدای نه غواړي، نو د خدای رضا ورته نه حاصلېږي. نو هاغه څوک چې ايمان نلري آخرت نه غواړي؛ نو چې آخرت نه غواړي، دا خو نه نشې کېدی، هاغه څه چې يې نه دي غوښتي، او پر هاغه لار چې تللی هم نه دی، هغه ورته ورکول شي. هو دا سمه ده، دا يو اصل دی؛ ددې لپاره چې، د يو شخص عمل مقبول وي، شرط يې دا نه دی، چې انسان حتماً مسلمان وي. که يو څوک په خدای ايمان ولري، او خدای وپيژني، او پر آخرت اعتقاد ولري، او کوم کار د خدای او آخرت لپاره، سر ته ورسوي، هغه کار يې، پخپله ذاتاً په الهي درشل کې، د منلو وړ دی. مگر دا چې، کوم آفت ايجاد کړي، او هغه له منځه يوسي، چې د هاغې آفت نوم «عناد» او «کفر» دی، چې دا پخپله په خپل ځای کې، توضيح ته اړتيا لري. هغه چا چې، د ښلگې په توگه يو څيز کشف کړی، او د بشريت غړو ته يې خدمت کړی دی، له خدمت څخه يې چې هره موخه درلوده، خدای تعالی هغه، هماغې موخې ته رسوي، نه هاغه مقصد ته چې نه يې درلود. محال دی [او معنا هم نه لري] چې انسان هاغه مقصد، او موخې ته، چې نه يې درلود، ورسېږي، يعنې پر هاغه لار چې نه دی تللی، د هغې لارې مقصد او پايلې ته به، څنگه ورسېږي.

نو دا چې مو وويل؛ د خدای په نور روښانه کېدل [يا ايمان پر حق] د انسان عمل ته ارزښت ورکوي، له همدې لامله دی چې د انسان عمل، په همدې دنيا کې بل راز کوي. دوه کسان چې يو راز عمل، عين عمل، سر ته رسوي؛ مثلاً يو هاغه څوک دی چې، د خدای په نور روښانه دی، او بل هغه څوک دی چې، د خدای په نور روښانه نه دی؛ دوی په ظاهره، يو ډول عمل سر ته رسوي، خو په باطن کې، د يوه عمل، د هغه بل تر عمله، له ځمکې تر آسمان توپير لري: «...إِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهُ...» [فاطر ۱۰(۳۵:۱۰)] «د هغه لور ته [نه کوم بل معبود ته] سپېځلی کلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

صعود کوي [اوچتيږي] او صالح عمل هغه پورته وړي [= زمونږ وده او کمال د هغه په توفيق کې دي]». خو که يو ملت مسلمان، او با ايمان وي، او خپل ځانونه د قرآن پليونان، لارويان او يا د قرآن ملت وګڼي، خو هاغه اصل چې قرآن يې وايي «...لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ ...» [حديد۲۵(۵۷:۲۵)]، اصلاً د دوی په منځ کې ګومارل شوی نه وي، او کله چې د هغوی ټولنيزې اړيکې ووينئ، سراسر فساد او دروغ، او تهمت او فحشا او ظلم او ستم، دی.

قرآن نه يوازې، ادعا نه کوي، چې دا ډول کوم ملت د بقا وړ نه دی. بلکې وايي؛ چې دوی، په جوته توګه، د بقا وړ نه دي، او دا ټول له هماغه اصله ريښه نيسي، چې هر فرد او هر ملت، چې پر داسې کومې لارې لاړ شي، هماغه مقصد ته رسېږي، چې د لارې په پای کې، ګومارل شوی او شتون لري. خو که په کومه لار لاړ نشي، د هاغې لارې مقصد ته، د رسېدو انتظار، هم نبايد ولري. نو لکه څنګه چې موږ په دنيا کې، د ناتللې لار، د نېکمرغۍ انتظار، نبايد ولرو. او په آخرت کې، هم نبايد، داسې انتظار ولرو.

نو همدا لامل دی چې د «نور» له آيت وروسته، چې ټوله پاملرنه يې، الهي هدايت ته ده. او د آية په پای کې فرمايي: «يَهْدِي اللَّهُ لِنُورِهِ مَنْ يَشَاءُ»، ورپسې فرمايي: «لِيَجْزِيَهُمُ اللَّهُ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا وَيَزِيدَهُمْ مِنْ فَضْلِهِ». [د قرآن تعبيرونه ډېر په زړه پورې دي] «يَجْزِيَهُمُ اللَّهُ»، «فِي بُيُوتٍ أَذِنَ اللَّهُ أَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ يُسَبِّحُ لَهُ فِيهَا بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ» ته ورګرځي؛ فرق نه کوي، چې که ووايو خدای تعالی، هغوی ، د دې مقصد لپاره هدايت کوي. او يا که ووايو؛ د هدايت اهل، په سمه توګه عمل کوي. او خدای تعالی له دې کبله: «لِيَجْزِيَهُمُ اللَّهُ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا» دا د خدای تعالی «نور» ددې لپاره دی، چې خدای تعالی، د هغوی د عمل په مقابل کې، په ډېره ښه وجهه، چې عمل يې کړی دی، اجر او پاداش ورکړي. او دا هماغه مطلب دی، چې ايمان د انسان عمل ته، داسې ارزښت ورکوي، چې تر ټولو زښت ډېر اجر او پاداش چې بايد واخلي، اخلي؛ څه ډول يې اخلي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د آخرت له نظره خو څرګند دی، چې د خدای نژدېوالی او ابدي ژوند او تلپاتې جنت، او د ګناهونو مغفرت او بښنه ده. خو د دنیا له نظره څنګه؟ آیا د دنیا او آخرت تر منځ تضاد دی؟

قرآن هېڅکله، د دنیا او آخرت تر منځ، پر تضاد او تناقض، قایل نه دی. انسان له خپل عمله، هغه مهال تر ټولو ډېره برخه، او محصول اخلي، او اخروي تلپاتې نېکمرغی، د حق ذات قرب او نژدېوالي ته، له الهي عذابه لېرېوالي او نېکمرغه دنیا ته رسېږي، چې د خدای په نور روښانه وي، او د خدای لپاره کار وکړي: «لِيَجْزِيَهُمُ اللَّهُ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا» یعنې تر ټولو زیات چې شونی دی، یو عمل ته ښایي پاداش ورکول شي، پاداش ورکول کېږي. تر دې بریده چې د ورکولو لپاره نور تش ځای نه پاتې کېږي؛ یعنې دینا یې هم شته او آخرت یې هم شته.

دا چې وایی؛ «لِيَجْزِيَهُمُ اللَّهُ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا» یعنې خدای تعالی هغوی ته په ډېره ښه وجه، اجر او پاداش ورکوي، هاغه څه چې عمل یې کړی دی. مقصد یې دا دی؛ چې هاغه عمل یې چې سر ته رسولی دی، په ډېر ښه ممکن حد کې چې شونی وو هغه سر ته ورسوي، په دې ډول هغوی ته اجر او پاداش ورکوي، دا هاغه عمل دی، چې سر ته یې رسولی دی، او غوښتی یې دی. «وَيَزِيدَهُمْ مِنْ فَضْلِهِ» او په خپل فضل، بیا هم پر دوی، ورزیاتوي؛ یعنې ددوی پر شخصیت ورزیاتوي، او د ودې او تکامل پر لور روانېږي.

دا چې فرمایي: «وَيَزِيدَهُمْ مِنْ فَضْلِهِ» له خپله فضله، پر هغه یو څه څیز، زیات هم ورکوي؛ یعنې ددوی خپل شخصیت، زیاتوالی مومي، پورته ځي، او وده کوي. یعنې دا سربېره پر دې دی، چې تر ټولو زیات شونی، پاداش او انعام ورکوي. قرآن کې یو منطق شته، تقریباً په همدې مضمون «وَيَزِيدَهُمْ مِنْ فَضْلِهِ» په مختلفو عبارتونو. او هغه دا چې؛ که کوم کسان، د خدای په لاره کې وي، دا چې عمل یې، تر ټولو زیات اجر مومي، پر خپل ځای، او دا چې هاغه څه چې غواړي، هغوی ته ورکول کېږي هم پر خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای: «وَمَنْ أَرَادَ الْآخِرَةَ وَسَعَى لَهَا سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُولَئِكَ كَانَ سَعْيُهُمْ مَشْكُورًا» [اسراء۱۹(۱۷:۱۹)]، «لَهُمْ مَا يَشَاءُونَ فِيهَا» سربېره پر دې «وَلَدَيْنَا مَزِيدٌ» [ق۳۵(۵۰:۳۵)]. دلته چون د بشر فطري لار، او د طبيعت لار ده، يو لړ څيزونه چې غوښتې يې لا نه دي، له غوښتنو پورته يې، هغوی ته تفضل ورکول کېږي. [دا تعبير دا ډول دی]: «مَنْ كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ الْآخِرَةِ نَزِدْ لَهُ فِي حَرْثِهِ...» [شوری۲۰(۴۲:۲۰)].

بل تعبير، د قرآن په څو ځايونو کې دی، چې هغه ډېر په زړه پورې دی. د قرآن په ځېنو آيتونو کې وايي؛ که څوک يو بد کار وکړي، په هماغه کچه چې بد کار يې کړی دی، هغه ته جزا ورکوي: او که ښه کار يې کړی وي، د ښه کار څو چنده، هغه ته اجر او انعام ورکوي: «مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا...» [انعام۱٦۰(٦:۱٦۰)] څوک چې ښه کار وکړي، لس چنده هغه ته اجر او پاداش ورکوي. بل منطق هم په قرآن کې شته، چې ډېر لطيف او عالي دی، او هغه دا دی:

«...وَمَنْ يَقْتَرِفْ حَسَنَةً نَزِدْ لَهُ فِيهَا حُسْنًا...» [شوری۲۳(۴۲:۲۳)] (دا ډېر په زړه پورې دی) که يو څوک کوم کار، ښه او ښکلی وکړي، مور د هغه د کار په ښکلا ورزياتوو. کله چې کار، د الهي رضا، او خلقت په مسير کې، وګومارل شي، دا ډول پايله لري. تاسو چې کوم کار، د الهي رضا په مسير کې، سر ته ورسوئ، ډېری داسي وي، چې ستاسو دا کارونه، عيبونه او نواقص لري، خو خدای تعالی په خپل فضل او لطف، د هغوی عيبونه او نواقص له منځه وړي، او ستاسو د عملونو کرغېړنتوب، له منځه وړي، او په ښکلا يې تبديلوي. خدای تعالی د نېک کار په نسبت، سېنګارَونَه کوي، بدي يې پوښي او پر ځای يې ښه والی راوړي.

نو دوه مطلبه دي: يو دا چې که انسان، يو ښه کار کوي. خدای تعالی هغه تر لسو ښو کارونو پورې، ورته زيات حسابوي. دا، د کار د کميّت اړخ دی، يعني الهي لطف، د هغه پر کميّت ورزياتوي. او بل هم د کار د کيفيت

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنبه ده، چې انسان يو داسې کار وکړي، چې نيم ښکلی يا لږ ښکلی وي، وروسته وينې، چې خدای تعالی بشپړ ښکلی کار، هغه ته حواله کوي.

دا ټول پر دې پورې اړه لري، چې انسان د هاغه هدايتي «نور» په توسه، چې د عالَم سراسر يې نيولی دی، روښانه اوسي، ړوند او خيرن او لار ورکی نه وي. دا معجزې ټولې، د ايمان له رڼا، او د خلقت په اصلي مقصد، او روښانتيا پيدا کېږي، چې د الهي نور په توسه يې، هدايت موندلی دی.

«وَاللَّهُ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ» او خدای تعالی هاغه چا ته چې وغواړي، بې حسابه روزي ورکوي.

روزي يوازې ډوډۍ او اوبه نه دي، همدا الهي فضل او رحمت دی. خدای تعالی هر چا ته چې وغواړي، [بې حسابه روزي ورکوي.] البته د خدای غوښتل، د پېچې پر بنسټ يا همداسې چوټ انداز نه دي. خدای تعالی کوم کسان غواړي؟ هم هغوی چې پخپله يې بيان کړی، چې د هغه له مشيّت سره سم، عمل کوي، او په سمه لار لاړ شي.

لکه څنګه چې مخکې مو وويل؛ ددې سورة دا څلور آيتونه [۳۵ـ۳۸] د الهي هـدايت لـه نوره يو تفـصيل دی، زمونږ لپاره د پوهـېدو وړ يو مثال دی. وايي؛ «اللَّهُ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ» الله د آسمانونو او ځمکې نور دی. نور چې کله وي، روښـــانتيا کېږي، ســـړی د «نور» په رڼا کې کولی شي وپوهيږي، چې څه کار وکړي.

د نړۍ موجوداتو هم د الهي هدايت د نور په رڼا کې، د غريزي هدايت په بڼه، يا کومې بلې بڼې، وجود موندلی دی، بيا وايي د هغه د نُور مثال، لکه د څراغ ځای په څېر دی. يعنې د څراغ د ايښېدو تاخچه. چې په دې تاخچه کې څراغ دی، او څراغ په يوه شيشه يې پوکنۍ کې دی او په بشپړه توګه د لمر په څېر ځلاند دی. د هاغو څراغونو مثال ورکوي، چې مور ورسره روږدي يو، ددې لپاره چې مور پوه شو. او که نه خدای تعالی خو نه څراغ دی، او نه نور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه څنګه مو چې وویل؛ پخواني څراغونه چې سوون توکي يې غوړي يا تېل ول، خو دا لکه د زيتون د غوړو په څېر چې شفاف او له دود پرته سوځېږي. او کوم لوری هم نلري نه شرقي دی نه غربي دی، دا د هدايت نور ابدي او تلپاتې دی. او که څه هم هغه ته اورلګيت نه وي رسېدلي، دا پخپله له خپله ځانه بلېږي.او په پای کې وايي دا مثالونه دي چې د خلکو لپاره يې وهو، دا د خدای نور چرته دی؟

په کورونو کې، په هاغو کورنيو کې، چې د خدای صفتونه، د خدای نومونه اهميت مومي، او پورته ځي، او د خدای تعالی ذکر هلته کېږي. په هاغو کورونو کې داسې کسان دي، چې نه کار او کسب او تجارت او نه نورې بوختياوې، هغوی د خدای له ذکره، او هم له زکاته، او ټولنيزو حقوقو ته له پاملرنې غافل کوي. او له يو مخې د آخرت او ابديت په فکر کې دي، چې هلته سترګې او زړونه لاندې باندې کېږي. او خدای تعالی به ددوی جزا بهتره له هغه څه چې، عمل يې کړی، ورکوي. او خدای تعالی بې حسابه د خپلو بندګانو مزد او پاداش ورکوي.

تر دې ځايه د خدای تعالی د هدايت د نور خبره وه، چې څه ډول پوړی په پوړی، په مختلفو پوړونو او مرتبو کې وو. په راتلونکي آية کې له مقابل لورې ددې مسئلې معکوس او اووښتي بڼه مطرح کوي:

د (۳۹ ـ ۴۰) آيتونو تشريح

تر دې ځايه، کوم وروستي آيتونه، چې ولوستل شول، د ايمان د اهل د عملونو په اړه ول. خو د کافرانو د عمل په اړه، [هغوی چې مؤمنان نه دي او مقصّر او معاند دي] قرآن د هغوی لپاره، درې مثالونه ذکر کړي دي. چې دوه مثالونه يې، دلته راغلي دي:

هر يو له دې مثالونو، يو بنسټيز مطلب بيانوي. د دوی عملونه، د ايرو د ډېرې په حکم کې دي، په هاغې ورځ کې چې سخت تېز باد لګېږي. هره ذره يې ټول يو ځای باد وړي، چې په دې مضمون کې، نور

(c) ketabton.com: The Digital Library

آيتونه هــم شــته. البته نــه د مــثال په بڼه: «وَقَدِمْنَا إِلَىٰ مَا عَمِلُوا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَنْثُورًا» [فرقان۲۳(۲۵:۲۳)]. او د هر داسې عمل سراغ پسې به لاړ شــو، چې [دنيايي ځانغړو انګېرونو او موخو ته] مرتکب شــوي دي. او ټول به [لکه د] لړې [او دوړې په څېر] خپاره کړو.

کله هم په دې بڼه وايي چې؛ د کافرانو عمل داسې يو څيز دی، خو باد راځي او هغه خپروي. او هره ذره يې يو ځای ته وړي، او نشت او نابود کوي. بل مثال يې، چې د کافرانو د عملونو لپاره، ذکر کړی دی؛ چې د سراب [اوبخېر] مَثل دی. په بيدياو کې، په ځانګړې توګه، په شګلنو دښتو کې، ډېرې وختونه، د لمر د لګېدو پر مهال، انسان له لېرې وينې او انګېرې چې يو سيند دی، او په هغې کې اوبه څپې وهي. او که يو څوک تړی وي، د اوبو پر لور ځي، چې د اوبو په څنګلو، خپله تنده ماته کړي.

خو چې هر څومره د اوبو پر لور مخکې ځي، هر څومره چې غواړي، اوبو ته نژدې شي. وينې؛ چې اوبه له هغه لېرې کېږي، او تر ډېر منزل وروسته بيا هم اوبو ته نه رسېږي. تر هغې چې ورو ورو پوهېږي، دا يو خيال دی. او د نور له غبرګونه داسې يوه وضعه پيدا شوې ده، او اصلاً کومې اوبه شتون نه لري. «سراب» [اوبخېر] يا «ځلوبی» چې د اوبو ظاهري بڼه، او خيال دی، خو پخپله اوبه نه دي.

کله هم قرآن د کافرانو عملونه، له هاغو تيارو او ظلمتونو سره تشبيه کوي، چې انسان په يوه ظلماني او تياره شپه کې، د درياب د طوفاني موجونو په منځ کې، واقع شوی دی. او همدا راز څپه، له څپې وروسته، حرکت کوي. او هوا هم وربځ ده، هيڅ کوم نور شتون نه لري. او تر دې کچې تياره ده، چې حتا انسان هم هر څومره چې خپل لاس خپلو سترګو ته نژدې راوړي، چې و يې وينې، خپل لاس هم نه وينې.

دا درې مثالونه هر يو، يو ځانګړي څيز ته، پاملرنه لري: يو مثال د کافرانو، بد کارونه دي، چې: «...ظُلُمَاتٌ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ...» [نور ۴۰(۲۴:۴۰)]؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو مثال د هغوی د ښه کارونو، لپاره دی. چې خيال کوي، ښه کار يې سر ته رسولی دی. وروسته وينې چې، هغه سراب [اوبځېر] وو، نه اوبه؛ او يو بل مثال دی، د يو ښه کار لپاره، چې لومړی يو ښه څيز وو، خو وروسته يې داسې کار سر ته رسولی، چې هغه يې نشت او نابود کړی دی.

د نهه دېرشم آية، ترجمه شرح او تفسير

وَالَّذِينَ كَفَرُوا أَعْمَالُهُمْ كَسَرَابٍ بِقِيعَةٍ يَحْسَبُهُ الظَّمْآنُ مَاءً حَتَّى إِذَا جَاءَهُ لَمْ يَجِدْهُ شَيْئًا وَوَجَدَ اللَّهَ عِنْدَهُ فَوَفَّاهُ حِسَابَهُ وَاللَّهُ سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿۳۹﴾

او [د وصف شوو مؤمنينو پر خلاف]، هغو کسانو چې کفر يې کړی دی [=حقايق يې ناليدلي نېولي او انکار يې کړی دی]، د هغوی عملونه لکه د سراب [اوبځېر يا ځلوبي] په شان دی په هوار ډاګ کې چې تړي [لاروي] هغه [له لېرې] اوبه ګڼي او تر دې چې هغه ته ورسېږي څه څيز نه شي موندلی[۳۹] او [د هاغې انګېرنې له پوچ او باطل لېدلو سره چې ورپسې وو]، الله په هاغې [ناکامۍ او حسرت] کې مومي[۴۰] چې [الله هم د اعمالو د اغېز په نظام کې] ورته ټول حساب بشپړ ورکوي او الله سريع الحساب دی.[۴۱]

وَالَّذِينَ كَفَرُوا	أَعْمَالُهُمْ	كَسَرَابٍ	بِقِيعَةٍ	يَحْسَبُهُ	الظَّمْآنُ
او هغوی چې کافر شول	کړنې ددوی	لکه سراب	په هوار ډاګ کې	په هغه ګومان کوي	تړی

مَاءً	حَتَّى	إِذَا جَاءَهُ	لَمْ يَجِدْهُ	شَيْئًا	وَوَجَدَ	اللَّهَ
د اوبو	تر هغې	چې کله راشي هلته	نه يې مينده کړ هغه	کوم څيز	او مينده يې کړ	الله

عِنْدَهُ	فَوَفَّاهُ	حِسَابَهُ	وَاللَّهُ	سَرِيعُ	الْحِسَابِ
په نزد د هغه	نو پوره ورکړ هغه (الله)	حساب د هغه	او الله	ډېر ژر	حساب کوونکی دی

---

۳۹ - کوم حرارت او تودوخه او تپ، چې په اوړي کې پر سوځوونکو صحراګانو او بيابانونو، د لمر له وړانګو د تيزو لګېدو پر مهال، له مځکې څخه پورته کيږي. د وړانګو د لګېدو غبرګون او تپ يې له لېرې، لکه د اوبو په څېر ښکاري. آب او سراب [اوبه او اوبځېر] سره له دې چې، له ورايه يو د بل په څېر برېښي. خو که دهغوی د واقعي تضاد، او کاذب والی څخه، صرفنظر هم وکړو. لومړنی يې د تندې ماتوونکی، او دويم يې لکه د اور په څېر داغ، او د تندې زياتوونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د «سَرَبَ» له معناو څخه يو يې په بيړه تلل، او له سترګو پټېدل دي. [کهف ٦١(١٨: ٦١) او رعد ١٠(١٣: ١٠)]، خو د اوبو حوض ثابت، او ځای پر ځای دی. د کافرانو د اعمالو تمثيل له سراب سره، چې په نورو آيتونو کې، له ايرې سره، چې د توپان په معرض کې يي، قرار نېولی. يا پر صيقل شوې ډبره خاوره، چې باران پرې اورېدلی وي. د هغوی د دنيوې هڅو رنګېدل او ويجاړېدل او د هغوی د اخروي نېکمرغۍ لپاره د هغه بې ارزښتي څرګندوي.

۴۰ – [د رعد د سورة ۱۴ آية (۱۳:۱۴)] د دغه سورة په يوه مشابه تمثيل کې، د غيرتوحيدي موخو او ارمانونو پيروان، د هاغو تړو په څير انځوروي. چې خپل لاسونه يي، د اوبو پر لور اوږده کړي، تر څو يوه لپه واخلي، او خپله تنده ماته کړي. خو په جهان کې، له الهي حيات بښونکو اوبو څخه پرته، نورې اوبه نشته. او د انسان تنده، پرته له هغو اوبو، په بل څه نه ماتېږي. دا څرګندوي، چې انسان، دنيوي غوښتنو او موخو ته، له رسيدو وروسته، هغوی پوچ او بې ارزښته مومي. او په هاغه شېبه کې له تجربې سره يوازې الله مومي؛ پر جهان له واکمن واقعيت سره، د انسان هرومرو مخامخ کېدل څرګندوي، چې له خدای تعالی پرته، بل کوم حقيقت، پکې شتون نلري.

۴۱ـ په حساب کې وفا کول [په: (فَوَفَّاهُ حِسَابَهَ) کې]، په بشپړه او کامله توګه، د هر يو چا د پور او طلب ورکول، او اداء کول دي. الله تعالی د جزا په ورځ، د هيڅ چا له حسابه، لږ هم نه کموي. او د عملونو د نېک او بد محصول، عيناً بيرته هغه ته ورګرځوي. دا حقيقت يي په راز، راز شکلونو او کليمو بيان کړی دی [له هغې جملې په محمد ٣٥(٤٧: ٣٥) او حجرات١٤(١٤: ٤٩) سورتونو کې]. له دې توپير سره، چې په دنيا کې مزد د هرې ورځې، يا مياشتې او کال، په پای کې، ورکول کيږي. الله تعالی سريع الحساب دی، او د هر چا د عمل نتيجه، هماغه شېبه ورته په حساب کې ايږدي. خو انسان ته يې، معلومات نه کېږي. او يوازې د جزا په ورځ، انسان پر دې څيزونو، بشپړه پوهه او آګاهي، پيدا کوي.

«وَالَّذِينَ كَفَرُوا أَعْمَالُهُمْ» هغوی چې انکار وکړ، کفر يې وکړ، حقيقت يې ناليدلې ونېو، او ويې پوښه. دوی چې په ژوندانه کې، کوم کارونه او کوم عملونه کوي، څه حالت به ولري. ددوی د عملونو او کړنو په اړه، قرآن ډېر مثالونه ورکړي دي. چې په دې آية کې، يو له دغو مثالونو، وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي. دا مثالونه د هاغه چا په اړه، وړاندي کوي، چې کفر يې کړی دی. وايي: هغوی چې، د هستۍ د جهان پر واقعيتونو، کوم اعتقاد نه لري، پر دې چې، يو خالق او پنځګر لري. او دا چې دوی بايد، له يو نظم سره سم، ژوند وکړي. ځينو ځايونو کې وايي؛ ددوی عملونه، لکه د داسې ايرو په څېر دي، چې د ستر توپان پر وړاندې موقعيت ولري. آيا کوم څيز ترې، باقي پاتې کېږي؟ يا د يو موټي خاورې په څېر دي، چې د يوې صيقلي ډبرې، پر مخ پرته وي. او د سخت باران، يوه شېبه پرې راشي، آيا څه څيز پاتې کېږي. غواړي ووايي؛ هاغه څه چې انسان ته پاتې کېږي، د هغه، هاغه عمل دی، چې ريښه يې بايد، له واقعيت او حقيقت سره تړاو ولري، چې وکولی شي، راتلونکي ته پاتې شي.

دا ټول څيزونه، چې مور په ژوندانه کې، ورپسې يو، دا ټول له منځه ځي. دا ټول زمور له فناه سره سم، له منځه ځي، هيڅ څيز نه پاتې کېږي. وايي؛ د هاغو کسانو عملونه، چې کفر يې کړی، يعنې حقيقتونه يې، نالېدلي نيولي دي. «كَسَرَابٍ» کړنې او عملونه يې، لکه د سراب [اوبځېر] په مثل دي. «كَسَرَابٍ بِقِيعَةٍ» ـ لکه سراب په دښته کې. «قِيعَةٍ» يعنې ستر ډګر، سارا، دښته، بيابان. په کومو سيمو کې چې، هوا ډېره تودېږي؛ دښتو ته له لېرې وګورئ، چون هوا ډېره توده وي. د لمر له ډېرو تېز وړانګو لګېدلو له لامله، کومه تشعشع او ځلا چې، له ځمکې پورته کېږي، کله چې سړی، له لېرې، د دښتې پر لور راځي؛ احساس کوي، چې په دښته کې اوبه دي. هر څومره چې سړی مخکې ځي، اوبه شا ته ځي. په واقعيت کې، کومې اوبه نشته، دا د ځمکې د حرارت موجونه، او څېې دي، چې مور د اوبو احساس کوو، او له ورايه مور انګېرو، چې اوبه دي. په داسې حال کې چې، کوم واقعيت نه لري. غواړي ووايي؛ ددوی کړنې او عملونه هم، د سراب په څېر، تشې هيلې او ارزوګانې دي. يو ساده مثال، چې مور ټول ورسره آشنا يو. ووينئ؛ مور ټولو له وړوکتوبه، مختلفې هيلې او ارزوګانې درلودې، ايډيالونه مو

(c) ketabton.com: The Digital Library

درلودل، او فکر مو کاوه، چې آيا مور به ورته ورسېدی شو؛ خو کله چې ورته ورسېدو، پوه شو چې، دا داسې کوم څيزونه نه دی، چې مور قانع کړې. په کوچنيتوب کې به مو د لوبو د وسايلو، راز راز خيالونه او خوبونه ليدل. کله چې پوهنتون کې شامل شولو، دا آرزو به مو کوله، چې کله به فارغ التحصيل کېږو. او کله چې فارغ شولو، بيا مو د کار د موندلو هيله درلوده. کار مو هم وموند، خو په دې ټولو پراوونو کې مو وليدل، چې اصلاً کوم توپير يې نه دی کړی. او هر څومره چې مخکې ځو، زمور نوې هيلې او ارزوګانې را ټوکېږي. او کومو هېلو ته چې ورسېږو، وينو چې هغه هيڅ هم نه دي. سړی کلونه کلونه امکانات او پيسې جمع کوي، چې يو کور واخلي. کلونه کلونه ځوانان او پېغلې، په دې هېلې او ارزو کې دي، چې واده وکړي، اولاد ولري. خو کله چې دې ټولو ته ورسېږي، بيا هم د نوو هېلو او د نورو څيزونو، ارزو کوي.

دا مثال چې، پورته وويل شو. ښه هيلي دي، او ناروا هم نه دي. دا مثال زمور د پوهېدو لپاره، وړ يو مثال دی. يعنې ټولې ارزوګانې چې مور لرو، کله چې ورته رسـېږو، هيڅ نه راضي کېږو. بيا هم نورې هېلې او ارزوګانې زرغونېږي. بشر تل همداسې دی.

له انسانانو پرته، نور ټول موجودات، مثلاً حيوانات يا ځناور، له غږيزې سره سم، عمل کوي. خو بشر، بېنهايت غوښتونکی دی. کله چې يوې غوښتنې، ارمان او هيلې ته ورسېږي، بله هيله او ارزو يې، راټوکېږي. نو هغوی چې، هيلې او ارزوګانې يې، يوازې مادي دي، او له هغو پورته، حقيقتونه نه وينې. د شهرت، شهوت او هوس پالنې، پسې دي، او ددې په څېر نور مسائل، چې په پای کې کېدی شي، هغوی ته ورسېږي. خو کله چې ور ورسېږي، وينې چې دا لکه د سراب په څېر دي. سراب يا اوبخېر ته که د رسېدو لپاره هر څومره، چې مخکې ځې، هغه شا ته ځي. او په پای کې د هاغو اوبو لاس ته راوړل، چې زمور تنده ماته کړي، ناشوني شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه چې په حـقيقت کې، هلته اوبـه شتون نـه لري. او اصلاً دا په واقعيت کې کوم حرارت او تودوخه او تپ، چې په اوړي کې پر سوځوونکو صحراګـانو او بيابـانونو، د لمر له وړانګو، د تيزو لګـېدو پر مهـال، لـه مځکې څخه پورته کيږي، د وړانګو د لګېدو غبرګون يي، له لږې لکه؛ د اوبو په څېر نښکاري. آب او سراب [اوبه او اوبخېر] سره له دې چې له ورايه يو د بل په څېر برېښي، خو که د هغوی د واقعي تضاد او کاذب والی څخه صرفنظر هم وکړو، لومړنی يي د تندې ماتوونکی، او دويم يي لکه د اور پـه څير داغ، او د تندې زياتوونکی دی.

د «سَرَبَ» له معناو څخه يوه يې په بيړه تلل او له سترګو پټېدل دي. لکه: «فَلَمَّا بَلَغَا مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا» [کهف ۶۱(۱۸:۶۱)] نو کله چې د دواړو سيندونو، د يو ځای کېدو برېد ته ورسېدل، خپل کب يې [چې د لارې د توښې لپاره ورسره وو] هېر کړ، نو [کب] خپله لار په اوبو کې ونښوله، او په بيړه [د څيو په منځ کې] لاړ. او همدا راز: «سَوَاءٌ مِنْكُمْ مَنْ أَسَرَّ الْقَوْلَ وَمَنْ جَهَرَ بِهِ وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍ بِاللَّيْلِ وَسَارِبٌ بِالنَّهَارِ» [رعد ۱۰(۱۳:۱۰)]. [هغه ته] يو شان دي، که ستاسو څوک خپله خبره پټوي، او که څوک خپله خبره څرګندوي. او [همدا راز] هغه څوک چې د شپې په پرده کې پټ وي، او يا د ورځې په بيړه روان وي.

خو د اوبو حوض ثابت، او ځای پر ځای دی. د کافرانو د اعمالو تمثيل له سراب سره، د هغوی د دنيوي هڅو، رنګېدل او ويجاړېدل، او د هغوی د اخروي نېکمرغۍ لپاره، د هغوی د هڅو بې ارزښتي، څرګندوي. په نورو آيتونو کې يې، له ايړې سره پرتله کړی؛ چې د توپان په معرض کې يي، قرار نېولی. يا پر صيقل شوي ډبره، د خاورې په څېر دي، چې باران پرې اورېدلی وي. «أَعْمَالُهُمْ كَسَرَابٍ بِقِيعَةٍ» عملونه يې په يوه لويه صحرا کې، د سراب په څېر دي. «يَحْسَبُهُ الظَّمْآنُ مَاءً» تږی سړی ګومان کوي، چې اوبه دي. کوم کسان چې هيله او ارزو لري، لکه د تږو په څېر دي، چې غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو ارمان ته ورسېږي. دا يو مثال دی؛ د رعد د سورة ۱۴ آية، د دغه آية په يوه مشابه تمثيل کې، د غيرتوحيدي موخو او ارمانونو پيروان، د هاغو ترڅو په څير انځوروي، چې خپل لاسونه يې د اوبو په لور اوږده کړي، تر څو يوه لپه اوبه واخلي، او خپله تنده ماته کړي. خو په جهان کې، له الهي حيات بښونکو اوبو څخه پرته، نورې اوبه نشته، او د انسان تنده، پرته له هاغو اوبو، په بل څه نه ماتېږي.

«لَهُ دَعْوَةُ الْحَقِّ وَالَّذِينَ يَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ لَا يَسْتَجِيبُونَ لَهُمْ بِشَيْءٍ إِلَّا كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ إِلَى الْمَاءِ لِيَبْلُغَ فَاهُ وَ مَا هُوَ بِبَالِغِهِ وَ مَا دُعَاءُ الْكَافِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَالٍ» [رعد۱۴(۱۳:۱۴)]. يوازې [الله دی چې] دده بلنه [په ستاينه يا سوال کولو کې] حق [او رښتيني] ده، [= قبليدونکې او تحقق موندونکي ده]. او هاغه کسان چې له هغه پرته وربولي، [هغه معبودان] د هغوی لپاره هيڅ دعا [او حاجت] نه اجابت کوي. [هغوی چې پرته له الله نور بولي، د دغې چار بېلگه يې پرته له دې نه ده چې] دوی د هغه چا په څېر دي، چې خپله لپه اوبو ته ونيسي، چې [اوبه خپلو تړو] شوندو ته ورسوي، په داسې حال کې چې [دسراب والي له امله] هيڅ اوبه يې شوندو ته نه رسېږي؛ او [په همدې توګه بوتانو ته] د کفارو دعاګاني [= په ناشکرۍ د حاجت غوښتنه] هسې په تېروتنې کې دعاوې دي، چې پرته له زيان او بېلارۍ نور څه نه دي.

له دې څرګندېږي، چې انسان دنيوي غوښتنو او موخو ته، له رسيدو وروسته، هغوی پوچ او بې ارزښته مومي. او په هاغه شېبه کې، له تجربې سره يوازې الله مومي. چې پر جهان له واکمن واقعيت سره، د انسان هرومرو مخامخ کېدل څرګندوي، چې له خدای تعالی پرته، بل کوم حقيقت پکې شتون نلري. «حَتَّى إِذَا جَاءَهُ» تر دې چې کله هلته ورسېږي. «لَمْ يَجِدْهُ شَيْئًا» هيڅ څيز نه مومي. لکه د سراب په څېر چې کله سړی ور ورسېږي هلته څه نه مومي، وينې؛ چې هيڅ نشته، پوچ دی، پوک دی، خيالونه دي، وهم دی. «وَوَجَدَ اللَّهَ عِنْدَهُ» او هلته الله و مومي، نه دا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته الله په دې معنا وي، بلکې د الله حقيقت درک کوي. يعنې د الله حقيقت ته رسـېږي، چې يوازې الله تلپاتې دی، او نور هر څيز فاني دی. يعنې؛ سړی چې کله، خپلو مادي ارمانونو ته ورسېږي، او وينې چې څومره پوچ ول. دا د ژوندانه تجربې، هغه له واقعيتونه سره، له حقيقتونه سره مخامخ کوي. او يو حقيقت ته رسـېږي، چې دې ټولو څيزونو، دا ارزښـت نـه درلود، چې مـا د يو انسان په عنوان، د اشرف المخلوقات په توګه، ټول عمر مې، ټولـه پـاملرنـه مې، دې څيزونو تـه بوختـه کړې وه، چې ورتـه ورسېږم. همدا ځای دی، چې حقيقت ته رسېږي، او خدای مومي.

«فَوَفَّاهُ حِسَابَهُ» وفا يعنې د يو څيز بشپړ ورکول. وفا په عهد هم يعنې سل په سلو کې، د ژمنې سر ته رسول. خدای تعالی ورته حساب يې، په بشپړه توګه کاملاً ورکوي. يعنې هره هڅه او تلاش يې، چې درلود، پايلې او نتيجې ته يې رسېږي. په حساب کې وفا کول [په: (فَوَفَّاهُ حِسَابَهَ) کې] په بشپړه او کامله توګه، د هر يو چا د پور او طلب ورکول، او اداء کول دي. الله تعالی د جزا په ورځ، د هيڅ چا له حسابه، لږ څه هم نه کموي. او د عملونو د نېک او بد محصول، عيناً ټکی په ټکی بيرته هغه ته ورګرځوي. دا حقيقت يي، په راز راز شکلونو او کليمو، بيان کړی دی.

(له هغې جملې په [محمد ۳۵(۴۷:۳۵)] او [حجرات۱۴(۴۹:۱۴)] سورتونو کې). «...وَاللَّهُ مَعَكُمْ وَلَنْ يَتِرَكُمْ أَعْمَالَكُمْ» .... او خدای له تاسو سره دی، او ستاسو د عملونو [له جزاء او اجر] نه کموي. «...لَا يَلِتْكُمْ مِنْ أَعْمَالِكُمْ شَيْئًا إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ» ....[ډاډه اوسئ] ستاسو له کړنو به يو کک هم کم نه شي، په جوته توګه الله، لورين بښونکی دی.

له دې توپير سره چې، په دنيا کې، مزد د هرې ورځې، يا مياشتې او کال، په پای کې ورکول کيږي. خو الله تعالی سريع الحساب دی، او د هر چا د عمل نتيجه، همماغه شېبه، ورته په حساب کې ايږدي. او د جزا په ورځ، انسان پر دې څيزونو، پوهه او آګاهي پيدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

«وَاللَّهُ سَرِيعُ الْحِسَابِ» او الله سريع الحساب دی. دا په دې معنا نه دی چې د چا يو لړ حسابونه دلته وي، او خدای تعالی جمع کړي وي، او په آخرت کې وغواړي، حساب او کتاب يې ورکړي. په همدغه شېبه کې چې لګيا يو، عمل کوو، نتيجه يې اخلو. لکه د ورزش په څېر دی، چې هر حرکت چې سړی کوي، سمدلاسه يې نتيجه اخلي. کله چې تاسو مطالعه کوئ، مفهومونه مو په ذهن کې دننه ځي، او پايله يې سمدلاسه څرګندېږي.

په ځلونو په قرآن کې راغلي دي. وايي: هر څوک چې هره هڅه او تلاش کوي، نتيجه يې ورته رسېږي. چې له هغې جملې د اسراء سورة څو آيتونو [۱۸ – ۱۹ – ۲۰] ته په لاندې توګه نغوته کوو:

«مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْعَاجِلَةَ» هر څوک چې بېړه ناک [= د دنيا ژرتېرى] [ژوند] وغواړي، يعنې اراده وکړي. «عَجَّلْنَا لَهُ فِيهَا مَا نَشَاءُ لِمَنْ نُرِيدُ» مور هم د هغه لپاره هاغه څه چې وغواړو [د هاغه مشيت او نظامونو سره سم چې په جهان کې مو گومارلي دي]، بېړه کوو د هاغه چا لپاره چې اراده وکړي. «ثُمَّ جَعَلْنَا لَهُ جَهَنَّمَ يَصْلَاهَا مَذْمُومًا مَدْحُورًا» ورپسې دوزخ مو ورته [د ظلم د پايلو د ناليدلي نېولو په غبرګون کې] چمتو کړی دی چې رټل شوي شړل شوي پکې ننوځي. «وَمَنْ أَرَادَ الْآخِرَةَ» او [په مقابل لور کې] هر څوک چې آخرت [= تلپاتې هستوګنځی] وغواړي «وَسَعَى لَهَا سَعْيَهَا» او ددې [موخې] لپاره له هغه سره وړ هڅه وکړي، يعنې د آخرت لپاره متناسبه هڅه او تلاش هم وکړي. «وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُولَئِكَ كَانَ سَعْيُهُمْ مَشْكُورًا» او هغه مؤمن وي [= په ايماني انګېزه، نه په رياکارۍ يې عمل کړی وي]، د داسې کسانو هڅې به حاصل ورکړي. يعنې په داسې حال کې، چې يو څوک مؤمن هم وي، نو د دغو خلکو، د دوی سعي او هڅې، قدر کړی شوې، او مقبولي دي، يعنې ددوی هڅې او تلاش، هم خپلو نتيجو ته رسېږي.

«كُلًّا نُمِدُّ» مور ټولو سره مرسته رسوو؛ «هَؤُلَاءِ وَهَؤُلَاءِ مِنْ عَطَاءِ رَبِّكَ» هم هغوی [= دنيا طلبو] او هم دوی [= آخرت طلبو] ته ورکړه کوو، ستا د رب

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ورکړو څخه. يعنې؛ له هر يو سره مورِ ستا د رب له ورکړې څخه مدد کوو، هم له دوی سره او هم له هغوی سره. هم له دنيا غوښتونکو سره، او هم له آخرت غوښتونکو سره. هم له هغوی سره، چې فسق او فجور پسې دي. او هم له هغوی سره، چې آخرت ته فکرمند دي. هر څوک چې، هره موخه او هدف، غوره کړي. لکه د پوهنتون په څېر دی، چې هره رشته ځانله غوره کوې، خدای تعالی تاسو، ستاسو په غوره شوي کار کې، بريالي کوي. د يو چا عمل، ډېر لږ هم نه پرېښوول کېږي. دوی هم چې، حقيقتونه يې په خپل نظر کې کم نېولي، دنيوي نتيجه يې ورته رسېږي. نو هر چا چې په کومه لار کې زيار ګالل، هماغسې نتيجه به يې اخلي. «وَمَا كَانَ عَطَاءُ رَبِّكَ مَحْظُورًا» او ستا د پالونکي څښتن ورکړه له هيڅا منع شوې نه ده. يعنې ستا د رب عطاء (ورکړه په دنيا کې)، کله هم منع کړی شوې نه ده. دا يوه تشبيه ده، د هغه چا د عملونو په اړه، چې په تلپاتو ابدي حقايقو، او خدای تعالی باور نلري. وايي دا سراب دی، د دنيا پای پوچه ده. بېحاصله موخې، او هدفونه دي. چې پايله يې هم، هرڅيز ته له رسېدو وروسته بيا هم هيڅ څيز دی، او پوچې ده. يعنې په پايله کې انسان يو پوچ ګرا «نهيليزم» ته رسېږي. په ورپسې آية کې دې ته ورته يو بل مثال وړاندې کوي:

د څلوېښتم آية، ترجمه شرح او تفسير

أَوْ كَظُلُمَاتٍ فِي بَحْرٍ لُجِّيٍّ يَغْشَاهُ مَوْجٌ مِنْ فَوْقِهِ مَوْجٌ مِنْ فَوْقِهِ سَحَابٌ ظُلُمَاتٌ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ إِذَا أَخْرَجَ يَدَهُ لَمْ يَكَدْ يَرَاهَا وَمَنْ لَمْ يَجْعَلِ اللَّهُ لَهُ نُورًا فَمَا لَهُ مِنْ نُورٍ﴿۴۰﴾

يا [د هغوی عملونه] لکه په ژور بحر کې د تيارو په څېر دي چې يو موج پرې له پاسه دی [= د يو موج په تو سه پوښل شوي دي] [او] بل موج د هغه[موج] له پاسه، [او] د هغوی له پاسه [تورې او پنډې] ورېځې، تورتمونه دي چې يو د بل له پاسه دي. [په داسې ډول] چې که [يو ډوب شوی،] خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس [د ژغورنې او مرستې غوښتلو لپاره] راوباسي، داسې نه دی چې [څوک] هغه ووينې او چاته چې الله [د تللو په لار کې] «نور» نه وي ورکړی، نو هيڅ «نور» به و نه لري.

أَوْ كَظُلُمَاتٍ	فِي بَحْرٍ لُجِّيٍّ	يَغْشَاهُ	مَوْجٌ	مِنْ فَوْقِهِ	مَوْجٌ	مِنْ فَوْقِهِ
يا لکه د تيارو په څېر	په سمندر ژور کې	پوښي هغه	څپه	له پاسه د هغه	څپه	له پاسه د هغه

سَحَابٌ	ظُلُمَاتٌ	بَعْضُهَا	فَوْقَ بَعْضٍ	إِذَا	أَخْرَجَ	يَدَهُ
ورېځ	تور تمونه دي	څېنې له هغوی	د څېنو له پاسه	کله چې	بيرون راوباسي	لاس خپل

لَمْ يَكَدْ	يَرَاهَا	وَمَنْ	لَمْ يَجْعَلِ	اللَّهُ	لَهُ
داسې نه دی (هيله نشته)	چې وګوري هغه	او هر څوک	چې نه وي ګرځولی	الله	لپاره د هغه

نُورًا	فَمَا لَهُ	مِنْ نُورٍ
نور [رڼا]	نو نشته لپاره د هغه	له هيڅ نور

۴۲ – په ۳۵(۲۴:۳۵) آية کې يې، د هدايت د نور، د څو پوړيځ والي [مشکوة، مصباح، زجاجه، کوکب] او د هغه د نورانيت د پوړونو، د لړۍ [نورٌ علی نور] په اړه، حکايت کاوه. او په دې آيت کې، د ظلمت او تياره، د پوړونو له لړۍ څخه، [ظُلُمَاتٌ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ]، يعنې د اوبو د ژورتيا تياره، يو د بل د پاسه موجونه [او څپې]، او تياره او تينګه ورېځ پرې د پاسه، چې په ډېره ښکلي بڼه، د هدايت او بې لارښتوب، تضاد څرګندوي.

۴۳ – په دغه هدايتي تابلو کې يي، بې لارې او له هدايته محروم انسان، لکه د ډوب او غرق شوي په بڼه، انځور کړی دی. چې د ژوندانه د ډاروونکي درياب، او غولونکو فتنو، او د شک او تردید د تورو وريځو، چې د هدايت لمر پټوي. له ډېر زيات افسوس او نا هيلې سره، خپل لاس يې، د موجونو له مينځه، دباندې را ايستلې، تر څو کوم ژغورونکی، هغه ووينې. اصلي پيغام دا دی؛ چې پرته له الله، هيڅ ژغورونکی، په جهان کې نشته. او هغه چاته چې، الله تعالی، د هدايت نور، [کتاب يا د نجات او ژغورنې پر لور، راهبري] نه وي مقرر کړی، د هدايت نور به ورته نه وي.

«أَوْ كَظُلُمَاتٍ فِي بَحْرٍ لُجِّيٍّ» بحر يعنې سمندر، لُجِّيٍّ يعنې څپاند سمندر، ژور سمندر. يو اوقيانوس په پام کې ونيسئ، تاسو کله چې يوه اندازه ښکته پکې ځئ. مثلاً له ۳۰، ۴۰ مترو، زيات چې پکې ښکته لاړ شئ. په تدريج، مخ په تورتم او تياره کېږو، ځي. په نورو ټيټو ژورتياړو کې، په څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زره مترو کې، خو بيخي مطلقه تياره وي. په يو ډېر ژور سمندر کې، تيارې او تورتمونه، «يَغْشَاهُ مَوْجٌ» [چې دا سمندر] موجونو پوښلی دی. «مِنْ فَوْقِهِ مَوْجٌ» [چې] له پاسه، پرې نورې څپې دي.

څپه د بلې څپې له پاسه، اوچتې څپې، «مِنْ فَوْقِهِ سَحَابٌ» ددې څپو له پاسه هم پرېږي ورېځې دي، چې آسمان يې نغاړلی دی. «ظُلُمَاتٌ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ» تيارې او تورتمونه، پورې په پورې يو د بل له پاسه. که دا له تېر آية سره پرتله کړئ؛ هلته يې «نور» د «نور» له پاسه، پورې په پورې مطرح کړی وو. «نُورٌ عَلَىٰ نُورٍ» نور د نور له پاسه دی. مشکات پسې مصباح دی، بيا مصباح په يوه زجاجه کې، يعنې شيشه کې دی. بيا وايي؛ دا داسې روښانه دی، لکه د لمر په څېر. حتا سوون يې هم تعريفوي؛ چې اورلګيت ورته نارسېدلی، د زياتې صفايي له شدته روښانه کېږي.

دلته د هغه برعکس، وايي؛ کله چې يو سړی، الهي هدايت، او لارښوونو ته، نه وي رسېدلی، د ژوندانه په تورتمونو کې، د ژوندانه په سمندر کې، انسان ډوب دی. په بې لاريو او لار ورکيو کې، سړی غرق دی. لار ورکي، پر لار ورکيو. هم په شهوتوتو، او په خپلو دنيوي محدودو لېوالتياو کې، ډوب دی. همدا راز ذهني مصروفيتونو، او بوختياو، هغوی همداسې، تياره او تورتم، کړي دي. په داسې ډول چې؛ «إِذَا أَخْرَجَ يَدَهُ» کله چې غواړي؛ خپل د نجات غوښتنې، لاس بيرون راوباسي. «لَمْ يَكَدْ يَرَاهَا» هغه څه څيز نه وينې، چون ټول څيزونه تياره دي.

يا دا چې، هيڅوک يې، د غرق کېدو، پر مهال نه وينې، چې نجات ورکړي. يا دا چې؛ لاس يې اوچت کړی دی، چې يوه ټوټه شوې تخته، يو نجات، يا يو ناجي ومومي، هيڅ څيز نه وينې. يعنې غواړي چې ووايي؛ کوم انسان چې، د هستۍ له نظام سره د بې اړيکو، او په دې بېحاصلو او پوچو مسئلو کې ډوب شوی وي. خپل ځان يې، په تورتمونو او تيارو کې، غرق کړی دی. او که کله وغواړي يو نفر پيدا کړي، اصلاً نه يې وينې. يعنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر دې بريده، خپل ځانونه، په تيارو او تورتمونو کې ډوبوي، چې کوم حقيقت نه ويني. «وَمَنْ لَمْ يَجْعَلِ اللَّهُ لَهُ نُورًا فَمَا لَهُ مِنْ نُورٍ» هغه چا ته چې، خداى تعالى، کوم «نور» نه وي ټاکلى، هيڅ «نور» نه لري. نه دا چې خداى تعالى، کوم «نور» نه دى ورکړى. خداى تعالى خو، هر چا ته، «نور» مقرر کړى دى. يعنې کله چې پخپله، د نور او حقيقت پسې، نه ګرځي، او په تياره کې يې قرار نېولى، د خداى په نظام کې، کوم «نور» نه لري. البته دا ټول، لکه څنګه چې وينئ، تشبيه ده. هدايت له «نور» سره تشبيه کوي.

نو لکه څنګه چې مو وويل: په ۳۵(۲۴:۳۵) آية کې يې، د هدايت د نور د څو پوړيځ والي، [مشکوة، مصباح، زجاجه، کوکب]، او د هغه د نورانيت د پوړونو د لړۍ [نورٌ على نور] په اړه، حکايت کاوه. او په دې آيت کې، د ظلمت او تياره د پوړونو له لړۍ څخه، [ظُلُمَاتٌ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ]، يعنې د اوبو د ژورتيا تياره، يو د بل له پاسه موجونه [څپې] او تياره، او ټينګه وريځ پرې د پاسه، چې په ډېره ښکلي بڼه، د هدايت او بې لارښتوب، تضاد څرګندوي.

په دغه هدايتي تابلو کې يې، بې لارې، او له هدايته محروم انسان، لکه د ډوب او غرق شوي په بڼه، انځور کړى دى. چې د ژوندانه له ډاروونکي درياب، او غولونکو فتنو، او د شک او ترديد له تورو وريځو، چې د هدايت لمر پټوي. له ډېر زيات افسوس، او نا هيلې سره، خپل لاس د موجونو له مينځه، دباندې را ايستلې، تر څو، کوم ژغورونکى، هغه وويني.

اصلي پيغام دا دى؛ چې پرته له الله، هيڅ ژغورونکى، په جهان کې نشته. او هغه چاته چې، الله تعالى، د هدايت «نور» [کتاب يا د نجات او ژغورنې پر لور، راهبري] نه وي مقرر کړى، د هدايت «نور» به ورته نه وي.

د اسلام حقيقت؛ تسليم دى، نَه؛ پوهېدل او يا نه پوهېدل. د دې لپاره چې، يو نفر مسلمان وي، د حقيقت پوهېدل، او کشفول بسنه نه کوي. کله چې د انسان لپاره، حقيقت کشف شو. بايد د کشف شوي حقيقت، پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندې يې غبرګون، دا وي چې، «اٰمَنّا وَ سَلَّمْنا وَ صَدَّقْنا»؛ دا کېږي اسلام. دا عنصر چې، خداى او پيغمبران پېژني، او پر معاد هم اعتقاد لري؛ [دا درې رکنونه؛ چې مورِ يې تل د اسلاميت رکن ګڼو.] په عين حال کې، قرآن وايي؛ کافر دى، چون د کفر ملاک دا نه دى؛ چې انسان پوه شي، يا پوه نه شي. او د اسلام ملاک هم، دا نه دى؛ چې انسان پوه شي، يا پوه نه شي. د اسلام ملاک دا دى؛ چې انسان پوه شي، او د حقيقت پر وړاندې تسليم وي. او د کفر ملاک دا دى؛ چې انسان پوه شي، حقيت ورته عرضه شوى وي، او هغه د حقيقت په مقابل کې ودرېږي، او مخالفت يې وکړي.

نو دا چې قرآن، په يو ځاى کې فرمايي: د کافرانو عملونه لکه د ايرې د ډېرى په څېر دي، چې تېز باد پرې ولګېږي. په يو بل ځاى کې فرمايي: لکه يو سراب [اوبخېر] يا ځلوبى دى، چې «تږى» هغه اوبه انګېري. او په يو بل ځاى کې، هغه له تيارو او ظلمتونو سره، تشبيه کوي، چې د دريابونو [بحرونو ـ سمندرونو] په ژورتياو کې شتون لري. ټول د هاغو انسانانو په اړه دي، چې حقيقت هغوى ته وړاندې شوى دى، او په عين حال کې، د حقيقت په مقابل کې ولاړ دي، او مخالفت يې کوي.

قرآن په يو ځاى کې يوه عجيبه تابلو انځوروي: «وَ إِذْ قَالُوا اللَّهُمَّ إِنْ كَانَ هَذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِنَ السَّمَاءِ ....» [انفال۳۲(۸:۳۲)]. وايي هاغه وخت ياد کړه، هغه مهال چې لاسونه به يې، آسمان ته اوچتول. او ويل يې: خدايه که ددې محمد خبره، چې د نبوت مدعي دى، حق ده. او هغه واقعاً پيغمبر دى، او رښتيا وايي، او ستا له لورې دى. د کانړو اورښت پر مورِ و اوروه، او مورِ يوسه چې و يې نه وينو.

خو هغه نورې طبقې، يعنې هاغه کافران، چې کافر دي، په دې معنا چې مسلمانان نه دي، خو قاصران او نيمګړي دي. او د قرآن په خپل تعبير، «مستضعفان» دي. «مُرْجَوْنَ لِاَمْرِ اللّٰه» دي ـ چې بنايي ډېرى له کافرانو، او غير مسلمانانو، له دې ډلې وي، خداى تعالى ښه پوهېږي. ـ په هغوى کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بحث نشته، [او واقعي کافر نه ګڼل کېږي.] پلانکی ښځه يا هلک، پلانکی کليوال يا بې سواد سړی، چې په يوه کوښه کې پروت دی، او اساساً [حقيقت هغه ته نه دی رسېدلی،] او کله هم حتا اندیال وګړي [دا راز دي.]

دلته اړينه ده چې، په الهي درشل کې، د انسان د عملونو د مقبوليت په اړه، او د قرآن په تعبير، د انسان د عمل په اړه، يوه لنډه نغوته وکړو؛ اصلاً د عمل د مقبوليت معنا، د هغه پورته تلل او اوچتېدل دي.

د خدای په درشل کې، د عمل قبلول، زمورِ د قبلولو په څېر نه دي، چې يو قراردادي چاره وي. د هاغو عملونو ماهيت او واقعيت، چې انسان يې سر ته رسوي، د انسان د اخلاص په درجې، د انسان په نيت، او د انسان د روح په سپېڅلتيا پورې، تړاو لري. يو مهال دی، چې د انسان عمل، د خدای پر لور پورته ځي؛ «إِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهُ» [فاطر ۱۰(۳۵:۱۰)]. د هغه لور ته [نه کوم بل معبودته] سپېڅلی کلام صعود کوي [اوچتېږي] او صالح عمل هغه پورته وړي. او يو مهال دا هم شوني ده چې، د انسان عمل پورته نه ځي، بلکې ښکته ځي؛ «كَلَّا إِنَّ كِتَابَ الْفُجَّارِ لَفِي سِجِّينٍ» [مطففين۷(۸۳:۷)]. هېڅکله داسې نه ده [چې سپک پلورنه او چل ول غبرګون ونلري]، په جوته توګه د حرمت ماتوونکو سرليک [= کړنليک] په سجّين [= د هغوی د دنيا ډېر تنګ زندان] کې دی.

نو د انسان عمل، يو واقعي نظام لري. ددې لپاره چې د انسان عمل پورته لاړ شي، بايد د انسان موخه او قصد، د پورته تګ وي. دا هماغه دی، چې د قربت يا نژدېوالي قصد، ورته وايو. د دې لپاره چې د انسان عمل پورته لاړ شي، بايد د انسان نيّت خالص وي، او د پورته تګ قصد ولري. او که نه شوني نه ده، چې انسان د پورته تګ قصد ونلري، او عمل يې پورته لاړشي. همدا دی چې و مو ويل؛ انسان بايد لږ تر لږه ايمان، په خدای او ايمان په آخرت ولري [چې د قربت شرط دی]، او له دې پرته کوم انسان چې اصلاً په خدای ايمان نه لري، او د قربت قصد هم نه لري، نبايد انتظار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولري، چې د هغه عمل پورته لاړ شي. نو کله چې عمل يې پورته نه دی لېږلی، عمل به يې څنګه پورته لاړ شي؟! دا ساده مسئله ده. د بېلګې په توګه؛ که څوک ډېره ښکته لور ته واچوي، او ووايي ډېره ولې پورته نه ځي؟ ډېره يې پورته اچولې نه ده، چې بره لاړه شي. تر دې کچې [ايمان په خدای او ايمان په آخرت] د عمل د مقبوليت او پورته تګ، اصلي شرط دی.

خو ځېنې څيزونه هم شته، چې د آفت او ټَکې په مقام کې دي، يعنې يو سم او وړ عمل، خراب او فاسدوي؛ چې له هغې ډلې يو هم، همدا د عناد او کفر مسئله ده، چې مخکې مو وړاندې کړه. که انسان له حقيقت سره عناد او دښمني وکړي، د عناد خاصيت دا دی؛ چې د انسان تېر عملونه، ابته او بابېزه کوي. نو که کافر په خدای ايمان و نلري، او پر قيامت معتقد نه وي، او کوم کار د پورته عالم لپاره سر ته ونرسوي، عمل يې پورته نه ځي، او که د کتاب اهل وو، او کوم کار يې، د پورته عالم لپاره، سر ته ورساوه، خو عنادي او ججودي کفر يې درلود، پخپله دا ججودي کفر يې عمل، سره ددې چې د اجر وړ وو، له منځه وړي. همدا راز زمور عملونه، چې د بېلګې په توګه حسادت يې، له منځه وړي. د خير عملونه چې [دا ډول کافر] سر ته رسوي، او که د خدای د رضا په موخه نه وي، پوک او پوچ او سراب دی؛ هغه له ځان سره انګېري، چې يو کار يې کړی دی، خو کله چې خپلې سترګې هغې دنيا ته پرانېزي وينې؛ ټول دا عملونه، چې هغه په خپل حال خير او مفيد انګېرل، بې روح، بې معنا او مړه دي، دا ټول سراب دی، اوبځېر دی، خو هغه انګېري چې اوبه دي. نو وای! د هاغه چا په حال، چې کافر وي، کفر يې هم ججودي او عنادي کفر وي، او ګناه يې هم کړي وي، کافر د کفر په حال کې، ګناه سر ته ورسوي، هغه نور «...ظُلُمَاتٌ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ...» دی. قرآن ددې ډلې لپاره عجيبه مثال ذکر کوي: د هغوی مثال؛ تيارې په تيارې کې دی، فرمايي: «أَوْ كَظُلُمَاتٍ فِي بَحْرٍ لُجِّيٍّ». هغه بحر په نظر کې نيسي، چې هغه بحر «لُجِّيٍّ» وي، يا د هغه يوه برخه يا ټول يې، ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library

زياته ژورتيا ولري. قرآن ولي د ژور بحر مثال ذکر کوي؟ او وايي يوه تياره او ظلمت د ژور بحر په ژورتيا کې. د دې لپاره چې، که مورِ وغواړو، د هاغه ځای لپاره، چې «نور» هلته په هيڅ وجه شتون ونلري، او انسان هغه ځای ته يوسې، چون هيڅ «نور» هلته شتون نلري، هلته د يو ژور بحر، د ژورتيا په څېر ده، چې انسان هلته ننباسي.

وسمهال له پخوا بهتره ثابته شوې ده چې، «نور» په اوبو کې نفوذ کوي. يعنې لکه څنګه چې هوا روښانه کوي، اوبه هم روښانه کوي. لکه څنګه چې تاسو د حوض تل، چې صافې اوبه ولري وينئ. چون نور لکه څنګه چې، مثلاً په بلور کې نفوذ کوي، په اوبو کې هم نفوذ کوي، او د حوض تر تَله رسېږي. خو وايي په ډېرو ژورو بحرونو کې، له څو زره متره ژورتيا څخه زيات، هلته نو «نور» په بنسټيزه توګه نفوذ نه لري، هلته مطلق ظلمت دی.

پخوا خلکو انګېرله، چې د اوقيانوسونو په لاندينيو طبقو کې، اصلاً ځناور شتون نه لري، چون «نور» په هيڅ وجه هلته نه رسېږي. او دا چې د اوبو فشار هم ډېر زيات دی. خو نن ورځ کشف شوې ده، چې له دې سره چې «د لمر نور» هلته نه رسېږي، خو په عين حال کې هلته ځناور شتون لري. خدای تعالی، دا مخلوقات، چې هلته د اوبو په ژورتيا کې ژوند کوي، داسې خلق کړي دي، چې پخپله په خپل ځان کې، له خپل دننه نور توليدوي. او د نور د ضرورت اړتياوې، د هغوی پخپل وجود کې تولېدېږي.

د دې مثال پر بنا، د هغه ځای لپاره، چې هلته هيڅ نور شتون ونلري. چې وکولی شي، کوم انسان هلته يوسي، يو «لجّی» بحر دی. قرآن نه وايي «بحر» چې پر ټولو بحرونو شامل وي، او ووايي؛ ځېنې بحرونه، چې «نور» د هغوی تل ته رسېږي. بلکې وايي:

«بحر لجّی» ډېر ژور بحر؛ ځېنو داسې بحرونو ته نغوته ده، چې ژورتيا يې په دې کچه کې ده، چې «نور» هلته نفوذ نه کوي. قرآن غواړي ووايي؛ چې د کافرانو د دې ډلې پر وجود، د ظلمت او تياره له عواملو، احاطه

(c) ketabton.com: The Digital Library

موندلې ده، چې هر يو په يوازې توګه، دوی په تياره کې ډوبوي. يوازې دا نه دی، چې له دې اړخه، دوی په ظلمت کې دي، بلکې په اصطلاح، له څو قبضو او اړخونو، په ظلمت او تيارو کې دي. او څو عاملونه، يو پر بل شتون لري. چې هر يو په يوازې توګه، د «نور» د رسېدو خنډ دي: په ژور بحر کې وي، هلته چې «نور» نه رسېږي؛ سربېره پر دې، د بحر سطحه هم آرامه نه وي. تل څپې پر څپو ځای نيسي، چې د بحر له عادي سطحې څخه، لکه د دوو غرونو په څېر پورته راغلي وي، چې بيا د «نور» د رسېدو لپاره، لا ډېر خنډ دی؛ له دې هم اوچتتر، هوا هم ورېځ وي. چې ورېځ هم، د لمر يا سپوږمۍ او ستورو، د «نور» د رسېدو خنډ وي. دا نو څومره ظلمت په ظلمت کې دی: «...ظُلُمَاتٌ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ...» دا د مثال په توګه راوړي، چې دا ډول ظلمتونو پر ظلمتونو، دا کافران نغاړلي دي. چې دوی د هاغه انسان، په حکم کې دي، چې د دا راز بحر په منځ کې وي، چې څو عاملونو، يو د بل له پاسه، ځای نېولی، او د «نور» د رسېدو لپاره خنډ شوي دي؛ سمدم د هاغه مثال پر عکس، چې د نور په آية کې مو ولوست. له دې دوو مثالونو وروسته چې قرآن دلته ذکر کړي دي، چې يو مثال دا وو؛ چې د کافرانو د عملونو مثال لکه د سراب [اوبخېر] په شان دی. چې د هغوی د خير کارونو ته پاملرنه لري، چې دوی پرې هيلې تړلې دي. وايي بيچاره ګانو! ستاسو انګېرنه باطله ده. تر هاغې چې ايمان مو، په خدای سم نه وي، او تر هغې چې د خدای په «نور» روښانه نه اوسئ، ستاسو عملونه روح نه مومي، ستاسو عملونه د اوبو حالت نه پيدا کوي، چې ستاسو تنده لېرې کړي. دويم مثال د دوی د ګناهونو لپاره دی.

مفسرينو هم په دې اړه چې ولې قرآن دوه مثاله راوړي دي لاملونه ذکر کړي دي او ښايي ډيرېو همدا لامل ويلی دی چې لومړی مثال د هغوی د ښو کارونو لپاره دی او دويم مثال د هغوی د بدو کارونو لپاره دی چې ظلمت په ظلمت کې دی. او څنګه چې مخکې مو وويل له کافرانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه مقصد هر غير مسلمان نه دی، بلکې هغوی چې د حقيقت په مقابل کې ودرېږي او مخالفت او قيام او مبارزه کوي.

د سورة متن او د لُغتونو ترجمه (۴۱ ـ ۴۶) آيتونه

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُسَبِّحُ لَهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالطَّيْرُ صَافَّاتٍ كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهُ وَ تَسْبِيحَهُ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِمَا يَفْعَلُونَ﴿۴۱﴾ وَ لِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَإِلَى اللَّهِ الْمَصِيرُ﴿۴۲﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُزْجِي سَحَابًا ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهُ ثُمَّ يَجْعَلُهُ رُكَامًا فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَالِهِ وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ جِبَالٍ فِيهَا مِنْ بَرَدٍ فَيُصِيبُ بِهِ مَنْ يَشَاءُ وَيَصْرِفُهُ عَنْ مَنْ يَشَاءُ يَكَادُ سَنَا بَرْقِهِ يَذْهَبُ بِالْأَبْصَارِ﴿۴۳﴾ يُقَلِّبُ اللَّهُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَعِبْرَةً لِأُولِي الْأَبْصَارِ﴿۴۴﴾ وَاللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَابَّةٍ مِنْ مَاءٍ فَمِنْهُمْ مَنْ يَمْشِي عَلَى بَطْنِهِ وَمِنْهُمْ مَنْ يَمْشِي عَلَى رِجْلَيْنِ وَمِنْهُمْ مَنْ يَمْشِي عَلَى أَرْبَعٍ يَخْلُقُ اللَّهُ مَا يَشَاءُ إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴿۴۵﴾ لَقَدْ أَنْزَلْنَا آيَاتٍ مُبَيِّنَاتٍ وَاللَّهُ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ﴿۴۶﴾

أَلَمْ تَرَ= آيا و دې نه ليدل، پام دې نه دی کړی ـ يُسَبِّحُ = د هغه تسبيح کوي، خپل وجودي مثبت رول لوبوي، له الهي قوانينو سه سم عمل کوي ـ الطَّيْرُ = الوتونکي ـ صَافَّاتٍ = په داسې حال کې چې وزرونه يې خپاره کړي دي ـ كُلٌّ قَدْ عَلِمَ = هر يو پوه شوي دي ـ صَلَاتَهُ = دعا خپله، نمونځ خپل، مخ کونه، موخه موندنه ـ تَسْبِيحَهُ = خپلې تسبيح، خپلې ستاينې، د خپل مثبت اصلاحي رول سر ته رسونه ـ مُلْكُ = پادشاهي، واکمني، چارواکي، ټولواکي، مالکيت ـ الْمَصِيرُ = په پای کې، کېدنه، ستنېدنه، د ودې او کمال پر لور د ښکارندو يون ـ يُزْجِي = په حرکت راوړي، په منظمه توګه هوسا ځغلوي، په هوسا توګه کښوي ـ سَحَابًا = ورېځې ـ يُؤَلِّفُ = پيوند ورکوي، نښلوي، تاليف کوي ـ رُكَامًا = متراکم، تپل شوي، انبار شوي ـ تَرَى = وينې ـ الْوَدْقَ = باران، اورښت ـ خِلَالِهِ = په منځ منځ کې يې، [د ورېځو] له پورې پورې ـ يُنَزِّلُ = نازلوي، اوروي ـ جِبَالٍ فِيهَا مِنْ بَرَدٍ = غر تنه يې ورېځې چې کنګل او ږلی پکې ده ـ بَرَدٍ = ږلی ـ يُصِيبُ = رسوي ـ يَصْرِفُهُ = هغه بېرته ستنوي ـ يَكَادُ = نژدې دی ـ سَنَا بَرْقِهِ = د برېښنا ځلا ـ سَنَا = ځلا ـ يَذْهَبُ بِـ ... = له منځه يوسي ... ـ الْأَبْصَارِ = سترګې [بوسې] ـ يُقَلِّبُ = اړوي ـ لِأُولِي الْأَبْصَارِ = د بصيرت خاوندان، ليد وال ـ دَابَّةٍ = خوځنده ـ يَمْشِي = ځي، پر لاړې ځي ـ بَطْنِهِ = خپټه يې ـ رِجْلَيْنِ = دوه پښې ـ أَرْبَعٍ = څلور [پښې] ـ قَدِيرٌ = قادر [اندازه ايښوونکی] ـ صِرَاطٍ = لار، نيغه لار، سمه لار ـ

د نور سورة تشريح (۴۱ – ۴۶) آيتونه

له دې وروسته، تر شپږو آيتونو پوې، مور ته طبيعي پديدې خرګندوي. تر دې ځايه د شريعت آيتونه ول، په تېر شوو دوو آيتونو کې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هدايت او لار ورکي مطرح شـــوه. اوس غواړي؛ هغه خداى چې، د جهان نور له هغه دى، د هغه د خواک لاس، د هغه د ربوبيت او تدبير لاس، په طبيعت کې مورِ ته څرګند کړي:

د يو څلوېښم آية، ترجمه شرح او تفسير

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُسَبِّحُ لَهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالطَّيْرُ صَافَّاتٍ كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهُ وَتَسْبِيحَهُ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِمَا يَفْعَلُونَ﴿۴۱﴾

آيا و دې نه ليدل [= پام دې نه دى کړى] چې، بې له شکه، هغه څه چې په آسمانونو او ځمکه کې دي. يوازې الله ته تسبيح [= د خپل وجودى مثبت رول سرته رسونه] کوي؟[۴۴] او [له هغې ډلې] الوتونکي چې، وزرونه يې غوړولي [= خوړند په آسمان کې] چې ټول پر خپل نمانځه [= مخ کړنه او موخه موندنه] او تسبيح [= ستاينه او د مثبتې اصلاحي وظيفې سرته رسونه]، پوهېږي [او اګاهي لري]، او پر هغه څه چې دوى يې کوي، الله پوهېږي.[۴۵]

أَلَمْ تَرَ	أَنَّ اللَّهَ	يُسَبِّحُ	لَهُ	مَنْ	فِي السَّمَاوَاتِ
آيا تا نه دي ليدلي	چې بېشکه الله	په پاکۍ يادوي	هغه لره	هغه څه	چې په آسمانونو کې دي

وَالْأَرْضِ	وَالطَّيْرُ	صَافَّاتٍ	كُلٌّ	قَدْ عَلِمَ	صَلَاتَهُ
او ځمکه کې	او الوتونکي	خپاره وزرونه	هر يو	بېشکه پوهېږي هغه	لمونځ د هغه

وَتَسْبِيحَهُ	وَاللَّهُ	عَلِيمٌ	بِمَا	يَفْعَلُونَ
او ثنا د هغه	او الله	ښه پوه دى	په هاغه چې	دوى يې کوي

۴۴ – د هستۍ په جهان کې، هر موجود ته، د خداى ورکړو استعدادونو لوارېدل، او څرګندېدل، د هغه تسبيح دي. چې په دغه مجموعه کې، داسې يو حساب شوى، او مقدر او ټاکـل شوى کـار سرته رسوي، چې لـه هغه پرته، يو عيب او نقـص رامنځته کيږي. لکـه د يو ساعت په څير، چې د هـر پېچ او ستنې ليرې کېدل يې، هغه لـه ټاکلي دقت او څېرېدنې څخه، غورځوي.

۴۵ – په آسمان کې، په ځانګړي نظم کې، د الوتونکو صف او قطار کيدل، د فصلي لېږدېدنې پر مهال، يا په ورځنيو پروازونو کې، په ګهيځ او مابنام کې، له غريزي هدايت سره سم د ټاکل شوي، او ځانګړي موخې او مقصد، پر لور دي. دغه موخه هماغه «صلات» دى، چې لغوي معنا يې الله ته «مخه کول»، او لـه الله سره اړيکه، او

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتصال دی. تسبیح هم، لکه څنګه چې وویل شول، یو مثبت او اصلاح ګرانه نقش دی، چې هر موجود یې، په الهي تقدیر کې، د ټاکل شوې برنامې له مخې، سرته رسوي. په واقعیت کې، الوتونکي د خپل لمانځه په څرنګوالي، پوهېږي، چې الهي هدایت ته مخه کول دي. او په خپلو تسبیحو، په ډیره ښه توګه آګاه دي، چې د هر یو لپاره د ټاکل شوې نقش، سرته رسول دي.

کوم آیتونه مو چې، د نور له آیة څخه، تر دې ځایه تفسیر کړل، وینو چې د نُور او ظُلمت، د مختلفو صحنو په انځورولو سره، د نُور حالت څرګندوي. البته دا هم په ډاګه او څرګنده ده، چې ظُلمت هم، له «نُور» څخه د نه برخمن کېدو پرته، نور څه نه دی. او یوازې د انسانانو په اړه، دا رښتینې ده، چې یوه له هاغو وړانګو، چې الله تعالی استولې ده، او انسان مکلف او ګومارل شوی دی، چې خپل ځان د هاغې وړانګې په توسه، روښانه کړي، خو ګټه ترې نه اخلي.

چون انسان، مکلف او ګومارل شوی دی، چې د خپل فطرت د نُور په مرسته، د وحی او نبوت د نُور له وړانګو، برخمن شي. او کله چې له دې نوره ګټه وانخلي، هغه مهال، په تیاره او ظلمت کې، واقع کېږي؛ او حال دا چې، د خدای «نُور»، ټوله هستي نغاړلې ده: «اللَّهُ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ» ټوله هستي، د خدای تعالی په نُور، روښانه ده. او ټوله هستي، د خدای تعالی له نُوره، آګاه او خَبَره ده. [چون په روښنایي کې ده نه په تیاره کې] او د خپل خالق او پالونکي څښتن [رب] په شتون، پوهه او پېژاندې ده. په دې آیت کې، د داسې یو مطلب ذکر کوي، چې دا مطلب په قرآن کې، په مختلفو عبارتونو کې، راغلی دی. د لته هم حضرت رسول اکرم(ص) ته په خطاب کې وایي: «أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُسَبِّحُ لَهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالطَّيْرُ صَافَّاتٍ كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهُ وَتَسْبِيحَهُ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِمَا يَفْعَلُونَ».

«أَلَمْ تَرَ» آیا نه وینې [مطلب یې په سترګو لېدل نه، بلکې وایي؛ دې ته دې پاملرنه نه ده کړې، توجه دې نه ده کړې، اندنه دې نه ده کړې]. «أَنَّ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اللَّهَ يُسَبِّحُ لَهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ» دا الله دی، چې ټول موجودات چې، په ځمکه او آسمانونو کې دي، یوازې هغه ته تسبیح کوي. [دا «أَنَّ اللَّهَ» چې په پیل کې راغلی دی، د انحصار مفهوم رسوي] یعنې د هستۍ ټول موجودات لګیا دي، یوازې خدای تعالی ته تسبیح کوي. تسبیح نه د لفظي، تکراري، ورد په معنا، چې په ځلونو مو دې ته اشاره کړې ده. تسبیح همدې مثبتو کارونو ته ویل کېږي، چې هر څوک پرې عمل کوي.

[د مثال په توګه؛ په یو ارکسترا کې ټول لګیا دي، د یو نوټ مطابق خپل ساز وهي، کیدی شي سلګونه کسان په ساز وهلو بوخت وي. د ارکسټر رهبر ته، او خپل نوټ ته پاملرنه کوي، او کوم ساز چې هر چا ته ټاکل شوی دی، هغه وهي. د سمفوني کنسرټ دا ټولګه، د ټولو غړو په همکاری، او هم غړۍ رامنځته کېږي. او د ګروپ هر یو غړی، په خپل ځای کې، د اهمیت وړ دی. او هر یو هم چې سم نه وي، او یا د نوټ سره سم عمل ونکړي، یو نقص رامنځته کېږي].

یعنې د جهان ټولې اجزاء، ټول په فطري توګه، هغه کارونه چې، خدای تعالی ورته مقدر کړي او ټاکلي دي، په هم غړې توګه سر ته رسوي؛ چې په اصل کې همدا تسبیح دي. یعنې د هستۍ په جهان کې، هر موجود ته، د خدای ورکړو استعدادونو لوړېدل، او څرګندېدل، د هغه تسبیح دي. چې په دغه مجموعه کې، داسې یو حساب شوی، او مقدر او ټاکل شوی کار، د خپلې وړتیا او تقدیر سره سم، سرته رسوي، چې له هغه پرته، یو عیب او نقص، رامنځته کیږي. لکه د یو ساعت په څیر، چې د هر پېچ او ستنې لیرې کېدل یې، هغه له ټاکلي دقت او څېړېدنې څخه، غورځوي.

د تسبیح اصلي معنا، لامبو کول دي. یعنې ټول ددې په څېر دي، چې ټول مخلوق او کائنات، هر یو د لامبوزن په توګه، د یو حرکت په حال کې دي. ټول په یوه هڅه او تلاش کې دي، ددې لپاره چې یو نقص او عیب له منځه یوسي، یوه نیمګړتیا لېرې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو له تسبيح څخه مطلب، د پالونکي څښتن له تقدير او ټاکلې برنامې او پروګرام او له يو نظم سره سم، يو مثبت کار سر ته رسول دي.

« أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُسَبِّحُ لَهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ » آيا ودې نه لېدل [شهود دې ونکړ] چې د خداى تسبيح کوي، «هر څوک» چې په آسمانونو کې دي، او هر څوک چې په ځمکه کې دي. ډيرى مفسرين وايي دلته «مَنْ» د نورو ځايونو، له «ما» سره توپير نه کوي. چون داسې يو فعل دوى ته نسبت ورکړل شوى، چې د «ذوى العقول» [د ځانګړو فعلونو] له نوعه دى، نو «مَنْ» بيان شوى دى. نه غواړي ووايي هغوى [چې د خداى تسبيح کوي] انسانان دي يا پرښتې، خو چون کومه چاره چې کوي انسان ته ورته ده، خداى تعالى هغوى «کس» بللى دى، نه «څيز»: آيا نه وينې چې د خداى تعالى تسبيح کوي، هر څوک چې په آسمان کې دى، او هر څوک چې په ځمکه کې دى. او هم الوتونکې په داسې حال کې، چې ليکه يې کښلې ده؟ «وَالطَّيْرُ صَافَّاتٍ».

دا چې تاسو وينئ، او په څرګنده توګه برېښي، چې د هستۍ ټول جهان په مثبت جهت کې دى، قانونمند دى، موخه او غايه لري، ټول اجزاء او غړي يې، د يو ټاکلي او ځانګړي مقصد پر لور په حرکت کې دي. په هاغه جهت او لور کې، چې خداى تعالى ورته، د هغوى په وجود کې، مقدر کړى دى، لګيا دي کار کوي، او هيڅ يو بېکاره نه دى. له هغې جملې؛ «وَالطَّيْرُ صَافَّاتٍ» لکه هاغه الوتونکي، چې وزرونه يې خپاره کړي دي. [ليدلې به مو وي، داسې الوتونکي، په ځانګړې توګه عقاب، شاهين؛ چې د آسمان پر څپو سپاره دي، د باد جريان لګيا دى، هغوى وړي.] يعنې ټول، يو نظام يا قانون ته، تسليم دي. کله چې دوى پورته ځي، لوړتيا او اوج اخلي، نور نو د هوا د جريان پر مخ سپرېړي، او دا د هوا څپې دي، چې دوى پورته او لا پورته وړي. په آسمان کې په ځانګړي نظم کې، د الوتونکو صف او قطار کيدل، د فصلي لېږدېدنې پر مهال، يا په ورځنيو پروازونو کې، په ګهيځ او ماښام

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې، له غريزي هدايت سره سم، د ټاکل شوي او ځانګړي موخې او مقصد پر لور دي. دغه موخه هماغه «صلاة» دی، چې لغوي معنا يې الله ته «مخ کول» دي، او له الله سره اړيکه او اتصال دی.

نو تسبيح هم، لکه څنګه چې وويل شول، يو مثبت او اصلاح ګرانه نقش دی، چې هر موجود يې، په الهي تقدير کې، د ټاکل شوې برنامې له مخې سرته رسوي. په واقعيت کې الوتونکي، د خپل نمانځه په څرنګوالي، چې الهي هدايت ته مخ کول دي، او په خپلو تسبيحاتو، چې د هر يو لپاره د ټاکل شوې نقش سرته رسول دي، په ډيره ښه توګه آګاه دي. ابو نصر فارابي چې د اسلامي نړۍ له نامتو او نومورو حکيمانو څخه دی؛ په خپل کتاب «فصوص» کې، په دې اړه يو خوږ عبارت لري؛ وايي: [صَلَّتِ السَّماءُ بِدَوَرانِها وَ الْأَرْضُ بِرَجَحانِها وَ الْمَطَرُ بِهَطَلانِه] آسمان چې ګرځښت کوي، له خپل ګرځښت سره، په الهي درشل کې نمونځ اداء کوي. د آسمان ګرځښت د آسمان نمونځ دی. ځمکه چې ټکان خوري، د ځمکې ټکان خوړل، د ځمکې نمونځ دی. اورښت چې اورېږي، د اورښت اورېدل د اورښت نمونځ دی؛ چون د نمانځه روح او حقيقت، د حق د امر په مقابل کې، په خالصانه او مخلصانه توګه، له تسليم او اطاعت کولو څخه پرته نور څه نه دی.

وايي: آسمان چې ګرځي، او ځمکه چې ټکان خوري، او اورښت چې اورېږي، دا ټول د خپل پالونکي څښتن د امر او فرمان اطاعت کوي، د هغوی نمونځ همدا دی.

اصولاً په قرآن کې د نازعات په سورة کې درې حرکتونو ته نغوته کوي، وايي: «وَالنَّازِعَاتِ غَرْقًا» [نازعات۱(۷۹:۱)] سوګند پر؛ له سختۍ او شدّت سره د ځان راکنونکو [او راخطا کېدونکو] [= راکنونکي ځواکونه، عاملونه او ښکارندې]. نزع يعني راکنل، را ايستل، راخوشې کېدل، راخطا کېدل؛ داسې يو حرکت چې که يو خيز وکولی شي، د توغندي په څېر په يوه ثانيه کې په ۱۱ کيلو متره سرعت سره خپل ځان له ځمکې وکنې [ببل کړي]،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولی شي د ځمکې له جاذبې خارج شي، نو دا لومړی حرکت نزعي حرکت دی، خو کله چې پورته لاړ شي وایي: «وَالنَّاشِطَاتِ نَشْطًا» [نازعات۲(۷۹:۲)] او سوګند پر سپک یونو ایله کېدونکو [=آسان او نشاط راوړونکي حرکتونه]. نو بل حالت یې دادی، چې کله پورته لاړ شي، سپک شي، او له لړې انرژۍ او لړ سوون سره کولی شي، نور هم پورته لاړ شي، ډېر پورته. حرکت یې ډېر آسان سپک، رقیق او اوبرن کېږي، او چې لا ډېر زیات پورته لاړ شي نو: «وَالسَّابِحَاتِ سَبْحًا» [نازعات۳(۷۹:۳)] او سوګند پر [هاغو عاملونو یا حرکتونو،] ګرځندیو او ځواکمنو لامبو زنانو، [چې په ځانګړي ډول په لامبو کې دي].

نو په دریم پړاو کې د تسبیح او سباحه حالت پیدا کوي، او په جاذبه یې مدار کې پرېوځي، د سوون توکو ټول زیرمتون خوشې کوي، نور سوون توکي نشته، نور د حرکت لپاره سوون توکي، اړین نه دي. پخپله د ستورو حرکت او جاذبه، چې حساب شوی دی، هغه وړي. دا تسبیح دي، چې سړي خپل ځان، یو لړ نظامونو ته، اچولی دی. نو وایي دا الوتونکي هم، د هوا د څپو، او د وربځو پر وزرونو، سپاره دي.

«كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهُ وَتَسْبِيحَهُ»، د جهان ټول موجودات هم، پر خپل صلاة [لمونځ، اړیکې او اتصال]، ښه پوهېږي، او هم پر خپلو تسبیحاتو. كُلٌّ یعنې د جهان ټول موجودات، د ټول جهان موجودات، نه یوازې د ځمکې د کرې، [میلیاردونه موجودات، خو یوازې په ځمکه کې دي.]، نو دا نه یوازې د ځمکې موجوداتو ته، بلکې د ټول جهان موجوداتو ته اشاره کوي. سماء هم نه د هوا په معنا، مطلب یې ټول ستوري، چې په آسمان کې دي. ټول نظامونه او کهکشانونه، هر یو ټول بلد [او آموخته] دي، ټول روږدي دي، چې څه کار وکړي. د جهان ټول اجزاء، د تسبیح په حال کې دي؛ په ځلونو یې په قرآن کې ویلې دی، چې اصلاً هیڅ څیز داسې نشته، چې د خدای تسبیح ونکړي. «...وَإِنْ مِنْ شَيْءٍ» اصلاً کوم څیز شتون نلري، «إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ»، ټول لګیا دي، د خپل پالونکي څښتن، په حمد تسبیح کوي. «وَلَكِنْ لَا تَفْقَهُونَ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تَسْبِيحَهُمْ...» ليکن تاسو، د هغوی په تسبيح، نه پوهيږئ. تاسو نه درک کوئ، او شناخت نه لرئ، پر دې چې، هغوی څه کار کوي. [اسراء۴۴(۱۷:۴۴)].

قرآن وايي: تالنده د خدای تعالی تسبيح کوي «وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهِ...» [رعد۱۳(۱۳:۱۳)] تسبيح يعنې، يو مثبت کار سر ته رسول دي، دا رعد او برق [تالنده او برېښنا] چې کېږي، زرګونه ټنه اوزون توليدېږي. له دې سره کله چې، دا برېښنا ځمکې ته راځي، د ځمکې ډېری مکروبونه وژني. او هم، دا اوزون چې د ځمکې لپاره، کيمياوي کود [سرَه، پارو] دی، يوه طبقـه رامنځته کوي، چې د بنفشي مـاورا، د وړانګو مخـه نيسي، دا ټول لګيا دي، يو کار سر ته رسوي. صلات يعنې خدای تعالی ته مخ کړنه، هغه لمريزې سرچينې ته، د حقيقت سرچينې ته مخ کړنه ده، دا ټول په خپله مخ کړنه پوهيږي. يعنې په جهان کې هر موجود، خپله موخه او هدف پېژني، چې د هغې لور ته مخه کړي. بې پروا او لار ورکي نه دي، خپلې تسبيح هم پېژني. تسبيح يعنې مثبت کار يې، رول او نقش يې، چې څه څيز دی، پېژني. لکه د يوې سترې کارخانې په څېر دی، ټول پوهيږي، چې دا کارخانه يو مدير لري، يو ليک لار، نظام او لار ليک يې ټاکلی، د دندو شرحه يې ليکلې. د وظيفو په شرحه هم پوهيږي، هم ددې سترې کارخانې مدير پېژني، او هم د خپلو دندو په شرحه پوهيږي. لومړی يې صلات دی؛ نمونځ دی، چې د هغه مدير لور ته مخ کړنه ده. او تسبيح هم هغه مثبت کار دی، چې بايد سر ته يې ورسوي. همدا راز ددې موضوع په اړه، مورږ په قرآن کريم کې، پنځه سورتونه لرو؛ [بلکې د «سَبِّحِ اسْمَ رَبِّکَ» له سورة سره، په يو اعتبار شپږ سورتونه لرو.] چې له تسبيح سره پيل کېږي، او دوی ته «مسبّحات» وايي.

د حديد سورة دا ډول پيل کېږي: «سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ...» هر څه چې په آسمانونو او ځمکه کې دي، د خدای تعالی تسبيح کوي.

د حشـر او صف سورتونه په دې ښه پيل کېږي: «سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ» دلته د «ما» کليمه تکرار شوې ده. بيا هم مطلب

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې هماغه دی: هر څه چې په آسمانونو کې دي، او هر څه چې په ځمکه کې دي، د خدای تعالی تسبيح کوي.

د جمعه او تغابن سورتونه [دا ډول پيل کېږي: «يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ...» هر څه چې په آسمانونو کې دي، او هر څه چې په ځمکه کې دي، د خدای تسبيح کوي. د اعلی سورة کې هم په تسبيح امر کوي: «سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى».

په دې پنځه سورتونو کې يې، [د تسبيح فعل] په دريو موردونو کې، په ماضي بڼه، او په دوو موردونو کې يې، په مضارع بڼه ذکر کړی دی. خو د «ما» له کلمې سره: «هر څه» چې په آسمانونو او ځمکه کې دي، د خدای تسبيح کوي. خو قرآن کريم، د سجدو حقيقت هم څرګندوي، وايي؛ دا ستاسو سجدې، چې تاسو يې نماينده ګي، او نندارې وړاندې کوئ. [په ټولو موجوداتو کې شته.] مور چې سجدې کوو، زمور د خضوع او عاجزی، ښکارندوی دي. قرآن وايي؛ ټول موجودات خدای تعالی ته سجده کوي، لمر او سپوږمۍ او ستوري خدای تعالی ته سجدې کوي، خو البته دا معلومه ده، مقصد دا نه دی، چې مثلاً لمر هم لکه زمور په څېر، يو تندی ولري، او خپل تندی پر خاورو ږدي؛ نه، زمور دا عمل، چې د خضوع او عاجزی، د اِنتها ښکارندوی دی، ددې لپاره دی، چې روح مو خضوع، پيدا کړي. نو مور دا ډول آيتونه، په قرآن کې لرو. چې په په هغوی کې، د «سبّح» يا «يسبّح» تعبير، کارول شوی دی.

ځېنې نور آيتونه لرو، چې په هغو کې، دا مطلب په بله بڼه بيان شوی دی؛ مثلاً بيان شوی دی، چې جماداتو يا نباتاتو او يا حيواناتو، له پلانکي الهي معنوي مقدس مقام سره، د خدای تعالی په حمد او تسبيح کې هم غږي کوله. قرآن د «ص» په مبارک سورة کې، د حضرت داود (ع) په اړه داسې وايي: «...وَاذْكُرْ عَبْدَنَا دَاوُودَ ذَا الْأَيْدِ إِنَّهُ أَوَّابٌ» [ص۱۷(۳۸:۱۷)] «...او زمور بنده داود په ياد راوړه چې [د مخالفينو په زغم کې صابر او] غښتلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو. هغه په ربنتيا [له هرې هېرونې او خطا سره] تل بېرته ستنېدونکی وو»، يعنې له غير خدای څخه پرې شوی، او له خدای تعالی سره ټرلی وو. ورپسې د داود(ع) په اړه وايي: «إِنَّا سَخَّرْنَا الْجِبَالَ مَعَهُ يُسَبِّحْنَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِشْرَاقِ. وَالطَّيْرَ مَحْشُورَةً كُلٌّ لَهُ أَوَّابٌ» [ص۱۸(۳۸:۱۸) او ۱۹] مورِ غرونه له هغه سره [د کانونو د را اېستلو لپاره] ايل [او تسخير] کړل چې شپه او ورځ يې، تسبيح کول. او الوتونکي [هم] چې، ټول [د هغه په فرمان] د هغه لور ته، بېرته ستنېدل. هر ګهيځ او مانښام، چې داود د خپل خدای تسبيح کولې، دا غرونه او الوتونکي له داود سره هم غږي ول، او د خدای تعالی تسبيح يې کولې.

د تسبيح او تحميد د آيتونو له جملې، همدا د نور سورة آيتونه دي. چې بيا هم نظير او بېلګه يې، په قرآن کريم کې شتون لري. دلته مخاطب يې، پخپله پيغمبر اکرم(ص) دی. فرمايي: «أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُسَبِّحُ لَهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ...» آيا و دې نه ليدل [= پام دې نه دی کړی] چې، بې له شکه هغه څه چې، په آسمانونو او ځمکه کې دي. يوازې الله ته تسبيح [=وجودی مثبت رول سرته رسونه] کوي؟ دا چې وايي: «هر څوک چې په ځمکه کې دي» ځانګړنه يې، يوازې مؤمنينو ته نه کوي.

وايي: «وَالطَّيْرُ صَافَّاتٍ» ای پيغمبره! آيا د الوتونکو تسبيح دې، په داسې حال کې چې، د آسمان په اوچتوالي کې يې، ليکه ايستلې، و نه ليدلې؟ له دې پورته چې وايي: «كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهُ وَتَسْبِيحَهُ» هر يو له دوی [غرونو، ونو، الوتونکو، انسانانو او هر يو موجود چې تسبيح کوي] په خپلو تسبيحاتو آګاه دي، په خپل نمانځه آګاه او پوه دي. هېښوونکې لا دا چې، دا چار يې په [صلاة] «نمانځه» تعبير کړی. و مو ويل؛ په يو ځای کې يې، په «تسبيح» او «حمد» تعبيروي. او په يو ځای کې يې، په «سجود» تعبير کړی دی. دلته يې اصلاً په «صلاة»، تعبير کړی دی.

که څه هم ځينو مفسرينو ويلي؛ له «صلاة» څخه مقصد دعا ده، خو موخه يې همدا نمونځ دی، چون د نمانځه روح هم دعا ده. پخپله قرآن په

(c) ketabton.com: The Digital Library

«صلاة» تعبير کړی دی وايي: دوی نمونځ لري، او پخپل نمونځ آګاه دي، او د هغوی خدای هم، د هغوی په کار پوه دی. «وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِمَا يَفْعَلُونَ» او الله پر هاغه څه چې کوئ، پوهېږي. خدای تعالی هم، د هستۍ ددې سترې کارخانې د مدير په عنوان، پر هر هغه څه پوهېږي، چې هر څوک واقعاً څه کار سر ته رسوي، او هيڅ مهال له خپلې کارخانې، غافل نه دی.

د دوه څلوېښم آية، ترجمه شرح او تفسير

وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَإِلَى اللَّهِ الْمَصِيرُ﴿۴۲﴾

د آسمانونو او مځکې مالکيت [واکمني، چارواکي او ټولواکي] يوازې د الله دي او کېدنه او ستنېدنه [د ودې او کمال په لور د پديدو يون] د الله په لور دي.[۴۶]

وَلِلَّهِ	مُلْكُ	السَّمَاوَاتِ	وَالْأَرْضِ	وَ	إِلَى اللَّهِ	الْمَصِيرُ
او د الله لپاره	واکمني	د آسمانونو	او ځمکې	او	د الله په لور دی	بېر ته تګ

---

۴۶ – د «صيرورت» معنا، کيدل، تحول موندل، اووښتون او رسيدل دي. لغت پوهانو مصير، د ميمي مصدر، او د مکان اسم، معنا کړی دی. يعني د ستنېدلو ځای [ستون ځای]، خو مصير له مرجع، او مسير سره توپير لري؛ په دې لغت کې، د اوښتونو پايله، او د پروسې محصول، په پام کې دی. د دغه لغت مشتقات، ۲۹ ځله په قرآنکريم کې، تکرار شوي دي. لکه: الی الله تصير الامور [امور (چارې) د الله لور ته ستنېږي]، اليک المصير، الی الله المصير، الی المصير، الينا المصير، بئس المصير، ساءت مصيرا، مصيرکم الی النار.

دا آيت چې نسبتاً لنډ دی، او د دوو جملو مجموعه ده، چې د مخکيني آية د ټرون، او بشپړوالي په مقام کې دی. کوم څيز چې له دې دوو جملو لاسته راځي، مفاد يې دادی: په لومړۍ جمله کې فرمايي: «وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ» او د آسمانونو او ځمکې ټول ملک د خدای تعالی دی، او يوازې هغه پورې اړه لري. ملک؛ هم مالکيت دی او هم واکمني ده، څوک چې پر دوی حکومت کوي، او څوک يې چې اداره کوي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول جهان اداره، د هغه د ځواک او قدرت، په لاس کې ده. د ټولو آسمانونو او ځمکې، بولندويي او واکمني، قدرت او ځواک، له هغه دی. ټول څيزونه، د هغه د اختيار، په قبضه او فرمان کې دي. د موجوداتو له ډلې، هيڅ داسې موجود نشته، چې د هغه له نفوذ او فرمانه خارج وي. دويمه جمله کې فرمايي: «وَإِلَى اللَّهِ الْمَصِيرُ» او مصير د الله پر لور دی. «مصير» د «صيرورت» له مادې دی او صيرورت يعنې له يوه حاله بل حال ته تلل دي، له يوې وضعې څخه بلې وضعې ته د بدلې او شکل تغييرېدل دي، لکه چې وايو؛ نطفه علقه شوه، او علقه مضغه شوه، او مضغه عظام وګرځېده، چې په پای کې د انسان بچی شو؛ جنين صَبی وګرځېد، صبی سړی شو. زمونږ جهان د «کېدلو او ګرځېدلو» جهان دی، د صيرورت جهان دی. که يو لرګی، په پام کې ونيسو؛ هاغه څه چې نن دا لرګی دی، هميشه دا لرګی نه دی، کوم بل څيز وو، چې «لرګی» شوی دی. او دا لرګی به هم، تل لرګی پاتې نشي، بيا به کوم بل څيز شي. يوه پوښتنه شته او هغه داده: دا خاوره چې آدم شي، او آدم چې خاوره شي، اوبه او خاوره او هوا مثلاً ونه شي، ونه حيوان شي، کوم حيوان انسان شي؛ ددې کېدلو او اووښتلو او ګرځېدلو پای، څه څيز دی؟ آيا همداسې يو بې موخې، او بې هدفه کېدل، او اووښتل دي؟ يو څيز بل څيز کېږي، بيا هغه څيز بل څيز کېږي، او هغه بيا بل څيز، او همدا ډول؟ يا نه، د ټولو د کېدلو او اووښتونو پای، او انجام د خدای په لور ده، او د معاد، روح او بدلون حقيقت هم همدا دی. چې دا جمله «وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَإِلَى اللَّهِ الْمَصِيرُ» په حقيقت کې همدا مطلب وايي:

ټول څيزونه له خدايه، او دخدای په لور دي. مفهوم يې له هاغه کريمه آية سره، يو شان دی، چې پخپله د قرآن په دستور، کله چې انسان د يو مصيبت په اړه واوري، هغه تلاوت کوي؛ «...إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ» [بقره۱۵٦(۲:۱۵٦)]. له دې توپير سره چې، هلته «إِنَّا» وايو، چې د کليمې له ظاهره څرګندېږي، چې انسان ته ځانګړې ده. خو له دې آيته حتا، تردې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کچې هم د ځانګړتیا، بوی نه راځي، وایي: ټول څیزونه له هغه دي، او ټول څیزونه د هغه لور ته دي. په واقعیت کې له همدې لامله چې ټول څیزونه له هغه دي، او د هغه دي، د هغه لور ته هم دي.

توحید یعنې همدا: [ټول څیزونه] له تا دي او تا ته دي او ستا ملکیت دی او ستا پر لور دي.

اوس د «نور» په دې سورة کې دوه له دوی: «لَکَ» او «اِلَیْکَ» [راغلي دي:] «وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَإِلَى اللَّهِ الْمَصِيرُ»، او داسې بربښي؛ چې دا آیة، د مخکیني آیة د تعلیل او لامل جوتولو، په مقام کې دی؛ یعنې مخکیني آیة کې یې چې وفرمایل: «ټول موجودات، د خدای تعالی تسبیح کوونکي، او د خپل خالق پیژاندي، حمد کوونکي او ستایونکي دي.» لامل یې دا دی؛ چې ټول څیزونه له هغه دي، او چون له هغه دي، د هغه پر لور دي؛ له همدې مخې، اصلاً ټول وجود یې تسبیح دی، صیرورت یې تسبیح دی، حرکت یې، یون یې او غورځنګ یې تسبیح دي.

په دې اړه مولوي ښه شعرونه لري وایي:

جزءها را رویها سوی کل است　　بلبلان را عشق با روی گل است
آنچه از دریا، به دریا می رود　　از همانجا کآمد آنجا می رود
از سر کُــه سیلهای تیز رو　　وز تن ما جان عشق آمیز رو
هر که او مهجور ماند از اصل خویش　　باز جوید روزگار وصل خویش

«وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ» له هغه دي، «وَإِلَى اللَّهِ الْمَصِيرُ» او د هغه لور ته دي. له همدې لامله چې له هغه دي، د هغه لور ته دي.

و مو ویل: د «صیرورت» معنا، کیدل، تحول موندل، اووښتون او رسیدل دي. لغت پوهانو مصیر، د میمي مصدر، او د مکان اسم، معنا کړی دی، یعنې د ستنېدلو ځای [ستون ځای]، خو مصیر له مرجع او مسیر سره، توپیر لري؛ په دې لغت کې، د اووښتونونو پایله او د پروسې محصول په پام کې دی. د دغه لغت مشتقات ۲۹ ځله په قرآنکریم کې تکرار شوي دي. لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

الى الله تصير الامور [امور (چارې) د الله لور ته ستنېږي] ، اليک المصير، الى الله المصير، الى المصير، الينا المصير، بئس المصير، ساءت مصيرا، مصيركم الى النار.

نو د مصير او مسير تر منځ توپير شته. مصير د پروسس کېدلو او بېرته ستنېدلو په معنا دی، يعنې جهان پر کوم لور روان دی. جهت او موخه يې کوم لور ته ده.

دا تحولات او اوښتونونه، چې کابو ١٦ بليون کلونه، له بيګ بنګ راهيسې تېر شوي دي، روان دي. په داسې حال کې چې دا بيګ بنګ، زمونږ جهان پورې اړه لري. مخکې له هغې څه خبره وه، يا په نورو ځايونو کې څه بيګ بنګونه دي، الله پرې پوهېږي. جهان کومې لور ته روان دی، کومې لور او طرف ته لګيا دی يون کوي، او پايله څه ده؟

آيا يو کهولت، زوړوالی او انتروپي پرې واکمنه ده، چې لګيا وي د زوال، نابودۍ او نشت پر لور روان وي. وايي؛ نه، جهان لګيا دی د خدای پر لور رشد او وده کوي، جهان مخ پر کمال دی.

که پاملرنه وکړو؛ زمونږ د ځمکې د کرې پر مخ، کوم ژوند شتون نه درلود، حيات په ډېرو ساده ډولونو کې، رامنځته شو. له يو سلولي ژوو پيل شو، همداسې پورته، پورته ته، تر پرمختلو موجوداتو پورې. چې په پای کې انسان رامنځته شو، نو جهان لګيا دی، د کمال او ودې پر لور روان دی. همدا راز انسان هم لګيا دی، وده او رشد کوي. عقل يې رشد کوي، او انسان مخ په لوړه، د ودې او تکامل په حال کې دی.

همداسې دا ټول جهان هم همداسې، د کمال پر لور روان دی. «وَإِلَى اللَّهِ الْمَصِيرُ» او مصير يې د خدای پر لور دی، او خدای تعالی په کلي توګه، بې نهايت مطلق دی. دا له آسمانونو او ځمکې وو، هغه خدای چې د هدايت نور يې زمونږ لپاره مقرر کړی دی، ټول آسمانونه او ځمکې يې هم هدايت کړي دي. دوی ټول بلد دي، او پر دې پوهېږي، چې خپل نمونځونه څه ډول وکړي. او تسبيح يې هم، همدا ډول دي، چې پر خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو دندو، بلد او رووړدي دي. راتلونکي آية کې له وريځو مثال ورکوي، او دا جوتوي دا ټول له الهي توحيده سرچينه نيسي:

د دري څلوېښم آية، ترجمه شرح او تفسير

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُزْجِي سَحَابًا، ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهُ ،ثُمَّ يَجْعَلُهُ رُكَامًا فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَالِهِ وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ جِبَالٍ فِيهَا مِنْ بَرَدٍ فَيُصِيبُ بِهِ مَنْ يَشَاءُ وَيَصْرِفُهُ عَنْ مَنْ يَشَاءُ يَكَادُ سَنَا بَرْقِهِ يَذْهَبُ بِالْأَبْصَارِ﴿۴۳﴾

آيا تا نه دي ليدلي [پام دې نه دی کړی] چې بېله شکه دا الله دی چې وريځې [د قطارونو او لړيو په بڼه په هوسا توګه] ځغلوي[۴۷] ورپسې د هغوي تر منځ پيوستون رامنځته کوي؛ ورپسې هغوی يو پر بل پوړ په پوړ تپي او انباروي، [له دې پرځه] وروسته، د باران څاڅکي [چې د شبنم په څېر وړو ذرو له پيوستونه جوړېږي] وينې چې؛ د هغې [وريځې] له منځه راوځي.[۴۸] او [همدا راز] له آسمانه، له هاغو غرونو څخه چې کنګل پکې دی، [واوره يا ږلی] نازلوي [اوروي]،[۴۹] وروسته هغه هر چاته [يا هر ځای ته] چې غواړي [د مقدرو نظامونو پر بنسټ] رسوي او له هر چا چې [يا هر ځای چې] غواړي ستنوي. [په دغه راز جوّي انقلاب کې دی] چې د بريښنا ځلا [تيزه رڼا چې د تالنده او بريښنا څخه رامنځته کيږي] يې نژدې دی چې سترګې يوسي [= سترګې ړندې کړي].[۵۰]

أَلَمْ تَرَ	أَنَّ	اللَّهَ	يُزْجِي	سَحَابًا،	ثُمَّ	يُؤَلِّفُ
آيا تا نه دی ليدلی	چې بېشکه	الله	روانوي	وريځې	بيا	يو ځای کوي

بَيْنَهُ	ثُمَّ	يَجْعَلُهُ	رُكَامًا	فَتَرَى	الْوَدْقَ	يَخْرُجُ
هغوی په خپل منځ کې	بيا	ګرځوي هغوی	پوړ په پوړ يو پر بل تپلې	نو وينې ته	باران	راووځي

مِنْ خِلَالِهِ	وَيُنَزِّلُ	مِنَ السَّمَاءِ	مِنْ جِبَالٍ	فِيهَا	مِنْ بَرَدٍ	فَيُصِيبُ بِهِ	مَنْ يَشَاءُ
له منځه د هغو	او نازلوي	له آسمانونو	له غرونو	په دې کې	له ږلی	نو رسوي هغه	چاته چې وغواړي

وَيَصْرِفُهُ	عَنْ مَنْ يَشَاءُ	يَكَادُ	سَنَا	بَرْقِهِ	يَذْهَبُ	بِالْأَبْصَارِ
او اړوي هغه	له چا چې خوښه يې شي	نژدې دی	برېښ	د برق د هغه	يوسي	سترګې

---

۴۷ – په دې آيت کې، د څرګندو موخو پر لور، د وريځو روانول او ځغلول، د «يُزْجِي» له فعل سره، توصيف شوی دی. [په: (يُزْجِي سَحَابًا) کې]. «زَجَوَ»، د يو څيز

(c) ketabton.com: The Digital Library

چلول يا روانول، په نرمۍ او ورو ورو، د هغه د مرتب کېدلو لپاره دی. لکه په صحرا کې د اوښانو قطار ته حرکت ورکول [مفردات راغب]. دا تشبيه، په آسمان کې د وريځو د شکل نيولو، مناسب تمثيل دی، چې له علمي پيژندل شوو واقعيتونو سره، انطباق لري. همدا رنګه، د روم د سورت ۴۸ آيت (۳۰:۴۸) هم، د وريځې او باران، له جبهه اي تشکيل سره تړاو لري. د دغو دوو آيتونو، انطباقي پرتله، د نارويژي پوهاند [بايرکنيس«Byerkness»]، د شلمې پيړۍ په لومړۍ نيمايي کې، د علمي اندونو بيانونکی دی. له مځکې څخه د وريځو آسماني نندارە، تل د داغونو او صفحه اي پوښښ په توګه ده. د وريځو ډيرۍ کېدنه، پېړوالی، او سر په سر کېدنه، هغه نکتې او نښې دي، چې د هغوی له دننه او يا له پاسه، او يا د محاسبو او اندازو نيولو له لارې، پېژندل شوي، او ټاکل شوي دي. په داسې حال کې، چې د دې آيتونو د نزول پر مهال، په عربستان کې شونی نه وو. د ډيرو توضيحاتو لپاره کولی شئ، د مهندس مهدی بازرګان ليکلي کتاب «باد و باران» ۳۷۲، ۳۸۱ او ۴۰۶ مخونو ته مراجعه وکړئ.

۴۸ – «وَدْقَ» د باران لومړنۍ يا ابتدايي وړې دانې، چې غټېدونکې او زېږوونکي دي. چې د وريځو په مختلطو ډيريو کې، په منځني لوړوالي کې يې، په تشکيل او زېږنده پيل کړی، په ټيټو طبقو کې لوړېږي، او د وريځو له منځ منځه راوځي.

۴۹ – که د وريځو ډيرۍ، د فشار تر اغيز لاندې ۶ کيلومټره، اوچتې لاړې شي، تودوخه يې ۶۰ درجې راټيټېږي. په داسې ډول چې حتا د ګرمسېرو سيمو په اوړي کې کېدی شي، د اوبو د بخار په تقطير او د قطرو په کنګل کيدو کې، د کنګلي ستنو او يا صدفونو، او د واورې د پشمونو، په شکل واوړي.

توپانې باران، له هاغو تېل شوو طبقه اي وريځو څخه اوري، چې تر ۱۰ کيلومټرو لوړوالي څخه زياتې اوچتېږي. دغه اړ شنده او زوړنده وريځې، د غرونو بڼه غوره کوي، چې پورتنۍ برخه يې، د کنګلي ستنو او د واورينو پانو په توسه پټې، او کله نا کله هم له ږلۍ ډکې وي.

له لومړنۍ نړيوالې جګړې تر مخه، چې الوتکو وکولی شو د وريځو پاسنيو برخو ته ورسېږي، او پېلوټان له کنګله اوبدل شوې پردې، چې هماغه لوړې وريځې دي، ووينې. هيڅوک په وريځو کې، د کنګل يا واورې او ږلۍ له شتون څخه، خبر نه وو. دا قضيه، له نيغ په نيغه کتنو، او ترموډينامېکي محاسباتو وروسته، کشف او وټاکل شوه. [مهندس مهدی بازرګان ــ مجموعه آثار ۷ ــ ۳۰۸ مخ].

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵۰ – د مرطوبو گرم شوو بادونو، انقلابي او طبقه په طبقه اوچتېدل، او له کنګل شوو او تپلو وربځو څخه، د لوړو غرونو تشکيلېدل، چې د پرله پسې بريښنا او تندر په مېنځ کې، له شديد توپان سره مل وي. [هماغه ــ ۳۰۹مخ].

دا آيت، هم د «نور» د مبارک آية، د پرله پسې لړۍ يوه کړۍ ده. او دا ټول آيتونه، يوه موخه او هدف تعقيبوي. او هغه هدف همدا دی، چې د عالم ټول موجودات، په يوه روښنايي کې استوګن دي. ټول د خدای په نور روښانه دي، او د يوې حکيمانه ارادې په توسه، تدبير کېږي. له دې مخکې مو، چې کوم وروستي آيتونه تفسير کړل؛ له ظاهري ليده پټ، يو عمومي جريان يې، مور ته بيان کړ، چې د موجوداتو له تسبيح څخه، عبارت وو. خو په دې او په ورپسې آية کې، د جهان له ظاهري ښکارندو څخه، دوه ښکارندې مور ته بيانوي. او په ځانګړي توګه، ددې آيتونو په پای کې، دا تعبير شتون لري، چې مور له حقيقت وينو سترګو او د عبرت له ليد [نافذ او نفوذ کوونکی ليد] سره، په دوی کې وګورو.

دا دوه ښکارندې يوه د باد او باران او واورې او ږلی پورې، او په اصطلاح جوي مسئلو پورې اړه لري. او بله يې د حيواناتو په خلقت، علم الحيوان يا ژووپوهنې پورې اړه لري.

البته قرآن، ددې مطالبو له ذکر څخه خپل ځانګړی هدف تعقيبوي؛ ددې مطلبونو له بيانولو څخه، د قرآن هدف، د هوا پېژندنې د پوهاند يا د يو ژووپوهاند له هدف سره، توپير لري. قرآن ددې ټولو مسئلو له توضيحاتو غواړي، هاغه لارې چې، دا مسئلې يې توحيد او خدای پېژندنې او معنويت ته لري، بشر ته وړاندې کړي. قرآن تل په هر څيز کې توحيد لټوي، غواړي د انسان او خدای تر منځ، د اړيکي يو پُل او يوه لار رامنځته کړي؛ د قرآن موخه او هدف همدا دی.

اوس د لومړي آية په اړه چې و مو ويل د اټموسفير او هواپېژندنې په اړه دی، په لنډه توګه توضيح وړاندې کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

«أَلَمْ تَرَ» آيا نه ويني، پاملرنه دې نه ده کړې. «أَنَّ اللَّهَ يُزْجِي سَحَابًا» په تحقيق سره دا الله دی، چې دې وريځو ته، په آرامۍ حرکت ورکوي [يُزْجِي لکه د اوښانو د قطار په څېر چې په آرامۍ حرکت ورکوي]، يعنې دا لمر چې د اوقيانوسونو پر سينو لګېږي، او دا د بخار ذرې چې له اوبو پورته کېږي، خداى تعالى دا ټول په آرامۍ راټولوي، د باد ځواک دا ټول وړي «يُزْجِي سَحَابًا» وربځې د اوقيانوسونو له سينو راټولوي.

په دې آيت کې، د څرګندو موخو پر لور، د وربځو روانول او ځغلول، د «يُزْجِي» له فعل سره توصيف شوی دی، [په: (يُزْجِي سَحَابًا) کې]. «زَجَوَ»، د يو څيز چلول يا روانول، په نرمۍ او ورو ورو، د هغه د مرتب کېدلو لپاره دی. لکه په صحرا کې، د اوښانو قطار ته حرکت ورکول [مفردات راغب]. دا تشبيه، په اسمان کې د وربځو د شکل نيولو لپاره، مناسب تمثيل دی، چې د علمي پيژندل شوو، واقعيتونو سره انطباق لري.

«ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهُ» ورپســې ددې ذراتو تر منځ تأليف کوي [د کتاب د تأليف په څېر، چې توري يو له بل تر څنګ، ايښوول کېږي، جمله رامنځته کېږي. جملې يوه له بلې سره ايښــوول کېږي، متن ترې جوړېږي، چې په دې ترتيب کتاب تأليف کېږي. تأليف قلوب، يعنې کوم کســان چې، يو له بل سره دښــمنان دي، تاســو دوی يو تر بله نژدې کړئ، روغه يې وکړئ او دوســتان يې کړئ]، خداى تعالى، دا د رطوبت ذرې ترکيبوي، تاليف کوي، راټولوي يې، جمع کوي يې، او په پای کې د وربځو ټودې، بارې او انبارونه او ډېرۍ رامنځته کېږي.

«ثُمَّ يَجْعَلُهُ رُكَامًا» ورپسې دوی متراکم کوي، يو د بل له پاسه يې تپي، پر پرېږو او ګڼو طبقو بدلېږي. «فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَالِهِ»، وَدْقَ ډېرو وړو ذرو ته وايي، د شبنم په څېر چې، لا د باران يا اورښت په کچه نه دي، خو د باران لپاره، بنسټيزې ذرې تشکيلوي. نو «وَدْقَ» د باران لومړنۍ وړې دانې، چې غټېدونکې او زېرووونکي دي. چې د وربځو په مختلطو ډيريو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې، په منځني لوړوالي کې يې، په تشکيل او زېرنده پيل کړی. په ټيټو طبقو کې لوړېږي، او د وربځو له منځ منځه راوځي. په پيل کې باران، په دې ډول د وريځو په خلال او منځ منځ کې، توليدېږي. په دې پړاو کې دا وړې ذرې، چې د اورښت لپاره بنسټيزې ذرې دي، د وريځو له منځه راوځي، او يو له بل سره يو ځای کېږي، درنېږي او د باران په دانو بدلېږي.

«وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ جِبَالٍ فِيهَا مِنْ بَرَدٍ» او خدای تعالی له آسمانه، له هاغو غرونو نازلوي چې په هغه کې له کنګله [له واورې او ږلی څخه] دي، يعنې د وربځو له هاغو غرونو څخه چې په هغوی کې کنګل دی.

«فَيُصِيبُ بِهِ مَنْ يَشَاءُ وَيَصْرِفُهُ عَنْ مَنْ يَشَاءُ» د يو مشيّت او قانون مطابق، ځينو ته رسېږي، او يو شمېر ته نه رسېږي. دا يو قانون او نظام لري، او په ټولو ځايونو کې يو شان نه دی. ځينو ځايونو کې ډېر باران اوري، او په ځينو ځايونو کې ډېر لږ اورېږي. په ځينو ځايونو کې ډېره واوره اورېږي، او په ځينو ځايونو کې هيڅ نه اورېږي.

پاملرنه وکړئ، دا خبرې ۱۴۰۰ کاله مخکې ويل شوي دي. که مور د روم سورة اته څلوېښتم آية ته چې د جوّي بسکارندو اووه پړاوونه پکې توضيح شوي دي، پاملرنه وکړو له دې آية سره ډېر ورته والی لري، چې دلته به لنډه اشاره ورته ولرو.

دا دواړه آيتونه، يو تر بله ډېر نژدېوالی لري، البته له لږ توپير سره داسې ګڼل کېږي، چې دا دواړه آيتونه د يو آية مجموعه وي.

د «نور» ۴۳ آية کې چې فرمايي: «أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُزْجِي سَحَابًا، ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهُ، ثُمَّ يَجْعَلُهُ رُكَامًا فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَالِهِ...».

د روم سورة ۴۸ آية کې فرمايي: «اللَّهُ الَّذِي يُرْسِلُ الرِّيَاحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَيَبْسُطُهُ فِي السَّمَاءِ كَيْفَ يَشَاءُ وَيَجْعَلُهُ كِسَفًا فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَالِهِ...»

[«الله» هاغه ذات دی، چې بادونه ليږي، نو هغه وربځې پورته کوي؛ او هر څنګه چې وغواړي [= د الهي قوانينو مطابق] هغه په آسمان کې خپروي. او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

[تپل شوو او متراکمو] غونډونو په بڼه يې اړوي، هغه مهال د اورښت څاڅکي وينې، چې د هغوی له منځه راوځي...].

د روم سورة دا آية وايي: خدای تعالی حق ذات دی، هغه چې بادونه لېږي. لومړنی نکته چې ويل شوې، هغه دا ده چې، قرآن په ځېنو موردونو کې، باد په «ريح» [باد] او په ځېنو موردونو کې يې په «رياح» [بادونو] تعبير کوي. د څېړنو پر بنسټ، چې سر ته يې رسولي دي؛ هر ځای کې چې دا کليمه، د مفرد په بڼه راغلې ده، هغه ځای کې کوم بادونه چې ذکر شوي دي، هغه بادونه د ويجاړۍ، خرابۍ، هلاکت او عذاب منشاء دي.

لکه: «وَفِي عَادٍ إِذْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الرِّيحَ الْعَقِيمَ» [ذاريات ۴۱(۵۱:۴۱)]. «او [هم] د عاد [د قوم] په داستان کې [ډېر عبرتونه دی] هغه مهال چې شنډه سپېره سيلۍ مو پر هغوی ولېږله.» خو دلته د روم په سورة کې چون قرآن د رحمت بادونه بيانوي، د «رياح» کليمه راوړي. ددې موضوع د بڼه درک لپاره د [باد او باران په قرآن کې] کتاب مطالعه گټوره ده.

«فَتُثِيرُ سَحَابًا». «تُثِيرُ» د ثَوَرَ [ث ـ و ـ ر] له مادې دی. ددې مادې اصل «انقلاب» دی. عربان انقلاب ته «ثوره» وايي، او غويي ته هم له دې کبله «ثور» وايي، چې د ځمکې د يِوِې کولو، يعنې د ځمکې د اړولو سبب کېږي. نو د اړولـو او د لاندې بـاندې کولو په اعتبار، هغه ته «ثور» وايي؛ او پر دې بنا «اثاره» خپرول، او شيندل دي، چې کله ويل شوي دي. خو يوازې شيندلو او خپرولو ته يا په بل عبارت عادي شيندلو او خپرولو ته «اثاره» نه وايي، «اثاره» هاغه شيندل او خپرول دي، چې په هغې کې، اړول او ښکته پورته کول، هم وي. دا يې اوس جوته کړې ده، چې د وربڅو او بادونو د بڼې نېولو پر مهال، يو لړ انقلابونه او خوځښتونه، په جو او فضا کې واقع کېږي. چې واقعاً ثور او اثاره دي، نه يو لړ عادي حرکتونه.

«...فَيَبْسُطُهُ فِي السَّمَاءِ كَيْفَ يَشَاءُ ...» په پيل کې، دا وريځې پراخوي، لکه څنګه چې دسترخوان غوړوي. چې وايي خپرې شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورېځې د هغه څه مطابق، چې د هغه حکمت او مشيّت يې وغواړي. خو هواړې خپرې شوې ورېځې، د باران منشاء او سرچينه نه ده، مګر دا چې وروسته له هغې، چې راټولې، او يو پر بل باندې تپلې، باره او ومنډلې شي «وَيَجْعَلُهُ كِسَفًا». او حتا په ورپسې پړاو کې، «رُکام» يعنې لا متراکمې او وتپلې شي. اصلاً دا بيان پخپله څرګندوي؛ کوم باران چې غواړي نازل شي، يو نظام په دې جو او فضا کې طی کېږي. يو باد بايد وي او ... او د قرآن په ډېرو تعبيرونو کې، د «تصريف رياح» [د بادونو ګرځولو] کليمه ورته کارول شوې ده. دا هم [د قرآن پر اعجاز] بل دليل دی، چون انسان د ظاهري ليد پر بنسټ انګېري، چې د باد حرکت افقي حرکت دی. يعنې همداسې د ځمکې پر مخ، سم حرکت کوي. خو وسمهال جوته شوې ده، چې د باد حرکت تل دوري دی، تاوېږي او څرخېږي. او البته ددې ټولو اختلافونو ريښه، د هوا د تودوالي او سوړوالي، په ميزان کې ده، توده هوا سپکه ده، او سړه هوا درنده ده، چې ريښه يې د لمر په نور کې ده. او سربېره پر دې، له جوّ څخه بيرون هم، نور لاملونه او ريښې لري.

له دې وروسته فرمايي: «... فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَالِهِ ...» د باران دانې وينې، چې د ورېځو له منځ منځه راووځي. [دا د روم سورة کې دي.]

د نور سورة په دې آية کې هم، ورته تعبيرونه، له لږ توپير سره ذکر شوي دي. دلته د باد ذکر نه دی راغلی، همدومره وايي: «أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُزْجِي سَحَابًا...» آيا نه وينې؟ چې خدای تعالی ورو ورو، آرام آرام ورېځې ځغلوي؟ هلته يې وويل؛ د ورېځو ځغلولو لپاره يې، باد ولېږه. دلته وايي: خدای [ورېځې] ځغلوي. دا پخپله د پاملرنې وړ نکته ده، او هغه نکته داده چې، قرآن هر څه چې خدای ته نسبت ورکوي، د اسباب او وسايطو د نفې په معنا نه دی. په دې معنا دی، چې ټول اسباب، د هغه په ارادې څرخي. نو که يو ځای کې وايي: باد لېږي، او دا باد ورېځ ځغلوي. او يو ځای وايي: خدای ورېځ ځغلوي، دا تناقض نه دی؛ هاغه ځای کې چې باد يې ځغلوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم خداى يې ځغلوي. چون باد هم، له يو سبب او وسيلې پرته، بل کوم څيز نه دى، چې خداى تعالى هغه خلق کړى او پنځولى.

«... ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهُ...» تأليف؛ يعنې موجودې چارې، په يو ځاى کې جمع کول، او د هغوى تر منځ، الفت او وحدت برقرارول دي. په دې آية کې، خداى تعالى، همدا خپرې او ګډې وډې ورېځې، د همدغه باد په توسه جمع کوي، د يو مؤلف په څېر يې تأليف کوي، يو ځاى کې يې را ټولوي، او له دې ځايه، د ورېځې يوه غټه کتله رامنځته کوي. د روم سورة کې وايي «وَيَجْعَلُهُ كِسَفًا» [يعنې ورېځې، يو پر بل باره او وتپل شي.] او دلته وايي «ثُمَّ يَجْعَلُهُ رُكَامًا». د «رکام» پراو، يوه اوچتتره مرحله ده: نه يوازې پرانېستې، خپرې او پشمک وزمه ورېځې، راټولې او تپل کېږي، بلکې متراکمې ورېځې ښه نيسي. ورېځې د ورېځو د پاسه، او ډېرې ورېځې د ورېځو د پاسه ځاى نيسي، چې دا يو ډېر تپل شوى حالت بيانوي. «... فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَالِهِ...». بيا هم کومه نتيجه چې يې هلته ويلې، دلته يې هم ويلې ده: د باران دانې وينې، چې د ورېځو له منځ منځه راتويږي.

که د ورېځو ډيرى، د فشار تر اغيز لاندې، ٦ کيلومټره اوچتې لاړې شي، تودوخه يې ٦٠ درجې راټيټېږي. په داسې ډول چې، ان تر دې چې د ګرمسېرو سيمو په اوړي کې، د اوبو د بخار په تقطير او د قطرو په کنګل کيدو کې، د کنګلي ستنو او يا صدفونو، او د واورې د پشمونو په شکل بدلېږي. توپانې باران، له هاغو تپل شوو طبقه اي ورېځو څخه اوري، چې تر ١٠ کيلومټرو لوړوالي څخه زياتې اوچتېږي. دغه اېشنده او زوړنده ورېځې، د غرونو ښه غوره کوي. چې پورتنى برخه يې، د کنګلي ستنو او د واورينو پاڼو په توسه پټې، او کله هم له ږلى ډکې وي. له لومړى نړيوالې جګړې تر مخه، چې الوتکو وکولى شو، د ورېځو پاسنى برخې ته ورسېږي، او پېلوټان له کنګله اوبدل شوې پردې، چې هماغه لوړې ورېځې دي، ووينې، هيڅوک په ورېځو کې، د کنګل يا واورې او ږلى له شتون څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبر نه وو. دا قضیه له نیغ په نیغه کتنو، او ترمودینامیکي محاسباتو وروسته، کشف او وټاکل شوه. [مهندس مهدی بازرگان ــ مجموعه آثار ۷ ــ ۳۰۸ مخ].

د نور په دې آیة کې، یو مطلب ذکر شوی دی، چې د پخوانیو علماو لپاره یې، د تعبدی منلو پرته، بله هیڅ معنا نشوای کولی ولري. او هغه دا دی: «...وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَاءِ...». خو یو مطلب ته باید پاملرنه ولرو، چې «سماء» د «آسمان» له کلیمې سره، چې مورِ یې خپلو خبرو کې وایو توپیر لري. مورِ معمولاً سماء په آسمان ترجمه کوو. خو آسمان چې فارسي کلیمه ده، له دوو کلیمو «آس» او «مان» مرکّب شوې ده.

آس یعنې د تیرې پَل چې څرخي. نو دا آس، یا دا ډبرین پَل چې څرخي، که «لاسي» وي یعنې «میچن» وي هغه ته وایي «دست آس» یا «آس دستی»، که «آبي» وي یعنې په اوبو وځرخي هغه ته وایي «آسیاب» یعنې آس آبی، او په هر حال آس د هماغې ډبریز پَل نوم دی چې څرخي. آسمان یعنې هاغه څیز چې، لکه د آسیا د ډبریز پَل په څېر څرخي. [آسمان = آس مانند]. نو «آسمان» زمورِ په ژبه کې، یعنې فلک چې لکه د ژرندې د پَل په څېر څرخي. خو «سماء» یعنې هاغه څه، چې پورته یې قرار نېولی، د «سمّو» له مادې دی او سمّو یعنې علّو.

قرآن هر هاغه څه ته چې زمورِ په پورته کې یې قرار نېولی، «سماء» ویلی دی. لمر هم سماء دی، ستوري هم سماء دی، وریځ هم سماء دی، او حتاء قرآن کله خپله باران ته هم «سماء» وایي: «يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا» [نوح ۱۱(۷۱:۱۱)]. چون له پورته راځي، هغه ته «سماء» وایي؛ او قرآن غیبي او ملکوتي او معنوي چارو ته هم «سماء» وایي، چون د معنا له لیده یې، په اوچتتر مقام کې یې قرار نېولی دی: «وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ...» [انعام۱۸ (٦:۱۸)] هاغه څه چې پر مورِ قاهر او مسلّط دي، او پر مورِ له پاسه او پورته یې قرار نېولی دی، قرآن هغوی ټولو ته «سماء» وایي. نو دا باید اشتباه نشي؛ [«سماء له آسمان سره یو نه دی.].

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا قرآن، چې په ډېرېو موردونو کې وايي؛ له «ورېځې» باران لېږو. دلته وايي؛ له «سماء» باران لېږو، چون دلته سماء، پخپله همدا ورېځ ده، او ورېځ سماء ده؛ «...وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَاءِ ...» او له پاسه يې تدريجاً لېږي. دلته پاملرنه وکړو چې: د «يُنَزِّلُ» معنا ده تدريجاً، يعنې ورو ورو رالېږي. د «انزال» او «تنزيل» تر منځ توپير شته دی.

«انزال» يو دفعه يي بشکته کولو ته وايي، لکه «إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ» [قدر ۱ (۹۷:۱)] چې د قرآن يو دفعه ئي نزول بيانوي. «تنزيل» تدريجي نزول دی. دا څرګنده ده؛ چې باران او ږلی، تدريجاً او ورو ورو راځي، نو ځکه د «يُنَزِّلُ» تعبير کارول شوی دی.

«مِنْ جِبَالٍ فِيهَا مِنْ بَرَدٍ» د [يخ، ږلی] له غرونو. يعنې څه؟ په دې وروستيو کې، د اوسنيو پوهانو په توسه، دا مطلب کشف شوی دی، چې د فضا او جو په پورتنيو طبقو کې، چې کله ورېځې يو پر بل متراکم کېږي، هوا ډېره يخېږي، او هلته سم لکه د يخ د غره په څېر شتون مومي؛ او د قرآن دا تعبير، واقعاً معجزه ډوله او هېښوونکی دی. په دې هيڅوک نه پوهېدل، چې هلته پورته په فضا کې، دا ډول څيزونه شتون لري؟

نو د روم د سورت ۴۸ آية (۳۰:۴۸) هم د ورېځې او باران د جبهه يي تشکيل سره، تړاو لري. د دغو دوو آيتونو انطباقي پرتله، د نارويژي پوهاند «Byerkness» د شلمې پېړۍ په لومړۍ نيمايي کې، د علمي اندونو بيانونکی دی. له مځکې څخه د ورېځو آسماني نداره، تل د داغونو او صفحه يي پوښښ په توګه ده؛ ډيرۍ کېدنه، پېړوالی، او سر په سر کېدنه، هاغه نکتې او نښې دي، چې د ورېځو له دننه، او يا له پاسه، او يا د محاسبو او اندازو نيولو له لارې، پېژندل شوي او ټاکل شوي دي. په داسې حال کې چې ددې آيتونو د نزول پر مهال، په عربستان کې دا کار شونی نه وو. د ډيرو توضيحاتو لپاره کولی شئ د مهندس مهدی بازرګان ليکلي کتاب «باد او باران» ۳۷۲، ۳۸۱ او ۴۰۶ مخونو ته مراجعه وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعنې په علمي توګه، په شلم قرن کې، نوموړی نارويژي پوهاند وو، چې د لومړي ځل لپاره يې، وکولی شول، د ورېځې د تشکيل پړاوونه، او د باران د اورېدو مرحلې او پړاوونه، د يو فورمول په توسه وړاندې کړي. يعنې د شلم قرن ړومبي کلونه وو، چې پر دې پوه شول، او تر دې مخکې څوک نه پوهېدل، چې اصولا ورېځ او باران څه ډول تشکيلېږي. او دا چې پورته د ورېځو په منځ کې، د يخ غر دی، هيڅوک خبر نه ول.

دا خو ټول له لومړي نړيوال جنګ څخه وروسته، چې الوتکو وکولی شو پورته لاړې شي، دا نه چې ټکر يې ورسره کړی دی، بلکې دا په پرانېستې توګه، د ستنو په بڼه يخ او د واورې د وړو ټوټو په توګه يې، په هاغه مهال کې وکتلې چې کله دا د هوا ټُوده ډېر اوچتوالی مومي، او لس کېلو متری ته رسېږي. دومره هوا يخه ده، چې پورته يې په بشپړه توګه د ستنو په بڼه دی، لاندينی برخه يې د واورې په بڼه ده چې اووښتونونه او پړاوونه يې، بشپړې تشريح ته اړتيا لري.

دا ټول تشريحات زمونږ په زمانې پورې اړه لري، چې د يو لړ علمي پراختياو په پايله کې، څرګند شوي دي. او هوا ته د الوت، او ترموډينامیکي فورمولونو په پايله کې، توضيح شوي دي. اصلاً له ځمکې د کتونکو لپاره، دا شونی نه دی، چې و کولی شي دا ټول پړاوونه وکتلی شي. نو دا چې ۱۴۰۰ کاله مخکې، په قرآن کې په دې اړه ويل شوي، نو ددې خبرو ويونکی، نشي کېدی انسان وي. دا چې ځينو ويلی؛ قرآن محمدي دی، يعنې پيغمبر ليکلی دی، هغوی دې له ځان سره اندنه وکړي، چې هغوی په خپلو داسې خبرو، څنګه ډاډه کېدی شي. ددې په څېر سلګونه موردونه، په قرآن کې شته. چې ۱۴۰۰ کاله مخکې بشر، هغه هم په يوه بيسواده ټولنه کې، چې حتا خپل نوم يې هم ليکلی نشو، وغواړي له جوي پديدو او ښکارندو خبره وکړي، چې بشر وکولی شو، په شلم قرن کې د علم او تجربو پر بنسټ، داسې نظريي ورکړي، چې دا خبرې پکې تعريف شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

«...فَيُصِيبُ بِهِ مَنْ يَشَاءُ وَيَصْرِفُهُ عَنْ مَنْ يَشَاءُ...» دا ډلې د هغه چا پر لور چې، خپله اراده يې اړيکه ونيسي، د مقدورو نظامونو پر بنسټ، د يو ځانګړي قانون او مشيّت له مخې، ځينو ته رسېږي او ځينو ته نه رسېږي؛ يعنې داسې و نه انګېرئ چې، د خداى کارونه، لکه د بشري کارونو په څېر دي. چې غشى له لينديۍ خطا شي، نور د غشي اچوونکي له اختياره، خارج دى؛ دا د بشر په کار کې دى. خو د خداى تعالى کار هيڅکله، د خداى تعالى له مشيّت، او له الهي سلطې، بيرون نه ځي.

ورپسې هاغه مهال ته اشاره کوي، چې رعد او برق [تالنده او برېښنا] رامنځته کېږي: «يَكَادُ سَنَا بَرْقِهِ يَذْهَبُ بِالْأَبْصَارِ» نژدې دى چې، د برېښنا نور يې سترګې يوسي، «سترګې يې وبريښوي» [دا هم يو آية دى] دلته خبره له هاغو توپانونو ده، چې پايله يې ډلې ده، چې معمولاً دا له تالنده او برېښنا سره مل دى، تالنده او برېښنا داسې ده، لکه چې غواړي سترګې ړندې کړي. «يَذْهَبُ بِالْأَبْصَارِ» لکه غواړي چې د سترګو نور يوسي. د مرطوبو ګرم شوو بادونو، انقلابي او طبقه په طبقه اوچتېدل، او له کنګل شوو او تپلو ورېځو څخه، د لوړو غرونو تشکيلېدل، چې د پرله پسې بريښنا او تندر په مېنځ کې، له شديد توپان سره مل وي [هماغه کتاب ـ ۳۰۹ مخ]. دا هم يو انقلاب، او اووښتون او يو لړ فعل او انفعالات، په طبيعت کې څرګندوي؛ که پوښتنه وشي؛ د واورې او باران د تشکيلېدلو دا نظام څوک ګرځوي او يا اداره کوي؟ د يخ او واورې او ډلې، تالندې او برېښنا، او باران مختلف حالتونه، او يو نظام د مځکې د کُرې، په مختلفو ځايونه کې، موجود دى. دا کوم لاس دى، چې دا ټول اداره کوي. ددې ټولو قضيو تر شا کوم لاس دى، چې له اوقيانوسونو اوبه پورته کوي، او د هغه په توسه، د ځمکې کره خړوبوي. چې اوبه د خړوبولو لپاره، د واورې په بڼه زېرمه کېږي، او د کال په اوږدو کې، ورو ورو ويلي کېږي، او د ځمکې لاندينيو سرچينو کې پاتې کېږي، ددې لپاره، چې انسان د کال په اوږدو کې ترې ګټه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څلور څلوېښم آية، ترجمه شرح او تفسير

يُقَلِّبُ اللَّهُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَعِبْرَةً لِأُولِي الْأَبْصَارِ﴿۴۴﴾

[په دې دول] الله شپه او ورځ يو په بل اړوي [= ځای پر ځای او ښکته پورته کوي]. په تحقيق سره په دغه [جوّی پديدو] کې د بصيرت خاوندانو ته عبرت دی.[۵۱]

يُقَلِّبُ اللَّهُ	اللَّيْلَ	وَالنَّهَارَ	إِنَّ	فِي ذَلِكَ	لَعِبْرَةً	لِأُولِي الْأَبْصَارِ
اړوي الله	شپه	او ورځ	بېشکه	په دې کې	هرومرو پند دی	د بصيرت خاوندانو لپاره

۵۱ – عبرت؛ له ظواهرو څخه عبور کول، او په باطن پوهيدل دي. هغه څوک چې دا جوّي انقلابونه، او يو په بل پسې د شپې او ورځې راتګ، مقدّر او مديريت کوي. [يُقَلِّبُ اللَّهُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ] په آخرت کې، په ستر او په ډېر زيات پراخ انقلاب، ځواکمن دی: وَإِلَيْهِ تُقْلَبُونَ، إِنَّا إِلَى رَبِّنَا مُنْقَلِبُونَ، أَيَّ مُنْقَلَبٍ يَنْقَلِبُونَ.

و مو ليدل چې؛ په تېر آية کې هم، قرآن د داسې کليمو له راوړلو سره مل، چې سل په سلو کې، د جوّي او فضايي کاياناتو له واقعيت سره، تطبيقېږي. او د بشر علم بايد يو زر او څو سوه کاله وروسته، هغوی ته ورسېږي. بيا هم خپله موخه او هدف تعقيبوي: دا ټول الهي آيتونه دي، د خدای تعالی نښې دي. خدای تعالی دی، چې دا نظم يې، چې په عالم کې ګومارلی دی: يو لمر بايد وي چې و ځلېږي، او پر هر ځای چې وځلېږي، هلته بايد حرارت او تودوخه پيدا کړي، حرارت بايد د هوا حجم زياتر کړي، توده هوا بايد پورته لاړه شي، او سړه هوا بايد ښکته پاتې شي. تَوده هوا په سړه هوا واچول شي، او وشېندل شي. سړه هوا له لاندې په توده هوا کې نفوذ کوي، چې باد ترې پيدا شي. ځمکه بايد د لمر په نسبت، په خاص وضعيت کې وګوماري، چې شپېنی ورځينی حرکت [وضعي حرکت] پيدا شي، چې په دې آيت کې فرمايي: «يُقَلِّبُ اللَّهُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ» خدای تعالی شپه او ورځ منقلب کوي [يُقَلِّبُ لاندې باندې کول]. پخپله دا شپېنی ورځېنې حرکت، چې طبعاً په مختلفو نقطو کې، د لمر د ځلېدو ميزان ته،

(c) ketabton.com: The Digital Library

په يو متغير حال کې ځای ورکوي. چې خدای تعالی په خپل بشپړ او کامل، مشيّت ګومارلی دی. او که الهي مشيّت او حکمت نه وای، دا راز مسئلو به په عالم کې، شتون نه وای موندلی. فرمايي:

«يُقَلِّبُ اللَّهُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَعِبْرَةً لِأُولِي الْأَبْصَارِ». [تقليب] ځای پر ځای کول دي. «قلب» هم له همدې مادې دی. د انسان قلب ته ولې «قلب» وايي؟ چون تل د تقلّب، يعنې حرکت او هيجان او ضربان، په حال کې دی. او په ځانګړې توګه، د انسان روح ته، له دې کبله «قلب» وايي، چې هره شېبه يې په يو خيال، او يوه اندنه او اندېښنه، کې دی. يو مهال يې مخ دې لور ته دی، او بل مهال يې مخ هغې لور ته دی. يو مهال په دې موضوع کې فکر کوي، او بل مهال پر هغه بله. يو وخت مينه او حب دی، بل مهال کرکه او بغض. يو مهال يې هوساينه او آرامي ده، بل مهال يې ربړ او نا آرامي ده.

خو د قلب اصل معنا، ځای پر ځای کېدل دي. «يُقَلِّبُ اللَّهُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ...» خدای تعالی، شپه او ورځ ځای پر ځای کوي؛ شپه وړي او ورځ راوړي، ورځ وړي شپه راوړي. البته د شپې او ورځې وړل، له همدې لامله دي، چې زمور ځمکه يې، د يوې ګرځنده کرې، په توګه ګومارلې ده. داسې يوه کره، سربېره پر دې، چې په کالنۍ توګه، په ۳٦۵ ورځو کې، يو ځل د لمر د کرې ګردچاپېره څرخي. پخپله هم، تل د خپل محور ګردچاپېره، څرخي. ځمکه له دې لامله، چې د خپل محور ګردچاپېر څرخي، تل شپه او ورځ، يو د بل ځای ناستی کوي. او پوهان وايي؛ چې د شپې او ورځې ځای ناستي کېدل، د جوي توکو او عاملونو د پيدايښت لامل کېږي، چون د هوا د فشار اختلاف رامنځته کوي. او طبعاً د باد د شتون لپاره، غورځنګ او يون رامنځته کوي، چې د ډېرو زياتو پېښو سرچينه ګرځي. او ظاهراً د دې سرّ او راز چې، قرآن د ورېځو د پيدايښت، او د باران د اورېدو له موضوع وروسته، دا موضوع ذکر کړې ده، دا د هاغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اغېز او رول لـــه لامله ده چې شپيني ورځيني ګرځېدل يې، د جوی توکو او کايناتو په پيدايښت کې لري. « يُقَلِّبُ اللَّهُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ...».

مطلب دا چې؛ شپه او ورځ خو همداسې نه ده، خدای تعالی يې د خپل مشيّت پر بنسټ ګرځوي، شپه راځي، ورځ راځي، يو پر بل سپرېږي، لاندې باندې کېږي. شپه او ورځ، د باد د رامنځته کېدو لامل کېږي، کله چې لمر د ځمکې پر کُرې لګېږي، هاغه برخه چې د لمر له وړانګو سره مخامخ کېږي، منبسطه کېږي، او پورته ځي د هاغو ځايونو په نسبت چې، د سمندر سطح ده، يا سړې سيمې دي، دغه برخه چې له نورو پورته ده، غواړي يو لېول ته ورسېږي، پر هاغې بلې برخې سپرېږي، هغه هم ترې لاندې حرکت کوي. يو سيکليک حرکت، د ځمکې د کُرې پر مخ، رامنځته کېږي. البته په مختلفو ځايونو کې؛ له استوا څخه قطب ته، له غره څخه سيند ته، او له سينده غره ته ځي، په مختلفو ډولونو بادونه، په راز راز بڼو لرو. چې عامل او لامل يې، شپه او ورځ ده. شپه او ورځ که نه وای، باد به نه وو. باد که نه وای، اوربښت به نه کېده. که اوربښت نه وای، ژوند او حيات به نه رامنځته کېده. نو دا څرخ څوک ګرځوي؛ «يُقَلِّبُ اللَّهُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ» الله تعالی شپه او ورځ، لاندې باندې کوي. [ځای پر ځای کوي].

«إِنَّ فِي ذَلِكَ لَعِبْرَةً لِأُولِي الْأَبْصَارِ» په تحقيق په دې مطلب کې، يو عبرت دی، د ليد د خاوندانو لپاره. د هغوی لپاره، چې ژور او بينا ليد ولري. عبرت؛ د عبور له مادې دی. يعنې د ظاهري پردو په لېرې کولو سره، له دوی عبور کوي، او د پردې تر شا څيزونه وينې. لېدل دوه ډوله دي: ځېنې ليدل دي، چې له هماغې کچې چې، په سترګو لېدل کېږي، ډېر نه دی. د حيوان لېدل، همدا ډول دي. يو حيوان او يا يو انسان د حيوان په برېد کې، يوازې جريانونه وينې، حادثې وينې خو دا چې ددې حادثو شا ته څه څيز دی، نور استنباط ترې نه لري. خو قرآن غواړي؛ چې مورِ د عالم په ټولو حادثو کې، دقت او ځيرنه وکړو، او د دوی راز او علت او سرّ او حکمت،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کشف کړو. که همدومره ووايو، چې سړکال الحمد لله، باران ډېر نه وو. خو تېر کال له بده مرغه، باران نه وو، سړکال واوره ډېره راغله، ورېځ شته، باران شته، ږلی شته؛ قرآن نه غواړي مور په همدې کچه قناعت او بسنه وکړو. غواړي يو عبرت په منځ کې وي، يعنې يو عبور په کار کې وي، يعنې مور د دوی په پټ راز پوه شو. او په دې رازونو کې هم بيا اصلي راز، او د رازونو راز، چې د خدای تعالی لاس دی؛ يعنې هره پرده چې لېرې کړو شا ته يې، يو څيز وينو. خو قرآن وايي پر دوی اکتفا مه کوئ، دومره مخکې لاړشئ تر هاغې چې ووينئ؛ د قدرت يو لاس دی، يو مشيّت دی، يوه اراده ده، يو علم او يو حکمت دی، چې ټول جهان ګرځوي:

«إِنَّ فِي ذَلِكَ لَعِبْرَةً لِأُولِي الْأَبْصَارِ» دا ټول عبرت دی، ومو ويل چې عبرت؛ يعنې له ظاهره عبور کول دي. مور ټول دا وينو، په خپل ټول عمر کې مو تل، دا ليدلي دي، خو عبور نه کوو. يعنې په هماغې کې، متوقف او تم کېږو. وايي په طبيعت کې، د خدای تعالی دومره زيات آيتونه دي؛ «وَكَأَيِّنْ مِنْ آيَةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يَمُرُّونَ عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُونَ» او څومره ډېر آيتونه دي په اسمانونو او ځمکه کې، چې دوی پرې تېرېږي، په داسې حال کې چې دوی له هغو نه مخ اړوونکي وي. [يوسف۱۰۵(۱۲:۱۰۵)]. شپه او ورځ له سلګونو آيتونو څخه تېرېږئ، خو تاسو له هغوی غافل ياست. کيدی شي له دوې عبرت واخېستل شي، او تري عبور وکړل شي. پيغام يې واخېستل شي، د چا لپاره؟ «لِأُولِي الْأَبْصَارِ» د هغوی لپاره عبرت دی، چې د بصيرت سترګې لري، او حقيقتونه وينې.

نو عبرت، لــه ظواهرو څخه عبور کــول، او په باطــن پوهيدل دي. تر دې برېده چې پوه شو، هاغه څوک دی چې دا جوّي انقلابونه، او يو په بل پسې د شپې او ورځې راتګ، مقدّر او مديريت کوي. [يُقَلِّبُ اللَّهُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ]. چې په آخرت کې، په لا ډېر نغاړونکي او ستر، او په ډېر زيات پراخ انقلاب، ځواکمن او توانمن دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

«يُعَذِّبُ مَنْ يَشَاءُ وَيَرْحَمُ مَنْ يَشَاءُ وَإِلَيْهِ تُقْلَبُونَ» [عنكبوت۲۱(۲۹:۲۱)]، «و إِنَّا إِلَى رَبِّنَا مُنْقَلِبُونَ» [زخرف۱۴(۴۳:۱۴)]، «قَالُوا لَا ضَيْرَ إِنَّا إِلَى رَبِّنَا مُنْقَلِبُونَ» [شعراء۵۰(۲۶:۵۰)]، «وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَيَّ مُنْقَلَبٍ يَنْقَلِبُونَ» [شعراء۲۲۷(۲۶:۲۲۷)]، «قَالُوا إِنَّا إِلَى رَبِّنَا مُنْقَلِبُونَ» [اعراف۱۲۳(۷:۱۲۳)].

لکه څنګه چې په تېر آية کې يې، د جهان له ظاهري ښکارندو څخه، يوه ښکارنده مورِ ته بيان کړه. چې د باد او باران او واورې او ږلی پورې، او په اصطلاح جوي مسئلو پورې اړه لري. او په ځانګړي توګه ددې آيتونو په پای کې، دا تعبير شتون لري، چې مورِ له حقيقت وينو سترګو، او د عبرت له ليد [نافذ او نفوذ کوونکی ليد] سره، په دوی کې وګورو. راتلونکی آية د ځمکې پر مخ د ژوند منځته راتګ ته يوه اشاره ده:

راتلونکی آية، د حيواناتو په خلقت، علم الحيوان يا ژووپوهنې پورې اړه لري. او البته دا مو ويلي، چې قرآن ددې مطالبو له ذکر څخه، خپل ځانګړی هدف تعقيبوي. ددې مطلبونو له بيانولو څخه د قرآن هدف، د هوا پېژندنې د پوهاند، يا د يو ژووپوهاند، له هدف سره توپير لري. قرآن له دې ټولو مسئلو له توضيحاتو، په پايله کې غواړي، هاغه لارې بشر ته وړاندې کړي، چې دا مسئلې يې توحيد، او خدای پېژندنې او معنويت ته لري. قرآن تل په هر څيز کې توحيد لټوي، غواړي د انسان او خدای تر منځ، د اړيکي يو پُل او يوه لار رامنځته کړي؛ د قرآن موخه او هدف کورټ همدا دی.

د پنځه څلوېښم آية، ترجمه شرح او تفسير

وَاللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَابَّةٍ مِنْ مَاءٍ فَمِنْهُمْ مَنْ يَمْشِي عَلَى بَطْنِهِ وَمِنْهُمْ مَنْ يَمْشِي عَلَى رِجْلَيْنِ وَمِنْهُمْ مَنْ يَمْشِي عَلَى أَرْبَعٍ يَخْلُقُ اللَّهُ مَا يَشَاءُ إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴿۴۵﴾

او الله هر يو خوځنده [= هر يو ژوندی موجود] يې له اوبو پيدا کړ، ځينې له هغو پر ګيډه خوځي [= ښوئيږي - کښيږي]، ځينې يې پر دوو پښو پر لار ځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ځيني پر څلورو [پښو پر لار ځي].[۵۲] الله هر هغه څه چې وغواړي [د نظامونو پر بنسټ] پيدا کوي. الله پر ټولو څيزونو قادر [= اندازه اېښوونکی] دی.

وَاللَّهُ	خَلَقَ	كُلَّ دَابَّةٍ	مِنْ مَاءٍ	فَمِنْهُمْ	مَنْ يَمْشِي	عَلَى بَطْنِهِ
او الله	پيدا کړی	هر خوځنده	له اوبو	نو ځينې له هغوی	هغه دي چې ځي	پر ګېډه خپله

وَمِنْهُمْ	مَنْ يَمْشِي	عَلَى رِجْلَيْنِ	وَمِنْهُمْ	مَنْ يَمْشِي	عَلَى أَرْبَعٍ
او ځينې له هغوی	هغه دي چې ځي	پر دوو پښو	او ځينې له هغوی	هغه دي چې ځي	پر څلورو

يَخْلُقُ اللَّهُ	مَا يَشَاءُ	إِنَّ اللَّهَ	عَلَى كُلِّ شَيْءٍ	قَدِيرٌ
پنځوي الله	هغه چې خوښه يې شي	بېشکه الله	پر ټولو څيزونو	قادر [اندازه اېښوونکی] دی

۵۲ – ددغه آيت څېړنه او غورچاپ، د فوسيل پېژندنې او ځمکپېژندنې د علم لاسته راوړنو ته له پاملرنې سره، د ژوندیو موجوداتو نسلي تړاو او تدريجي خلقت، په څرګنده توګه ښکاره کوي. مرحوم ډاکټر يدالله سحابي د خپل ارزښتناک کتاب «قرآن مجيد، تکامل و خلقت انسان» په ۳۵ تر ۶۴ مخونو کې، په مفصله توګه توضيحات ورکړي دي، چې لنډيز يې په لاندې ډول دی:

د «دابه» په کلمه کې، د اوبو او د هوا ټول خوځندګان شامل دي. له هغې ډلې: په «خَلَقَ كُلَّ دَابَّةٍ مِنْ مَاءٍ» کې څرګندېږي، چې ټول خوځندګان له ځانګړو او ناڅرګندو اوبو څخه، پيدا شوي دي. بيا وروسته د هغوی په خلقت کې، تغيرات رامنځته شوي دي.[په «فَمِنْهُمْ» کې] د «فا» له حرف څخه څرګندېږي، چې د ژوو له لومړني خلقت څخه، تر د لاروو [د پښو لرونکو] ژوو تر پيدايښته، يو زماني واټن وو. او د دغو دوو ډلو تر منځ، نسلي تړاو او اړيکو شتون درلود. د لومړنيو ژوو له خلقت څخه، ميليونونه کلونه تير شوي، تر څو د هغوي له نسل څخه، ډول ډول ډلې راڅرګندې شي. او د هغو ډلو له منځه نوي ډولونه، پر ځمکه د تګ او پر لار تللو لپاره خلق شوي دي. دا ډول ستر بدلون، د ځمکپېژندنې د اوږده دوران له کچې او مقياس پرته، چې کابو د څو سوه ميليونو کلونو تر بريده يې، اوږدوالی درلود، صورت نه دی نيولی. دغه ټول ژوي، په يو ډول تکاملي پړاو کې قرار لري، چې پايله يې تي لرونکي ژوي، او د هغوي په سر کې انسان د شعور لرونکی دی.

د قرآنکريم په دې آيت کې، او په ډيرو نورو آيتونو کې، د ژوندیو موجوداتو د تدريجي تغيراتو موضوع، او د هغوی ډولونه او پيوستون، د مستمر او پرله پسې امر او چار په عنوان ياد شوي دي. چې اوسني علم هم، د هغه حقيقت څرګند کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لاروو ژوو توپير، له مخکينيو ژوو سره، چې په اوبو کې د تنفسي دستګاه لرونکي ول، په هوايي تنفس مجهز کيدل دي. دغه ډله د لامبو د وزرو پر ځای، پر وچه باندې د حرکت لپاره، د پښو لرونکي شول. د لومړنيو مهره لرونکو هواژوو خلقت، د مځکپېژندنې د لومړۍ دورې له دويمې نيمايي وروسته يې، تدريجاً بڼه نېولې. او د هغوی بېلېدل يې له تردیده، له اوبژوو، يعنې د «دُوُنين» په پړاو کې له ځانګړو کبانو څخه ول. او د هوايي ذوحياتينو او خوځندګانو، الوتونکو او تي لرونکو بيلښت او پيدايښت، په يو ځل او له واټن پرته پای ته نه دی رسېدلی.

لومړۍ ډله په ګيډه تلونکي، يعنې کښېدونکي خوځندګان دي. دويمه ډله الوتونکي دي، چې د زېرېدو له پيله، او له هګۍ له راوتو سره سم، يوازې له دوو پښو استفاده کوي. [د انسان د نوی زېرېدنې پر خلاف، چې له دوه کلنۍ تر مخه، يا پر لار نه ځي، يا په خاپوړو او څلورو لاس او پښو ځي]. دريمه ډله ټول تي لرونکي دي، چې په څلورو لاس او پښو ځي. او انسان د هغوی د ودې په څوکه کې، ځای نېولی. دغه دري ډلې يي، مهره لرونکي نومولي دي. چې ټول [کښېدونکي خوځندګان، الوتونکي او تي لرونکي] له ټولو توپيرونو سره، چې يو تر بله يي لري، د داخلي هډوکو اسکليټ، او د مُهرو د تير [ملاتير] او د ملا د اعصابو، د محور لرونکي دي.

لکه څنګه يې چې، د جهان له ظاهري ښکارندو څخه، يوه ښکارنده، مورِ ته په تېرو دوو آيتونو کې، بيان کړه. دا يو بل آية هم په همدې اړه دی؛ چې د يوې بلې ظاهري ښکارندې په اړه، يعنې د خلقت په موضوع کې دی: دا د قرآن سبک دی، چې مخکې مو هم ورته نغوته کړې ده. هغه دا چې؛ قرآن له پنځو خپلواکو برخو، تشکيل شوی دی؛ يو هم تېر مهال، يو هم حال، او بل هم راتلونکی مهال؛ تېر مهال، يعنې تېر تاريخ، انبياء او تېر امتونه، حال هم، د پيغمبر معاصرين او هم مهالي دي، راتلونکی مهال يعنې آبديت او آخرت دی. يو يې هم طبيعت دی، او بل يې هم شريعت.

شريعت همدا هدايتونه او لارښوونې دي، چې په مخکينيو تېرو آيتونو کې مو ولوستل. خدای تعالی د آسمانونو او ځمکې، د مخ نور دی. غيبت مکوئ، تور مه لګوئ، د خلکو آبرو مه تويوئ، همدا يعنې شريعت،

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعنې اخلاقيات او هدايت، يو بل يې هم طبيعت دی. د طبيعت او شريعت تر منځ، کوم توپير نشته. شريعت زمونږ لپاره، د لارښوونې قوانين دي. طبيعت هم ددې قوانينو لپاره، يو موډل دی. چې په طبيعت کې قوانين ووينئ، د بصيرت سترګې ولرئ، عبرت واخلئ، چې څه قوانين په طبيعت کې شته. په ۴۱ آية کې يې، د هستۍ د ټول جهان په اړه، مونږ ته توضيح راکړه، چې د جهان عمومي تسبيح، او د چاپيريال او جوي ښکارندې توضيح کوي. دا آية [۴۵ آية] د ځمکې پر مخ، د خلقت په اړه دی: خو د دې آية تر توضيح مخکې، يوه پيلزه وړاندې کوو: دلته د انسان، ځمکې او زمونږ د چاپيريال دکاياناتو په اړه، يو اجمالي او ډېر لنډ پرتله ييز تحليل ته، نغوته کوو: د کاياناتو په منځ کې، زمونږ شتون، هيڅ د پرتله کولو وړ نه دی. مونږ خو هيڅ، مونږ لا څه کوې، اصلاً د ځمکې کره، چې زمونږ استوګنځی دی. د هستۍ په عالم کې، دومره کوچنۍ ده؛ چې د هستۍ د عالم په نسبت، د يوې ذرې په حساب کې هم نه راځي.

په حقيقت کې، دا په لمريزه منظومه کې، يو کوچنی غړی دی. کابو يونيم ميليون داسې ځمکې، د لمر په ګډه کې ځائېږي. د لمريزې منظومې ډېری ستوري، له ځمکې څخه ډېر ستر او غټ دي. پخپله د شېدولارې ستورمزمه [کهکشان راه شيری (Milky Way Galaxy)]، زمونږ د منظومې په څېر، زرګونه منظومې لري. په داسې حال کې چې شيدولاره ستورمزمه، پخپله يو کوچنی او په يو ګوټ کې لېرې، پروت يو کهکشان دی. په کېهاني نقشو کې به مو ليدلی وي؛ دا زمونږ کهکشان، د هستۍ د جهان، يوه ګونبه او لېرې پرته ستورمزمه ده. تر اوسه چې معلومه شوي، په طبيعت کې ۴۰۰ بليونه کهکشانونه شتون لري. نو مونږ اوس ددې جهان په کوم ځای کې يو؟ او که مونږ د ځمکې کره، د ټول جهان په کچه پرتله کړو، د يو بڅرکي په کچه حيثيت هم نلري. د ځمکې کره کابو ۴.۵۴ ميلياردکلونه، مخکې جوړه شوې ده. ميليونونه کلونه يې ټول ځايونه، د ويلي توکو او ګاز په بڼه ول،

(c) ketabton.com: The Digital Library

او اصلاً هيڅ کوم څيز يې نه درلود. سلګونه ميليونه شهابونو او لکۍ لرونکو ستورو، چې اوبه يې درلودې، او له ځمکې سره يې ټکر کړی دی. د ځمکې د کرې د اوبو د اوسني حجم يونيم چند اوبه، پر ځمکه توی شوي دي، چې ورو، ورو سړې شوي دي. سلګونه ميليون کلونه، د اوبشيندنې پېر وو. وروسته د سمندر پر غاړو، په داسې حال کې، چې د ځمکې کابو ټوله کره سمندر وه، د ژوند لومړنۍ نښې، ډېر لومړنی ژوند رامنځته شوی دی. د ميليونونو کلونو تېرېدو وروسته، اميبونه او يو حجروي ژوي، او بيا ورپسې لږ پرمخ تللي ژوي، مثلاً زرګونه ډوله ماهيان پنځېدلي دي. چې ځېنې يې د اوبو د سړو [Gills] په توسه، او ځېنې يې د پوټکي له لارې تنفس کوي.

بيا چې ورو ورو د ځمکې ځېنې برخې، له اوبو راوتلي دي، او وچې رامنځته شوې. ځېنو له کبانو وکولی شول، له اوبو بيرون راووځي. ذومعيشتين [دوه ژوندګړي] رابنکاره شول. نو په وچه کې لومړي «دوه ژوندګړي» رامنځته شول، لکه سوسماران، چې هم يې په وچه، او هم په اوبو کې يې ژوند کولی شو. هم يې د اوبو سړي [Gills] درلودل، او ورو ورو يې د وچې سړي [lungs] يې وموندل. وروسته بيا الوتونکي وپنځېدل، او ورپسې زرګونه ډولونـه، په دې ميليونونو کلونو کې پنځېدلي، چې تي لرونکو ژوو ته رسېدلي دي. تي لرونکي د ټولو وروستي دي، کوم حيوانات چې مورِ وينو، عمدتاً يې تي لرونکي دي.

د انسان نوع، ډېر لومړني انسانان، هغوی چې لا پر څلورو [پښو لاسونو] تلل، حد اکثر عمر يې يو ميليون کلونه دی. د «۸۰۰۰۰۰» کلونو څخه تر يو ميليون کلونو پورې، دځمکې د کرې د عمر په نسبت، چې ۴.۵۴ ميليارد کلونه دي هيڅ دی. او کوم انسان چې تاريخ لري، عمر يې له درې، څلور زرو کلونو څخه زيات نه دی. مورِ له تېر تاريخه هيڅ خبر نه يو، مورِ له خپل تېر څخه، په بشپړه توګه ناخبره يو. که د انسان عمر، د ځمکې د کرې له عمر سره پرتله کړو؛ که د ځمکې د کُرې عمر يو کال فرض کړو، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

آدم د زوی [بني آدم] عمر، چې له هاغو لومړنيو انسانانو له عمره وشمېرې، ۱۵ دقيقې دی. اوس که خپل عمر ورسره پرتله کړئ يوه ثانيه هم نه کېږي.

«وَاللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَابَّةٍ مِنْ مَاءٍ» خدای تعالی هر خوځنده له اوبو وپنځوه، [دَابَّةٍ يعنې خوځنده، ژوی، ژوندي موجودات] خدای تعالی ټول ژوندي موجودات، له اوبو پنځولي؛ [نه معمولي اوبه، بلکې خاصې او ځانګړې اوبه. چون مَاءٍ نکره دی]، مخصوصې اوبه، په ځانګړو شرايطو کې، د اوبو له خاص ترکيب سره، د حيات د پيدايښت لامل شوی دی. نو پر دې بنسټ، اوبه د حيات د پيدايښت اصلي لامل دی. اوس له علمي ليده پوهېږو، او څرګندّ شوي ده، چې حيات د سمندرونو په غاړو کې، په رسوبي ساحلونو کې، د تالندې او برېښنا تر آغېز لاندې، چې اوزون له کاربن سره په خاص چاپيريال کې، ترکيب شوی دی. او دا چې څه پېښې رامنځته شوي دي، چې البته پوهېدل پرې، بشپړې تشريح او پوره تفصيل ته اړتيا لري. نو حيات او ژوند هم، په اصل کې له اوبو رامنځته شوی دی. مور ټول په دې پوهېږو چې، زمور د وجود ۷۵ – ۸۰ ٪ اوبه دي، او حتا زمور مغز تر ۹۵ ٪ اوبه لري، او د مغز کيمياوي فعل او انفعالات په اوبو کې سر ته رسېږي. دا لا څه چې زمور هډوکي هم، تر ۱۵٪ پورې اوبه لري. نو جهان اصلاً له اوبو پنځول شوی دی. [... وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ...] د خدای تعالی عرش، د اوبو پر مخ دی، [... مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ...] هر څيز له اوبو حيات موندلی دی. دا ميلياردونه کلونه تېر شوي دي، چې ژوند له اوبو رامنځته شوی دی. او اوس دا وروستنی پړاو، چې تر مور رارسېږي توضيح کوي؛ «فَمِنْهُمْ» دلته «فَ» زماني عطف دی، يعنې ميليونونه کلونه تېر شول «فَمِنْهُمْ» له هاغو موجوداتو چې، د ځمکپېژندنې د لومړي پړاو په وروستيو کې، کله چې په ځمکه کې، وچې راڅرګندې شوې، ورو ورو له هغوی داسې موجودات رامنځته شول، چې په وچه کې پر سينه ښوئيدل. او د وچې پر مخ يې تنفسي دستګاه پيدا کړه [هوايي سړي يې وموندل]؛ «فَمِنْهُمْ مَنْ

(c) ketabton.com: The Digital Library

يَمْشِي عَلَى بَطْنِهِ» لومړنی ډله چې رامنځته شوه، پر ګېډه ښوئيدل. لکه سوسماران چې په دواړو چاپيريالونو کې يې، ژوند کولی شو، هم په اوبو کې او هم په وچه کې، يعنې ذومعيشتين [دوه ژوندګړي]. «وَمِنْهُمْ مَنْ يَمْشِي عَلَى رِجْلَيْنِ» او يو شمېر له دوی، پر دوو پښو پر لار ځي، ډيريو دا انګېرلې، چې مقصد يې انسان دی، خو انسان په هاغې وروستۍ ډلې پورې اړه لري، مقصد له دې الوتونکي دي. د ژوند پېژندنې له ليده هم، له ذومعيشتين وروسته الوتونکي پنځېدلي دي. د سترو الوتونکو عکسونه به مو ليدلي وي، چې ټول الوتونکي، د ژوند له پيله تر پايه، پر دوو پښو ځي. کوم مهال چې له هګۍ راوځي، سمدلاسه په دوو پښو شي، او د تګ لپاره په پليز پرې کې، کله هم له وزرونو کار نه اخلي. د انسان بچی خو په پيل کې هيڅ نه ځي، او بيا په سينه ښوئيږي، بيا په څلورو لاسونو او پښو ځي [خاپوړې کوي]، او بيا پر دوو پښو شي. يعنې يوازې انسان دی، چې په دې وروستيو کې پر خپلو دوو پښو ځي، او پخوا به د انسان نوع، له هر دواړو [لاسونو او پښو] استفاده کوله، لکه د نورو تي لرونکو غوندې، پر څلورو تلل. «وَمِنْهُمْ مَنْ يَمْشِي عَلَى أَرْبَعٍ» ځينې له دوی يعنې آخرين يې، تکامل موندی يې د ځمکې د کُرې پر مخ، څاروي [چهار پايان] دي «يَخْلُقُ اللَّهُ مَايَشَاءُ» خدای تعالی يې له خپل مشيّت سم پنځوي «إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ» په تحقيق الله پر هر څيز قدير دی، قدير له قدر راځي، قدر يعنې اندازه، يعنې دا ټول حساب شوي دي، ټول د يو نظم پر بنسټ دي. په فيلمونو کې به مو ليدلي وي، چې ځينېو له ماهيانو زغره درلوده، لکه د کرګدن په څېر، چې خپل ځان پرې، له خطره بچ کړي. ددې اړتيا له احساس سره، د شل ميليونو کلونو په اوږدو کې يې، وکولی شو، خپل ځان بچ کړي، او ځان غاړې ته وباسي. د نورو حيواناتو څخه د تېښتې لپاره په مغز کې يې، يوه اړتيا رامنځته شوه، چې جوړونکی شو، او ورو ورو دې حالت ته راغی. دا ټول د اندازې، او حساب له مخې، طراحي شوي دي، يو ناڅاپه او نابېره نه دي رامنځته

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي. خدای تعالی یو لړ نظامونه مقدر کړي دي، او د نظم په موجودیت کې د جهان لپاره حساب شوی، چې هر څه پکې د کمال پر لور ځي.

د دغه آیة لومړی برخه چې فرمایي:

«وَاللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَابَّةٍ مِنْ مَاءٍ» مور هر خوځنده له اوبو وپنځوه.

چې همدا مطلب په یو بل آیة کې په عامتره بڼه بیان شوی دی فرمایي: «أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَاهُمَا وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ» [انبیاء۳۰(۲۱:۳۰)]

آیا هغوی چې [له توحیدي حقیقتونو څخه] انکار وکړ، نه وینې؛ چې آسمانونه او ځمکه سره نښتي ول، بیا مو هغوی بېل کړل، او له اوبو مو ټول ژوندي څیزونه پیدا کړل؟ آیا [د خدای تعالی په توسه طبیعت ته د ژوند بښلو له کتلو سره] بیا هم ایمان نه راوړي؟

او دا مطلب چې، د حیات او ژوند بنسټیز عنصر اوبه دي، وسمهال له جوتو او ثابتو مسئلو څخه ده، یو له دې لیده چې د هر ژوندي موجود د وجود او اندام ستره برخه، له اوبو تشکیله شوې ده. مثلاً د انسان اندام او ځاندره له دې ټولو غړو، او اړخونو او پوټکي او رګ او پلو او هډوکو سره، په کافي کچه اوبه لري، چې پورته مو تر یو بریده ورته نغوته کړې ده. او ډېر ساده مثال یې دا چې، که څوک ناروغ شي د ډاکټر لومړی توصیه ورته دا وي، چې باید په کافي کچې اوبه استعمال کړي:

طبي تجربو او څېړنو ثابته کړې ده، چې د انسان د وجود ۸۰ سلنه اوبه دي. که یو څوک مثلاً ۵۰ کیلو ګرام وزن ولري، ۴۰ کیلو ګرامه یې اوبه دی او ۱۰ کیلو ګرامه یې نور مواد دي.

لنډه دا چې د ژوند بنسټ اوبه دي، او اوبه په ټولیزه توګه د ژوند [حیات] رمز دی. له همدې لامله الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي: «قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَصْبَحَ مَاؤُكُمْ غَوْرًا فَمَنْ يَأْتِيكُمْ بِمَاءٍ مَعِينٍ» [مُلک۳۰(٦٧:۳۰)] ووایه: آیا هیڅکله مو دې [حقیقت] ته پاملرنه کړې ده، چې که ستاسو [په لاسرسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې] اوبه د ځمکې ژورو ته ننوزي، څوک دی چې ستاسو لپاره جاري [بهېدلې او د چینو] اوبه درته راولي؟!

په هر حال کې، اوبه د ژوند رمز او سرّ دی. له اوبو سره د حیات اړیکه، په طبیعي علومو کې، په ښه توګه بیان شوې ده، چې د نومورو علومو مسلکي کسان پرې ډېر ښه پوه هېږي، او ښه یې توضیح کولی شي. خو مسلّم او جوت قدر دادی، چې ددې عالم د موجوداتو او موادو په منځ کې، هیڅ موجود او هیڅ ماده، د اوبو په کچه، له حیات او ژوند سره اړیکه نه لري.

– ددغه آیت څېړنه او غورچاڼ، د فوسیل پیژندنې او ځمکپیژندنې د علم، لاسته راوړنو ته په پاملرنې سره، د ژوندیو موجوداتو نسلي تړاو، او تدریجي خلقت، په څرګنده توګه ښکاره کوي.

مرحوم ډاکټر یدالله سحابي د خپل ارزښتناکه کتاب، «قرآن مجید، تکامل و خلقت انسان»، په ۳۵ تر ۶۴ مخونو کې، په مفصله توګه توضیحات ورکړي دي، چې لنډیز یې په لاندې ډول دی: د «دابـــــه» په کلمه کې د اوبو او د هوا ټول خوځندګان شامل دي. له هغې ډلې: په «خَلَقَ کُلَّ دَابَّةٍ مِنْ مَاءٍ» کې څرګندېږي چې ټول خوځندګان، له ځانګړو او ناڅرګندو اوبو څخه پیدا شوي دي. بیا وروسته د هغوی په خلقت کې، تغیرات رامنځته شوي دي.[په «فَمِنْهُمْ» کې] د «فا» له حرف څخه څرګندېږي چې د ژوو له لومړني خلقت څخه تر د لاروو [د پښو لرونکو] ژوو تر پیدایښته، یو زمانې واټن وو، او د دغو دوو ډلو تر منځ، نسلي تړاو او اړیکو شتون درلود. د لومړنیو ژوو له خلقت څخه، میلیونونه کلونه تیر شوي، تر څو د هغوي لـــه نســـل څخه، ډول ډول ډلې راڅرګندې شي. او د هغو ډلو له منځه نوي ډولونه، پر ځمکه د تګ او پر لار تللو لپاره خلق شوي دي.

دا ډول ستر بدلون، د ځمکپیژندنې د اوږده دوران لـه کچې او مقیاس پرته، صورت نه دی نیولی. چې کابو د څو سوه میلیونو کلونو تر بریده یې، اوږدوالی درلود. دغه ټول ژوي، په یو ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

تکـاملي پـړاو کـې، قـرار لـري، چـې پايلـه يـي تي لرونکـي ژوي، او د هغوي په سر کې، انسان د شعور لرونکی دی.

د قرآنکريم په دې آيت کې، او په ډيرو نورو آيتونو کې، د ژوندیو موجوداتو د تدريجي تغيراتو موضوع، او د هغوی ډولونه او پيوستون، د مستمر او پرله پسې امر او چار په عنوان، ياد شوی دی، چې اوسني علم هم د هغه حقيقت څرګند کړی دی. د لاروو ژوو توپير، له مخکينيو ژوو سره، چې په اوبو کې د تنفسي دستګاه لرونکي ول، په هوايي تنفس مجهز کيدل دي. دغه ډله د لامبو د وزرو پر ځای، پر وچه باندې د حرکت لپاره د پښو لرونکي شول. د لومړنيو مهره لرونکو هواژوو خلقت، چې د مځکپېژندنې د لومړۍ دوري له دويمې نيمايي وروسته پيې، تدريجاً بڼه نېولې. او بې له ترديده، د هغوی بېلېدل له اوبژوو، يعنې د «دُوُنين» په پراو کې، له ځانګړو کبانو څخه وو. او د هوايی ذوحياتينو او خوځندګانو، الوتونکو او تي لرونکو بيلښت او پيدايښت، په يو ځل او له زماني واټن پرته پای ته نه دی رسېدلی.

لومړۍ ډله په ګيډه تلونکي يعنې خوځندګان دي، دويمه ډله الوتونکي دي، چې د زېرېدو له پيله او له هګۍ څخه له راوتو سره سم يوازې له دوو پښو استفاده کوي. [د انسان د نوی زېرېدنې پر خلاف چې له دوه کلنۍ تر مخه يا په لار نه ځي يا په خاپوړو او څلورو (لاس او پښو) ځي]. دريمه ډله ټول تي لرونکي دي، چې په څلورو [لاس او پښو] ځي او انسان د هغوی د ودې په څوکه کې ځای نېولی. دغه دری ډلې يي مهره لرونکي نومولي دي، چې ټول [خوځندګان، الوتونکي او تي لرونکي] له ټولو توپيرونو سره سره چې يو تر بله يي لري، د داخلي هډوکو اسکليټ، او د مُهرو د تير [ملاتير] او د ملا د اعصابو د محور لرونکي دي.

اوس کوم درس چې مورِ يې بايد، له دې آيته واخلو څه دی؛ آيا يوازې د ژوو پوهنې او ژوو پېژندنې درس دی، چې ټول ځناور او ژوي له اوبو پنځول شوي دي؟ دا خو يو ډول پوهه ده، او سمه خبره هم ده، خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعالی ټول موجودات ـ سره له دې چې اصل يې له اوبو دی ـ متنوع او ډول ډول پنځولي دي، له فلسفي او نظري ليده، چې هر څنګه ورته وګورو، خو په هر حال، دومره ډولونه يې پنځېدلي دي، چې د بشر د يو فرد لپاره دا ناشوني ده، چې ټول ډولونه يې وپېژني. يعنې که موږ وغواړو، يوازې د حيواناتو ډولونه وپيژنو، ډېر کلونه بايد درس ولولو، په پای کې هم ښايی ونشو کولی. که فرضاً يو متخصص وکولی شي، د ژوو «سارايي ډولونه» وپيژني، نو د ژوو «سمندري ډولونه» خو نه پيژني. نو د قرآن پاملرنه څه ته ده؟ لکه څنګه چې مخکې مو هم ورته نغوته کړې؛ ليد او پاملرنه يې د «اَللّٰهُ» کلېمې ته ده. قرآن تل غواړي، موږ دې نکتې ته متوجه کړي، چې په نړۍ او په عالم کې، د خلقت او پنځ دا بهير څه ډول، يو «نور» څرګندوي؛ په دې ډول يې څرګندوي چې، دا حرکتونه او هڅې او غورځنګونه او پيدايښتونه، په تيارو کې او په پټو سترګو نه دي شوي. الهي نور، د عالم د ټولو ذرو تر شا دی. دا ټول د الهي مشيّت، الهي تقدير او الهي حکمت حقيقت څرګندوي. نو پر دې بنا، وروسته له دې پر ګډه کښېدونکي خوځندګان، او پر لار تلونکي [په دوه پښو او څلورو پښو] ذکر کوي، ددې لپاره چې و پوهوي، چې موږ دا د مثال په توګه ذکر کړي دي. او پيدايښت او پنځونه يوازې دوی ته محدوده او منحصره نه ده؛ فرمايي: «يَخْلُقُ اللَّهُ مَايَشَاءُ» هغه څه چې د خدای تعالی، د مشيّت اقتضاء وي، پنځوي. يعنې دا ټول د خدای تعالی خلقت دی، او د الهي مشيّت پر بنسټ يې، شتون موندلی. «إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ» په تحقيق، الله پر هر څيز قدير دی، و مو ويل چې؛ قدير له قدر راځي، قدر يعنې اندازه، يعنې دا ټول حساب شوي دي، ټول د يو نظم پر بنسټ دي، يعنې الله پر دې ټولو څيزونو قادر دی. الهي قدرت محدود نه دی، د الهي قدرت لپاره نشي کېدی، حد او برېد وټاکل شي.

خدای تعالی پر هر څيز، وسمن او توانا دی. هر څيز چې هر څنګه وغواړي، پنځولی يې شي. البته خدای تعالی قدير دی، عليم دی، حکيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی، مرید دی. د دې معنا چې خدای تعالی پر هر څیز وسمن او توانا دی او هر څنګه چې وغواړي خلق کوي، دا نه ده چې؛ څرنګه چې مطلق مشیّت او بې پایانه ځواک او قدرت لري، همداسې بېحسابه، بې بریده او بېهوده او له موخې او هدف او حکمت پرته خلق کوي؛ نه، کار یې د حکمت پر بنسټ دی خو ځواک او قدرت یې محدود نه دی.

د شپږ څلوېښم آیة، ترجمه شرح او تفسیر

لَقَدْ أَنْزَلْنَا آيَاتٍ مُبَيِّنَاتٍ وَاللَّهُ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ﴿۴۶﴾

په رښتیا مونږ څرګند [او روښانګر] آیتونه نازل کړل او الله هغه چا ته چې وغواړي [= وړ یې وګڼي] سمې لارې [صراط المستقیم] ته هدایت کوي.

لَقَدْ	أَنْزَلْنَا	آيَاتٍ	مُبَيِّنَاتٍ	وَاللَّهُ	يَهْدِي	مَنْ يَشَاءُ
هرو مرو	نازل کړي دي موږ	آیتونه	روښانګر	او الله	لار ښوونه کوي	هغه چا ته وغواړي

إِلَى	صِرَاطٍ	مُسْتَقِيمٍ
په لور د	لارې	سمې او برابرې

د نور د آیة له پیله تر دې ځایه، کابو یو ځانګړی فصل وو. یو توحیدي فصل وو. او په ټوله کې په دې فصل کې، قرآن غواړي؛ چې موږ ته «اللَّهُ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ» توضیح، او وړاندې کړي. ګواکې ددې فصل د پای په عنوان، چې بل فصل او بل مطلب ته واردېږي - چې البته هغه مطلب بیا هم، له دې مطلب سره اړیکه لري، خو بېل فصل ګڼل کېږي. - فرمایي: «لَقَدْ أَنْزَلْنَا آيَاتٍ مُبَيِّنَاتٍ» په رښتیا موږ څرګند [او روښانګر] آیتونه، نازل کړل. مفسرینو ویلي؛ مقصد یې، له دې جهته همغه د «نور» آیة دی. په واقعیت کې، د فصل په پای کې غواړي ووایي؛ چې یو ځل بیا ستاسو پاملرنه، هاغه څه ته چې ومو ویل، اړوو: «لَقَدْ أَنْزَلْنَا آيَاتٍ مُبَيِّنَاتٍ» موږ روښانګر آیتونه، نازل کړي دي. د قرآن کار روښانګري ده. «وَاللَّهُ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ» خدای تعالی هر چا ته چې وغواړي، صراط مستقیم او سمې لارې ته یې هدایت کوي، روښانګر آیتونه د همدې لپاره دي. څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څيز غواړي روښانه کړي؟ لاره. بشر يو سائر او ګرځنده موجود دی، يعنې يو سيار او خوځنده متحرک موجود دی، داسې يو موجود دی چې پر لاره ولاړ دی، او بايد د يوې موخې او مقصد پر لور لاړ شي. نو ددې يون له کبله بشر يو سيار او خوځنده موجود ګڼل کېږي، يعنې انسان په خپل جوړښت کې، د حرکت بدلون، او پرمختګ وړتيا لري. انسان يو داسې موجود دی، چې پر يوې څرګندې لارې ځای پر ځای شوی دی. او اړتيا لري، چې د يوه ټاکلي هدف او مطلوبې پايلې، پر لور حرکت وکړي. دا آيتونه نازل شول، چې د بشر لپاره، د لارې روښانګر وي. ورپسې فرمايي: خدای تعالی هر چا ته چې وغواړي، سمې لارې ته يې هدايت کوي. يعنې د هيچا هدايت، له الهي مشيّته بيرون نه دی. خو بيا هم نبايد اشتباه وکړو، چې کله چې وايو «خدای تعالی هر چا ته چې غواړي سمې لارې ته هدايت کوي» [يعنې دا په دې معنا نه ده، چې خدای تعالی بې حسابه، بې بريده او بېهوده داسې کوي.] له خپل مشيّت سره سم ټول کارونه کوي. خدای تعالی د کارونو د سمون لپاره، يو لړ نظامونه ټاکلي دي. ټول کارونه يې، د همدغو ټاکلو قوانينو او نظامونو پر بنسټ، عملي کېږي. الله تعالی په نورو ځايونو کې بيانوي؛ چې د هغه مشيّت څه ډول نظام لري، څه ډول افراد د الهي مشيّت په اقتضا او غوښتنه، هدايت کېږي. او څه ډول افراد، په الهي هدايت کې، شاملېدلی نشي. په نورو آيتونو کې يې، دا مطلب روښانه کړی دی.

د بقره سورة په ۲۶ آيت کې، د قرآن په اړه، په برېښنده توګه فرمايي: «... يُضِلُّ بِهِ كَثِيراً وَيَهْدِي بِهِ كَثِيراً...» خدای تعالی د قرآن په توسه، ډيری [وګړي] بې لارې کوي، او له همدې قرآن سره ډيری [وګړي] هدايت کوي؛ څه ډول؟ قرآن خو د هدايت وسيله ده، د ښلارې او لار ورکې وسيله خو نه ده! وايي: «... وَمَا يُضِلُّ بِهِ إِلَّا الْفَاسِقِينَ» [بقره۲۶(۲:۲۶)] خدای تعالی د هغه په وسيله، نه ګمراه کوي، مګر فاسقان؛ يعنې هغوی چې، د خپل روح او فطرت سپېځلي زمينه او ډګر، فاسد، مسخ، او بې لارې کړي. قرآن د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خداى «رسى» ده، دا «رسى» يې لېږلې، چې بشر د طبيعت د تياره او ظلمت له څاه، راوباسي. خو په رسى منګولې لګول د چا دنده ده؟ د بشر دنده ده، خو هغوى چې نه غواړي له دې رسى ګټه واخلي، ګناه او کمى يې خپل دى. «.. يُضِلُّ بِهِ كَثِيراً وَيَهْدِي بِهِ كَثِيراً وَمَا يُضِلُّ بِهِ إِلَّا الْفَاسِقِينَ» چې دا مضمون د قرآن په زياتو آيتونو کې، تکرار شوى دى. چې الهي هدايت او ضلالت، يو نظام او قانون لري، او ضلالت د کړ او عمل پايله ده.

لنډه دا چې: الهي «نور» هاغه کور، په لوړه درجه کې، روښانه کړى دى، چې مثال يې له يو څراغ سره ورکوي، ځکه چې د يو کور د روښانه کولو لپاره، ډېر ښه مثال دى. الهي «نور»، په لوړ برید او اعلى حد کې يې، جهان روښانه کړى دى. نو ځکه وايي: «لَقَدْ أَنْزَلْنَا آيَاتٍ مُبَيِّنَاتٍ» دا جمله په دې سورة کې څو ځلې تکرار شوې ده. دا د هر فصل پاى ده، د هر فصل پايله او نتيجه ګيرې ده. دا فصل په طبيعت کې، د خداى تعالى د آيتونو، يعنې د تکويني آيتونو په اړه دى، لکه د نورو آيتونو په څېر، په دې جمله ختمېږي. خداى تعالى دا روښانګر آيتونه، تاسو ته لېږلي دي. هم مو تشريعي آيتونه درلودل، هم تکويني آيتونه. په طبيعت کې وويني؛ څه خبره ده، څه نظامونه په جهان کې، شتون لري. حتا دا موضوع هم، چې د حيات د پوړيو لړى، څنګه رامنځته شوې ده؟ چې په دې اړه پوهه هم، په بشړه توګه نوې ده. د وروستۍ يوې پېړۍ، يا آخري نيمايي پېړۍ، پورې اړه لري. [د عربستان د هاغې زمانې بېسوادې ټولنې، خو په دې خبرو هيڅ سر خلاصېده.] «وَاللَّهُ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ» او الله هغوى لره چې وغواړي، يعنې وړ يې وګڼي، سمې لارې ته هدايت کوي.

د سورة متن او د لُغتونو ترجمه (۴۷ ـ ۵۷) آيتونه

وَيَقُولُونَ آمَنَّا بِاللَّهِ وَبِالرَّسُولِ وَأَطَعْنَا ثُمَّ يَتَوَلَّى فَرِيقٌ مِنْهُمْ مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ وَمَا	أَطَعْنَا = اطاعت مو وکړ ـ يَتَوَلَّى = مخ اړوي، شا کوي ـ فَرِيقٌ = يوه ډله ـ دُعُوا = وبلل شي ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

أُولَئِكَ بِالْمُؤْمِنِينَ ﴿۴۷﴾ وَإِذَا دُعُوا إِلَى
اللَّهِ وَرَسُولِهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ إِذَا فَرِيقٌ
مِنْهُمْ مُعْرِضُونَ ﴿۴۸﴾ وَإِنْ يَكُنْ لَهُمُ
الْحَقُّ يَأْتُوا إِلَيْهِ مُذْعِنِينَ ﴿۴۹﴾ أَفِي
قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ، أَمِ ارْتَابُوا أَمْ يَخَافُونَ أَنْ
يَحِيفَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ وَرَسُولُهُ بَلْ أُولَئِكَ
هُمُ الظَّالِمُونَ ﴿۵۰﴾ إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ
الْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ
لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ أَنْ يَقُولُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا
وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿۵۱﴾ وَمَنْ يُطِعِ
اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَخْشَ اللَّهَ وَيَتَّقْهِ
فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ ﴿۵۲﴾ وَأَقْسَمُوا
بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَئِنْ أَمَرْتَهُمْ
لَيَخْرُجُنَّ قُلْ لَا تُقْسِمُوا طَاعَةٌ مَعْرُوفَةٌ
إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿۵۳﴾ قُلْ
أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ فَإِنْ تَوَلَّوْا
فَإِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُمْ مَا حُمِّلْتُمْ
وَإِنْ تُطِيعُوهُ تَهْتَدُوا وَمَا عَلَى الرَّسُولِ
إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ ﴿۵۴﴾ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ
آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ
لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ
الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ
الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ
خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي
شَيْئًا وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ
الْفَاسِقُونَ ﴿۵۵﴾ وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا
الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ
تُرْحَمُونَ ﴿۵۶﴾ لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ

لِيَحْكُمَ = چې قضاوت وکړي، چې نياو وکړي ـ إِذَا = نابره ـ فَرِيقٌ مِنْهُمْ مُعْرِضُ = يوه ډله له هغوی مخ اړوونکي دي ـ يَأْتُوا = راځي ـ مُذْعِنِينَ = په داسې حال کې چې مطيعانه ځغلي، تسليم شوي او فرمان وړونکي، غاړه ايښوونکي په بيړه ـ اِرْتَابُوا = په شک کې ولوېدل ـ يَخَافُونَ = ويرېږي، ډارېږي ـ أَنْ يَحِيفَ = چې ستم وکړي، چې ظلم وکړي، چې ځور وکړي ـ سَمِعْنَا = وا مو وربدل ـ الْمُفْلِحُونَ = بريالي، رستګاران، زرغون شوي ـ يُطِعِ = اطاعت وکړي ـ يَخْشَ = ډار ولري، خشيّت ولري ـ يَتَّقْهِ = د هغه تقوا خپله دنده کړي، الْفَائِزُونَ = کامیابان، بريالي ـ أَقْسَمُوا = سوګند يې وکړ، قسم يې وخوړ ـ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ = له ډيرو سختو سوګندونو سره يې ـ لَيَخْرُجُنَّ = په قطعي توګه [جهاد ته] خارجېږي، هرو مرو وځي ـ طَاعَةٌ مَعْرُوفَةٌ = وړ اطاعت [بهتر دی] ـ خَبِيرٌ = آګاه، پوه ـ أَطِيعُوا = اطاعت وکړئ ـ إِنْ تَوَلَّوْا = که مخ واړوي ـ حُمِّلَ = تحميل شوی پر هغه، بار شوی پر هغه، تَهْتَدُوا = هدايت ومومئ ـ مَا = نشته ـ الْبَلَاغُ = د پيغام رسول ـ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ = قطعاً هغوی ځای ناستي کوي ـ اسْتَخْلَفَ = ځای ناستی کړ لَيُمَكِّنَنَّ = هرومرو جوت او ټينګ کوي ـ ارْتَضَى = غوره دی ـ لَيُبَدِّلَنَّهُمْ = خامخا به ورته بدل کړي ـ خَوْفِهِمْ = ډار د هغوی ـ الْفَاسِقُونَ = فاسقان، ناقرمانان، سرغړاندي ـ أَقِيمُوا = ولاړ کړئ، قائم کړئ ـ آتُوا = ورکړئ ـ تُرْحَمُونَ = تر رحمت لاندې قرار ونيسئ ـ لَا تَحْسَبَنَّ = هيڅکله مه ګڼه، هيڅکله مه انګېره ـ مُعْجِزِينَ = عاجز کوونکي، له پايلې او عقوبت تښتېدونکي ـ مَأْوَاهُمُ = ټاټوبی يې، ځايګی يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

كَفَرُوا مُعْجِزِينَ فِي الْأَرْضِ وَمَأْوَاهُمُ النَّارُ وَلَبِئْسَ الْمَصِير ﴿۵۷﴾	ـ لَبِئْسَ الْمَصِير = په جوته توګه بده پایله ده، ډېر بد ځای د ورتګ دی.

د نور سورة تشریح (۴۷ -۵۷) آیتونه

لکه څنګه چې، مخکې ورته نغوته وشوه؛ دا سورة په ټولنه کې، د یو لړ اخلاقي انحرافونو، له توضیح سره، پیل شو. چې یو شمېر کسان څه ډول غیرمسئولانه، د خلکو په اړه خبرې کوي، او د خلکو په عزت او ابرو لوبې کوي. د ژبې د لاأُبالیګرۍ د مختلفو ډولونو، په اړه توضیح ورکوي، چې تر کومه بریده، د ژبې کنټرول مهم دی. او ورپسې، د حجاب او اخلاقي مراعاتونو په اړه وایي، چې څومره د کورنۍ د کانون سلامتۍ ته مرسته رسوي. مخکې مو توضیح ورکړه، چې دا سورة، د قرآن له نورو سورتونو څخه زیات، د کور او کورنۍ په اړه دی، کور د کورنۍ د پایګاه، او ځایګي په توګه. د «بیوت» کلیمه د قرآن له نورو سورتونو څخه، ډېره په همدې سورة کې راغلې ده. او د کورنۍ په مسئله یې، له مختلفو اړخونو څخه خبره وکړه. د کورنۍ د چاپیریال د سلامت په اړه، او هغه اړیکي چې د بې بندوباري له نظره کېدونی دی، د کورنۍ پت او سلامت ته، او د کورنۍ دوام او غځونې ته په دې ډګر کې ټکه او ناورین ورسوي. له ۳۵ آیة وروسته، الهي هدایت یې، د تمثیل په مقام کې، له نُور سره پرتله کړ، چې خدای تعالی د آسمان او ځمکې نور دی. د هدایت د نور، د مرتبو د لړۍ په اړه یې، توضیح ورکړه. ورپسې یې اشاره وکړه، چې دا نور چرته دی؟ په هاغو کورنیو کې دی چې دا اخلاقي ارزښتونه؛ د خدای صفتونه، په داسې کورنیو کې اهمیت مومي، او یادېږي. د همسر او اولاد سره اړیکه، په هغو کورنیو کې د هدایتي مسئلو په اړه دي، او بیا یې له مقابل لوري هغوی چې له داسې نوره محروم دي، د دوو مثالونو په ترڅ کې، له سراب او تیاره سره تشبیه کړل؛ چې په ژوندانه کې هڅې یې، د سراب په څېر دي، چې ایډیالونه تصور کوي، خو کله چې ورته رسېږي، وینې چې پوچ ول، او هیڅ ارزښت یې نه درلود. دویم هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه چا وضعيت تمثيلوي، چې ګواکې په سمندر کې ډوب شوی دی، په ډېر ژور سمندر کې له لوړو څپو سره، او د څپو له پاسه هم ورېځې دي.

لاندينې آيتونه هم ظاهراً، د همدې ډلې په اړه دي، هغه کسان چې حقيقتونه ناليدلي نيسي، د هغوی عمل څرګندوي، چې په ټولنه کې څه ډول دی. تر يو بريده د ځينو انسانانو په وجود کې، د هدايت د نور نه شتون څرګندوي، يو شمېر هغه انسانان چې ظاهراً په اسلامي ټولنه کې دي، مسلمانان دي، او د نورو تر څنګ دي.

غواړي ووايي چې، دا نور يوه ظاهري جنبه نه لري، په ادعا او د نظر په اظهار نه دی، د انسان په عمل کې بايد څرګند او لوړ شي؛ يعنې ايمان او د خدای تصديق کول، يوازې يو ديني هويت درلودل نه دي. زمورِ د ټولنې اکثريت خلک مسلمانان دي، آيا اسلام حقيقت ته د تسليم په معنا، د ټولنې پر اکثريت صدق کوي، يا پر مسيحي، يهودي او د نورو اديانو پر وګړو. يعنې د خلکو اسم، د خلکو پېژندپاڼه، د خلکو هويت مسلمان دی، يا مسيحي يا يهودي دی، خو دا الزاماً له هغې ادعا سره چې کوي مساوي نه دی. دا څو لاندې آيتونه چې لولو؛ څرګندوي چې يو شمېر خلک د نورو جزء دي مسلمانان تلقي کېږي، د پيغمبر په څنګ کې ول، خو دوی هغه د هدايت «نور» نه دی جذب کړی. نو ددې برخې پيل لکه د نورو په برخو په خبر، «لَقَدْ أَنْزَلْنَا آيَاتٍ مُبَيِّنَاتٍ وَاللَّهُ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ» په تحقيق مورِ مبين، ښکاره، روښانګر آيتونه په واضحه توګه نازل کړي دي، او الله د خپل مشيّت مطابق، له نظامونو سره سم هغوی لره چې وغواړي، وړتيا يې ولري، سمې لارې ته يې هدايت کوي. نو راتلونکي آيتونه د هاغو کسانو په اړه دي؛ چې يوازې هويت يې ايماني دی، تش په نوم د ايمانوالو په ډله کې دي، په اصطلاح تذکره يې مسلمانان دي. خو کوم ډګر چې د ايمان لپاره، د هغوی په وجود کې پکار دی چې بايد چمتو شي، هغه هماغسې ناسم دی، يوازې د دنيوي ګټو لپاره په ايمان تظاهر کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اووه څلوېښم آية، ترجمه شرح او تفسير

وَيَقُولُونَ آمَنَّا بِاللَّهِ وَبِالرَّسُولِ وَأَطَعْنَا ثُمَّ يَتَوَلَّى فَرِيقٌ مِنْهُمْ مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ وَمَا أُولَئِكَ بِالْمُؤْمِنِينَ﴿۴۷﴾

[منافقان] وايي: په الله او د هغه په رسول [= استازي] مو ايمان راوړی او فرمان وړونکي يو، وروسته بيا ځينې له هغوي ، وروسته له داسې وينا څخه، [د عمل په صحنه کې، خپل ايمان ته] شا کوي او دوي [د خپلو ادعاګانو پرخلاف] د ايمان اهل نه دي.

وَيَقُولُونَ	آمَنَّا	بِاللَّهِ	وَبِالرَّسُولِ	وَأَطَعْنَا	ثُمَّ يَتَوَلَّى
او هغوی وايي	موږ ايمان راوړی دی	پر الله	او پر رسول	او موږ فرمان منلی دی	بيا مخ اړوي

فَرِيقٌ	مِنْهُمْ	مِنْ بَعْدِ	ذَلِكَ	وَمَا أُولَئِكَ	بِالْمُؤْمِنِينَ
يوه ډله	له دوی	وروسته له	دې	او نه دي دوی	مؤمنان

له دې وروسته څو آيتونه، د خدای تعالی او د هغه د رسول(ص)، د اطاعت وجوب او اړينتيا بيانوي. او پوهوي چې، د رسول(ص) اطاعت، د خدای تعالی له اطاعته، بېل نه دی. او پر هر مسلمان واجب دي چې د هغه حکم، نياو او قضا ته غاړه کېږدي، چې د هغه له حکم او قضا څخه، مخ اړونه نفاق دی. او په پای کې، د مؤمنينو صالحانو ته، جميله او ښکلې ژمنه او وعده ورکوي، او کفارو ته، ډارونه تهديد او ګواښنه کوي. د ا آيتونه، د سورة له ډېرو نورو آيتونه څخه مخکې نازل شوي دي:

«وَيَقُولُونَ آمَنَّا بِاللَّهِ وَبِالرَّسُولِ وَأَطَعْنَا ثُمَّ يَتَوَلَّى فَرِيقٌ مِنْهُمْ مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ وَمَا أُولَئِكَ بِالْمُؤْمِنِينَ» او وايي: موږ په الله او په رسول ايمان راوړی، او اطاعت مو وکړ، خو بيا له دې وروسته ځينې له دوی مخ اړوي، او هغوی مؤمنين نه دي. ددې آية موضوع د ايمان حقيقي معيار دی، چې يوازې لفظي اعتراف بسنه نه کوي. بلکې پر ايمان د پايښت لپاره، اړينه ده، چې پر لفظي اعتراف سربېره، عملي اطاعت هم ولري، او خپل ايمان، په عمل کې جوت کړي. چې د ايمان پر بنسټ د عمل غزونه، پر ايمان د پايښت او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ریښتینې مؤمن، ځانګړتیاوې ګڼل کېږي. خو ددې آیة بنسټیزه پاملرنه، پر ایمان د اقرار کوونکو له ډلې څخه، د ځینو مخ ګرځولو ته ده. چې هغوی پر ایمان، له اقرار کولو وروسته، مخ ګرځوي. چې وایي؛ دوی په حقیقت کې مؤمنین نه ول. او تش په ظاهره یې، د ایمان راوړلو، تمثیل کړی وو. دوی حقیقتاً منافقین ول.

«وَيَقُولُونَ آمَنَّا بِاللَّهِ وَبِالرَّسُولِ» او وایي؛ [ادعا کوي] چې مور په خدای او رسول، ایمان راوړی دی. چې دلته «يَقُولُونَ» د لفظي اعتراف څرګندونه ده، «آمَنَّا بِاللَّهِ وَبِالرَّسُولِ» په الله او په رسول، د ایمان لرل دي، خو یوازې لفظي بیان نه. «وَأَطَعْنَا» او مور اطاعت کوو، هر څه چې ووایي منو یې. چې دا په حقیقت کې، د اطاعت اعلان دی، چې له عمل سره تړاو لري. «ثُمَّ يَتَوَلَّى فَرِيقٌ مِنْهُمْ» ثُمَّ یعنې بعداً، وروسته، خو د عمل په صحنه کې «يَتَوَلَّى فَرِيقٌ مِنْهُمْ» يَتَوَلَّى یعنې شا کوي، یعنې دې حقیقت ته، نه مخامخ کېږي، نه ټول یې «فَرِيقٌ مِنْهُمْ» فَرِيقٌ له فرق راغلی، فرق، تفرقه یعنې یو شمېر له پاتې نورو سره، فرق لري.

ټولو ویلي؛ چې ایمان مو راوړی، خو یو شمېر یې له نورو سره فرق لري، کله چې پښه یې وړاندې شي، شا کوي. چې دا د زړه د اخلاص او صداقت بدلون، او د ایمان د لنډمهالوالي نښه ده. «مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ» له دې وروسته [له دې اظهار وروسته، له دې ادعا وروسته] «وَمَا أُولَئِكَ بِالْمُؤْمِنِينَ» دوی واقعاً مؤمنین نه دي. دوی تش په ژبه ویلي دي، چې په خدای او رسول مو ایمان راوړی دی. او د حقیقي ایمان معیار، په عمل کې جوتول، او پر هغې کلک درېدل، او د ایمان پایښت دی. د ایمان لپاره یوازې لفظي اعتراف بسنه نه کوي. حقیقي ایمان د زړه د تصدیق، د ایمان په رڼا کې عمل، او د پایښت مجموعه ده. یوازې لفظي اطاعت، د مؤمنینو د حقیقي ایمان معیار نه جوړوي. چې په حقیقت کې دا آیة، د منافقانو کړنې، او د ریښتیني ایمان معیار، تشریح کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا آية د ځينو منافقينو حالت بيانوي، چې په ښکاره او ظاهر کې، به يې لـه ايمان او اطاعته، خبرې کولې. خو بيا ځلي به خپل ړومبني کفر ته، ستنېدل. او د الله د رسول(ص)، له حکم څخه به يې سرغړونـه کولـه. او فرمايي؛ چې ايمان په خداى، عبارت دى لـه؛ د خداى پر يووالي، له زړه اعتقاد او باور درلودل، او پر هاغه دين چې تشريع کړى يې دى. او ايمان پـه رسـول دادى؛ چې پر دې قلبي اعتقاد ولري، چې هغـه [پيغمبر] د خداى استازى دى، او د هـغه امر، د خـداى امر، او نهى يې د خـداى نهى ده، او د هغـه حکم د خداى حکم دى.

د خداى تعالى اطاعت، له دې څخه عبارت دى، چې عمل، دهغه له شرعي سره مطابق، سر ته ورسوي. او د رسول اطاعت، عبارت له دې دى، چې د هغه د امر، فرمان وړونکى اوسي، او د هغه په نهې کولو منع او تم شي. او هغه څه چې هغه يې حکم کوي، او هر قضاوت چې هغه يې کوي ومني. نو په خداى تعالى ايمان درلودل، او د هغه اطاعت کول، له دين او تدين [دين او ديندار کېدلو] څخه پرته، کوم مورد نه لري. او په رسول ايمان او د هغه اطاعت هم، مورد يې هماغه خبر دى، چې هغه يې له دين څخه ورکوي. يعنې ايمان پر دې چې، د هغه خبر د خداى له لور دى، او د هغه له امر او نهې څخه اطاعت، او په شخړو او منازعو کې، د هغه حکم ته تن ورکول دي. لنډه دا چې، په ټولو چارو کې، د هغه حکم ته غاړه ايښوول دي. پر دې بناء، د دوو ايمانونو او اطاعتونو تر منځ يوازينى توپير، د مورد د لامحدود او محدود [سعه او ضيق] څخه دى. او کوم تفصيل چې په آية کې راغلى فرمايي: «آمَنَّا بِاللَّهِ وَبِالرَّسُولِ» چې د «با» توري يې تکرار کړى دى، چې همدغې [سعه او ضيق] ته اشاره لري، توضيح يې دا ده: چې «آمَنَّا بِاللَّهِ وَالرَّسُولِ» يې نه دي فرمايلي، ددې لپاره چې د دوو ايمانونو او دوو اطاعتونو تعدد انځور کړي. په عين حال کې، چې ددې دوو ايمانونو، او دوو اطاعتونو، تر منځ دوه ګونيتوب شته، په عين حال کې هيڅ يو له بله

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيل نه دي. لکه څنګه چې خداى تعالى، د هاغو کسانو په غندنه کې، چې دا دواړه يو له بېل غواړي. وفرمايل:«...وَيُرِيدُونَ أَنْ يُفَرِّقُوا بَيْنَ اللَّهِ وَرُسُلِهِ...» [نساء۱۵۰(۴:۱۵۰)] غواړي د خداى او رسولانو تر منځ يې بېلوالى واچوي. نو دا چې و يې فرمايل؛ «وَيَقُولُونَ آمَنَّا بِاللَّهِ وَبِالرَّسُولِ وَأَطَعْنَا» معنا يې دا ده؛ چې د خداى پر دين، د زړه له تله اعتقاد لرو، او هغه مو خپل شريعت ګومارلى دى. او هم پر دې قلبي اعتقاد لرو، چې «رسول الله (ص)» له حق پرته خبر نه ورکوي، او له حق پرته حکم نه کوي.

او دا چې و يې فرمايل: «ثُمَّ يَتَوَلَّى فَرِيقٌ مِنْهُمْ مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ» معنا يې دا ده چې؛ يوه طايفه له دې ډلې، چې ويل يې: «آمَنَّا بِاللَّهِ وَبِالرَّسُولِ وَأَطَعْنَا» ددې خبرې له ويلو وروسته، د خپلې وينا له مقتضا او اړينتيا څخه وګرځېدل، هغه ته يې شا کړه، او مخ يې واړوه. او ددې معنا چې و يې فرمايل: «وَمَا أُولَئِكَ بِالْمُؤْمِنِينَ» دا ده چې؛ يوازې هاغې طايفې ته ځانګړى نه دى، چې اعراض يې وکړ، چون د کلام سياق د ټولو د غندنې او مذمت دى. په ټوله کې مفسرين، د عمل او باور همغږى ته، اهميت ورکوي. د ايمان تر څرګندونې وروسته، د زړه تصديق، او د عمل همغږي اړين دي. هغه څوک چې وينا او عمل يې، مطابقت نه لري. او کله چې عملي ازموينې سره مخامخ شي، مخ اړوي. چې دا په حقيقت کې منافقت دى، او نوموړى شخص مؤمن نه، بلکې منافق دى. په قرآن کريم کې، په مختلفو الفاظو دې موضوع ته، ځاى پر ځاى نغوته شوې ده؛ چې ځينو ته يې په لاندې توګه اشاره کوو: «وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُولُ آمَنَّا بِاللَّهِ وَبِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِينَ» [بقره۸(۲:۸)] او ځينې له خلکو [په ژبه] وايي په خداى او په ورځ د آخرت مو ايمان راوړى دى، حال دا چې دوى [له زړه] مؤمنان نه دي.

«وَإِذَا لَقُوا الَّذِينَ آمَنُوا قَالُوا آمَنَّا وَإِذَا خَلَوْا إِلَى شَيَاطِينِهِمْ قَالُوا إِنَّا مَعَكُمْ إِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِئُونَ» [بقره۱۴(۲:۱۴)]. او [د هغوى د نفاق له نښو دا چې] هر کله چې له هاغو کسانو سره مخامخ شي چې ايمان يې راوړى دى، وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

مـورِ [هم] ايمان راوړی دی، او هـر مهال چې لـه خـپلو شـيطانانو [= هم ژمنو او هم کاسه دوستانو] سره خلوت [او ګوښه] شي، وايي: مورِ له تاسو سره يو، مورِ [پر هغوی] ملنډې کوو.

«إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا، ثُمَّ كَفَرُوا، ثُمَّ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا ثُمَّ ازْدَادُوا كُفْرًا لَمْ يَكُنِ اللَّهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيلًا. بَشِّرِ الْمُنَافِقِينَ بِأَنَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا»

[نساء۱۳۷(۴:۱۳۷) او ۱۳۸] بې له شکه هغو کسانو چې ايمان راوړ، بيا يې کفر وکړ او بيا يې ايمان راوړ او بيا يې [په بله تجربه کې] کفر وکړ، بيا يې په کفر کې زياتوالی ومونډ، خدای تعالی پر دې نه دی چې هغوی وښنی، نه دا چې کومې لارې ته يې هدايت کړي. منافقينو [= دوه مخې ظاهري مسلمانان] ته زيری ورکړه چې [له داسې چلن سره] يو دردناکه عذاب [په مخکې] لري.

«ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا فَطُبِعَ عَلَى قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ»

[منـافقون۳(۶۳:۳)] دا [ناوړتيـا] لـه دې کبلـه ده چـې هغـوی [تـش په ژبـه] ايـمان راوړ او بيـا يـې [پـه عمـل کـې] انکـار وکـړ، لـه دې کبلـه پـر زړونـو يـې [د تغييـر او انعطـاف د وړتيـا لـه لاسـه ورکولـو سره] مُهـر [= خاتمـه] ايښوول شوی او په پايله کې، [نور په حقيقت] نه پوهيږي.

ځينې خلک په عمل کې، له ايمان سره سم نه ځي، په داسې حال کې چې يوازې لفظي ايمان بسنه نه کوي. په دې منځ کې ډېر خلک داسې دي، چې د ايمان له درلودلو سره، کله چې ستونزه او ازموينه راشي، او د دنيوي ګټو مسئله مطرح شي، مخ اړوي. همدا لامل دی، چې عملي ژوند او د ژوند اخلاص او سپېڅلتيا، له خپلو ټولو لوړو ژورو سره، د حقيقي ايمان نښې او معيار څرګندوي. په پورتنيو ټولو آيتونو کې، په پرتله ييزه توګه، د لفظي او حقيقي ايمان، توپير څرګندېږي. پر ايمان پايښت، پرله پسې دوامداره اطاعت، او د زړه صادقانه هم غږي، د حقيقي مؤمن معيار دی. ځکه چې د آزموينې پر مهال، ثابت پاتې کېدل، د ايمان ريښتينی معيار دی. دا آيتونه ټول په يو شان اخلاقي، روحاني او عملي لارښوونه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که له نفسياتي نظره ورته وګورو، دا آيتونه د انسان د هوډ او ارادې، ژمنتيا او د پايښت اهميت څرګندوي. له اخلاقي نظره، تش لفظي اعتراف پرته له عمله، د ټولنيز اعتماد او ويسا، د کمښت لامل کېږي.

له روحاني نظره، د عمل او زړه همغږي، د اخلاص، ايمان او د الله د رضا تر لاسه کولو لپاره، اړين او ضروري دي. که د مسئلې تجربوي او ټولنيز اړخ ته، پاملرنه وکړو، څرګندېږي؛ چې د ټولنې د اخلاقو، باور او د مؤمنانو د تلپاتې او دوامدارې ټولنيزې همکارۍ لپاره، ريښتينی ايمان اړين او ضروري دی. نو په پايله کې ويلی شو چې: تش لفظي ايمان، چې يوازې د بيان پر بنسټ وي، ارزښت نه لري.

حقيقي مؤمن هغه دی، چې د زړه ايمان او عمل يې، مطابقت ولري. او د خپل ايمان له مخې، الله او رسول ته يې، تلپاتې او پرله پسې دوامدار اطاعت ولري. ددې ورته والی د قرآن له نورو آيتونو سره جوتوي، چې ريښتينی ايمان، د آزموينې پر مهال ثابت او ټيکاو پاتې کېدل غواړي؛ نو ويلی شو چې، د «نور» سورة دا آية، له منافقته مخنيوی، د ايمان حقيقي معيار، او د اخلاقي، روحاني او عملي پايښت، اهميت څرګندوي.

د الهي عامې بلنې له ورسپارنې وروسته يې، دلته په ځانګړې توګه منافقينو ته پاملرنه کړې ده. د چا فتنه چې په دې زمانه کې، لکه څنګه چې د افک له فتنې څرګندېږي، ډېره لوړه شوې وه. فرمايلي يې دي، چې تر کومې چې، له ژبني اظهار او اعلان سره تړاو دی، دوی هم لکه د نورو مسلمانانو په څېر، الله او رسول ته د ايمان او اطاعت دعوا کوي، خو کله چې ددې دعوې، ايمان او اطاعت، د امتحان وخت راځي، نو هغوی کورټ ښوئيدلي جوتېږي. «...وَمَا أُولَئِكَ بِالْمُؤْمِنِينَ» يعنې دا راز د ايمان مدعيان د الله په نزد مؤمنان نه دي.

د ايمان حق، يوازې له کلمې ويلو سره، نه پوره کېږي. بلکې ددې لپاره اړين شرط دا دی؛ چې د الله او د هغه د رسول حکمونه، له چون او

(c) ketabton.com: The Digital Library

چرا پرته ومني، او اطاعت يې وکړي. که کوم وګړی دا شرط نه پوره کوي، نو هغه په خپلې دعوه کې، دروغجن او پوخ منافق دی.

د اته څلوېښم آية، ترجمه شرح او تفسير

وَإِذَا دُعُوا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ إِذَا فَرِيقٌ مِنْهُمْ مُعْرِضُونَ﴿۴۸﴾

[شاهد يې دا چې] کوم مهال چې د الله او د هغه د رسول [=کتاب او سنّت] لور ته بلل کيږي ترڅو [د هغوي په اختلافونو کې] د هغوي تر منځ قضاوت وکړي، په دې حال کې يوه ډله له هغوي [چون پوهيږي باطله ادعا يې محکومېږي] نابره مخ ګرځوي.

وَإِذَا	دُعُوا	إِلَى اللَّهِ	وَرَسُولِهِ	لِيَحْكُمَ	بَيْنَهُمْ
او هغه مهال چې	هغوی وبلل شي	په لور د الله	او رسول د هغه	چې پرېکړه وکړي	په منځ د هغوی کې

إِذَا	فَرِيقٌ	مِنْهُمْ	مُعْرِضُونَ
نابره	يوه ډله	له هغوی	مخ اړوونکي دي

«وَإِذَا دُعُوا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ إِذَا فَرِيقٌ مِنْهُمْ مُعْرِضُونَ» ددې آية سياق شهادت ورکوي پر دې چې؛ د ځينو منافقينو په اړه نازل شوی؛ چې له ځينو نورو سره يې معامله، او مرافعه در لوده، او هغه بل لور وړاندیز کړی، چې رسول الله ته، د قضاوت او فيصلې لپاره لاړ شي. نو هر څه چې هغه، د دوی تر منځ، حکم وکړي، هغه به يې مني. خو هغه منافق، داسې کړنو ته، چمتو نه وو. او دا آيتونه، د هغه او د هغه په څېر کسانو په اړه، نازل شوي دي.

«وَإِذَا دُعُوا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ» کله چې د خدای او د هغه د رسول لور ته، دعوت او بلل کيږي. «لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ» چې د هغوی په منځ کې حکم وکړي، يعنې تر منځ يې داوري او نياو وکړي.«إِذَا فَرِيقٌ مِنْهُمْ مُعْرِضُونَ» يو شمېر يې مخ اړوي، او حکم منلو ته حاضر نه دي.

ويلې يې دي؛ مورِ په خدای او رسول ايمان راوړی دی. خو که دعوا يې شي، له کوم دوست يا همسايه سره يې اختلاف وشي، په ټولنې کې يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بل سره له ټکر يا نښتې سره مخامخ شي، کـه ورته وويل شي خـدای ته مراجـعه وکړئ، خـدای ته خـو مستقيم نـه کيږي، يعنې د خدای کتاب ته مراجعه وکړئ؛ چې د خدای په کتاب کې، د داسې اختلاف قضاوت څنګه دی. مثلاً که د ښځې او مېړه تر منځ اختلاف وي، له همسايه او يا نورو د اختلاف حـکم، د لارښـوونې او هـدايت په دې کتاب کې څـه دی؟ حـل لار يې څـه ډول ده؟ او رسـول هم چې ابلاغ کـوونکی دی، لـه ټولو ډېر پوه دی، هغـه څـه وايي؟ خـو دوی حـاضر نـه دي، ځـکه چـې په نتيجـه يې پوهيږي، هغوی غواړي هغه حکم چې په ګټه يې دی ورکړل شي. نو هغوی فکر کوي؛ که مراجعه وکړي محکوميږي، نو ځکه نه راځي.

سره له دې چې، رسول الله (ص)، د خلکو تر منځ، د خدای د حکم پر اساس، حکم کوه. لکه څنګه چې قرآن کريم، په دې اړه فرمايلی دي:

«إِنَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا أَرَاكَ اللَّهُ...»

[نساء۱۰۵(۴:۱۰۵)] مونږ کتاب په حقه پر تا نازل کړ، چې د خلکو تر منځ، پر هاغه څه چې، خدای درښوولي، حکم وکړې....

نو حکم، رسول الله (ص) ته، يو خاص او ځانګړی نسبت لري. چې يو د هغه له شخصي کړنو سره، نسبت دی. او يو نسبت هم، له سبحان خدای سره لري، چې د هغه د شريعت برخه ده. او هغه [الله] دی چې پيغمبر يې، د حکم او قضاء لپاره، ګومارلی دی. له دې بيانه څرګنديږي، چې د خدای لور ته، له دعوت او بلنې څخه مقصد، دادی چې، د نزاع او جنجال په اړه، هغه څه چې د هغه د شريعت اقتضاء او غوښتنه ده، دوی ترې متابعت او پيروي وکړي. او د هغه د رسول پر لور، له بلنې او دعوت څخه موخه چې، د خلکو په منځ کې د حق پر بنسټ حکم وکړي. چې دا د هاغه څه له متابعت څخه عبارت دی، چې هغه پخپله پرې حکم کوي. او همدا راز، څرګنده او ظاهره، خبره دا ده؛ چې په «ليحکم» کې ضمير رسول(ص) ته ورګرځي، او که ضمير يې مفرد راوړی [ويلي يې دي؛ چې حکم وکړي] او تثنيه يې نه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوړی [نه يې دي ويلي؛ چې هغه او خدای حکم وکړي]، دې ته اشاره ده، چې د رسول حکم، په اصل کې، د خدای حکم دی. دا چې هغوی نه راځي، چې رسول(ص)، د هغوی تر منځ حکم وکړي، ددې لپاره چې؛ هغوی خپلو شخصي ګټو پسې دي، د هغوی لپاره پخپله، د هغوی خپل ځان مطرح دی، خو د شخصي ګټو له کبله وايي، چې ايمان يې راوړی دی. ددې لپاره چې ثابت شي، د يو چا ايمان حقيقي دی، له دې څرګندېږي چې؛ که کوم حکم، د هغه پر خلاف وي، آيا غاړه ورته ږدي که نه؟ دا څيزونه خو مورږ، د تېر په عنوان لولو، خو کولی شي، سړی د خپل ځان په اړه هم فکر وکړي، چې زمورږ رويه او غبرګون د حکم منلو په وخت کې څه دی. پرله پسې دا تل مطرح دي، تر کوم بريده خدای منو، آيا تر دې بريده چې زمورږ په ګټه دی، او که نه، هر څه چې حق وي، هغه منو.

په قرآن کې بل آية دی چې فرمايي: «وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُولُ آمَنَّا بِاللَّهِ فَإِذَا أُوذِيَ فِي اللَّهِ جَعَلَ فِتْنَةَ النَّاسِ كَعَذَابِ اللَّهِ...» «او په خلقو کې ځينې هغه څوک دي، چې وايي: مورږ په الله ايمان راوړی دی، نو کله چې ده ته په (لاره د) الله کې تکليف (او سختي) ورسولی شي (، نو) د خلقو (له اړخه) سختي (او فتنه) د الله له جانبه عذاب وګڼي...» [عنكبوت ۱۰(۲۹:۱۰)].

که څوک ځېنو آګاهيو ته رسېدلی وي، بايد خپله وظيفه سرته ورسوي، او که ورته سخت ستونزمن شو، دا خو نشي کېدلی، تري لاسونه اوچت کړي، بايد وظيفه يې سر ته ورسوي. که له آګاهۍ موندلو وروسته، وظيفه سر ته ونرسوي، نو نتيجه يې د خدای عذاب دی. نشي کېدی، سړی خپله وظيفه، چې د حق پر وړاندې يې لري، پرېږدي.

يا لکه په بل ځای کې چې وايي: «وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَعْبُدُ اللَّهَ عَلَىٰ حَرْفٍ» او ځېنې له خلکو هغه دي، چې عبادت او ايمان يې، پر څنډه دی. يعنې پر ثابت ځای نه دی. ټيکاو نه دی. لکه د هاغې سړي په څېر دي، چې پښه يې پر څنډه ايښې وي. او تل شونی دی، سقوط وکړي. يو ثابت او

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوت ايمان، نه لري. «فَإِنْ أَصَابَهُ خَيْرٌ اطْمَأَنَّ بِهِ وَإِنْ أَصَابَتْهُ فِتْنَةٌ انْقَلَبَ عَلَى وَجْهِهِ خَسِرَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةَ ذَلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِينُ» نو که ده ته خير ورسي (نو) په دې (دين) ډاډه، مطمئن (او قايم) پاتې شي. او که ده ته څه مصيبت ورسي (، نو) بېرته په خپل مخ (کفر ته) وګرځي، ده (خپل) دنيا او اخرت ضايع کړل، همدغه ښکاره تاوان دی. [حج ۱۱(۲۲:۱۱)] يعنې تر هاغې پورې، د حق او عدالت او انسانيت، خبره کوي، د ملت او ولس د ګټو، او د خدمت خبره کوي، چې خپله دده شخصي، ګټه او نفع وي. نو دلته معيار پخپله شخص دی، دا تسليم نه دی، اعراض کول دي، مخ اړونه ده.

د نهه څلوېښم آية، ترجمه شرح او تفسير

وَإِنْ يَكُنْ لَهُمُ الْحَقُّ يَأْتُوا إِلَيْهِ مُذْعِنِينَ﴿۴۹﴾

او [خو] که حق د هغوي په نفع وي، په اطاعت [د قضاوت لپاره] د رسول الله(ص) خوا ته راځي.

وَإِنْ	يَكُنْ	لَهُمُ	الْحَقُّ	يَأْتُوا	إِلَيْهِ	مُذْعِنِينَ
او که	وي	د هغوی لپاره	حق	راځي هغوی	په لور د رسول	غاړه ايښوونکي

«وَإِنْ يَكُنْ لَهُمُ الْحَقُّ يَأْتُوا إِلَيْهِ مُذْعِنِينَ» او که حق د هغوی په ګټه وي، مطيع او غاړه ايښودي، د رسول الله خوا ته راځي.

«وَإِنْ يَكُنْ لَهُمُ الْحَقُّ...» خو که ډاډه او مطمئن وي، چې د هغه په ګټه، رايه ورکول کېږي، يعنې حق دده په ګټه وي. «...يَأْتُوا إِلَيْهِ مُذْعِنِينَ» [اذعان يعنې اعتراف او اقرار] له اعتراف او اقرار سره، هرو مرو «رسول الله» ته راځي. په واقعيت کې، دا يو ډول اړولې ديندارې ده، وايي دوی واقعاً په رښتيني توګه، مؤمنان نه دي.

و مو ويل؛ چې «اذعان» د انقياد، غاړې ايښوولو، او اطاعت کولو، په معنا دی. او د آية ظاهر، او څرګند سياق، په خاصه توګه، د «يَأْتُوا إِلَيْهِ» له جملې څخه مقصد دا دی؛ چې له «حق» څخه مراد، د پيغمبر حکم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه حکم داسې یو حق دی، چې له پیغمبره نه ښلیږي. او معنا یې داسې کېږي؛ او که حق، یعنې د پیغمبر حکم، د هغوی [«منافقینو»] په ګټه وي، نه په زیان یې؛ د دې حکم پر لور، په داسې حال کې چې، منقاد او مطیع وي، راځي. نو ښرته ترې نه ګرځي، مګر هاغه مهال چې، حکم د هغوی پر ضد وي. او له دې معنا سره، اړینه ده، چې وویل شي؛ هغوی د خپل نفس له هوا، تبعیت کوي، او ددې قصد نلري، چې د حق اطاعت وکړي، او دا حالت یې، د ازمېښت پر مهال، په ښه توګه څرګندېږي.

د پنځوسم آیة، ترجمه شرح او تفسیر

أَفِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ، أَمِ ارْتَابُوا، أَمْ يَخَافُونَ أَنْ يَحِيفَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ وَرَسُولُهُ، بَلْ أُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ﴿۵۰﴾

آیا په زړونو کې یې بیماري ده؟[۵۳] یا شک لري؟ یا ډاریږي، چې الله او رسول به، د دوي حق تر پښو لاندې کړي؟[۵۴] [داسې نه ده] بلکې دوی پخپله ظالمان دي.

أَفِي قُلُوبِهِمْ	مَرَضٌ	أَمِ	ارْتَابُوا،	أَمْ	يَخَافُونَ	أَنْ	يَحِيفَ اللَّهُ
آیا په زړونو ددوی ګې	بیماري ده	یا	دوی شک کړی	یا	ډاریږي دوی	چې	ظلم به وکړي الله

عَلَيْهِمْ	وَرَسُولُهُ،	بَلْ	أُولَئِكَ	هُمُ	الظَّالِمُونَ
پر دوی	او رسول د هغه	بلکې	همدا خلک	همدوی	ظالمان دي

---

۵۳ – د «فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ» اصطلاح، په ټوله کې «۱۰» ځلې، په قرآنکریم کې تکرار شوې ده. چې د یو ډول نفاق بیانوونکې، او د ربستینو مؤمنینو په پرتله، د منافقینو پیژندونکې ده. خو له دغو لسو ځلو څخه، درې ځلې منافقین او هغه کسان چې، په زړونو کې یې مرض دی، بیل ذکر کړي دي. [انفال۴۹(۸:۴۹)، احزاب۱۲(۳۳:۱۲)، او ۶۰(۳۳:۶۰)]. له دغه ښلښت څخه څرګندېږي، چې له دغو دواړو عنوانونو څخه، هر یو، د دوو ځانګړو روحي حالتونو، څرګندوی دی؛ نفاق د دوه مخیتوب، تظاهر او د ادعا او کړنو، د تفاوت یوه نښه ده. خو د زړه ناروغتیا، پر هغو سربیره له بدنیّت، د کړو وړو له ناولتیا، او د خیانت له قصد نه، هم حکایت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵۴ – «يَحِيفَ»: لـه «حَيفَ» څخـه؛ غيـر عادلانـه نيـاو، او با طل تـه، او يـو لور ته، يو اړخيزه لېوالتيا، څرګندوي.

«أَفِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ، أَمِ ارْتَابُوا، أَمْ يَخَافُونَ أَنْ يَحِيفَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ وَرَسُولُهُ...» آيا په زړونو کې يې بيماري ده؟ يا شک او ترديد لري؟ يا ډاريږي، چې خداى او رسول به، پر هغوى ځور او ستم وکړي؟

«أَفِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ،» آيا ددوى په زړونو کې، مرض دى، [سالم زړه خو، حقيقت ته تسليم دى]، کله چې حقيقت ته تسليم نه وي، نو هرومرو يو څيز خو شته، آيا کينه لري، دښمني لري، ځان غوښتنه او خود خواهي لري، داسې برېښي چې، يو لړ اخلاقي رذيلتونه شتون لري، چې نه يې پرېږدي، حق ته تسليم شي. آيا ستونزه دلته ده، يعنې په شخصيت کې يې، په نفس کې يې ستونزه ده «أَمِ ارْتَابُوا،» يا شک لري، يعنې د ايمان حقيت يې، لا درک کړى نه دى، يعنې له عملي اړخه دى، له خصلتي اړخه دى، لـه شخصيتي اړخـه دى، يا د نظري تـرديد لـه اړخـه دى.

«أَمْ يَخَافُونَ أَنْ يَحِيفَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ وَ رَسُولُهُ» يا ډاريږي، چې خداى او رسـول بـه، لـه هغـه سـره ظلم وکړي، يا حـق به يې تر پښـو لاندې شي [يحيف، حيف يعنې ظلم کول]، يعنې دا چې حاضر نه دى، د قـانون معيار ته غاړه کېږدي، ويرېږي، ښايي خداى تعالى او رسول يې، له دوى سره ظالمـانه نياو، او قـضاوت وکـړي.

«بَـلْ أُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ» [داسې نه ده] بلکې دوى، پخپله ظالمان دي. يعنې دا پخپله يو ډول ظلم دى [د ظلم معنا دا ده؛ چې کوم څيز پر خپل ځاى کې نـه وي، اړين نه دى، چې هرو مرو، ظلم پر بل چا وي. بدترين ظلم هغه دى، چې سړى يې، پر خپل ځان کوي. يعنې دا سړى په سم ځاى کې، قرار نلري، هغه پخپله خپل ځان د حق معيار، او ملاک ګڼي. هر ځاى کې چې يې، په خپله ګټه وي، هغه ځاى مني. او کوم ځاى چې، دده په ګټه نه وو، که حق هم وي، نه يې مني].

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرمايلې يې دي: دې منافقينو، چې دا دوه مخې، نيمه دننه، نيمه د باندې، پاليسي غوره کړې ده. دا له دريو حالتونو څخه، خالي نه ده؛ يا دا چې د دوی په زړونو کې، بيماري ده. يا هغوی د رسول په رسالت، او د اسلام د راتلونکې په اړه، لا تر اوسه په شک کې دي. يا هغوی انديښنه لري، چې که هغوی، خپلې معاملې او لانجې، د الله او د هغه رسول عدالت ته راوړي، نو الله او د هغه رسول به، له هغوی سره، ظلم او زياتی وکړي. ـ اوس هغوی دې، پخپله فيصله وکړي. چې هغوی له دې دريو، په کومې يوې بيماری، اخته دي. يا په يو مهال کې، پر هر درېواړو اخته دي. ـ له دې درېواړو څخه په هر يو کې، چې اخته وي، له ايمان سره منافي دی. «بَلْ أُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ» يعنې هغوی ته، د خدای او رسول، له ظلم او تيري څخه انديښنه ده. حال دا چې، هغوی د دې طريقې په غوره کولو سره، پخپله پر خپلو ځانونو، ظلم او تېری کوي. ـ هغوی په خپل گومان کې، خپلې راتلونکې گټې خوندي کوي. حال دا چې، هغوی د ژورې کندې تر څنگ، پناه اخېستې؛ په داسې حال کې، چې دې ژورې کندې ته، غورځېدونکي دي. داسې کنده او گودال چې، بېرته وتل ترې، محال دي.

په پورتنيو درېواړو حالتونو کې، چې که هره بڼه يې وي؛ د داسې خلکو په ظالمتوب کې، هيڅ شک نشته. – د داسې اند او انگېرنو والا کوم شخص، چې د مسلمانانو په منځ کې شامل شي، د ايمان دعوا کوي، او ځان د مسلمانانو د ټولنې يو غړی گڼي، او له اسلامي ټولنې څخه، ناجايزې او ناسمې، گټې حاصلوي. هغه ډېر ستر فرېبکار، ټگمار، چلوليې، خاين او جعل کار دی. هغه پر خپل نفس هم ظلم کوي، چې له خپلو شپېنيو ورځينيو دروغو سره لگېا وي، د ډېرو ذليلو خويونو او خصلتونو، جوسه او ځاندره جوړوي. او پر هاغو مسلمانانو هم ظلم کوي، چې هغوی د دوی، په ظاهري شهادت کليمې ويلو غولېږي، او هغه د خپلې ټولنې غړی گڼي، او بيا له دوی سره راز راز ټولنيزې، تمدني، سياسي او اخلاقي، اړيکې ټينگوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د «فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ» اصطلاح، په ټوله کې ۱۰ ځلې، په قرآنکريم کې تکرار شوې ده. چې د يو ډول نفاق بيانوونکې، او د رښتينو مؤمنينو په پرتله، د منافقينو پيژندونکي ده. خو له دغو لسو ځلو څخه درې ځلې يې، منافقين او هغه کسان چې، په زړونو کې يې مرض دی، بيل ذکر کړي دي؛ «إِذْ يَقُولُ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ غَرَّ هَؤُلَاءِ دِينُهُمْ...» [انفال۴۹(۸:۴۹)] «هغه مهال چې منافقانو [= دوه مخو] او هغه کسانو چې په زړونو کې يې مرض دی [= بدنيت او د خيانت قصد لري؛ يو بل ته] ويل: دوی [مسلمانانو] ته د هغوی دين فريب ورکړی دی...» «وَإِذْ يَقُولُ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ مَا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ إِلَّا غُرُورًا» [احزاب۱۲(۳۳:۱۲)] «او هغه مهال چې منافقانو [= دوه مخو] او هغوی چې په زړونو کې يې بيماري ده، ويل: الله او استازي يې له فريب [او چل ول] پرته مور سره ژمنه نه ده کړې.» او همدا راز «لَئِنْ لَمْ يَنْتَهِ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ وَالْمُرْجِفُونَ فِي الْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَا إِلَّا قَلِيلًا» [احزاب۶۰(۳۳:۶۰)]. «که منافقان [= دوه مخي] او هغه کسان چې په زړونو کې يې ناروغي ده او په نبار کې اوازه خپروونکي [د مېرمنو لپاره له مزاحمت پيدا کولو] لاس وانخلي، په قطعي توګه تا د هغوی پر خلاف لاسبری ته هڅوم، هغه مهال له لږ وخت پرته ستا په څنګ کې [په دې نبار کې] نه پائيږي.»

له دغه بېلښت څخه څرګندېږي؛ چې له دغو دواړو عنوانونو څخه، هر يو د دوو ځانګړو روحي حالتونو، څرګندوی دی. نفاق د دوه مخيتوب تظاهر، او د ادعا او کړنو، د تفاوت يوه نښه ده. خو د زړه ناروغتيا، پر هغو سربيره، له بدنيّت، د کړو وړو له ناولتيا، او د خيانت له قصد نه هم، حکايت کوي.

د يو پنځوسم آية، ترجمه شرح او تفسير

إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ أَنْ يَقُولُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴿۵۱﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

[خو رښتيني] مؤمنان کله چې د الله او د هغه د رسول لور ته بلل کيږي تر څو د هغوي تر منځ قضاوت وکړي، د هغو خبره له دې پرته بله نه ده چې: مونږ واورېدل او فرمان ورونکي يو، او دوي هماغه بريالي [او نجات موندونکي] دي.

إِنَّمَا	كَانَ	قَوْلَ	الْمُؤْمِنِينَ	إِذَا	دُعُوا	إِلَى اللَّهِ	وَرَسُولِهِ
بېشکه	ده	وينا	د مؤمنانو	کله چې	وبلل شي هغوی	په لور د الله	او رسول د هغه

لِيَحْكُمَ	بَيْنَهُمْ	أَنْ يَقُولُوا	سَمِعْنَا	وَأَطَعْنَا
چې پرېکړه وکړي	په منځ د هغوی	چې وايي به	واورېدل مونږ	او اطاعت او منله وکړه مونږ

وَأُولَئِكَ	هُمُ	الْمُفْلِحُونَ
او همدا کسان	همدوی	نجات موندونکي دي

په مخکينيو درېو آيتونو کې، هاغو کسانو ته اشاره وه، چې منافقين او دوه مخي دي، او په زړه کې يې ناروغي ده. ويل يې؛ هغوی چې د الله او د هغه د رسول لور ته، د قضاوت لپاره وبلل شي، مخ اړوي. او کوښښ کوي، خپلې معاملې او شخړې، د قضاوت او فيصلې لپاره، بل لور ته يوسي. ځکه چې دوی د زړه له تله، ايمان نه دی راوړی. دوی ډارپرې، چون حق يې په دعوو کې نشته. د خپلو دنيايي ګټو، د نه خوندیتوب په صورت کې، قانون ته غاړه نه ږدي. خو راتلونکي آيتونه ددې پر عکس دي، دا د واقعي مؤمنينو په اړه دي. وايي: «إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ أَنْ يَقُولُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ» د مؤمنانو خبره، هغه مهال چې، د خدای او د رسول لور ته يې وبلل شي، چې د هغوی تر منځه نياو او قضاوت وکړي، يوازې داده چې وايي: «مونږ واورېد او اطاعت مو وکړ». او دوی واقعي بريالي، او زرغونېدونکي دي.

«إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ» د واقعي مؤمنانو وينا، کله چې د خدای او د هغه د رسول پر لور، بلل کېږي. [د خدای او د هغه د رسول حکم ته،] «لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ» چې د هغوی په منځ کې، حکم وکړي، د هغوی تر منځ قضاوت، او نياو وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي: «أَنْ يَقُولُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا» غبرګون يې له دې پرته نه دی، چې وايي؛ مورِ واورېد او اطاعت کوو. يعنې غوږ په فرمان يو. يعنې دوی، په دې پسې نه دي، چې په ګټه يې وي هغه ومني، بلکې دوی قانون ته غاړه ږدي؛ مورِ واورېد او اطاعت کوو، دوی واقعي مؤمنان دي. «وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ» او دوی مفلح دي. مفلح، رستګار ترجمه کوي. خو لکه څنګه چې مخکې مو هم ورته نغوته کړې؛ مفلح د فلح له ريښې دی. فلح يعنې څپړل او څيرې کول دي، کرونـدګر ته هم فلاح وايي؛ چې ځـمکه اړوي، څپړي او څيرې کوي، نو فلح يو ډول غوړېدل، او بـار نېول دي، زرغونېدل او تازه کېدل دي، فلورښ کېدل دي. ددوی خپل انساني استعدادونه غوړېږي، د هر انسان په وجود کې، په بالقوه بڼه خدايي صفتونه، او اخلاقي ارزښتونه شته. که عمل وکړي، او دا استعدادونه وغوړوي، او بارور يې کړي، استعدادونه وڅپړي، لکه د ګل د يوې غوټې په څېر چې وغوړېږي، يا يوه دانه چې زرغونه شي. يعنې د دانې بالقوه استعداد، فعليت ته رسېږي. يعنې خدای تعالی ته واقعي تسليمېدل، د انسان شخصيت جوړوي.

که سړی يوازې خبرې وکړي، او تل ادعا وکړي، او عمل ونکړي، وده نه کوي. يعنې د انسان وده او رشد دادی، چې انسان له خپله ځانه بيرون راووځي، او هاغه څيز ته چې حق يې ګڼي، هاغه څيز چې قانون يې ګڼي، تمکين ورته وکړي، او غاړه ورته کېږدي. نو په دې آية کې، د حق په وړاندې، مطلق تسليمېدلو ته نغوته کوي.

لکه څنګه چې مخکې مو وويل؛ په تېرو آيتونو کې، د تورزړو منافقانو غبرګون، چې په تپلو او متراکمو ظلمتونو او تپو تيارو، او «بعضها فوق بعض» کې يې شتون درلود. د خدای تعالی او د پيغمبر(ص)، د نياو او قضاوت په وړاندې، مو وليدل، چې څه ډول يې د پيغمبر(ص)، له عدل او نياو څـخـه سرغـړونه کـوله. ګـواکـې ډاړېدل چـې، خـدای تعـالـی او پيغمبر(ص)، د هغوی حق تر پښو لاندې کړي!.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر بحث لاندې دا آيتونه، د تېرو هغو مقابله نقطه، يعنې له دې الهي نياو او قضاوت سره، د مؤمنانو برخورد تشريح کوي. او وايي: «هغه مهال چې مؤمنان، د خداى او د هغه د رسول لور ته، د نياو او قضاوت لپاره بلل کېږي، له يوې خبرې زياته نه لري، او هغه دا چې وايي: وا مو وريد او اطاعت مو وکړ». څومره په زړه پورې تعبير؛ «سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا» لنډ او له معنا ډک.

په زړه پورې دا چې، د آيت په پيل کې د «اِنَّما» کليمه چې، د انحصار لپاره ده. وايي: هغوى له دې پرته، بله خبره نه لري، او سر تر پايه يې همدا خبره ده، او په رښتيا د ايمان حقيقت هم همدا دى او بس. «سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا».

هغه څوک چې، الله پر ټولو څيزونو عالم ګڼي، او نااړمن او بې نيازه له هر چا، او پر ټولو بندګانو رحيم او مهربان، [لورين او لوراند]. څنګه کېداى شي، د بل چا قضاوت ته، د هغه پر نياو او قضاوت، ترجيح ورکړي؟ او څه ډول شونى دى، د هغه د فرمان او قضاوتونو پر وړاندې، له اوريدلو او اطاعت کولو پرته، کوم بل غبرګون څرګند کړي.

او د رښتينو مؤمنانو د بري لپاره، څه ښه وسيله، او ستر آزمېښت؟! همدا لامل دى، چې د آية په پاى کې، فرمايي: «هغوى واقعاً بريالي او زرغون دي» دا رښتيا ده، چې هر هغه څوک چې، د خپلو چارو واګې د خداى تعالى لاس ته وسپاري، او هغه خپل حاکم او قاضي ومني، له شک پرته، په هر څيز کې بريالى دى. که هغه مادي ژوند وي، او که معنوي ژوند وي. خو هغه څوک چې په يو مهال کې، له کفر او اسلام دواړو سره، د خپلو ګټو تر بريده، دوستي ساتي. دا د دواړو کښتيو سپور، هرومرو ډوبېږي.

د دوه پنځوسم آية، ترجمه شرح او تفسير

وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَخْشَ اللَّهَ وَيَتَّقْهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ﴿۵۲﴾

او څوک چې له الله او د هغه له رسوله اطاعت وکړي او له الله [په نظام کې د خپلې ګناه له عوارضو] ويره ولري او [د هغه له نافرمانۍ] پروا وکړي، دغه راز کسان همدوى د ژغورنې [او توفيق] موندونکي دي.[۵۵]

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَمَنْ	يُطِعِ اللَّهَ	وَرَسُولَهُ	وَيَخْشَ اللَّهَ	وَيَتَّقْهِ
او هغوی چې	د الله اطاعت کوي	او د رسول د هغه	او وويرېږي له الله	او له هغه [له سرغړونې] ځان وژغوري

فَأُولَئِكَ	هُمُ	الْفَائِزُونَ
نو همدغه خلک	همدوی	د ژغورنې [او توفيق] موندونکي دي

۵۵ – فوز او فلاح، نجات او يا رستګاري [غوړېدا] معنا کوي. خو د دغو دواړو اصطلاح ګانو، تر منځ توپير شتون لري؛ فلاح د «فَلَحَ» له ريښې، د آدمي په نفس کې، د بالقوه معنوي استعدادونو غوړيدل، او وده کول دي. چې د دنيا په ژوند کې، بايد تحقق وموميِ. خو فوز؛ پراو او موخې ته په سلامتي رسيدل، او د لارې له ستونزو او خطرونو څخه، ژغورنه او نجات موندل دي.

اعرابو به، بيابانونو او وچو صحراګانو ته، «مفازه» ويل. او له داسې، وچو او سوځوونکو صحراګانو څخه تېرېدل، او عبور کول يې «فوز» نوماوه.

«وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ» هر څوک چې له خدايه [د ميلياردونو کهکشانونو پنځوونکي خدای، د وجود د عالم خدای]، او د هغه له رسوله [د هغه له استازي چې د هغه د هدايت د پيغام لېږدوونکی دی] اطاعت وکړي «وَيَخْشَ اللَّهَ» او له خدايه خشيّت ولري [خشيّت، ويره ترجمه کوي خو مخکې مو هم توضيح کړې، ښايي په قرآن کې لس، پنځلس کليمې داسې وي چې په ترجمو کې هر ځای کې يې ويره ترجمه کړې، خو هره کليمه يو تر بله توپير لري].

خشيّت له خوف سره يو نه دی، له وجلت سره يو نه دی. خشيّت يو حالت دی، له دې چې؛ کله سړی د يو سټروالي او عظمت پر وړاندې، قرار ونيسي، له کوم حالت سره چې مخامخ کېږي، خشيّت ورته وايي.

لکه چې وايي؛ «...إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ...» [فاطر۲۸(۳۵:۲۸)] له خدايه فقط پوه او انديال عالمان بندګان خشيّت لري، کله چې سړی شناخت پيدا کوي، د ښکارندو په سټروالي، د خدای تعالی د خلق او خلقت په سټروالي، کوم حيرت چې ورته پيدا کېږي، له کوم هيبت سره، چې مخامخ کېږي، دې حالت ته خشيّت وايي. تاسو کله چې، د يو مهم شخصيت پر وړاندې، قرار ونيسئ، دا کېدای شي، کوم اداري يا دولتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

شخصيت وي، يا کوم ستر علمي شخصيت وي؛ سړی څه ډول چلن کوي. د يو ستر شخصيت په حضور کې، سړی خپلې وينا او چلن ته، ډېره پاملرنه کوي. خو کله چې څوک، کوم چا ته اهميت نه ورکوي، د خپلې وينا او چلن په اړه، دومره پاملرنه هم نه کوي. مثلاً مخامخ ورته پښې غځوي، يا ستوماني وباسي. په هاغه نسبت چې، انسان کوم څيز يا شخصيت مهم ګڼي، د هغه پر وړاندې، د حضور کوم احساس چې کړي، که ورته مهم وي، يو ځانګړی حالت ورته پيدا کېږي، چې همدې ته خشيّت وايي.

کـه يو څـوک بـاور ولـري، چـې دا جـهان، د واک او اخـتيار، يو خـاوند لـري، يو واکمـن لـري، مـوږ يو چـا خـلق کـړي يو. ټول هغه کسـان چې موږ ابهت، برم او پرتم، ورته قايل يو. ټول هغوی چې سـتر يې ګڼو. هغوی ټول، د هغه په وړاندې، هيڅ دي. {اپسـيلون Epsilon (Ɛɛ) هم نـه دي} نو د هـغه په وړاندې د څـه حـالت سـره، انسان مخـامخ کېږي. يعنې مـراعات يي کـوي، درنـاوی يې کـوي، پام ورته کـوي، او په وړاندې يې د عـظمت احساس کـوي. [نو کـله چې انسان دا ډول حـيرت د هاغه عظمت په وړاندې وکړي، دې ته خشيّت وايي.]

«وَيَتَّقْهِ» دا په اصل کې [يَتَّقِيهِ] وو، (يا) يې حذف شوې ده، چون د شرط ځواب دی، کله چې کوم څيز شرط وي، دوه سکونه چې پرله پسې، يو له بل پسې راشي، نو د مجزوم کېدلو له کبله، يو يې حذف کېږي. يَتَّقْهِ يعنې له هغه پروا ولري، پروا يعنې د ځان کنټرول. خدای تعالی، د هغه له عظمت سره وپېژني. او د هغه پر وړاندې، د قوانينو او نظامونو او مقرراتو خلاف، عمل ونکړي. موږ ولې له پوليسو ډارېږو، او د هغوی په مخکې کوښښ کوو خلاف ونکړو. که په هغه معنا، په هاغه نسبت سړی په خدای باور ولري، کوښښ کوي، د خدای په وړاندې، هرومرو د خپل ځان مراقبت وکړي. دلته د خشية او تقوی، دواړه لفظونه، يو ځای کارول شوي دي. و مو ويل؛ چې خشية دلته، د زړه د حالت، د تعبير لپاره دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او له تقوی څخه مقصد، د الهي بريدونو، څارنه او پاسوالي ده. يعنی د يو اړيکه، له باطن سره ده. او د بل اړيکه، له ظاهر سره ده.

فرمايلي يې دي؛ چې موخې ته د رسېدو وړ او فائز او بريالي، هاغه خلک دي، چې په نرم او گرم هر ډول حالتونو کې، له ټولو شخصي گټو څخه پورته، د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړي. او د هغوی په زړونو کې، د الله ويره او پروا وي. او هغه په خپل ورځيني ژوند کې، د الله د حدونو او بريدونو، پوره پاسوالي وکړي. له دې څرگندېږي، چې د نجات او بريالیتوب لپاره؛ (لومړی) دا چې، تش په خوله، د ايمان دعوا بسنه نه کوي، بلکې له دې سره سره، د الله او د الله د رسول اطاعت، هم لازم او اړين شرط دی.(دويم) دا چې، يوازې اطاعت هم کافي نه دی، بلکې له دې اطاعت سره سره، د خدای تعالی خشيّت او تقوی، هم ضروري ده.

«فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ» نو دوی، له فائزون څخه دي. ومو ويل چې؛ فوز او فلاح، دواړه نجات او رستگاري [غوړېدا] معنا کوي. خو د دغو دواړو اصطلاح گانو تر منځ، توپير شتون لري؛ فلاح د «فَلَحَ» له ريښې د آدمي په نفس کې، د بالقوه معنوي استعدادونو غوړيدل، او وده کول دي. چې د دنيا په ژوند کې بايد تحقق وموميِ. خو فوز پراو او موخې ته په سلامتی رسيدل، او د لارې له ستونزو او خطرونو څخه، ژغورنه او نجات موندل دي.

خو فوز يا مفازه، په عربي ژبه کې، بيابان، دښتې يا صحرا ته ويل کېږي. عربان، د مکې او مدينې په شاوخوا سيمو کې، چې تودې او استوايي سيمې وې، اوسېدل. او هغه مهال خو سړکونه هم نه ول، چې سړی د وسمهال په څېر، په کولر لرونکو موټرو کې، سفر وکړي. هغوی به معمولاً د شپې لخوا حرکت کاوه، او د ورځې لخوا به، د شگو د غونډيو شا ته، ويده کېدل. چې لمر او تودوخه يې، و نه وهي، او ويې نه کړوي. سفرونو به يې، دوه، درې اوه نې وخت نيوه، چون پلي به تلل، که چا به وکولی شو، له داسې بيابانونو تېر شي، له تندې مړه نه شي، لاره ورکه نکړي، او په هاغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دښتو کې، له ګرمۍ او سترۍيا، مړه نشي. نو ويل يې؛ فاز، يعنې بريالي شول. خپل مقصد او موخې ته، ورسېدل. له دې خطرونو تېر شول، نو له همدې لامله به يې، دې دښتو ته مفازه ويل.

دا دنيا هم په يو ډول مفازه ده. مور دې دنيا ته راځو؛ ۴۰، ۵۰ يا ۷۰، ۸۰ کاله دلته، په داسې ډول تيروو، چې تل د هوا او هوس، او د شيطان له تحريکونو سره، مخامخ يو. که څوک وکولی شي، دا دوران په بريالیتوب تېرکړي. دا د خطرونو او ستونزو څخه، له ډک بيابانه، له داسې سمندره، چې تل پکې د ډوبېدو له خطر سره، مخامخ يو، او که په سلامتۍ ترې څوک تېر شي، وايي؛ فاز. نو څنګه کولی شو له دې دښتې او بيابانه، عبور وکړو؛ وايي د خالق او د هغه د رسول پروا وکړئ، د خدای عظمت وپېژنئ. او د هغه په مقابل کې، د خپل ځان د کوچنيوالي احساس، له ياده مه باسئ، او د هغه رعايت وکړئ، همدا. ډېرو جزئياتو او ډيټايل ته، د داخلېدلو اړتيا هم نه شته. اصل يې همدا دی؛ د خدای او د هغه د رسول د حکم منل، د خدای د عظمت پېژندل، او د هغوی رعايت کول، همدا بريالیتوب، او موخې ته د رسېدو، لامل کېږي.

د درې پنځوسم آية، ترجمه شرح او تفسير

وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَئِنْ أَمَرْتَهُمْ لَيَخْرُجُنَّ قُلْ لَا تُقْسِمُوا طَاعَةٌ مَعْرُوفَةٌ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ﴿۵۳﴾

او [منافقانو] په خورا پياوړو ژمنو او ټينګار په الله لوړه وکړه چې که [د جهاد لپاره] ورته فرمان ورکړې، خامخا به [له خپل ټاټوبي څخه د دښمن پر لور] خارج شي. ووايه: سوګند [تش په ژبه] مه خورئ، غوره طاعت [څرګند کړئ] چې الله مسلماً په هغه څه چې کوئ [په جزئياتو يې] پوه دی.

وَأَقْسَمُوا	بِاللَّهِ	جَهْدَ	أَيْمَانِهِمْ	لَئِنْ	أَمَرْتَهُمْ
او دوی [منافقان] قسم خوري	په الله	ډېر سخت	سوګندونه د دوی	بېشکه که	دوی ته فرمان ورکړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لَيَخْرُجُنَّ	قُلْ	لَا تُقْسِمُوا	طَاعَةٌ	مَعْرُوفَةٌ
هرو مرو به ووځي دوی	ووایه	قسمونه مه خورئ	اطاعت [پلیوني]	غوره او منل شوی

إِنَّ اللَّهَ	خَبِيرٌ	بِمَا	تَعْمَلُونَ
بې شکه الله	ښه خبر دی	په هاغه څه چې	تاسو کوئ

په دې آية کې، ښېرته د هاغو مسلمانانو ځانګړنو ته، ورګرځي، چې له پيغمبر سره يو ځای ول. خو دا يو ځايوالی يې، د زړه له تله نه وو:

«وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ» دوی په خدای قسم خوري، «جَهْدَ» يعنې له نهايت سره، په تأکيد، په ټينګار، «أَيْمَانِ» يعنې پيمانونه، يعنې دا ډول شديد او غليظ، قسمونه خوري، چې؛ «لَئِنْ أَمَرْتَهُمْ» که ته هغوی ته فرمان ورکړې «لَيَخْرُجُنَّ» هرو مرو خارجيږي، مقصد يې له ښاره خارجېدل دي، نو وايي؛ که دښمن يرغل وکړي، او پيغمبر ووايي، مورږ حتماً ځو، او له پيغمبر سره مل له ښاره دفاع کوو، او د پيغمبر د هر امر اطاعت کوو. وايي؛ مورږ حاضر او چمتو يو، مورږ جنګ ته آماده يو، قسم هم خوري. يعنې ادعاګانې يې، تل شديدي او غليظي، ادعاګاني دي. او دوی تل له نورو ډېرې، خبرې کوي. «قُلْ لَا تُقْسِمُوا» دوی ته ووايه؛ قسم مه خورئ، اړينه نه ده قسم وخورئ. يعنې دوی له سوګند خوړلو منع کوي.

د «لَا تُقْسِمُوا» جمله، پر خدای د قسم خوړلو په غندنې، دلالت لري. او قسم؛ شاهد نېول دي، او کله چې په خدای قسم خورو، يعنې؛ خدای شاهد دی، چې زه به دا وکړم يا ونکړم. او له خدای پرته، ناشونی دی، څوک شاهد ونيسي. ځکه خدای تعالی په ټولو ځايونو کې، حاضر او ناظر، او پر ټولو کائناتو شاهد دی.

خو کوم نبي، يا ولي، په هر ځای کې، حاضر نه دی! لکه عيسی بن مريم فرمايلي: «...وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَا دُمْتُ فِيهِمْ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي كُنْتَ أَنْتَ الرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ وَأَنْتَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ» [مائده۱۱۷(۵:۱۱۷)] «...او پخپله تر هغه مهاله، چې د هغوی په منځ کې وم [= ژوند مې کوه]. پر هغوی شاهد

(c) ketabton.com: The Digital Library

وم [يعنې په بشپړه توګه څارونکی وم چې څوک زما او زما د مور په اړه غُلُو ونکړي].
هغه مهال [هم] چې زما روح [ځان] دې واخيست، يوازې ته يې څارونکې وې، او ته پر ټولو خيزونو شاهد يې».

د «طَاعَةٌ مَعْرُوفَةٌ» جمله، خبر دی، چې مبتداء يې حذف شوې ده. او هغه يو ضمير دی، چې خروج ته اړيکه لري. [يعنې له ښاره خروج، د خدای اطاعت دی،] سوګند ته اړتيا نشته. او دا جمله له سوګنده، د منع کولو په مقام کې ده. او له همدې لامله، د فصل په ښه راغلی دی [يعنې د عطف له واو سره، له ماقبل سره وصل شوی دی]. يو اطاعت چې له عرف سره سم وي، عمل پرې وکړئ. د ټولنې د وګړو لپاره منلی، يو پيژندل شوی، سم عمل وکړئ. [يوه مکالمه ده وايي: اول چې دې وويل؛ ومې منله، او ورسره دې قسم هم وخوړ، نو شک مې وکړ. ورپسې دې چې شديد قسم وخوړ، پوه شوم چې دروغ وايي]. د سمع او طاعت [وامې ورښه، ومې منله] له ژمنې سره سره، لکه څنګه چې منافقين، د رسول الله (ص) له عدالته تښتېدل، همداسې له جهاده هم تښتېدل. په ژبه د لاپو کولو حال يې دا وو، چې کله به د جهاد ذکر کېده، نو ډېر سخت قسمونه به يې، په زوره زوره خوړل. رسول الله ته به يې، ډاډګېرنه ورکوله، چې کله ستا حکم وي، مورږ په سر او مال حاضر يو. خو کله به چې وخت راته، نو ځانونه به يې، اخوا دېخوا کول. فرمايلي يې دي؛ دوی ته ووايه، چې ډېر قسمونه مه خورئ، قسمونه د عمل ځای نشي نېولی. اصل څيز چې مطلوب دی، هغه له اصولو سره سم، د الله او د رسول اطاعت دی. که دا څيز شتون ونلري، نو په تشو او خوشې قسمونو، تر کومه وخته، پر خپل چلن او کړنو، پرده اچولی شئ.

«إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ» الله تعالی پر هغه څه چې، عمل کوئ، خبير دی. يعنې پر ټولو جزئياتو، خبر دی. يعنې په دې دروغجنو سوګندونو، تاسو ښايي، نور وغولولی شئ، خو دا علاّم الغيوب ته، څنګه دوکه ورکولی شئ، چې ستاسو له هر قول او فعل څخه په پوره توګه خبر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د «إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ» جمله، د تعلیل او لامل پای ده. او معنا یې دا ده چې: له خپلو ډېرو سختو سوګندونو سره یې، قسمونه وخوړل، چې که دوی ته د جهاد پر لور، د خروج امر وشو، دوی به هرومرو خارج شي.

دوی ته ووایه: قسم مه خورئ، ځکه چې جهاد ته خارجېدل، د خدای طاعت، او غوره عمل د دین برخه ده، او دا داسې یو عمل دی، چې واجب دی. چې د واجب کولو لپاره یې غلیظ سوګند اړین نه دی، که سوګند خورئ چې خدای او رسول راضي کړئ، خدای تعالی پر هاغه څه چې تاسو کوئ پوه دی، او ستاسو د غلیظو قسمونو فریب نه خوري.

په قرآن کې د منافقینو د قسم خوړولو ذکر، نورو ځایونو کې هم راغلی دی. له هغوی سره چې، د کردار او عمل شهادت شتون ونلري، هغوی د دې لپاره چې خپل ځان با اعتباره ثابت کړي، قسمونه وسیله کوي. د هغوی په زړونو کې، دننه د پټ غله له لامله، دوی تل په اندېښنه کې وي، چې تر څو چې قسم ونخوي، څوک یې پر خبره باور نکوي. خو ثقه او د اعتبار وړ وګړي، پر خپل کردار او چلن باوري وي، له دې لامله قسم خوړلو ته یې، دومره اړتیا نه پېښېږي.

د څلور پنځوسم آیة، ترجمه شرح او تفسیر

قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُمْ مَا حُمِّلْتُمْ وَإِنْ تُطِيعُوهُ تَهْتَدُوا وَمَا عَلَى الرَّسُولِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ﴿۵۴﴾

ووایه: له الله او له رسوله اطاعت وکړئ، او که مخ مو وګرځاوه، [پوه شئ] پر هغه [= رسول] کومه دنده پرته له هغه څه چې، ورسپارل شوې [= دخدای د پیغام له ابلاغ پرته] نشته، او پر تاسو دي هغه څه [له جهاد او طاعته] چې در سپارل شوي دي او که له هغه اطاعت وکړئ، هدایت شوي یاست او [که هم نا فرماني وکړئ] پر رسول [د الله د فرمان] له روښانه ابلاغ پرته کومه دنده نشته [نو ځکه دنیوي کیفر تاسو ته نه دی مقرّر شوی دی].

(c) ketabton.com: The Digital Library

قُلْ	أَطِيعُوا اللَّهَ	وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ	فَإِنْ تَوَلَّوْا	فَإِنَّمَا
ووايه	اطاعت وکړئ له الله	او له رسول پليوني وکړئ	او که هغوی مخ واړاوه	نو له دې پرته نه دی

عَلَيْهِ	مَا حُمِّلَ	وَعَلَيْكُمْ	مَا حُمِّلْتُمْ
پر هغه دي	هاغه څه چې دنده ورسپارل شوې	او پر تاسو دي	هغه څه چې پر تاسو لازم شوي

وَإِنْ	تُطِيعُوهُ	تَهْتَدُوا	وَمَا عَلَى الرَّسُولِ	إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ
او که	له هغه اطاعت وکړئ	لار به ومومئ	او نه شته پر رسول	پرته له روښانه او څرګندې رسونې

په دې څو آيتونه کې پرله پسې، د اطاعت لغت تکرار شوی دی. اته ځلې، د اطاعت کليمه تکرار شوې ده، اطاعت له خدای او رسولـه. دا آيتونه د بعثت په لسم کال، په مکه کې، نـازل شوې دي. د هاغو سختيو، او هاغو فشارونو، په اوج او اوچتوالي کې، چې سختي خپل آخري برید ته، رسېدلې وه. چې دوه، درې کاله وروسته، يعنې د بعثت په ديارلسم کال، حضـرت رسول اکرم(ص)، په شپه کې لـه مکې ووت.

په هماغو کلونو کې، پيغمبر(ص) خپل اصحابو ته، مخکې له دې حبشې، او همدا راز ځېنو نورو ځايونو ته، هجرت ورکړ، چې لږ تر لږه، ځانونه يې، سلامت پاتې شوي وي. پر دې بنا په دې شرايطو کې، چې د دښمن فشار زيات دی، هاغه څيز چې تر ټولو زيات اړين دی انضباط دی، اطاعت دی، همبستګي ده. دا نظم او دسپلين بايد وي، چې وکولی شي، د فشار په مقابـل کې، چې کله واردېږي، مقاومت وکړای شي. نو ځکه په دې آية کې، چې ددې لړۍ د پای آية دی، بياځلي پر همدې معنا ټينګار کوي.

فرمايي: «هغوی ته ووايه؛ د خدای اطاعت وکړئ، او د هغه د استازي اطاعت وکړئ.» «قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ» ووايه: لـه الله اطاعت وکړئ، او له رسوله اطاعت وکړئ. دلته د الله له اطاعت څخه مقصد، د هغه له آيتونو څخه، چې نازل شوي دي، او په هغو آيتونو کې، د عملونو په پار، کوم دستورونه چې نازل شوي دي، د هغوی اطاعت کول دي. او د هغه له رسوله [استازي]، چې ددې غونډ او مجموعې، بولندوی دی، بايد اطاعت وکړئ. ورپسې زياتوي: ددې فرمان پر وړاندې، ستاسو وضعه، له دوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

حالتونو خارج نه ده. «که سرغړونه وکړئ او مخ واړوئ، پيغمبر (ص) د خپلو عملونو مسئول دی، (او خپله دنده يې سر ته رسولې ده،) او تاسو هم د خپلو عملونو مسئول. (او ستاسو دنده صادقانه اطاعت دی.)»

«فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُمْ مَا حُمِّلْتُمْ». «فَإِنْ تَوَلَّوْا» نو که شا يې کړه، او و يې نه غوښتل اطاعت وکړي. څه بايد وکړل شي؟ «فَإِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ» نو په دې پوه شئ چې؛ «إِنَّمَا» يعنې همدا دی، او له دې پرته نه دی، دا د حصر حرف دی، چې انحصار رسوي. د هغه يوازينۍ دنده دا ده چې، هغه څه چې لېږدوي، يعنې کوم پيغام يې چې راوړی دی، هغه تاسو ته ورسوي. يعنې رسول الله د هغه څه مسئول دی چې هغه يې لېږدوي؛ يعنې مسئوليت يې د الهي پيغام، ابلاغ او خلکو ته رسول دي، «مَا حُمِّلَ»، د هاغه څه چې حامل يې دی، يعنې هاغه څه چې لېږدوي، پيغمبر د رسالت د ابلاغ حامل دی، يعنې يوازينۍ دنده يې هماغه ده، د کوم څيز چې حامل يې دی. هغه تاسو ته ووايي او ورسوي؛ «وَعَلَيْكُمْ مَا حُمِّلْتُمْ». او پر تاسو دي هاغه څه چې تاسو يې مسئوليت لرئ. يعنې د هغه مسئوليت د حق ويل، او د پيغام رسول دي. او ستاسو مسئوليت مستقيماً، د خدای په وړاندی دی. پيغمبر نور تاسو سره څه کار نه لري. يوازينۍ دنده يې د پيغام رسول دي؛ يعنې دا چې پيغمبر اجرائي ضمانت نه لري. د قرآن په هيڅ ځای کې نه دي ويل شوي، چې پيغمبر اجرائي ضمانت ولري. حتا په هغه مشهور آية کې، چې د شرابو او قمار او داسې نورو لهو او لعب څيزونو په اړه، راغلی دی. چون د مشروباتو په اړه، په ځلونو آيتونه راغلي دي. يو ځای د مشروباتو په اړه وايي؛ چون خلک د شرابو په اړه پوښتنه کوي، ورته ووايه: گټه هم لري، خو ضرر يې ډېرتر دی. بل ځای وايي؛ کله چې نمونځ کوئ، بايد نشه نه اوسئ. بايد پوه شئ، چې څه وياست. بيا وروسته په ۲۳[درويشتم] کال کې وايي: بايد ويې نخورئ. يعنې تر دې مخکې په دې اړه نېغ په نېغه هيڅ دستور نه وو، او په غير مستقيم ډول په يوه بڼه بيان شوی وو، که پخپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهېدلی، يو خوا ته يې ايښود او لاس يې ترې اخېسته. په ۲۳ [درويشتم] کال کې وايي«... إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ» [مائده۹۰(۵:۹۰)] ... بېشکه همدا خبره ده چې شراب، او جواري، او بتان، او د فال غشي پليت دي، د شيطان له عمله دي، نو تاسو له دې نه ځان وساتئ، د دې لپاره چې تاسو فلاح وموميئ. او وروسته ورپسې آية کې وايي: «... فَإِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوا أَنَّمَا عَلَى رَسُولِنَا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ» [مائده۹۲(۵:۹۲)] ... نو که چېرې تاسو وګرځېدلئ [تاسو مخ واړاو او و مو نه منل]، نو پوه شئ، چې يقينًا، زمورِ د رسُول په ذمه خو، بس د پيغام ښکاره رسَول (تبليغ کول) دي. يعنې پيغمبر دنده درلوده، تاسو ته برېښنده او ښکاره ووايي. نور نو ستاسو خپل کار دی، داسې نه چې د هغه له ويرې يې پرېږدئ. يعنې هغه په دې مورد کې، کوم کيفر او جزاء تاسو ته، په دې دنيا کې نه لري. کيفر او جزاء يې، له خدای تعالی سره ده، دا مسائل خدای تعالی پورې اړه لري.

په قرآن کې هاغه څيزونه کيفر لري، چې څوک بل چا ته ضرر ورسوي. او هغه هم له څلورو زيات نه دي؛ قصاص دی، د قتل يا جراحت قصاص. يوه هم غلا ده. بله هم زنا ده، ښکاره زنا چې لږ تر لږه څلورو کسانو ليدلي وي؛ يعنې د څلورو کسانو د سترګو مخکې يې کړي وي، نه په پټه. يعنې هغه زنا چې څلور شاهدان ولري. بل هم د امنيت له منځه وړل دي، چې د محاربې اصطلاح ورته کاروي. وايي؛ [اَلْفِتْنَةُ اَشَدُّ مِنَ الْقَتل] يعنې د ټولنې ګډوډل، چې يو د بل په ځان پسې، لګېدلي وي. چې ځېنو ويلي؛ وسله واله لار شکوونه، او ددې په خېر، نور څيزونه يې بيان کړي دي.

بس همدا څلور موردونه، له دې زيات، په بله هيڅ اړه، د قرآن په هيڅ ځای کې، د دنيايي کيفر خبره نه ده شوې. پاتې نور يې، د خدای تعالی سره په اړيکه کې دي. دا څلور مورده هم، د انسانانو تر منځ، يو له بل سره په اړيکه کې دي، نه د خدای تعالی سره په اړيکه. هاغه څه چې، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای تعالی پورې اړوند دي، اصلاً دنیائي کیفر او جزاء نه لري؛ نه شرک، نه کفر، نه ارتداد، نه الحاد، هیڅ یو له دې څیزونو، چې اوس ځنې حکومتونه پرې خلک اعداموي، په مطلقه توګه په قرآن کې، دنیائي کیفر او جزا نه لري. دا ټول ګناه ده، چې اړیکه یې، د فرد او خالق تر منځ ده. په هر حال دلته هم وایي؛ چې که شا یې کړه، ستا دنده څرګنده او ټاکلې ده، او د هغوی وظیفه هم څرګنده او مشخصه ده. او له دې زیات نور څه نشته.

«خو که اطاعت وکړئ، هدایت به شئ «وَإِنْ تُطِيعُوهُ تَهْتَدُوا» او که له هغه اطاعت وکړئ، هدایت شوي یاست. ځکه هغه داسې یو رهبر دی، چې د خدای او د حق او صواب له لارې پرته، بل څه ته بلنه نه کوي. او په هر حال کې «پر پیغمبر(ص) له ښکاره ابلاغ پرته، کوم څیز نشته».

«وَمَا عَلَى الرَّسُولِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ» او پر رسول له ښکاره ابلاغ پرته، بله وظیفه نشته. هغه دنده لري، چې د خدای تعالی فرمان په ښکاره او څرګنده توګه، ټولو ته ورسوي. که څوک یې و مني یا و نه مني، او د دغې بلنې، د منلو او نه منلو، ګټه او تاوان به، پخپله هغوی ته متوجه وي. او پیغمبر(ص) په هیڅ صورت مؤظف نه دی، پر خلکو د هدایت او دعوت منلو ته، جبر او زور زیاتی وکړي.

کېدی شي، دا یو څه تشویش رامنځته کړي، چې که رسول یوازې ووایي او ابلاغ وکړي، قاعدتاً مؤمنین هم، له «رسول الله» څخه زیات حق نه لري. مؤمنین هم مکلف دي، فقط ووایي او ابلاغ وکړي؛ نو که خلکو هم غوږ و نه نیو، نه یوازې دا چې غوږ یې و نه نیو بلکې په کارشکنۍ او خنډ اچونې یې پیل وکړ، او مخالفت یې وکړ. نو بیا تکلیف څنګه کېږي؟

دا هاغه پوښتنې دي چې همدا اوس هم مطرح دي، که فرضاً خلکو ته آزادي ورکړل شي، خلک یوه بله لار او بل څوک غوره کوي، بیا نو زمونږ خبره کله مني. ورپسې آیة، په حقیقت کې، یو ډول د راتلونکي لپاره، وعده ورکوي. چې که خپل کار په سمه توګه، سر ته ورسوئ، بریالي کېږئ، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو اندېښنه مکوئ، تاسو مه په تشويش کې کېږئ. خو دا اړينه او سمه نه ده چې د نورو په تنګولو، په زور او ځور غواړئ، هرومرو ځان بريالی کړئ.

دا په حقيقت کې، د منافقينو لپاره، يو ډول تنبيه ده. ورته وايي؛ تاسو چې کومه رويه غوره کړې ده، په کومه طريقه چې چلن کوئ، چې نوم د ايمان اخلئ، خو د الله تعالی د رسول، له اطاعته تېښته هم کوئ. دا دوه ګړې کړنې به، په دنيا کې ستاسو د ذلت، خواری او بربنډېدو لامل شي. او په آخرت کې به تاسو، ته څرګند زيان وي. که څوک غواړي، چې فوز او بريالیتوب ته ورسېږي، نو يوازينی لار يې داده، چې د الله تعالی اطاعت وکړي، او هم د الله تعالی د رسول، اطاعت وکړي.

يوازې د الله تعالی د رسول په درشل کې کېناستل، او په غوړه مالی هغه ته، د اطاعت يقين او ډاډګېرنه ورکول، ستا په نه نه راځي. ته بايد په دې خبره نه پوه اوسې، چې په ايمان کې اصل پانګه، اخلاص او د زړه له تله د الله او د الله د رسول رښتينی اطاعت دی. ددې مسئوليت، او ذمه واري، پر تا ده. که تا له دې سرغړونه وکړه، نو پوښتنه به يې د الله له رسول څخه نه، بلکې له تا څخه کېږي. ځکه چې د حضرت رسول دنده او مسئوليت، يوازې د الله د پيغام، او د هغه د دين رَسَول دي. او هغه، دا دنده، په بريالیتوب، سر ته رسولې ده. او ورسره يې، دا ګوابنه هم کړې ده، چې که ته د الله او د الله د استازي اطاعت وکړې، هدايت به وموميې، او په پايله کې به، ستا دنيا او آخرت دواړه، سم او سمبال شي.

ددې څرګند مطلب دادی؛ چې د دين اصلي غوښتنه، د ايمان تر څنګ، اطاعت دی. کوم شخص چې، د دين د منلو اقرار کوي، يا د الله او د هغه د رسول، د منلو دعوه کوي، ليکن له اطاعت څخه خپله لمن راټولوي، نو تش د ايمان دعوا، په کار نه راځي. او بله خبره چې څرګندېږي دا ده چې، د آية په پيل کې، سره له دې چې، د الله او د هغه د استازي، د اطاعت لپاره يې، بېل بېل حکم ورکړی دی. ليکن په «وَإِنْ تُطِيعُوهُ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تَهْتَدُوا» کې يې يوازې، د الله تعالى د اســتازي، ذکر فرمايلى. چې دا په ډاګه کوي، چې د الله تعالى اطاعت، د الله د رســول اطاعت دى. او په دواړو اطاعتونو کې، کوم توپير نشته.

که کوم شخص، يوازې پر ايمان بسنه کوي، او د اطاعت نوم نه اخلي، بې عمله د ايمان دعوا، هغه هيڅ ځاى ته نه رسوي. په آخرت کې د نجات لپاره، او په دنيا کې د سم او صحيح عمل لپاره، له ايمان سره سره عمل، او د الله له اطاعت سره د الله تعالى د استازي اطاعت، اړين او لازمي دي.

د پنځه پنځوسم آية، ترجمه شرح او تفسير

وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴿۵۵﴾

الله له تاسو څخه هغو کسانو ته چې ايمان يې راوړى، او ورې او نېک کارونه يې سرته رسولي، وعده ورکړې چې هغوي پر ځمکه [= ټاټوبى او هيواد کې يې] [د موجودو ناصالحو حاکمانو پر ځاى] خليفه او ځاى ناستي وګرځوي، لکه څرنګه چې [د تاريخ له سنتونو سره سم،] د هغوى مخکښې مو [پر هغوى د ستمګرو حاکمانو پرځاى] خليفه او ځاى ناستي کړل.(۵۶) او [عمل کول پر] دين بـه يې چې الله هغوى ته غوره کړى، کېدونې کړي(۵۷) او [له دښمنانو څخه] د هغوى ډار به په امنيّت مبدّل کړي؛ [پر دې بناء] چې ماته عبادت وکړئ(۵۸) او کوم څيز [د ژوندانه په ويره او هيلو کې] له ما سره مه شريکوئ، او هغه څوک چې له دې [پاملرنو او پوهاوي] وروسته انکار وکړي، نو هغوى هماغه د حق برید ماتوونکي دي.(۵۹)

وَعَدَ اللَّهُ	الَّذِينَ	آمَنُوا	مِنْكُمْ	وَعَمِلُوا	الصَّالِحَاتِ
وعده کړې الله	هاغو کسانو	چې ايمان راوړى	له تاسو	او ويې کړل	نېک کارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ	فِي الْأَرْضِ	كَمَا	اسْتَخْلَفَ	الَّذِينَ
هرومرو ځای ناستي کوي هغوی	په ځمکه کې	لکه څنګه چې هغه	ځای ناستي کړل	هغوی چې

مِنْ قَبْلِهِمْ	وَلَيُمَكِّنَنَّ	لَهُمْ	دِينَهُمُ	الَّذِي	ارْتَضَى
مخکې له هغوی	او هرومرو ممکن کوي	د هغوی لپاره	دین د هغوی	هغه چې	خوښ کړی دی

لَهُمْ	وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ	مِنْ بَعْدِ	خَوْفِهِمْ	أَمْنًا
لپاره د هغوی	او هرومرو به بدل کړي	وروسته له	ویرې د هغوی	امن او ډاډ

يَعْبُدُونَنِي	لَا يُشْرِكُونَ	بِي	شَيْئًا	وَمَنْ	كَفَرَ
چې هغوی زما نمانځنه وکړي	شریک را نه وړي	زما سره	هیڅ شیز	او هغه چا چې	کفر وکړ

بَعْدَ ذَلِكَ	فَأُولَئِكَ هُمُ	الْفَاسِقُونَ
وروسته له دې	نو دا کسان همدوی	فاسقان دي

۵۶ – د تاریخ سیر، د دغه حقیقت څرګندوی دی، چې د ستمګرانو او ظالمانو دولت به، کله هم دوام ونلري. او د حق په لار کې پاځېدلي، او د ټولنیز عدالت غوښتونکي ملتونه به، په پایله کې له صبر او استقامت وروسته بریالي، او په پای کې به د خپل سرلیک، واکمنان شي. که له دې پرته وای، نو د ملتونو له دائمي تحقیر، او تضعیف سره، او د قدرت د بنسټونو په ځواکمن کیدو، باید استبدادي نظامونه ابدي شوي وای. په قرآنکریم کې، بې شمېره آیتونه، دغه حقیقت ته اشاره کوي. د هغو له جملې [قصص۵ (۵:۲۸)، یونس ۱۴(۱۰:۱۴) او ۷۳(۱۰:۷۳)، اعراف۱۲۹(۷:۱۲۹)، ... او نمل ۶۲(۲۷:۶۲)].

۵۷ – د «نُمَكِّنَ» فعل، د «مَكَنَ» له ریښې، غوښتنو ته د رسېدلو لپاره، په «امکاناتو» او شتو د ځواک، واک او برلاسي او لاسرسي موندلو، په معنا دی. له ټولو سورتونو څخه، زیاته دغه کلمه د یوسف په سورة کې، راغلي ده. یوسف خپلو ورونو په څاه کې، او زلیخا په زندان کې واچوه. تر څو هغه یې په تبعید او تنګسه کې، اچولی وي، او لاس او وزرې یې وروټړي. خو الله لوړو حکومتي مقامونو ته، په رسولو سره ډېر زیات «امکانات او د عمل ډګر»، هغه ته په واک کې ورکړل. «...وَ كَذَلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْأَرْضِ...» [یوسف۲۱(۲۱: ۱۲)].

۵۸ – عبادت په غلطی بندګي، یا پرستش ترجمه کوي. د عبادت لغوي معنا، د الهي اسماء او صفاتو، د جذب او کسب [لاسته راوړنې] لپاره، د خپل نفس هموارول او سمول دي. یعنې الهي شخصیت پیدا کول، او کمال ته رسیدل دي. د انسان له خلقت او پیدایښت څخه، موخه او هدف همدا دی. چې د شیطان او رحمن، په دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لارې کې، د تقوا په ځواک، خپل ځان له شيطاني جاذبې څخه وژغوري، او د رحمن په لور يې سوق او سم کړي. په دغه ننګونه، او د حق او باطل په دغې دائمي او تلپاتې جګړې، او دغو غورځو پرځو کې انسان جوړېږي، او سمبالېږي.

۵۹ – «فسق» په عربي ژبه کې، د پوټکي او ساتونکي پوښ، څيرولو ته وايي، چې د «فساد» موجب ګرځي. لکه د مېوې د پوستې [پوټکي] د څيرې کيدلو [غوڅېدلو] په څير، چې د ميکروبونو د ننوتلو او د هغه د فساد، ګنديدګي او ورسټېدلو، سبب کيږي. د انسان پوسته هماغه شرعي حريم او حدود او ايماني نظامونه دي. تقوا هغه ځواک دی، چې مونږ د حريم او حدودو ساتلو، او محافظت ته، اړ باسي. او فسق د هغو په څيرلو، او له مجازو بريدونو، او مرزونو څخه تجاوز ته اړ باسي.

د منافقانو په اړه لـه خـبرې، او د هـغوی د مسـئوليت له څـرګندولو، او په دې طريقه، د هغوی په اړه، د خبرې د پای ته رسـولو وروسـته، قرآني بهير، هغوی خپلو کړنو او حال ته پرېږدي.

پـه دې آيـة کې، مخلصـــو او مطيعو مؤمنينو تـه، پـاملرنـه کوي. او دهغوی د خالصانه اطاعت، هڅاند او خوځنده ايمان، پايله او پاداش، انعام او اجر، په همدې ځمکه کې، د قيامت د ورځې له وروسـتي حسـاب څخه مخکې، په همدې دنيا کې روښانه کوي.

وايي: خـدای تعالی لـه تاسـو څـخه، هـاغو کسانو ته، چـې ايمان يې راوړی دی، او وړ او غوره کارونه يې کړي دي، ژمنه کړې ده؛ چې هغوی به، په دې ځمکه کې، د نورو ځای ناستي کړي. لکه څنګه چې مو د هغـوی تېر شـوي [پلرونـه او نيکونـه]، خليفه او ځـای ناستي کـړل. او هـم د هغـوی دين بـه، هغه کيدونی دين کـړي، کوم چې، هغـوی ته غـوره دی. او له هاغې وېرې وروسته، چې درلودله يې، هغوی ته به يې، په ډاډ او امنيت بـدلـه کړي. ددې لپاره، چې هغوی زمـا عبادت وکړي. او له ما سره کـوم څيز شريک نکړي. او لـه دې وروسته، چـې څـوک کافـر شـول، هغوی فاسقان، او د قانون او بريدونو، ماتوونکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

«وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ» خداى وعده ورکړې، له تاسو څخه هاغو کسانو ته، چې د ايمان او صالح او وړ عمل اهل دي، يعنې يوازې ايمان بسنه نه کوي، او کافي نه دى. له ايمان سره سره بايد صالح عمل ولري، يعنې په ټولنه کې يو ستونزه، يو مشکل اصلاح کړي، ويلى شو؛ يو مثبت، يو مفيد عمل سرته ورسوي. «لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ» دا «لام» يې تأکيد او ټينګار دى. «ن» يې هم تأکيد او ټينګار دى. دا په اصل کې «يَسْتَخْلِفَهُمْ» وو، يعنې هغوى هرو مرو خليفه کوي. خليفه يعنې ځاى ناستى، يعنې له دې مخکې، چې کوم نظام حاکم دى، يو جبار او ديکتاتور او مستبد نظام، واکمن دى، که تاسو درست او سم خلک اوسئ، د خداى اهل اوسئ، يعنې پر يو لړ ارزښتونو، يو لړ اصولو باور ولرئ، او پر هغوى عمل وکړئ، خداى وعده ورکړې؛ «لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ» ارض لـه ال سره، يعنې په همدې ځمکه کې، په همدې هيواد کې، په همدې ټاټوبي کې مو، په مملکت کې مو، هرو مرو تاسو واک ته رسېږئ. «كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ» لکه څنګه چې؛ کوم کسان، چې مخکې له دوى ول، همداسې شوي دي، يعنې تاسو ته خو يې، دا مسئله نوې نه ده راوړې.

د تاريخ سير، د دغه حقيقت څرګندوى دى، چې د ستمګرانو او ظالمانو دولت به، کله هم دوام ونلري. او د حق په لار کې پاڅېدلي، او د ټولنيز عدالت غوښتونکي ملتونه به، په پايله کې له صبر او استقامت وروسته، بريالي، او په پاى کې به، د خپل سرليک واکمنان شي. که له دې پرته واى، نو د ملتونو د دائمي تحقير، او تضعيف سره، او د قدرت د بنسټونو په ځواکمن کيدو، بايد استبدادي نظامونه، ابدي شوي واى. په قرآنکريم کې بې شمېره آيتونه، دغه حقيقت ته اشاره کوي، د هغوى له جملې:

«وَنُرِيدُ أَنْ نَمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ» [قصص۵(۲۸:۵)]. او مورِ [هم] غواړو پر هغو کسانو چې په ځمکه [= خپل ښار او ټاټوبي] کې مستضعف [او بېوزلي] کړاى شوي دي، د آزادى

(c) ketabton.com: The Digital Library

او خلاصون نعمت وروښو او هغوی د مشرتوب [او سر لاری] په مقام کی [= پر خپل سرلیک واکمنان] او میراث وړونکي [= پر خپل ټاټوبي مالکان] وګومارو.

«ثُمَّ جَعَلْنَاكُمْ خَلَائِفَ فِي الْأَرْضِ مِنْ بَعْدِهِمْ لِنَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ» [یونس۱۴(۱۰:۱۴)]. بیا تاسو مو له دوی وروسته په ځمکه [= هیواد] کې ځای ناستي کړئ چې وویني تاسو څه ډول عمل کوئ.

«فَكَذَّبُوهُ فَنَجَّيْنَاهُ وَمَنْ مَعَهُ فِي الْفُلْكِ وَجَعَلْنَاهُمْ خَلَائِفَ وَأَغْرَقْنَا الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِينَ» [یونس۷۳(۱۰:۷۳)].

نو هغه یې دروغجن وګڼه او مور [په پای کې] هغه او هغوی چې په کښتۍ کې ورسره ول وژغورل او هغوی مو [د کافرانو] ځای ناستي کړل او هاغه کسان چې زمور آیتونه یې دروغ ګڼل ډوب کړل، نو وګوره د خبر کړل شوو [او ګوابل شوو] پایله څه ډول وه.

«قَالُوا أُوذِينَا مِنْ قَبْلِ أَنْ تَأْتِيَنَا وَمِنْ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا قَالَ عَسَى رَبُّكُمْ أَنْ يُهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِي الْأَرْضِ فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ» [اعراف۱۲۹(۷:۱۲۹)]. هغوی وویل: له دې مخکې چې ته مور ته راشې، ځورول کېدو او وروسته له دې چې ته هم [زمور د ژغورنې لپاره] راغلې [همداسې د ځور او آزار لاندې یو، نو کله به خدای زمور فریاد او انصاف ته رسېږي؟]؛ هغه وویل: هیله ده ستاسو پالونکی ځښتن ستاسو دښمن هلاک کړي او تاسو په ځمکه [= ستاسو ټاټوبي] کې د هغوی ځای ناستي کړي، چې وګوري تاسو [ځواک او شتمنیو ته له لاسرسی وروسته] څه ډول چلن کوئ؟.

«أَمَّنْ يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَاءَ الْأَرْضِ أَإِلَهٌ مَعَ اللَّهِ قَلِيلًا مَا تَذَكَّرُونَ» [نمل ٦٢(۲۷:٦٢)].

یا هاغه څوک چې اړمن دی [= هره لار پرې بنده ده]، که هغه وبولي، ځواب ورکوي او بدي لـــــه منځه وړي او تاســو د ځمکې ځاینــاســتي [=دمخکینې ظالم پاتوړي] کوي [د نمانځنې وړ دی یا واســطې؟] آیا له الله سره بـل معبود شته؟ ډېر لږ پند او ذکر مني!

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاريخ ته مراجعه وکړئ، چې آيا ديکتاتوران پاتې شوي دي. فرعونان څه شول، نمرودان، کسری گان، چنگيزيان، صدامان، قذافيان، او داسې نور ... ټول نابود شول. که داسې واى، چې يو نظام، له زور او ظلم سره، پاتې کېدلى، د تاريخ په اوږدو کې به، پاتې واى. بلکې ملتونه، تل بريالي کېږي. د مثال په توگه، که په جنوبي افريقا کې، د نېلسن ماندېلا مبارزې ته، پاملرنه وکړو. د چا گومان هم نه کېده، چې د نېلسن ماندېلا مبارزه، چې د ډېرو غريبو او نادارو خلکو په ملاتړ يې، پيل کړې وه، بری ومومي. خو مورږ وليدل، داسې يو سړی، چې له يوې نامعلومي قبيلې، اوچت شوی وو. د هغه د صبر او زغم په پايله کې، ديکتاتوران ناکام، او ولس بريالی شو. سره له دې چې، دا سړی په هاغه کچه، يو ديني سړی هم نه وو. البته مسيحي وو، خو دومره د دين دعوه يې هم نه کوله.

خو هغوی چې قاعدتاً ديندارانِ دي، هغوی بايد په دنيا کې، د اخلاقو لپاره مثال واى. خو له بده مرغه دوی په دنيا کې، د خودپرستۍ او ځانپالنې مثالونه، نندارې ته کېښودل. مطلب دا نه چې، مورږ خداى او رسول منو، نمونځ هم اداء کوو، روژه هم نيسو، په اصطلاح، صالح عمل هم کوو، انتظار ولرو، چې ولې مورږ دومره، وروسته پاتې او بدبخته يو. خو مورږ بايد، اصلاً پر خداى د ايمان واقعيت، ته پاملرنه وکړو.

خداى تعالى، د هغه له خپلو ټولو صفتونو سره ومنو، او هغه په عملي توگه په خپل چلن کې تمثيل کړو. يعنې خداى تعالى خو، د اخلاقي ارزښتونو مظهر دى. دا چې خداى عليم دى، مورږ بايد علم ته پاملرنه وکړو. رحمان دى، رحيم دى، عزيز دى. د ټولو هاغو صفتونو مجموعه چې، خداى تعالى د هغوی په توسه تعريف کېږي، مسلمانان بايد د الله صفتونو پسې لاړ شي، او په ځان کې يې پيدا کړي. نو په پايله کې يې هرو مرو حتماً، دوی واک او ځواک ته رسېږي. و مو ليدل چې دا مفهوم، په قرآن کې ډېر زيات، په مختلفو طريقو او لهجو، بيان شوی دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

«لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ» سل په سلو کې دوی جانشين او ځای ناستي کېږي «كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ» لکه څنګه چې له دوی مخکې، واک ته رسېدلي ول. «وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ» د «نُمَكِّنَ» فعل، د «مَكَنَ» له ريښې؛ غوښتنو ته د رسېدلو لپاره، په «امکاناتو» او شتو، پر ځواک او واک، د برلاسۍ او لاسرسۍ د موندلو په معنا دی.

تر ټولو سورتونو څخه زياته، دغه کليمه، د يوسف په سورة کې، راغلي ده. يوسف(ع) د هغه خپلو ورونو، په څاه کې، او زليخا، هغه په زندان کې واچوه. تر څو هغه يي، په تبعيد او تنګسه کې اچولی وي، او لاس او وزرې وروټرې. خو الله تعالی، لوړو حکومتي مقامونو ته په رسولو سره، ډير زيات «امکانات او د عمل ډګر» هغه ته، په واک کې ورکړل.

«...وَ كَذَلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْأَرْضِ...» [يوسف۲۱(۱۲:۲۱)]. «...او په دې توګه يوسف ته مو پر [دې] ځمکه [د مېشت او هستوګنې او نور] امکانات [= وده او شخصيتي لوړوالی] ورکړل...».

کوم دين چې، چاته ته امکان نه ورکوي، نه يې پرېږدي، چې مخکې لاړشي، او وده وکړي، دوی يې محدود کړي وي. د اپارتايد په څېر خلق محروموي، محدودوي او تبعيض رامنځته کوي، دا دين د توحيد مخالف دين دی. د پيغمبر په زمانه کې، هم بت پرستي واکمنه وه. او خلک يې نه پرېښوول، واحد خدای ونمانځي. توحيدي دين خلکو ته امکان ورکوي، چې آزادي ولري، هر څوک چې هر دين نمانځي. «وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا» له دغه خوف او ډار او تشويش وروسته به، خدای تعالی هغوی ته امنيت ورکړي. په «لَيُبَدِّلَنَّهُمْ» کې «ل او ن» د تأکيد لپاره دی. سل په سلو کې شرايط بدلېږي. يعني په دې اړه شک مکوئ، شرايط هرو مرو بدلېږي.

په عمومي توګه، دا نتيجه اخلو، چې الله تعالی په دې آيت کې، د حضرت رسول اکرم(ص) د مهال حاضرينو ته، وعده او ژمنه ورکړې ده؛ د «مِنْكُمْ» د کليمې له لامله، چې دوی به په ځمکه کې خليفه او ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناستي کړي. يعني هغوی به د مشرکينو، ځای ناستي او خليفه کړي. [نه د خدای خليفه؛ چې ځينې په دې اړه تېروتي دي، ځکه خدای تعالی ځای او ځای ناستی يا خليفه نه لري]. له دې لامله چې فرمايلي يې دي:

«كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ»، چې له مؤمنينو مخکې هم يو شمېر خلکو، په کومې پېړۍ کې، او د ځمکې په کومه برخه کې، مشرولي او واکمني کوله، او بيا تللي دي. او خدای تعالی، نور د هغوی ځای ناستي کړل، او د يو شمېر مشرولي او واکمني، نورو ته ولېږدېدله.

نو لکه څنګه چې خلکو مخکې له دوی، د ځمکې پر يوې برخه خلافت کړی، نه پر ټوله ځمکه. خدای تعالی وعده ورکړه، چې د پيغمبر د زمانې مؤمنين هم، د ځمکې په يوه برخه کې، ځواک او واک وموميِ. او دا الهي وعده او ژمنه، له دې لامله ده، چې د رسول الله د زمانې مؤمنينو واقعاً ايمان درلود، او سره او وړ کارونه يې، د همدې آيت پر بنسټ سر ته ورسول، عملي شوه. او همدا لامل وو، چې هماغه مؤمنين، چې د ديني مراسمو لپاره يې، تمکن او ځايګی نه درلود، او تل به د مشرکينو له ځواکه، په وېرې او ډار کې ول.

له الهی وعدې سره سم، د هغوی ويره، په امن او ډاډ بدله شوه. او د ديني مراسمو په اجراء کې يې، تمکن وموند. او هاغه ځمکه او هيواد، چې د مشرکينو او کفارو تر ولکې لاندې وو، د دوی لاس او تسلط ته راغی.

«يَعْبُدُونَنِي» په دې شرط چې، زما عبادت وکړې، زما عبادت يعني دې ديکتاتورانو او جبارانو پسې لاړ نشي. عبادت دلته د نمانځنې په معنا نه دی، بلکې د اطاعت او تمکين په معنا دی.

عبادت په غلطی، بندګي يا پرستش ترجمه کوي. د عبادت لغوي معنا، د الهي اسماء او صفاتو د جذب او کسب [لاسته راوړنې] لپاره، د خپل نفس هموارول او سمول دي. يعنې الهي شخصيت پيدا کول، او کمال ته رسيدل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انسان له خلقت او پيدايښت څخه موخه او هدف همدا دی، چې د شيطان او رحمن، په دوه لارې کې د تقوا په ځواک، خپل ځان له شيطاني جاذبې وژغوري، او د رحمن په لور يې سوق او سم کړي. په دغه ننګونه او د حق او باطل، په دغې دائمي او تلپاتې جګړې، او دغو غورځو پرځو کې، انسان جوړېږي او سمبالېږي. او بايد پوه شو، چې په دې آية کې، په اسلام او نورو الهي اديانو کې، حکومت موخه او هدف نه دی، بلکه وسيله ده. او د اديانو هدف داسې دی، لکه څنګه چې په آية کې ذکر شوی؛ او فرمايي: «يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا». پر دې بنا، د ټولو نبيانو هدف، له شرکه د خالي ټولنې رامنځته کول دي. چې په هغې کې يوازې د خدای بندګي وشي، يعنې قرآني خالص توحيد. او د انبياء دنده د رسالت تبليغ، بشارت او انذار دی. «لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا» هيڅ کوم څيز ورسره مه شريکوئ. يعنې هيڅ کوم بل عامل ته، دخالت مه ورکوئ. «وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ» که څوک پس له دې کفر وکړي، [کفر يعنې ددې ارزښتونو ناليدلي نيول]. يعنې حق وپوښي، او دا ارزښتونه ناليدلي ونيسي.

«فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ» نو دوی فاسقان دي. «فسق» په عربي ژبه کې، د پوټکي او ساتونکي پوښ څيرولو ته وايي، چې د «فساد» موجب ګرځي. لکه د مېوې د پوستې [پوټکي]، د څيرې کيدلو [غوڅېدلو] په څير، چې د ميکروبونو د ننوتلو او د هغه د فساد، ګنديدګي او ورسټېدلو سبب کيږي. د انسان پوسته، هماغه شرعي حريم او حدود، او ايماني نظامونه دي.

تقوا هغه ځواک دی، چې مونږ د حريم او حدودو ساتلو او محافظت ته، مجبوروي. او فسق د هغوی په څيرلو، او له مجازو بريدونو او مرزونو څخه، تجاوز او سر غړونې ته مونږ هڅوي.

[فسق يعنې له مقرراتو، قوانينو او نظامونو څخه خارجېدل]، زمونږ په ژبه کې معمولاً فسق، غير اخلاقي حرکتونو ته ويل کيږي، اصلاً فسق قوانين او نظامونه تر پښو لاندې کول، او د قانون د رعايت له ژمنو خارجېدل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شپږ پنځوسم آية، ترجمه شرح او تفسير

وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴿٥٦﴾

او نمونځ [له رب سره اړيکه] قايم کړئ [= ولاړ کړئ][٦٠] او زکات ورکړئ او له رسول اطاعت وکړئ، ښايي تاسو د رحمت وړ وګرځئ.

وَأَقِيمُوا	الصَّلَاةَ	وَآتُوا	الزَّكَاةَ	وَأَطِيعُوا	الرَّسُولَ	لَعَلَّكُمْ	تُرْحَمُونَ
او تاسو ولاړ کړئ	نمونځ	او ادا کړئ	زکات	او اطاعت وکړئ	له رسول	چې پر تاسو	رحم وکړل شي

٦٠ – «أَقِيمُوا الصَّلَاةَ» لکه د وزن [سنجش او تول په معاملو کې] اقامه، د شهادت اقامه [د مظلومانو په نفع]، د دين [آئين او فکري مکتب] اقامه، وجوه او لوري [مخه کول او په ژوندانه کې د موخو اټکل] ټول جدی نيول، اهميت ورکول، او په لومړيتوب قايلېدل رسوي. اصولاً اقامه [ولاړ ساتل] د پرېښوولو، او تر پښو لاندې کولو، په مقابل کې دی.

«وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ» صلاة، يعنې خداى ته مخ کول [معمولاً د صلاة ترجمه په نمونځ کوي] نمونځ قايم کړئ، نمونځ ولاړ کړئ [ودروئ] هيڅ ځای يې په قرآن کې، نه دي ويلي نمونځ ولولئ. په پښتو کې معمولاً وايو چې؛ نمونځ وکړئ، چې تر يو بريده د صلاة مفهوم رسوي. خو بيا هم د صلاة پوره معنا نه اداء کوي؛ د صلاة اصلي مفهوم دی؛ له خداى تعالى سره اړيکه نېول، خداى تعالى ته رجوع کول. نو د جملې پوره ترجمه داسې کېږي؛ نمونځ قايم کړئ، نمونځ پر پښو ودروئ «ولاړ يې کړئ»، يعنې نمونځ جِدي ونيسئ. د خداى تعالى سره، خپله اړيکه جِدي ونيسئ، ورته په لومړيتوب قايل شئ.

«أَقِيمُوا الصَّلَاةَ» لکه د وزن [سنجش او تول په معاملو کې] اقامه، د شهادت اقامه [د مظلومانو په نفع]، د دين [آئين او فکري مکتب] اقامه، وجوه او لوري [مخه کول، او په ژوندانه کې د موخو اټکل] ټول جدی نيول، اهميت ورکول، او په لومړيتوب قايلېدل رسوي. اصولاً اقامه [ولاړ ساتل] د پرېښوولو او تر پښو لاندې کولو په مقابل کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

«وَآتُوا الزَّكَاةَ» زکاة ورکړئ [خپل ټولنيز حق ورکړئ]، «وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ» او د خدای له رسوله اطاعت وکړئ «لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ» «لَعَلَّكُمْ» يعنې؛ وي چې، يا ددې لپاره چې، پر تاسو رحمت وکړی شي، رحمت يعنې د خدای لطف او مهرباني. يعنې تاسو کله چې په سم لارليک اوسئ، ټول مثبت امکانات او مثبتې انرژی، چې خدای تعالی په جهان کې ځای پر ځای کړي، له هغوی برخمن کېږئ. نو دا چې و يې فرمايل: «...وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ...» د هغه اطاعت ته امر دی. په هاغو دندو او عبادتونو کې، چې د بندګانو لپاره يې تشريع کړي دي. او که د ټولو دندو له منځه يې، يوازې له نمانځه او له زکاته يادونه کړې، ددې لپاره ده، چې دا دوه مسئوليتونه، د خدای او خلق په اړه د رکن په مقام کې دي. او د «وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ» جمله، په قضاء او په حکومت کې، د رسول اکرم د ولايت انفاذ دی. او د «لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ» جمله د هاغه امر د تعليل لپاره دی، چې د مأمور لپاره غوره دی. او معنا يې، لکه څنګه چې له سياق څخه يې څرګندېږي دا دی؛ چې له خدای او رسوله اطاعت وکړئ. چې په دې دواړو اطاعتونو کې، دا هيله شته، چې الهي رحمت، ستاسو په حال کې شامل شي. او خدای تعالی ستاسو په اړه، پر خپله وعده او ژمنه وفا وکړي، او يا په بيړه پرې وفا وکړي. چون د مسلمانانو له منځه د نفاق لېرې کېدل، او د حق د کليمې د اتفاق او صلاح عموميت موندل، د صالح مجتمع او ټولنې د انعقاد لپاره کونجې ده، چې پر لور يې هر ډول خيرات رابنکته کېږي.

تر ټولو بهترينه توښه، له خدای سره د اړيکې توښه ده، او په دې توګه، د نمانځه په توسه، د زړه سمول او رغول دي. چې پر بخل او سوګټتوب برلاسی شي، او خپل نفس او د مسلمانانو ټولنه، د زکات په ورکولو پاکه او سپېځلې کړي. او له پيغمبره په اطاعت کولو سره، د هغه له حکم او قضاوت څخه، او په هر کار کې که کوچنی وي يا ستر، د خدای تعالی د شريعت له اجراء سره، او د هاغې برنامې له تحقق او پلې کولو سره، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خداى تعالى د هغوى د ژوندانه لپاره غوښتې، او اراده يې فرمايلى ده: «لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ» چې خداى تعالى پر تاسو په ځمكه كې رحم وكړي. او تاسو له هلاكت وېرې او ډار، خواشينى او بدمرغى څخه وژغوري. او په آخرت كې تاسو، له خپل خشم او عقابه وساتي. ورپسې آية د مقابلې ډلې په اړه دى، چون كله چې آزادي وي، يو شمېر وګړي اندېښمن او په تشويش كې كېږي، چې ګواكې هغوى يعنې مقابل لورى به يې بريالیتوب ته ورسېږي، او پر دوى به واكمن شي.

د اووه پنځوسم آية، ترجمه شرح او تفسير

لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مُعْجِزِينَ فِي الْأَرْضِ وَمَأْوَاهُمُ النَّارُ وَلَبِئْسَ الْمَصِيرُ﴿۵۷﴾

[داسې] مه ګڼه هغوى چې كافر شوي دي ،[الله به] پر ځمكه [د هغه د دين له خپرېدو څخه، د ايمان د آزادۍ له بندولو سره] عاجز كړي، د هغوى ځايګى اور دى چې څه بده پايله ده.

لَا تَحْسَبَنَّ	الَّذِينَ كَفَرُوا	مُعْجِزِينَ	فِي الْأَرْضِ	وَمَأْوَاهُمُ
هيڅكله ګمان مه كوئ	هغوى چې كافر شول	عاجز كوونكي	په ځمكه كې	او ځايګى يې

النَّارُ	وَلَبِئْسَ	الْمَصِيرُ
اور دى	او هرو مرو ډېر بد دى	ځاى د ورتلو [ستنېدو]

«لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مُعْجِزِينَ فِي الْأَرْضِ وَمَأْوَاهُمُ النَّارُ وَلَبِئْسَ الْمَصِيرُ» دا آية د تېر آية د غځونې پاى دە، او په دې كې په ځمكه كې د خلافت او ځايناستى، او د دين د تمكين او د وېرې او ډار بدلول په امنيت باندې، چې په تېرو آيتونو كې مو وليدل، ټينګار كوي. خپل پيغمبر ته د ټينګار په توګه خطاب كوي، چې پام كوه داسې و نه انګېرې، چې كفار به وكولى شي خداى تعالى په ځمكه كې عاجز كړي، او په خپل ځواک او برم سره به د وعدې له وفا كولو څخه، د خداى مخه ونيسي. او دا بيان او

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقيقت، د خداى رسول(ص) ته يو زيرى او بشارت دى. او د الله تعالى خاصه پاملرنه او كرامت دى، چې د هغه امت ته يې كړى دى. او دا دښمنان به مات او مغلوب شي. او چون بشارت او زېرى هاغه جناب ته وو، نو ځكه يې هغه مخاطب كړ، او دا پاملرنه يې وكاروله. نو كه تاسو فكر كوئ، چې كېدى شي ځواكمن او لجوج دښمنان به يې، په دې لاره كې، د خندې لپاره ډبرې واچوي، او د الهي وعدو او ژمنو په تحقق كې به، خندې واقع شي، داسې چار شونى نه دى؛ ځكه چې د هغوى قدرت، د خداى تعالى د قدرت په مقابل كې ناڅيز دى. پر دې بنا «گومان مكوه، چې هغه وګړي چې كافر كېږي، كولى شي د الهي مجازاتو له منګولو څخه، د ځمكې په پراخوالي كې وتښتي.» «لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مُعْجِزِينَ فِي الْأَرْضِ...». نه يوازې په دې دنيا كې د خداى تعالى له مجازاتو خوندي نه دي «چې په آخرت كې ددوى ځايگى اور دى او څه بد ځايگى دى» «وَمَأْوَاهُمُ النَّارُ وَلَبِئْسَ الْمَصِيرُ».

«لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا» فكر مه كوئ، مه انګېرئ، هغوى چې كفر كړى دى؛ كفر هم، چې په اصطلاحي توګه مورِ يې كاروو، په دې مفهوم نه دى. مورِ فكر كوو چې په ټولنه كې، يو شمېر يې كافران ول، او يو شمېر نور يې مؤمنان ول. خو كفر هر هغه څيز دى، چې حقيقت وپوښي، هغوى چې له دې حقيقتونو منكر ول، او د آئين او نظام د انتخاب لپاره، د خلكو د آزادۍ لپاره، خندې او مخ نېوونكي كېدل. فكر مكوئ هغوى «مُعْجِزِينَ فِي الْأَرْضِ» په هيواد كې، خداى تعالى له عاجزۍ سره، مخامخ كړي، او قوانين پخپله نفع تاو كړي. دا دنيا خو د الهي قوانينو پر بنسټ حساب او كتاب لري.

«مُعْجِزِينَ» د «معجز» جمع، د «اعجاز» له مادې د ناتوانه كولو په معنا دى. او لكه څنګه، چې كله انسان د چا په تعقيب پسې دى، او هغه يې له لاسه تښتي، او هر څومره چې هڅه كوي، لاسرسى پرې نه مومي. او د قدرت او ځواک له سيمې او بريده يې، بيرون ځي، او دا چار هغه ناتوانه كړي، له همدې امله د «معجز» كليمه كله، په همدې معنا هم كې كارول كېږي. او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورتنی آیة، همدې معنا ته نغوته ده. او مفهوم يې دا دی چې: تاسو نه شئ کولی، د خدای تعالی د واک او ځواک له ساحې او بريدونو، بيرون لاړ شئ.

«وَمَأْوَاهُمُ النَّارُ وَلَبِئْسَ الْمَصِيرُ» او د دوی اسـتوګنځی اور دی، دا د دوی د عملونو اوردی، دوی په دنيا کې اور بلوي، نو د دوی ځايګی هم همدا اور دی. مصير له «ص» سره، يعنې کېدل، يوه پروسه ده، چې نتيجه او پايله لري. او بالاخره دا چرته رسېږي، او سرليک يې څه ډول جوړېږي.؟ ددې سړي سرليک، څومره بد جوړېږي. او بده پايله لري.

يعنې دوی چې دلته اور بلوي، او پر خلکو يې اور راښـکته کړی دی، دا پخپله د بد جوړېدو پر لور روان دی، او تل به په اور کې پاتې کېږي. او هغه د ورتلو، هرو مرو بد ځای دی.

په پای کې يې، کافران تنبيه کړي دي، او په دې توسه يې، منافقينو ته د سوچ او اند موقع ورکړي. چې هغه خلک [هغه که يهود دي او که د عربو مشرکين] چې که داسې انګېري، چې په دې ټاټوبي او هيواد کې به، د الله تعالی دين، له پرمختګ څخه تم کړي. او په دې ډول الله تعالی چې د واکمنۍ او برلاسی کومه ژمنه او وعده له مسلمانانو سره کړې، هغه تش خوب او خيال کړي. نو هغوی دې دا خام خيال، له خپلو مغزو وباسي، ځکه چې هغه حضرت(ص)، د الله تعالی وروستی استازی دی، او د الله تعالی د دين د خپرولو لپاره، مبعوث شوی دی. هغه ددې دين د برلاسۍ لپاره، شپه او ورځ هڅه او کوښښ کوي، او مسلمانان په دې کوښښ کې، د هغه لاس او متې دي. هغوی له خپل ايمان او عمل سره، ددې دين ملاتړ کړی دی. او له خپلو قربانيو سره يې، دا بهير او دا کاروان مخکې بوولی دی. او هغوی ته په دې ټولو منډو ترړو کې، د الله تعالی ملاتړ حاصل دی. نو ځکه هغه څوک چې په دې لار کې، مخلصانه پل واخلي، او نېک عملونه وکړي، ماتېدل يې ناشوني بربښي. او کوم قومونه، چې د الله تعالی د ماتولو او عاجزولو، اراده لري، هغوی به تل، نهيلي او زيانمن وي. نو همدا لامل

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی، چې مشرکینو او یهودو ته هم، د ځان په اړه غور او فکر کول پکار دي. ځکه چې اوس په دې سیمه کې، د هغوی صف، د ټولېدو په حال کې دی. او تر کومې، چې په آخرت پورې اړیکه لري، که دا خلک په داسې حالت کې فوت شي، نو په هر حالت کې د الله پر لور ورتګ دی. او هلته ددوی انجام جهنم دی، چې د تل لپاره د هغوی استوګنځی دی. او هغه ډېر بد، د مېشت او استوګنې، ځای دی.

هر مهال چې مسلمانان پر سمه لار وي، او د خدای تعالی د حکم مطابق، عمل وکړي. نمونځ قایم کړي، او د ټولنی د مستحقینو حق، ورته اداء کړي. او د الله تعالی د استازي له امرونو اطاعت وکړي، نو هغوی نشې کولی مسلمانان په ځمکه کې، خوار او بېوسې کړي. د هغوی ظاهري ځواک نشې کولی، د حق په لار کې، د مسلمانانو خنډ شي. په حقیقت کې، باید مسلمانان د ایمان په ځواک، ځواکمن وي. له دغې نظام او سیستم سره، چې دوی یې لري، او کولی شي ترې برخمن شي، ځواکمن دي.

اسلام یو ستر او پراخ حقیقت دی. هغه څوک چې غواړي، په دې آیتونو کې، د خدای د وعدې په حقیقت پوه شي، اړین دي، چې دا ستر حقیت بیا ځلې وویني. او اړین دی، چې د هغه مصداق، د بشریت د ژوندانه په تاریخ کې، وڅېړي او وپلټي.

داسې یو کس، چې باید د اسلام د حقیقت شرطونه، لکه څنګه چې بنایي، درک او پوهنه او ادراک ترې وکړي، مخکې له دې چې، د هغه په اړه شک او تردید ته پاملرنه وکړي، یا واقع کېدل یې له ناوخته او د لېرې موقعیت له حالته، درک کړي او وانګېري.

هیڅ ځل داسې نه وو، چې دا امت د خدای تعالی له برنامې او پروګرام سره، سم حرکت وکړي، او دا برنامه په خپل ژوند کې واکمنه او حاکمه کړي، او هغه په خپلو چارو کې ومني، او له هغه خوښ اوسي، او په پایله کې د خدای ژمنې او وعدې، تحقق نه وي موندلی، او پلې شوي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي. او هاغه وعده، چې خداى تعالى، د نورو پر ځاى، د خلافت او ځاى ناستې، او مكانت او امن او امان وركولو لپاره، ورکړې ده، هرومرو يې تحقق موندلى دى. همدا راز هيڅ ځلې داسې نه وو، چې دې امت له دې برنامې سره، مخالفت کړى وي، مګر دا چې د پرمختګ او ودې د کاروان او قافلې، شا پسې روان شوى نه وي، او خواري او رسوايي يې، موندلې نه ده. او په دې توګه يې خپل آئين، پر بشريت له حاكميت او برلاسۍ، محروم کړى دى، او وېرې او ډار، دا امت د خپل لاس ګوډاګى او لوبګوټى کړى دى. او دښمنانو هم دا امت تښتولى دى، او د امت نوم او نښان تت شوى دى. او تل په دنيايي چارو کې، له خواري سره مخ، او نورو ته اړ پاتې شوى دى.

خو د خداى وعده او ژمنه، پر ځاى او تېكاو ده! د خداى شرط د ټولو لپاره معلوم او مشخص دى! هغه څوک، چې د خداى تعالى د ژمنى او وعدې، د تحقق موندل او پلي كول غواړي، بايد شرط مراعات کړي. په ربښتيا چې الله تعالى، له هر چا بهتر، پر خپل عهد او پيمان وفا كوي.

د سورة متن او د لُغتونو ترجمه (۵۸ ـ ۶۴) آيتونه

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِيَسْتَأْذِنْكُمُ الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ وَالَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنْكُمْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ مِنْ قَبْلِ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَحِينَ تَضَعُونَ ثِيَابَكُمْ مِنَ الظَّهِيرَةِ وَمِنْ بَعْدِ صَلَاةِ الْعِشَاءِ ثَلَاثُ عَوْرَاتٍ لَكُمْ لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌ بَعْدَهُنَّ طَوَّافُونَ عَلَيْكُمْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَعْضٍ كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿۵۸﴾ وَإِذَا بَلَغَ الْأَطْفَالُ مِنْكُمُ الْحُلُمَ فَلْيَسْتَأْذِنُوا كَمَا اسْتَأْذَنَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ	لِيَسْتَأْذِنْكُمُ= بايد له تاسو اجازه واخلي ـ الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ= هغه كسان چې ستاسو تر لاس لاندې دي [ستاسو وينځې او غلامان] ـ لَمْ يَبْلُغُوا = نه دي رسېدلي ـ الْحُلُمَ= بلوغ (سن ته) ـ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ= درې ځلې ـ صَلَاةِ الْفَجْرِ= د ګهيځ نمونځ ـ تَضَعُونَ= وباسئ ـ ثِيَابَكُمْ= جامې خپلې ـ مِنَ الظَّهِيرَةِ= د خابښت پر مهال ـ ثَلَاثُ عَوْرَاتٍ = درې خصوصي مهالونه ـ جُنَاحٌ = كومه ګناه ـ بَعْدَهُنَّ = له دې درې مهالو وروسته ـ طَوَّافُونَ عَلَيْكُمْ = (هغوى) ستاسو ګردچاپېره ګرځي ـ بَعْضُكُمْ عَلَى بَعْضٍ = ځېنې له تاسو ځېنو نورو ته ـ يُبَيِّنُ = ښكاره كوي ـ بَلَغَ = ورسېږي ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

آيَاتِهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ﴿٥٩﴾ وَالْقَوَاعِدُ
مِنَ النِّسَاءِ اللَّاتِي لَا يَرْجُونَ نِكَاحًا
فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ أَنْ يَضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ
غَيْرَ مُتَبَرِّجَاتٍ بِزِينَةٍ وَأَنْ يَسْتَعْفِفْنَ خَيْرٌ
لَهُنَّ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴿٦٠﴾ لَيْسَ عَلَى
الْأَعْمَى حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ
وَلَا عَلَى الْمَرِيضِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى
أَنْفُسِكُمْ أَنْ تَأْكُلُوا مِنْ بُيُوتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ
آبَائِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أُمَّهَاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ
إِخْوَانِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخَوَاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ
أَعْمَامِكُمْ أَوْ بُيُوتِ عَمَّاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ
أَخْوَالِكُمْ أَوْ بُيُوتِ خَالَاتِكُمْ أَوْ مَا مَلَكْتُمْ
مَفَاتِحَهُ أَوْ صَدِيقِكُمْ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ
أَنْ تَأْكُلُوا جَمِيعًا أَوْ أَشْتَاتًا فَإِذَا دَخَلْتُمْ
بُيُوتًا فَسَلِّمُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِنْ
عِنْدِ اللَّهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ
لَكُمُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ﴿٦١﴾ إِنَّمَا
الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ
وَإِذَا كَانُوا مَعَهُ عَلَى أَمْرٍ جَامِعٍ لَمْ
يَذْهَبُوا حَتَّى يَسْتَأْذِنُوهُ إِنَّ الَّذِينَ
يَسْتَأْذِنُونَكَ أُولَئِكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ
وَرَسُولِهِ فَإِذَا اسْتَأْذَنُوكَ لِبَعْضِ شَأْنِهِمْ
فَأْذَنْ لِمَنْ شِئْتَ مِنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمُ اللَّهَ
إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴿٦٢﴾ لَا تَجْعَلُوا
دُعَاءَ الرَّسُولِ بَيْنَكُمْ كَدُعَاءِ بَعْضِكُمْ
بَعْضًا قَدْ يَعْلَمُ اللَّهُ الَّذِينَ يَتَسَلَّلُونَ مِنْكُمْ
لِوَاذًا فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ
أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ

فَلْيَسْتَأْذِنُوا= (فَـ +لِيَسْتَأْذِنُوا) نو بايد اجازه واخلي
ـ وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاءِ = زړې ښځې (له کاره
لوېدلې ـ لَا يَرْجُونَ = انتظار نه لري ـ نِكَاحًا =
واده ـ أَنْ يَضَعْنَ = چې يو خواته کېږدي، چې
اخوا کړي، چې لېرې کړي ـ ثِيَابَهُنَّ= مخ پرونى
يې ـ غَيْرَ مُتَبَرِّجَاتٍ بِزِينَةٍ = د سينګار [ښکلا] له
څرګندولو پرته ـ أَنْ يَسْتَعْفِفْنَ = دا چې خپل
ځان وپوښي ـ خَيْرٌ = ښېګڼه، بهتر ـ الْأَعْمَى =
نابينا، ړوند – حَرَجٌ = ګناه، تنګي، اعتراض ـ
الْأَعْرَجِ = ګوډ، شل ـ أَنْ تَأْكُلُوا = چې [د اړتيا
تر بريده] وخوري ـ بُيُوتِكُمْ = ستاسو خپل
کورونه [لکه د همسر، او بچو] ـ أُمَّهَاتِكُمْ =
ستاسو د مېندو ـ إِخْوَانِكُمْ = ستاسو د ورونو ـ
أَخَوَاتِكُمْ = ستاسو د خويندو ـ أَعْمَامِكُمْ = ستاسو
د ترونو ـ عَمَّاتِكُمْ = ستاسو د تريندو ـ أَخْوَالِكُمْ
= ستاسو د ماماګانو ـ خَالَاتِكُمْ = ستاسو د تورېانو
[کورونه] ـ مَا مَلَكْتُمْ = [هغه کورونه] چې ستاسو
لاس کې دي ـ مَفَاتِحَهُ = کونجي ګانې يې ـ
صَدِيقِكُمْ = ستاسو د دوستانو [کورونه] ـ أَشْتَاتًا
= بېل بېل ـ سَلِّمُوا = سلام وکړئ ـ تَحِيَّةً=
درناوى کول ـ مُبَارَكَةً = برکتناک، له برکته ډک ـ
طَيِّبَةً = پاکيزه، سپېڅلى ـ يُبَيِّنُ = ښکاره کوي ـ
أَمْرٍ جَامِعٍ = ټولنيز مهم چار ـ لَمْ يَذْهَبُوا = [له
هغه څخه] نه ځي ـ حَتَّى يَسْتَأْذِنُوهُ = تر څو له
هغه اجازه واخلي ـ شَأْنِهِمْ= د هغوى مهم کارونه
ـ فَأْذَنْ = نو اجازه ورکړه ـ اسْتَغْفِرْ = بښنه وغواړه
ـ دُعَاءَ الرَّسُولِ = د خداى د رسول [په توسه
ستاسو] بلل ـ قَدْ يَعْلَمُ = هرو مرو پېژني ـ
يَتَسَلَّلُونَ = په پټه او کښېدو وځي ـ لِوَاذًا = د
نورو په پناه کې، د نورو تر سېوري لاندې ـ
فَلْيَحْذَرِ = [فَـ + لِيَحْذَرِ] ؛ نو بايد وويرېږي ـ
يُخَالِفُونَ = مخالفت کوي، سرغړونه کوي ـ أَنْ

(c) ketabton.com: The Digital Library

أَلِيمٌ﴿٦٣﴾ أَلَا إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ قَدْ يَعْلَمُ مَا أَنْتُمْ عَلَيْهِ وَيَوْمَ يُرْجَعُونَ إِلَيْهِ فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوا وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ﴿٦٤﴾	تُصِيبَهُمْ = [له دې] چې هغوی ته ورسېږي ـ فِتْنَةٌ = [په دنيا کې] يوه بلا، يو ازمايښت ـ مَا أَنْتُمْ عَلَيْهِ = اوس چې تاسو په هغې کې ياست [جسمي او روحي او ټولنيز حالتونه] ـ يُرْجَعُونَ = بېرته ستنول کېږي ـ فَيُنَبِّئُهُمْ = تاسو آګاه کوي ـ

د نور سورة تشريح (۵۸ - ۶۴) آيتونه

تر دې ځايه چې کوم وروستي آيتونه مو ولوستل، د بعثت په لسم کال پورې يې اړه درلوده. تر دې وروسته چې کوم آيتونه راځي، د هجرت په لسم کال کې نازل شوې دي. چې ددې سورة تر آخره، ټول آيتونه پکې شامل دي، چې تر نورو ۱۳ کاله وروسته نازل شوي دي. دا هغه آيتونه دي، چې ببرته د کورنۍ اړوند موضوع پورې، اړه نيسي. يوه ټوټه د آيتونه مو چې ولوستل، دا څرګندوي؛ چې د خداى «نور»، يوازې د اسلام او ايمان په تش اظهار کولو کې نه دى، بايد واقعيت ولري.

پر دې بنا، د سورة له اصلي چورليز سره، په اړيکه کې ول. ورپسې آية هغې نکتې ته نغوته کوي، چې ډېر لږ عمل پرې کېږي. چې په اړه يې لومړى ټوليز او عمومي توضيحات ورکوو؛ په دې آية کې وايي:

چې په درې مهالونو کې نابالغ بچيان، حق نه لري، د پلار او مور کوټې ته وارد شي؛ ګهيځ مهال کله چې پلار او مور له خوبه ويښېږي، په هغه زمانه کې خو دا نه وه، چې سړى څو لاسه اغوستن ولري، د کميس لاندې اغوستن ولري، او د هغې لاندې بل ولري. په هاغه زمانه کې، د نساجۍ او ټوکر اوبدلو کارخونې دود نه وې. ټوکر د اوسنۍ زمانې په مفهوم، په هاغه مهال کې شتون نه درلود. او که لږوډېر هم وو، هغه په نشت حساب وو. که کوم ټوکر په هاغې زمانه کې، په لاسونو په خاصو طريقو اوبدل کېده، ډېر قيمته او ګران بيه وو، او له يو جوړه جامو زياتې چا نه درلودې. او ډېرېو يو جوړ جامې هم نه شوې برابرولې، زياترو به نيم تنه لباس، په هغه ټولنه کې درلود، او وجود به يې نيم لوڅ وو. نو په ګهيځ کې، له خوبه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاڅېدو پر مهال، کوم نوکر به يې چې ځان پورې تړلی وو، ددې خطر زيات وو، چې اخوا ديخوا شي.

پر دې بنا وايي؛ کوچنيان حق نه لري، په دې مهالونو کې، د پلار او مور خوني داخل شي. البته بچيان به يې چې واړه ول، دوه کلنۍ درې کلنۍ پورې، له ځان سره ويده کول. خو له دې به چې لږ ستر شول وايي؛ مثلاً له درې، څلور کلنۍ وروسته، د بلوغ تر سن پورې، ګهيځ بايد اجازه واخلي، بل په غرمه کې، هغه مهال چې پلار يا مور يې، له کاره راستنېږي، او غواړي خپل لباس تبديل کړي. چې لنډ خوب وکړي، يا پرناو وړی وي، چې خپله ستوماني لېرې کړي. او بل هم د شپې، د ماسخوتن تر نمانځه وروسته. وايي؛ دا درې وختونه، بايد هرومرو اجازه واخلي.

د اته پنځوسم آية، ترجمه شرح او تفسير

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِيَسْتَأْذِنْكُمُ الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ وَالَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنْكُمْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ مِنْ قَبْلِ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَحِينَ تَضَعُونَ ثِيَابَكُمْ مِنَ الظَّهِيرَةِ وَمِنْ بَعْدِ صَلَاةِ الْعِشَاءِ ثَلَاثُ عَوْرَاتٍ لَكُمْ لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌ بَعْدَهُنَّ طَوَّافُونَ عَلَيْكُمْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَعْضٍ كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿۵۸﴾

ای هغه کسانو چې ايمان مو راوړی دی، هغوي چې ستاسو لاسونه د هغوی مالکان دي، يعنې ستاسو تر واکمنۍ لاندې دي [= هغه جنګي اسيران چې ستاسو چوپړ ته ګمارل شوي دي][۶۱] او ستاسو کوچنيان چې د بلوغ عمر ته نه دي رسېدلي،[۶۲] بايد په دريو مهالونو کې له تاسو [ستاسو کوټې ته د ننوتلو] اجازه واخلي؛ د ګهيځ له لمانځه تر مخه، له نيمي ورځې [= له غرمې تر مخه] هغه مهال چې خپلې جامې [د استراحت لپاره] لېرې کوئ، او د ماسخوتن له نمانځه وروسته [چې د خوب لباس اغوندئ. دغه] درې ستاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګړي خلوتونه [= يوازېتوبونه] دي [چې څوګندوالی يې غوره نه دی].[۶۳] پرته له دغو دريو وختونو، پر تاسو او هغو هيڅ ګناه نشته چې پرله پسې ستاسو شاوخوا ته په تګ او راتګ کې دي او يو بل ته [هر مهال چې وغواړئ] ورتللی شئ. په دغه ډول الله خپل آيتونه تاسو ته په روښانه توګه بيانوي او الله ډير پوه حکيم دی.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ	آمَنُوا	لِيَسْتَأْذِنْكُمُ	الَّذِينَ	مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ
ای هغه کسانو	چې ايمان مو راوړی	اجازه دې واخلي له تاسو	هغه کسان چې	مالک دي لاسونه ستاسو

وَالَّذِينَ	لَمْ يَبْلُغُوا	الْحُلُمَ	مِنْكُمْ	ثَلَاثَ مَرَّاتٍ	مِنْ قَبْلِ	صَلَاةِ الْفَجْرِ
او هغوی چې	نه دي رسېدلي	بلوغ ته	له تاسو	درې ځلې	مخکې له	ګهيځ نمانځه

وَحِينَ	تَضَعُونَ	ثِيَابَكُمْ	مِنَ الظَّهِيرَةِ	وَمِنْ بَعْدِ	صَلَاةِ الْعِشَاءِ
او هغه مهال چې	ږدئ تاسو	جامې خپلې	له غرمې	او وروسته له	عشاء [ماسخوتن] له نمانځه

ثَلَاثُ	عَوْرَاتٍ	لَكُمْ	لَيْسَ عَلَيْكُمْ	وَلَا عَلَيْهِمْ	جُنَاحٌ	بَعْدَهُنَّ
درې مهالونه	خلوتونه	ستاسو لپاره	نشته پر تاسو	او نه پر هغوی	کومه ګناه	وروسته له دې

طَوَّافُونَ	عَلَيْكُمْ	بَعْضُكُمْ	عَلَى بَعْضٍ	كَذَلِكَ	يُبَيِّنُ اللَّهُ
شاوخوا تګ راتګ کوونکي	پر تاسو	ځېنې له تاسو	پر ځېنو [نورو]	په دې ډول	بيانوي الله

لَكُمُ	الْآيَاتِ	وَاللَّهُ	عَلِيمٌ	حَكِيمٌ
تاسو لپاره	آيتونه	او الله	ډېر ښه پوه	د حکمت خښتن دی

---

۶۱ – د «وَ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ» جمله [يعنې هغه څه چې د يمين په ملک مو نېولی – په جنګي او يا مالي ځواک مو لاس ته راوړی دی] په ټوله کې، ۱۵ ځلې په قرآنکريم کې تکرار شوې ده. چې د مرحوم طالقاني د تشريح له مخې [د پرتوی قرآن په تفسير کې د نساء سورة تر دريم آيت لاندې]: «له ماضي فعل سره راغلی، [نه له حال وصف مملوککم سره، او نه استمراری فعل: تملک ايمانکم] او له تير شوو خبر رسوي چې د جاهليت له سنتونو، دودونو او له پاتې شونو څخه وو ... سره له دې چې، د جنګي اسيرانو په بردګۍ او غلامۍ نيول، هر ځايي او د ټولو دود وو، او کله هم مصلحت وو. د اسلام د هغه مهال په ټولو بريالیو جنګونو کې، د مغلوبو مشرکانو څخه، هيڅوک په غلامۍ او بردګۍ ونه نيول شو. د بدر، مکې فتح، او د حُنين [په جنګونو کې] د شپږزرو تر بريده، ښځې او ماشومان اسيران شول.

مهاجرو او انصارو د الله د رسول (ص) په پيروی، ټول خپل اسيران، چې د هغوي د غنيمتونو برخه ول، آزاد کړل... د هجرت تر لسم کال، او د الله د رسول د

(c) ketabton.com: The Digital Library

عمر تر پايه، په هر ځای کې چې توحيد پښه نېوله، بردګي، غلامي او اينځتوب او تبعيض به له منځه تلل... تر څو چې د مسلمانانو له خلافت او فتوحاتو له پراختيا وروسته، ځينې ناخلفان د اسلام په څيره کې راغلل. چې له دننه مشرکين، او د جاهليت له مرتجعانو ول. د قومي او نژادي تبعيضونو پر بنسټ، له مسلمانانو او مؤحدانو آزادي سلب شوه. او د خلفاو او پر هغوی پورې د اړوندو او ټرلو کسانو او خپلوانو قصرونه يې، له غلامانو او مينځو ډک شول [ج ۴ ص ۷۰ تر ۷۲].

٦٢ – «حُلُمْ» چې د بلوغ سن ته ويل کيږي. د «حليم» له صفت سره چې ۱۵ ځلې، په قرآنکريم کې تکرار شوی، هم ريښه دی. له بل لوري «حِلم» له «عِلم» سره ډير نږدې دی. او حليم هغه چاته ويل کيږي، چې له علم او دننی آګاهی سره، پر احساساتو، خشم او غضب او پر خپلو نورو حيواني غريزو، غلبه کوي. او لکه د بيمار سره د طبيب د چلن په څېر، په مينه او محبت، د هغو د کړنو عيبونه، په نرمی او مدارا، ورو، ورو درمل کوي.

د بلوغ سن، هم په طبيعي توګه، هغه مهال دی، چې وګړي د ځوښ او خروښ دوران، او د ځوانی احساسات تير کړي وي، او پر خپل نفس، له واکمنی سره، عاقلانه غبرګون څرګند کړي. له دې لامله ئې، دغه سِني پړاو، حُلُم نومولی دی.

٦٣ – د «عورت» [و عورات] کلمه، په ټوله کې څلور ځلې، په قرآنکريم کې راغلې ده. هاغه کور ته، چې ساتونکی ونلري، له غلا سره مخامخ کيدونکي وي، او د غلو لاسرسی يې، مال او ناموس ته وي، عوره ويل کيږي. [احزاب۱۳(۲۳:۱۳)].

لباس او اغوستن هم، لکه د ساتونکي په څېر، جنسي اندام او نور د پټولو وړ اندامونه، د ناموس له غلو او په زړه ناروغو، له لاسرسی او برلاسی پټوي. او عورت له لغوي ليد څخه، هغه څيز ته ويل کيږي، چې څرګندیدل ئې، شرموونکي او ناسم وي.

دري مهالونه، چې په دې آيت کې «ثَلَاثُ عَوْرَاتٍ» نومول شوي، هماغه وختونه دي، چې د بهر لباسونه، د خوب او استراحت په سپکو او نازکو لباسونو بدلوي. چې دغه بدلون، د اولادونو په مخکې غوره نه دی.

په دې برخه کې، د سورة لومړنی برخې ته ستنېږي. له دې توپير سره، چې په دې آيتونو کې، ډيری احکام د «کور» په اړه دي، نه د «کورنی» په اړه. خو له دې سره سره، هر دواړه موضوعګانې، يوې موخې ته رسېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د کور او کورنۍ موضوع ده. سربېره پر دې، دا «۴ آيتونه» د لومړۍ برخې له «۳۴ آيتونو» څخه، پنځه کاله وروسته، يعنې په لسم لېږديز کال کې نازل شوي دي، چې د کورنۍ د حريم بشپړوونکي دي.

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا» اى هغو کسانو، چې ايمان مو راوړى دى. يعنې دا موضوع ايماني ده، دا موضوع هماغو مسئلو پورې اړوند ده، چې د سورة په پيل کې وويل شولې «لِيَسْتَأْذِنْكُمُ الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ» هرو مرو، بايد له تاسو اذن او اجازه واخلي، هغوى چې ستاسو په لاسونو کې، ستاسو تر ملکيّت لاندي ول. د «وَ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ» جمله په ټوله کې ۱۵ ځلې په قرآنکريم کې تکرار شوې ده، چې د مرحوم طالقاني د تشريح له مخې [د پرتوى قرآن په تفسير کې د نساء سورة تر دريم آيت لاندې]: «له ماضي فعل سره راغلى نه له حال وصف سره: مملوککم، او نه استمرارى فعل: تملک ايمانکم، او له تير شوو خبر رسوي چې د جاهليت له سنتونو، دودونو او له پاتې شونو څخه وو ... سره له دې چې، د جنګي اسيرانو په بردګۍ نيول، هر ځايې او د ټولو دود وو، او کله کله هم مصلحت وو. د اسلام د هغه مهال، په ټولو بريالیو جنګونو کې، د مغلوبو مشرکانو څخه، هيڅوک په بردګۍ ونه نيول شو. [يعنې مقصد يې هاغه جنګي اسيران دي، چې له دوى سره، اوس د مريانو او اينځو په توګه دي.] نو د ښاغلي تالقاني په قول، د قرآن په هيڅ ځاى کې نه دي ويل شوي؛ تَمْلِكُمْ چې دا مضارع دى، خو ويلې يې دي مَلَكَتْ چې ماضي دى، يعنې هغوى چې په هغې ټولنه کې، له مخکې ول، اسير شوي ول. او په هاغې ټولنه کې به هغوى، هلته په کورونو کې خدمت کاوه. ښاغلى تالقاني وايي؛ د پيغمبر (ص) د عمر تر پايه، د ۲۳ کلونو په اوږدو کې، هيڅوک مريي او غلام نشول، د جنګونو په جريان کې، چې دوى اسيران ونيول شول، يا مبادله شول يا ټول يې آزاد شول.

دا سمه ده چې له پيغمبر وروسته ډېر اسيران ونيول شول، چې اينځې او غلامان شول. خو د پيغمبر په ژوند کې، هيڅوک داسې اسير نه شو؛ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مريي يا غلام او اينځه شي. خو په هغه ټولنه کې، د خدمتګارانو په توګه، موجود ول. وايي دوی بايد اجازه واخلي.

د بـدر، مـکې فتحې، او د حُـنين [په جنګونو کې] د شـپږزرو تر بريده ښځې او ماشومان، اسيران شول. مهاجرو او انصارو، د الله د رسول (ص) په پيروی، ټول خپل اسـيران، چې د هغوي د غنيمتونو برخه ول، آزاد کړل... د هجرت تر لسم کال، او د الله د رسـول د عمر تر پايه، په هر ځای کې چې توحيد پښه نېوله، بردګي، غلامي او اينځتوب او تبعيض به له منځه تلل... تر څـو چـې د مسلمانانو لـه خلافت، او د هغـوی د فتوحاتو له پراختيا وروسـته، ځينې ناخلفان د اسـلام په څيره کې، واک او ځواک ته راغلل. چې لـه دننه مشـرکين او د جاهليت له مرتجـعانو ول، د قـومي او نژادي تبعيضـونو په پايله کې، له مسـلمانانو او مؤحدانو څخه، آزادي سـلب شـوه. او د خلفاو او پر هغوی پورې د اړوندو او ټرلو کسـانو او خپلوانو قصـرونه، له غلامانو او اينځو ډک شول» [پرتوی از قرآن ج۴ ص ۷۰ تر ۷۲].

«وَالَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنْكُمْ» او ستاسو هاغه بچيان، چې لا د حُلم سن ته نه دي رسېدلي. حُلم چې د بلوغ سن ته وايي، له همدې حلم څخه، اخېستل شوی دی. د حلم صفت ۱۵ ځلې د خدای په اړه راغلی دی؛ د خدای تعالی له صفتونو څخه، يو دا دی چې؛ خدای حليم دی. چون خدای حليم دی، سره ددې چې، انسان عصباني کېږي، خو خدای تعالی نه عصباني کېږي، انسان ته يې، د عمر تر آخره پورې، وخت ورکړی دی. د خدای تعالی له صفتونو څخه، يو صفت د هغه حليم توب دی. خدای تعالی بيړه نه کوي، د عمر تر پايه يې، انسان ته وخت ورکړی، چې هر څه غواړي هغه کوي. حتا که د خدای پر ضد تبليغ هم وکړي، خدای تعالی ورته نه عصباني کېږي، چې را ويې نيسي، يا يې رزق کم کړي، يا ځان يې واخلي. حليم سړی هاغه چا ته وايي؛ چې فشار يې ژر نه اوچتېږي، ژر نه عصباني کېږي. حلم له علم سره مستقيم تناسب لري، دا دواړه يو له بل سره دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حليم هاغه څوک دی، چې پر خپل ځان واکمن دی، پر خپل خشم، پر خپلو شهوتونو، پر خپلو تولو، غريزو او عاطفو واکمني لري. له خپل عقل سره سم، عمل کوي. د بلوغ سن ته هم، له همدې کبله د حُلم سن وايي. هغه چې تر اوسه کوچنی وو، بچی وو، احساساتي وو، په جوش راته، خو اوس د عقل سن ته رسېدلی دی، د تميز سن ته رسېدلی دی، پر ځان واکمن او مسلط دی. «حُلُمْ» چې د بلوغ سن ته ويل کيږي، د «حليم» له صفت سره چې ۱۵ ځله په قرآنکريم کې، تکرار شوی، هم ريښه دی. له بل لوري «حِلم» له «عِلم» سره ډير نږدې دی، او حليم هغه چاته ويل کيږي، چې له علم او دننی پوهې او آگاهی سره، پر احساساتو خشم او غضب، او پر خپلو نورو حيواني غريزو، غلبه کوي. او لکه د بيمار سره، د طبيب د چلن په څېر، په مينه او محبت د هغو د کړنو عيبونه، په نرمی او مدارا، ورو، ورو درمل کوي. د بلوغ سن هم، په طبيعي توګه هغه مهال دی، چې وګړي د ځوښ او خروښ دوران، او د ځوانی احساسات يې تير کړي، او پر خپل نفس له واکمنی سره، عاقلانه غبرګون څرګند کړي. له دې لامله ئې، دغه سِني پړاو حُلُم نومولی دی. پر دې بنا وايي؛ هغوی چې د بلوغ سن ته نه دي رسېدلي، «ثَلَاثَ مَرَّاتٍ» دري وختونه بايد اجازه واخلي، «مِنْ قَبْلِ صَلَاةِ الْفَجْرِ» د فجر له نمانځه مخکې، «وَحِينَ تَضَعُونَ ثِيَابَكُمْ مِنَ الظَّهِيرَةِ» او هغه مهال چې خپل لباسونه د غرمې پر وخت پر ځمکه ږدئ، «وَمِنْ بَعْدِ صَلَاةِ الْعِشَاءِ» او د ماخوستن له نمانځه وروسته. «ثَلَاثُ عَوْرَاتٍ لَكُمْ» دا دري وختونه تاسو لپاره عورت دي. عورت يعنې؛ هر هغه څيز چې ښکاره کېدل يې، بد او زشت دي. کور هم چې خالي وي، عورت بلل کيږي. يو شمېر به پيغمبر ته راتلل، ويل به يې؛ «اِنَّ بُيُوتَنَا عَوْرَتٌ» زمور کورونه عورت دي، يعنې زمور کور کې خوک نشته. مور چې جبهې ته لاړ شو، کور مو خالي پاتې کيږي، غل راځي، يا کوم بل خوک راځي، ښځه او ماشومان مو يوازې دي، له ساتونکي پرته دي. نو هر څيز چې، ساتونکی او حفاظ ونلري، په دې معنا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی. لنډه دا چې، دا درې وختونه هاغه دي، چې ځان باید وساتئ. «لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌ بَعْدَهُنَّ» وروسته له دې، [درې وختونو] پر تاسو او پر هغوی کومه ګناه نشته. «طَوَّافُونَ عَلَيْكُمْ» پر تاسو طواف وکړي، مطلب يې؛ نه دا چې ستاسو ګردچاپېره وګرځي، طواف يعنې راشي، لاړ شي. د کور مور لکه د شمعې په څېر ده، بچيان يې ورته ځي راځي، بچيان د مور او پلار په څنګ او غېږ کې دي، ګردچاپېره ترې تاوېږي. دا نه تاسو ته کومه ستونزه ده او نه هغوی ته، ځي راځي دي، څه خبره نشته. تاسو باید يو له بل سره اړيکه ولرئ «بَعْضُكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ» يو له بل سره هر يو له تاسو. «كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ» دا ډول خداى تعالى، تاسو ته خپل آيتونه تبين کوي، واضح کوي او شرح کوي. کېدی شي زمور په زمانه کې، مور ته داسې وبرېښي؛ چې ددې څيزونو ضرورت، ښايي اوس نه وي. دا دلچسپه ده، چې دا آيتونه، ۱۴۰۰ کاله مخکې راغلي دي. چې کورونو د اوسنۍ زمانې غوندې، د خوب کوټه، او ناستې کوټه، او نور نه درلودل. د حجرو په ښه ښېلې، ښېلې وې، همدا اوس هم په ځينو سيمو کې لس، پنځلس کسان په يوه خونه کې ژوند کوي. نو په هغه دوره کې چې دا وايي؛ ښايي د راتلونکې لپاره، يو ډول زمينه او ډګر جوړوي. همدا اوس هم په کليوالو سيمو کې، په يوه کوټه کې ټوله کورنۍ اوسېږي. مقصد يې دا وو، چې بچيان مخکې له مخکې نبايد ويښ شي. او اړينه نه ده، پر دې مسئلو، مخکې له مخکې پوه شي، او له پلار او مور، هغه خاصې او نامناسبې، صحنې وويني، نه خاصې صحنې، او نه حتا نيم بربنډ هغوی وويني، نه پلار يې او نه مور يې. د مختلفو لاملونو له کبله دا شوني ده، چې دا هڅونې هغوی ژرتر مخکې له وخته، پر دې مسئلو خبر کړي، او بې وخته ويښ شي. اړتيا نشته سړی چې غرمه غذا خوري، ۱۱ بجې د کبابي مخې له ورشي، کباب خو د سړی اشتها، مخکې له وخته غذا ته پاروي. ښايي دا يې مقصد وي؛ چې هغوی نه شي کولی، دا مسائل درک کړي، کېدی شي، په اروا او روان

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې بده آغېزه وکړي. په واقعيت کې موخه يې دا ده؛ چې مور او پلار بايد ښوونه او روزنه ورکړي، بچيان خو هر وخت ځي راځي، دا د مور او پلار دنده ده، چې ورته ښوونه وکړي، دا په هاغو خاصو شرايطو کې، مطرح کېدله، چې کوټو دروازې او قفل نه درلود. اوس کېدی شي داسې نه وي، کوټې دروازې او قفل هم لري. خو مهم دادی، چې له دې څخه، بايد پيغام واخېستل شي. او اصلا پيغام يې، د شخصي حريم ساتنه ده.

حال دا چې؛ اوس په غربي ټولنو کې، مور او پلار هر مهال نيم بربنډ وي، حتا په ځينو حالتونو کې، بيخي بربنډ وي. او معتقد دي چې دوی غواړي؛ ښځه د طبيعت مور ته ورستانه شي، بچيان يې هم د هغوی په څېر همداسې دي، ځکه چې خپل مورِ او پلار وينې. يا دا چې په ډېرو لومړنيو ښوونځيو کې، د جنسي مسئلو په اړه، ورته ښوونه کوي. خو ددې زده کړې په پايله کې، زده کوونکي لا په هماغه کوچنيتوب کې، له دې مسئلو او اړيکو خبرېږي. او له وخته مخکې، د جنسي اړيکو په اړه، ويښېږي. ظاهراً کېدی شي؛ ددوی نيت به ښه وي، چې ځوانان پر دې پوه کړي، چې له بې وخته، او له وخته مخکې، له داسې اړيکو ځان وساتي. او يا له بې وخته حامله کېدو يې، وساتي.

خو ددې آيۀ پيغام دادی؛ چې له هماغه پيله، له دې کاره مخنيوی وشي. او ځوانان پرېښوول شي، په طبيعي توګه، له بلوغ وروسته، او د واده د وخت له رسېدو سره سم، له داسې مسئلو سره آشنا شي. او هيڅ دليل شتون نلري، چې له وخته مخکې، له دې مسئلو سره عادت او روږدي شي. مخکې له وخته له دې مسئلو سره بلدېدل، هغوی له طبيعي مسيره کږوي. او د زده کړې او تحصيل، او کار پر ځای يې، په دې مسئلو کې له طبيعي حالت او وخته مخکې، داسې اخته کېږي، او ورکېږي، چې ځان موندل، او طبيعي مسير ته ښېرته راتګ، ورته ستونزمن شي. او د ټولنې پر ستونزو، نور هم وربار شي، چې اوسنۍ دنيا تر ډېره ده. «وَاللَّهُ عَلِيمٌ

(c) ketabton.com: The Digital Library

حَكِيمٌ» او الله تعالى، حكمت والا پوه دى. او دا احكام، د انسـاني ټولنې د نظم لپاره، د الهي حكمت پر بنسټ، نازل شوي دي.

ددې سورة ۲۷ تر ۳۱ آيتونو کې، چې د ټولنيز ګډ ژوند د آدابو، د اذن او اجازې اخېستلو په اړه، په کورونو کې د پردې، او د خصوصي حريم د ساتلو په اړه، چې کوم هدايتونه ورکړل شوي ول، د هاغو هدايتونو په لړ کې، د وخت له تېرېدو سره ځېنو ړونتياو او وضاحتونو ته اړتيا وه. او د خلکو په طبيعت کې، ددې هدايتونو له اغېزل کېدو، او پر دې هدايتونو، د خلکو له روږدي کېدلو وروسته، ځېنې داسې حکمونه ورکړل شول، چې د تدريجي حکمت پايله وه. له هغى جملې يو هدايت دا وو، چې په کورونو کې د ننوتو په وخت کې، د اذن او اجازې کومه پابندي، چې لګول شوې وه، په هغې کې يې، غلامان او نابالغ بچيان استثنا کړي ول. ليکن اوس يې پر دې استثنا، قيد لګولى دى، چې په عامو مهالونو کې دې، هغوى پر لومړي هدايت عمل وکړي، پر هغوى د اذن پاپندي نشته. البته په دريو مهالونو کې، د هغوى لپاره هم اړين دي، چې کله خوني ته ننوځي، د کوټې له اهل څخه اجازه واخلي. او ورپسې يې، د هاغو مهالونو ذکر کړى دى؛ چې يو يې د ګهيځ له لمانځه مخکې دى، ځکه چې د يو مؤمن لپاره، شپه د خوب او هوسايني وخت، له کومې مجبورى پرته، د ګهيځ له آذان سره پاى ته ورسېږي. ځکه چې د ګهيځ آذان د مؤمن لپاره د فجر د نمانځه بلنه ده. چې ورته لبيک ويل، او د ګهيځ د نمانځه لپاره پاڅېدل، د يو مؤمن لپاره اړين دى. [البته کوم معذور او ناروغ شخص، د عذر تر بريده، د رعايت مستحق دى]. دويم وخت د څابنت وخت دى، چې خلک د قيلوله لپاره خپلې جامې لېرې کوي. [عربستان توده سيمه ده. له څابنته تر تېرې غرمې پورې په کار کولو کې، خلک له ډېرې سختې ستونزې، سره مخامخ کېدل. له دې لامله عربان، غرمه کې له خوب کولو سره، روږدي ول. چې قيلوله ورته وايي]. دريم مهال، د ماخوستن له نمانځه څخه، وروسته مهال

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی. په حقیقت کې دا درې وختونه، د بنځې او مېړه لپاره شخصي حریم دی. او ددې حریم د ساتلو لپاره، دا قانون وضع شوی دی.

د نهه پنځوسم آیة، ترجمه شرح او تفسیر

وَإِذَا بَلَغَ الْأَطْفَالُ مِنكُمُ الْحُلُمَ فَلْيَسْتَأْذِنُوا كَمَا اسْتَأْذَنَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿۵۹﴾

او څنګه چې ستاسو کوچنیان د بلوغ سن ته ورسېدل، باید د هغو کسانو [=د پردو خلکو] په څیر چې مخکې له هغو ئې [کوټې ته د ننوتلو لپاره په ټولو وختونو کې] اجازه اخیستله، اجازه واخلي. دغه راز الله خپل آیتونه په څرګنده توګه تاسو ته بیانوي او الله ډیر پوه حکیم دی.

وَإِذَا	بَلَغَ	الْأَطْفَالُ	مِنكُمُ	الْحُلُمَ	فَلْيَسْتَأْذِنُوا	كَمَا
او کله چې	ورسېدل	کوچنیان	له تاسو	بلوغ ته	نو باید اجازه دې واخلي	لکه څنګه چې

اسْتَأْذَنَ	الَّذِينَ	مِن قَبْلِهِمْ	كَذَٰلِكَ	يُبَيِّنُ اللَّهُ	لَكُمْ
اجازه اخیسته	هغوی چې	مخکې له دوی	په دې ډول	خدای تعالی بیانوي	تاسو لپاره

آيَاتِهِ	وَاللَّهُ	عَلِيمٌ	حَكِيمٌ
آیتونه خپل	او الله	ډېر ښه پوه	د حکمت خښتن دی

«وَإِذَا بَلَغَ الْأَطْفَالُ مِنكُمُ الْحُلُمَ» او کله چې ستاسو بچیان د بلوغ سن ته ورسېدل «فَلْيَسْتَأْذِنُوا» نو باید اجازه واخلي «كَمَا اسْتَأْذَنَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ» اجازه واخلي، د هاغه چا په څېر، چې له دې مخکې ول، یعنې د پردو په څېر دوی هم باید اجازه واخلي. یا د هاغه کسانو په څېر چې، له دوی مخکې بالغان شوي دي. دا درې وختونه د هاغو بچو لپاره دي، چې لا بالغ نه دي. خو کله چې بچیان بلوغ ته رسېږي، هغوی اړین دي چې هر مهال له مور او پلاره اجازه واخلي. په واقعیت کې په دې اړه، د پردو په څېر دي.

«كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ» خدای تعالی په دې ډول، خپل آیتونه تاسو ته توضیح کوي، ددې لپاره چې هغه پوهېږي، علم لري، او کار یې د حکمت له مخې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا يو حکمت لري، چې د هر چا د خصوصي حرمت، رعايت وشي. يعنې د يو لړ ادبونو درس ورکوي. بچيان د پلار او مور کوټې ته، نابره او سر په خود داخل نشي. ويلي يې دي؛ بالغ بچيان بايد، هيڅ وخت داخل نشي، لکه څنګه چې اوس، په پرمختلو ټولنو کې، معمول دی.

نو ددې سورت په ۳۱ آية کې يې، چې کوم کسان له استيذان څخه مستثنا کړي ول، بلکې اجازه يې ورکړی وه، چې د هغوی په مخکې، د سپنګار او ښکلا څرګندونه هم کېدی شي. په هغوی کې کې هاغه ماشومان شامل ول، چې د ښځو او نارينه له پټو خبرو، لا آګاه نه ول.

خو په دې آية کوم مهال چې دا نابالغ بچيان، د حلم د رسېدو سره سم، له پټو خبرو سره لېوالتيا مومي. او پر پټو خبرو له پوهېدو سره سم يې، پر هغوی د استيذان پابندي ولګوله. او ويې فرمايل؛ لکه څنګه چې تر دې مخکې، پر بالغو خلکو، د استيذان پاپندي وه، نو له دې وروسته به پر دوی هم پابندي وي. د دوی دې عمر ته چې، ددې پابندی لګولو لامل شو د «حلم» لفظ کارول شوی دی. «حلم» بلوغ ته د رسېدو له امله، هم ويل کېږي. او دعقل او پوهې لپاره هم، ويل کېږي.

نو له دې څخه دا نتيجه اخېستلی شو، چې کوم ماشومان يې، چې له دې پابندی مستثنا کړي ول، د ماشومتوب هاغه حالت وو، چې د بالغانو له پټو او له پردې لاندې خبرو، څخه خبر نه ول. ليکن بيا داسی عمر پرې راغی، چې بلوغ ته نژدې عمر دی، ليکن لا د بلوغ عمر نه دی.

د اوسني وخت بچيان په عامه توګه، له داسې پټو خبرو سره ليوالتيا مومي، او د وسمهال د بربنډتيا دور، چې د ميډيا له لارې رسېدل يې، هر چا ته شوني شوي دي. او همدا راز د ښوونې او روزنې ځېنې اداري، د سيکس تعليم په نصاب کې شاملوي، چې بچيان له داسې خبرو له وخته مخکې خبروي، او ماشومان بلوغ ته له رسېدو مخکې، بالغوي.

په دې آيتونو کې، د ماشوم د عمر له مختلفو پړاوونو سره سم، د استيذان

(c) ketabton.com: The Digital Library

پابندۍ لګول شوي دي. له دې دوو آيتونو وروسته، دا وضاحت چې دا آيتونه، د احکامو په توګه، نازل شوي دي. ددې لپاره دا اشاره ورکول کافي ده، چې دا توضيحي آيتونه دي، او د الله تعالى د علم او حکمت پر بنسټ، د انسانانو د اصلاح لپاره چې کوم حکمت ته اړتيا ده، و هاغې لور ته نغوته کوي. چې ترتيب او تدريج پکې، په رښه اوزغرده توګه څرګند دی. همدا راز، ورپسې آية هم، دهمدې جنسي غريزې په اړه دی.

د شپېتم آية، ترجمه شرح او تفسير

وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاءِ اللَّاتِي لَا يَرْجُونَ نِكَاحًا فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ أَنْ يَضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ غَيْرَ مُتَبَرِّجَاتٍ بِزِينَةٍ وَأَنْ يَسْتَعْفِفْنَ خَيْرٌ لَهُنَّ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٦٠﴾

او له ښځو هغوی چې له ځوانۍ ناستې [زړې ښځې دي] [= له امیندواری، د ناهیلی سن ته رسېدلي وي] چې د کوروالي هيله [د اولاد راوړلو لپاره][٦٤] نه لري نو که هغوی خپل حجاب او پرونی لبرې کړي نو څه ګناه پرې نشته په دې شرط چې خلکو ته د ځان د سينګار څرګندولو قصد و نلري ،[خو] که عفت [او پتمني] غوره کړي دوی ته پخپله ډېره ښه ده او الله پوه اورېدونکی دی.

وَالْقَوَاعِدُ	مِنَ النِّسَاءِ	اللَّاتِي	لَا يَرْجُونَ	نِكَاحًا	فَلَيْسَ
او [له ځوانۍ او امیندواری څخه] ناستې	له[زړو] ښځو	هغوی چې	نه لري هيله	د نکاح	نو نشته

عَلَيْهِنَّ	جُنَاحٌ	أَنْ يَضَعْنَ	ثِيَابَهُنَّ	غَيْرَ مُتَبَرِّجَاتٍ	بِزِينَةٍ
پر هغوی	کومه ګناه او باک	چې کېږدي هغوی	پرونی او حجاب	پرته له دې چې څرګند کړي	سينګار [ښکلا]

وَأَنْ	يَسْتَعْفِفْنَ	خَيْرٌ لَهُنَّ	وَاللَّهُ	سَمِيعٌ	عَلِيمٌ
او دا چې	هغوی پاک لمني غوره کړي	بهتر دی هغوی ته	او الله	اورېدونکی	ښه پوه دی

٦٤ – نکاح واده دی، خو واده، د هم بستری او ماشوم راوړلو، په قصد. له دغه لفظ څخه، د واده د عقد او ترلو په اړه، هم استفاده شوې ده. په دې آيت کې، د ګومبه شوو، او له کوروالي څخه د متقاعدو، او له نکاح څخه ناهيلي نشې کېدلی د واده له عقد څخه ناهيلي وګڼو. ځکه چې ځينې له هغوی، له يوازېتوب څخه، د خلاصون لپاره، د زوړوالي [زړبوډی توب] په کلونو کې، هم واده کوي؛ د «لَا

(c) ketabton.com: The Digital Library

يَرْجُونَ نِكَاحًا» جـمله، هـمـاغه يـائسگی «زوړوالی»، او د اميندواری نـه شتون، او د حاملگی د انتظار ناهيلي رسوي.

«وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاءِ اللَّاتِي لَا يَرْجُونَ نِكَاحًا». قَوَاعِد يعنې؛ تقاعد شوې او ناستې شوې ښځې؛ يعنې هاغه ښځې چې عمر يې پوخ شوی او له اولاد راوړو څخه وتلې دي، هغوی چې نورې نه حامله کېږي.

«وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاء» له ښځو هغوی چې تقاعد شوي دي، قَوَاعِدُ، جمع ده چې واحد يې قاعد دی، قاعده نه دی. د تانيث تاء ترې، ددې لپاره حذف شوې ده، چې څرګنده شي، د دوی دا کېناستل، د زړبوډی توب له لامله دی. په ګډه کې د بڅې له لامله نه دی ـ له همدې لامله، دا ډول ښځې ته «امراة حامل» وايي، حاملة نه وايي ـ نو د قواعد څخه مطلب، هاغه ښځې دي، چې د اولاد لپاره د نکاح له عمر څخه، تېرې شوي وي. يعنې داسې عمر، چې نور پکې ښځه، د بڅې د پيدا کولو وړ نه وي؛ «اللَّاتِي لَا يَرْجُونَ نِكَاحًا» هغوی چې نور د نکاح انتظار نه لري، نکاح دلته يوازې د عادي ازدواج په معنا نه دی. بلکې هغه واده ته وايي؛ چې د کوروالي، همبستری او د اولاد راوړو په موخه، سر ته رسېږي. يعنې که کومې ښځې چې د يائسگی [بوډی توب] سن ته رسېدلي وي، ستونزه نه لري.

«فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ أَنْ يَضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ» ثِيَاب؛ يعنې پوښښ، چې سرپټی ورته ويل کېږي. يا هغه لباس چې د اعمايه په څېر به يې، د نور لباس له پاسه او سربېره اچوه، وايي پر هغوی ګناه نشته چې پاسنی لباس، يا سرپټی لېرې کړي. معمولاً زمور په ټولنه کې برعکس ده، هر څومره چې سن پورته ځي، دا حجابونه سخت تر کېږي. که ښځه ۸۰ کلنی ته هم ورسېږي، حجابونه به يې دومره کلک پر سر نېولي وي، چې حتا سترګې يې هم، څوک و نه ويني. چې دا له ضرورته ډېر زيات دی. هغوی ته خو څوک، د شهوت په سترګه نه ګوري. نکاح واده دی، خو واده د هم بسترې او ماشوم راوړلو په قصد. له دغه لفظ څخه، د واده د عقد او ټرلو په اړه هم استفاده

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې ده. البته دلته يې چې ليکلي؛ «لَا يَرْجُونَ نِكَاحًا» دلته يې مطلب دادی؛ چې عمر يې د نکاح کولو له مقصده، چې اولاد دی ډېر پوخ وي. او ددې تمې لپاره، د نکاح کولو نه وي.

البته ډېر خلک، په لوړ سن کې، هم واده کوي. خو دا ودونه، زياتره سياسي يا ټولنيز وي، او يا له ځانله توب څخه د خلاصون لپاره وي. چې له کونډو او بې مړوخو ښځو، سره ښه نيسي. په دې آيت کې، د ګوښه شوو او له کوروالي څخه د متقاعدو او له نکاح څخه ناهيلي، نشې کېدلی د واده له عقد څخه ناهيلي وګڼو. ځکه چې ځينې له هغوی، له يوازېتوب څخه، د خلاصون لپاره د زوړوالي [زړبوډی توب] په کلونو کې، هم واده کوي؛ د «لَا يَرْجُونَ نِكَاحًا» جمله هماغه يائسګی «زوړوالی ـ بوډی‌توب» او د اميندواری نه شتون، او د حاملګی د انتظار ناهيلي رسوي.

دلته غواړي دا ووايي؛ دا ټول مراقبتونه د يو لړ بدو استفادو څخه، د مخنيوي لپاره دي، چې د ناروا او بې مهالو تحريکونو، او هڅوونو مخه يې نېولې وي. چې دا هر څه د کورنۍ د حفاظت، او ساتنې لپاره دي. او کله چې سن يې دومره ستر شوی وي، نو دا څيزونه هيڅ مورد نه لري، ولې خپل ځان ته سر درد پيدا کوي. د زړبوډی په دې سن کې، خو په دې شرط چې «غَيْرَ مُتَبَرِّجَاتٍ بِزِينَةٍ» پرته له دې، چې د ځانښودنې قصد ولري. نو وايي خپل ځان ته سردرد مه پيدا کوه، آزاد اوسه. خو دا په دې معنا نه، چې د ځان نندارې وړاندې کړې، او خپل زينت او سينګار، نندارې ته کېږدي. د «تبرج» معنا، د زينت او سينګار ښکاره کول، او څرګندول دي. بارج، هاغی پرانستې کښتۍ يا بېړۍ ته وايي؛ چې چت پرې نه وي. دا لفظ د ښځو لپاره، هاغه وخت کارول کېږي، کوم مهال چې هغوی د نرينه په مخکې، د خپل حسن او خپل سينګار، څرګندونه او نندارې وړاندې کوي. ددې مطلب دا دی؛ چې بوډی ښځې ته، د سرپټي او حجاب لېرې کولو اجازه، هغه مهال ده، کله چې د هغې د زړه رابنکونکي اغوستن او سينګار

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوق، پای ته رسولی وي، او د هغې جنسي احساسات ساړه شوي وي. خو که د زړبوډی توب سره سره، د خپلې ګانې او شتمنیو، د نندارې لپوالتیا او شوق يې، لا تر اوسه له وجوده نه دی وتلی، نو ددې مطلب دا دی؛ چې لا تر اوسه په دې اور کې، سپرغی شته. نو د دوی لپاره، د حجاب لپرې کولو اجازه نشته. له دومره احتیاط وروسته يې، بیا هم فرمایلي دي، چې له دې ټولو سره سره د ښځو لپاره بهتر دی، چې استعفاف غوره کړي. یعنې هغوی د خپل سرپټي او حجاب لپرې کول، غوره نه کړي، دا د هغوی لپاره بهتر دی. «وَأَنْ يَسْتَعْفِفْنَ خَيْرٌ لَهُنَّ» او که پت او عفت ولري، په خپله ګټه يې دی. دا عفت کېدی شي، د زینتونو د څرګندولو په اړه وي، یا ځینو ویلي؛ هماغه اولي ته ورستنېږي. یعنې ته آزاد يې، چې پوښښ لپرې کړې، خو که پوښښ استعمال کړې بهتر دی.خو زمونږ له نظره، دویمي يې زیات ممکن دی، چې وایي، ډېره خود نمایي مکوئ، ځان ښودنه مکوئ، دا ستاسو په خپله ګټه دی، او کوم ضرورت ورته نشته.

«وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ» خدای تعالی پوه اورېدونکی دی.

راتلونکی آیة، چې ډېر مفصل هم دی، د غذا خوړلو د مسئلې په اړه دی.

د یو شپېتم آیة، ترجمه شرح او تفسیر

لَيْسَ عَلَى الْأَعْمَى حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْمَرِيضِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى أَنْفُسِكُمْ أَنْ تَأْكُلُوا مِنْ بُيُوتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ آبَائِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أُمَّهَاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ إِخْوَانِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخَوَاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَعْمَامِكُمْ أَوْ بُيُوتِ عَمَّاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخْوَالِكُمْ أَوْ بُيُوتِ خَالَاتِكُمْ أَوْ مَا مَلَكْتُمْ مَفَاتِحَهُ أَوْ صَدِيقِكُمْ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَأْكُلُوا جَمِيعًا أَوْ أَشْتَاتًا فَإِذَا دَخَلْتُمْ بُيُوتًا فَسَلِّمُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِنْ عِنْدِ اللَّهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ﴿٦١﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر ړانده او ګوډ او رنځور کوم حرج [ایراد، او نیوکه] نشته[۶۵] او نه هم پخپله پر تاسو چې [تهیه شوې غذا] له خپلو کورونو وخورئ یا له خپلو پلرونو له کورونو، یا له خپلو مېندو له کورونو ، یا له خپلو ورونو له کورونو ، یا له خپلو خوښندو له کورونو، یا له خپلو ترونو له کورونو، یا له خپلو پلرنۍ ترښندو له کورونو، یا له خپلو ماماګانو له کورونو، یا له خپلو مورنۍ ترښندو له کورونو، یا له هغه کورونه چې کونجي ګانې ئې ستاسو په واک کې دي، یا ستاسو د ملګرو. پر تاسو ګناه نشته چې پر ګډه یا بیل خواړه وخورئ، خو کله چې کورونو ته ننوزئ یو بل ته سلام وکړئ، د الله له لوري د سپېځلي او مبارک درود په توګه.[۶۶] دغه راز الله خپل آیتونه [= نښې] په روښانه توګه بیانوي، ددې لپاره چې تاسو پرې عمل وکړئ.[۶۷]

لَيْسَ	عَلَى الْأَعْمَى	حَرَجٌ	وَلَا	عَلَى الْأَعْرَجِ	حَرَجٌ	وَلَا	عَلَى الْمَرِيضِ
نشته	نشته پر ړانده	کومه ګناه او نیوکه	او نه	پر ګوډ	کومه ګناه	او نه	پر ناروغ

حَرَجٌ	وَلَا	عَلَى أَنْفُسِكُمْ	أَنْ تَأْكُلُوا	مِنْ بُيُوتِكُمْ	أَوْ بُيُوتِ آبَائِكُمْ
زور او باک	او نه	پخپله پر تاسو	چې وخورئ تاسو	له کورونو خپلو	یا له کورونو د پلرونو خپلو

أَوْ بُيُوتِ أُمَّهَاتِكُمْ	أَوْ بُيُوتِ إِخْوَانِكُمْ	أَوْ بُيُوتِ أَخَوَاتِكُمْ	أَوْ بُيُوتِ أَعْمَامِكُمْ
یا له کورونو د مېندو خپلو	یا له کورونو د ورونو خپلو	یا له کورونو د خوښندو خپلو	یا له کورونو د ترنو خپلو

أَوْ بُيُوتِ عَمَّاتِكُمْ	أَوْ بُيُوتِ أَخْوَالِكُمْ	أَوْ بُيُوتِ خَالَاتِكُمْ	أَوْ مَا مَلَكْتُمْ
یا له کورونو د تریندو خپلو	یا له کورونو د ماما ګانو	یا له کورونو د تورپانو خپلو	یا له هغو چې ستاسو لاس کې دي

مَفَاتِحَهُ	أَوْ صَدِيقِكُمْ	لَيْسَ	عَلَيْكُمْ	جُنَاحٌ	أَنْ تَأْكُلُوا	جَمِيعًا
کونجي ګانې د هغې	یا له دوست ستاسو سره	نه شته	پر تاسو	ګناه	چې تاسو وخرئ	ټول په ګډه

أَوْ أَشْتَاتًا	فَإِذَا	دَخَلْتُمْ بُيُوتًا	فَسَلِّمُوا	عَلَى أَنْفُسِكُمْ	تَحِيَّةً
یا جلا، جلا	نو هغه مهال چې	ننوځئ تاسو کورونو	نو سلام وکړئ	پر ځانونو خپلو	د خیر دعا ده

مِنْ عِنْدِ اللَّهِ	مُبَارَكَةً	طَيِّبَةً	كَذَلِكَ	يُبَيِّنُ اللَّهُ	لَكُمُ الْآيَاتِ	لَعَلَّكُمْ	تَعْقِلُونَ
له لورې د الله	برکتناکه	پاکیزه	همدا راز	بیانوي الله	تاسو لپاره آیتونه	ښایي تاسو	له عقل کار واخلئ

---

۶۵ – «حرج» محدودیت او تنګسې ته، ویل کیږي. چې وګړی، په ربړ او د سر په درد واچوي. او یو ډول، سخت نېونه او شاقه تکلیف، ګنډل کیږي.

۶۶ – د تحیّت لپاره، مناسب معادل، په پښتو کې نشته، نو ځکه مو درود او درناوی ترجمه کړ. خو لفظي درود او درناوی، وچ او تش دی. په داسې حال کې چې، تحیّت د حیّ [ژوند] له ریښې، د [جسمي او روحي] ژوندي پاته کیدلو، او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورو لپاره، د عزتناک او پتمن عمر، د اوږدوالي دعا ده. دا دعا درې ځلې، په قرآنکريم کې راغلې ده. او هر درې ځلې، د جنت د اهل لپاره، د سلامتۍ له غوښتنې سره مل ده. [يونس ۱۰(۱۰:۱۰)، ابراهيم ۲۳(۱۴:۲۳)، او احزاب ۴۴(۳۳:۴۴)]. مصطلح درود، وچ او تش او پرته له محتوا، يو لفظ دی. خو تحيّت د ژوند معنا لري؛ هغه هم له برکته ډک او سپېڅلی ژوند، چې د الله له لورې وي: «تَحِيَّةً مِنْ عِنْدِ اللَّهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً».

٦٧ – دا څلورم ځل دی. چې دغه جمله [له ډير لږ توپير سره] په دې سورت کې تکرار شوې ده. [۱۸، ۵۸، ۵۹، او ٦١ آيتونه].

مخکې مو وويل: چې ددې سورة آيتونه، د کور او کورنئ په اړه دي. په کور او کورنۍ کې، يوه له موضوع ګانو داده؛ چه څه ډول غذا وخورو، په ګډه غذا وخورو، چا کره يې وخورو، همدا موضوع له جزئياتو سره بيانوي. په هغه وخت کې به چا چې جسمي نيمګړتياوې درلودې، که پرانده، کاړه، کانه او شل به ول، د دسترخوان، پر سر به يې، نښه نه ګڼل. دوی ته به يې معمولاً بيل دسترخوان اچوه:

«لَيْسَ عَلَى الْأَعْمَى حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْمَرِيضِ حَرَجٌ» په پرانده باندې حرج نشته، او نه په ګوډ حرج (مشقت) شته، او نه په ناروغه حرج شته. «حرج» محدوديت او تنګسې ته ويل کيږي، چې وګړی په ربړ او د سر په درد واچوي. او يو ډول سخت نښونه، او شاقه تکليف، ګڼل کيږي.

«وَلَا عَلَى أَنْفُسِكُمْ أَنْ تَأْكُلُوا مِنْ بُيُوتِكُمْ» او نه ستاسو په خپلو ځانونو باندې (حرج شته)، چې تاسو له خپلو کورونو نه خوراك وکړئ.

«أَوْ بُيُوتِ آبَائِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أُمَّهَاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ إِخْوَانِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخَوَاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَعْمَامِكُمْ أَوْ بُيُوتِ عَمَّاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخْوَالِكُمْ أَوْ بُيُوتِ خَالَاتِكُمْ أَوْ مَا مَلَكْتُمْ مَفَاتِحَهُ أَوْ صَدِيقِكُمْ»: يا د خپلو پلرونو له کورونو، يا د خپلو ميندو له کورونو، يا د خپلو ورونو له کورونو، يا د خپلو خويندو له کورونو، يا د خپلو ترونو له کورونو ، يا د خپلو پلرنۍ تروريانو له کورونو، يا د خپلو ماماګانو له کورونو نه، يا د خپلو مورنۍ تروريانو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورونو نه، يا له هاغو (کورونو)، چې تاسو د هغو د کونجي ګانو، اختيارمن شئ، يا د خپلو دوستانو (له کورونو).

«لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَأْكُلُوا جَمِيعًا أَوْ أَشْتَاتًا» په تاسو هيڅ ګناه نشته، چې تاسو يو ځای خوراك وکړئ، يا جلا، جلا ـ دا توضيح ددې لپاره ده، چې کېدی شي ځينې کسان، داسې هم پيدا شي، چې په ډېرو جزئي کارونو کې پر خلکو پابندي ولګوي. قرآن وايي دومره سخت ګيري مه کوئ. په قرآن کې ۲۶ ځلې راغلي، وايي؛ «لا جُنَاحٌ عَلَيْكُمْ» تاسو ته کومه ګناه نشته.

په قرآن کې، په هيڅ ځای کې، نه دي ويل شوي [«جُنَاحٌ عَلَيْكُمْ» تاسو ته ګناه لري]. خو مورِ پخپلو کې يو بل ته وايو؛ دا کار مکوه ګناه لري، قرآن يو ځل هم نه دي ويلي، دا ګناه لري.

قرآن کومې کليمې چې د بدو کارونو د تشريح لپاره راوړي دي، خپله کليمې معنا لري. او د هماغه عمل پايله، په دې کليمو کې، توضيح کېږي. مثلاً يو له هغې جملې، «ذنب» دی؛ ذنب يعنې عوارض، يعنې دا کار چې کوئ، عوارض او اختلاطات لري. بل يې هم اثم دی؛ يعنې دا کار تا په خودبينۍ، او خودپرستۍ، اخته کوي. او بل يې هم، مثلاً وايي دا جُرم دی؛ جُرم، د رابطې د قطع کولو، په معنا دی، يعنې له دې عمل سره دې، له خدای سره اړيکه پرې کېږي.

هر کار تحليل او تجزيه کوي، عوارض او آثار يې هر څه چې وي، توضيح کوي. خو نه وايي؛ مه کوئ، ګناه لري يا ثواب لري، دا مورِ وايو؛ او زياتره په فقهي ټولنو کې دا معمول شوی دی.

«فَإِذَا دَخَلْتُمْ بُيُوتًا فَسَلِّمُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ» نو کله چې تاسو کورونو ته ننوځئ، نو په خپلو ځانونو [په خپلو کې يو پر بل] سلام اچوئ، «تَحِيَّةً مِنْ عِنْدِ اللَّهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً» يو تحية د الله له لورې چې مبارک او پاک وي، [تحية له حيات څخه د ژوند په معنا دی]. د تحيّت لپاره مناسب معادل په پښتو کې نشته نو ځکه مو درود او درناوی ترجمه کړ، خو لفظي درود او درناوی وچ او تش

(c) ketabton.com: The Digital Library

لفظ دی په داسې حال کې چې تحيّت د حيّ [ژوند] له ريښې، د [جسمي او روحي] ژوندي پاته کيدلو او د نورو لپاره د عزتناک او پتمن عمر د اوږدوالي دعا ده. دا دعا درې ځلې په قرآنکريم کې راغلې ده او هر درې ځلې د جنت د اهل لپاره د سلامتۍ له غوښتنې سره مل ده:

«دَعْوَاهُمْ فِيهَا سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَامٌ وَآخِرُ دَعْوَاهُمْ أَنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ» [يونس ۱۰(۱۰:۱۰)]، هلته [په جنت کې] دعا ګانې يې [دا دي چې]: ای خدايه! ته [له هر عيب او نقصه] پاک يې، او هلته يې هرکلی [او درناوی] سلام دی او وروستۍ دعا يې دا چې: حمد او ستاينې د جهانونو پالونکي څښتن ته ځانګړي دي [او بس].

«وَأُدْخِلَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ تَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَامٌ» [ابراهيم ۲۳(۱۴:۲۳)]، او هاغو کسانو چې ايمان راوړی دی او ورې کارونه يې کړي دي، داسې باغونو ته چې د ونو لاندې يې ويالې بهيږي، ننايستل کيږي. په هغې [جنت] کې به د خپل پالونکي څښتن په اذن تل تر تله هلته اوسيږي. هرکلی [او درناوي] يې [يو تر بله] په هغې کې سلام دی.

«تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهُ سَلَامٌ وَأَعَدَّ لَهُمْ أَجْرًا كَرِيمًا» [احزاب ۴۴(۳۳:۴۴)]. د هغوی هرکلی په هاغې ورځ کې چې له هغه [= الله] سره مخامخ کيږي، او [الله] د هغوی لپاره کريمانه اجر چمتو کړی دی. د درود اصطلاح، وچ او تش او پرته له محتوا يو لفظ دی، خو تحيّت د ژوند معنا لري؛ هغه هم له برکته ډک او سپخلی ژوند، چې د الله له لورې وي: «تَحِيَّةً مِنْ عِنْدِ اللَّهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً».

«كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ» په دا ډول الله خپل آيتونه تاسو ته تبين کوي او په څرګنده توګه يې بيانوي ددې لپاره چې تاسو اندنه وکړئ. دا څلورم ځل دی چې دغه جمله [له ډير لږ توپير سره] په دې سورت کې تکرار شوې ده [۱۸، ۵۸، ۵۹، او ٦١ آيتونه].

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوه شپېتم آية، ترجمه شرح او تفسير

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَإِذَا كَانُوا مَعَهُ عَلَى أَمْرٍ جَامِعٍ لَمْ يَذْهَبُوا حَتَّى يَسْتَأْذِنُوهُ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَأْذِنُونَكَ أُولَئِكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ فَإِذَا اسْتَأْذَنُوكَ لِبَعْضِ شَأْنِهِمْ فَأْذَنْ لِمَنْ شِئْتَ مِنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمُ اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿٦٢﴾

په تحقيق سره[رښتيني] مؤمنين هغه کسان دي چې په الله او د هغه په رسول ئې[عملاً] ايمان راوړی وي او هر مهال چې په ټولیزه او جامع چاره کې [لکه جهاد ته د چمتو کېدلو لپاره] له هغه سره وي، د هغه له اجازې پرته [جبهه] نه ترک کوي. په تحقيق سره هغه کسان چې له تا اجازه اخلي هغوی هغه کسان دي چې په الله او د هغه په رسول ايمان لري[نه د هاغو کسانو په څېر چې په خپله خوښه دفاعي دندې ترک کوي]. نو هر مهال چې د ځېنو خپلو شخصي چارو لپاره له تا [د رخصتی] اجازه وغواړي، هر چا ته چې دې وغوښتل [= مناسب درته بښکاره شول] اجازه ورکړه او له الله د هغوی لپاره د بښنې غوښتنه وکړه چې مسلماً الله بښونکی مهربان دی.

إِنَّمَا	الْمُؤْمِنُونَ	الَّذِينَ آمَنُوا	بِاللَّهِ	وَرَسُولِهِ	وَإِذَا كَانُوا
بې شکه	مؤمنان	هغوی چې ایمان یې راوړی	په الله	او رسول د هغه	او هغه مهال چې وي هغوی

مَعَهُ	عَلَى	أَمْرٍ جَامِعٍ	لَمْ يَذْهَبُوا	حَتَّى	يَسْتَأْذِنُوهُ
له هغه سره وي	پر	یو عمومي کار	هغوی دې نه ځي	تر هاغې	چې اجازه واخلي له هغه نه

إِنَّ الَّذِينَ	يَسْتَأْذِنُونَكَ	أُولَئِكَ	الَّذِينَ	يُؤْمِنُونَ
بېشکه هغه کسان چې	اجازه غواړي له تا نه	همدا کسان	هغوی دي چې	ایمان راوړي

بِاللَّهِ	وَرَسُولِهِ	فَإِذَا	اسْتَأْذَنُوكَ	لِبَعْضِ	شَأْنِهِمْ	فَأْذَنْ
په الله	او رسول د هغه	نو هغه مهال چې	له تا اجازه غواړي	لپاره د ځېنو	کارونو یې	نو اجازه ورکړه

لِمَنْ	شِئْتَ	مِنْهُمْ	وَاسْتَغْفِرْ	لَهُمُ اللَّهَ
لپاره د هغه چا چې	خوښه شي ستا	له هغوی نه	او د بښنې غوښتنه وکړه	لپاره د هغوی له الله

إِنَّ اللَّهَ	غَفُورٌ	رَحِيمٌ
بېشکه الله	ښه بښونکی	ډېر رحم والا ړی

د نور سورة، د ډېرېو آيتونو د نزول څرګند سبب، د منافقينو له لور راولاړه شوې فتنه وه. چې واقعه يې، د «افک» په نامه شهرت لري. لکه څنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې په دې سورة کې، پالونکي څښتن، د خلکو د اخلاقي اصلاح لپاره، قانوني احکام ورکړي دي. په همدې ډول يې، داسې هدايتونه هم جاري کړي دي، چې په هغوی کې، د منافقينو اصلاح ته هم پاملرنه وشي. او د ايمان په مقابلې کې، د نفاق د نقصانونو او زيانونو ذکر هم شوی وي. چې په ترڅ کې يې، د هغوی له ځېنو اړخونو سره، منافقين رټلي، او تنبيه کړي هم دي؛ له دې ټول تفصيل څخه، دا خبره په ښه توګه څرګندېږي، چې هر يو نظم، که د هغه اړيکه له نظريي سره وي، که له ټولنې سره وي، يا سياست او رياست سره وي. تر کوم مهاله چې په هغې کې، نظرياتي منافقين شتون ولري، ټېکاو کېدلی نشي. له همدې لامله، ددې حقيقت په نظر کې نېولو سره، د سورة په پای کې، پالونکي څښتن د منافقت رټنه کړې ده. او د حقيقي ايمان، او رښتينو مؤمنينو حقيقت، يې څرګند کړی دی. په مخکيني آية کې يې، ژبنې مؤمنين يا ادعايي مؤمنين، چې تش په نامه مؤمنين ول، خو په عمل کې منافقين ول، د دوو آيتونو په ترڅ کې، مطرح کړل. دلته په دې آية کې يې، د واقعي مؤمنيو په اړه نغوته کړې. له مخکينيو آيتونو سره، ددې آيتونو د اړيکي د څرنګوالي په اړه، ځېنو مفسرينو ويلي؛ چې په ټېرو آيتونو کې يې، له خپلوانو او دوستانو تر منځ، د ګډ مينه ناک ژوند، د نحوې او طرېقې يوه برخه مطرح شوې وه. تر بحث لاندې آيتونو کې د مسلمانانو د ګډ ژوند کيفيت يې، د هغوی له لارښود او سرلاري، حضرت رسول اکرم(ص) سره، مطرح کړی دی. او د هغه په وړاندې، د اطاعت او انضباط پر اړينتيا ټينګار کوي. چې په ټولو چارو کې، پيغمبر(ص) ته غوږ په فرمان اوسي، او په مهمو او ټولنيزو کارونو کې، له ضرورت او اجازې پرته له ټولنې جلا نشي. په لومړني آية کې فرمايي: «واقعي مؤمنان هغه کسان دي، چې په خدای او رسول يې ايمان راوړی دی. او هغه مهال چې په يو مهم کار کې، چې د جمعيت حضور اړين وي، له هغه سره وي، او د هغه له اجازې پرته هيڅ ځای ته نه ځي.» «إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ» په تحقيق واقعي مؤمنان

(c) ketabton.com: The Digital Library

هاغه دي، چې «الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ» هغوی چې واقعاً، پر خدای او رسول يې، ايمان راوړی. «وَإِذَا كَانُوا مَعَهُ عَلَى أَمْرٍ جَامِعٍ لَمْ يَذْهَبُوا» کله چې له رسول سره، په يو اجتماعي کار کې دي. له [أَمْرٍ جَامِعٍ] څخه مقصد هر هغه کار دی، چې د هغه لپاره حضرت رسول(ص) د راټولېدو، او يو تر بله مل د کار کولو حکم ورکړي. په هاغه مهال کې، چې د جمعې په نمانځه کې به جمع کېدل، يا په جنګونو کې د ښار او حريم د دفاع لپاره به، له رسول الله سره ول، چې جامع امر وو. يعنې د اجتماع، او د ټولنې کار وو، يو ټولنيز داسې کار، چې د ټولو مسئوليت دی.

خو دلته له [امرجامع] څخه په ځانګړې توګه مقصد، د احزاب د غزوې پر مهال د خندق ايستلو کار وو. «لَمْ يَذْهَبُوا» دوی نه ځي، [نه تښتي] «حَتَّى يَسْتَأْذِنُوهُ» تر هاغې چې هغوی ته اجازه ورکړي «إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَأْذِنُونَكَ» هغوی چې له تا څخه اجازه اخلي «أُولَئِكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ» دوی واقعاً په خدای او د هغه پر رسول ايمان لري [چې اجازه اخلي، او له لښکرکوټه نه تښتي] «فَإِذَا اسْتَأْذَنُوكَ لِبَعْضِ شَأْنِهِمْ» نو کله د ځېنو کارونو لپاره له تا اجازه و غواړي، [که د يو کار لپاره د لنډ وخت لپاره اجازه وغواړي] «فَأْذَنْ لِمَنْ شِئْتَ مِنْهُمْ» نو اجازه ورکړه هغه ته، چې تاته مناسب ښکاري. «وَاسْتَغْفِرْ لَهُمُ اللَّهَ» او د هغوی لپاره، له الله څخه د پاکوالي غوښتنه وکړه. «إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ» بېشکه الله ډېر بښونکی، لوراند دی.

ددې آية د نزول په اړه، ډېرې مفسرين په دې نظر دي، چې دا آية د احزاب د غزا پر مهال، نازل شوی دی. کله چې د عربو کفري متحد ځواک، د مسلمانانو د نوي تأسيس شوي، هيواد او د اسلام د مرکز د ختمولو په هوډ، پر مدينې منورې يرغل وکړ. له مسلمانانو سره وګړيز ځواک، ډېر محدود وو، او د يرغلګرو شمېر، ډېر زيات وو. له همدې لامله، له دې يرغل څخه د بچ کېدو، او د مدينې د دفاع لپاره، حضرت رسول اکرم(ص)، د حضرت سلمان فارسي(رض) په وړاندیز، د خندق د ايستلو او کېندلو حکم

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړ. د خندق د کېندلو پر مهال، د کار کولو په بهير کې، د منافقينو د کړنو طرز دا وو، چې هغوی به په مختلفو بهانو، له کار کولو څخه ځان پټوه. د بيهقي او ابن اسحاق د روايتونو مطابق، په منافقينو کې داسې خلک هم ول، چې لومړی خو به يې، په راتلو کې سستي او لتې کوله، او چې راتلل به نو لږ شانته کار به يې. د ځانبودنې لپاره کاوه، او بيا به په پټه خوله پټېدل، او له لښکرکوټه به تښتېدل. خو د مسلمانانو دا حال وو، چې هغوی به له ګهيځه تر مابنامه په کار بوخت ول. حضرت رسول اکرم(ص) به هم، په دې کار کې، له نورو سره ډيره، زياته ونډه اخېستله. مسلمانانو ته به چې هر څومره کوم ضرورت پېښېده، د پيغمبر له اجازې پرته به يې کار نه پرېښوده.

نو ددې شاليد په پام کې نېولو سره، ددې کريمه آية، مفهوم څرګندېږي. چې حقيقي مؤمن، هاغه څوک دی، چې په هر يو ټولنيز کار کې، د الله تعالی د رسول(ص) له اجازې پرته، د تګ تصور هم نه کوي. او کله چې سخت ضرورت ورته پېښ شي، له هغه څخه اجازه اخېستل اړين ګڼي. او په آية کې دا هم زياتوي، چې کوم خلک چې د تګ لپاره، له تا اجازه اخېستل اړين ګڼي، دا خلک هماغه دي، چې په حقيقت کې پر الله تعالی(ج) او د هغه پر رسول ايمان لري.

کوم خلک، چې داسې نه کوي، مؤمنان نه دي، بلکې منافقان دي. په آية کريمه کې هاغه حضرت(ص) ته په خطاب کې يې، نور هم زيات فرمايلې دي، چې کله کوم شخص له تا څخه، د کوم ضرورت له لامله اجازه وغواړي، نو ته اختيار لرې، که د هغه ضرورت مهم ګڼې، نو اجازه ورته ورکړه. او که ته نه غواړې، نو اجازه مه ورکوه. البته چا ته چې ته اجازه ورکړې، د هغه لپاره، له الله څخه بښنه او مغفرت، وغواړه. ځکه چې شخصي ضرورت ته، ترجيح ورکول، په هر حال کې، يوه کمزوري او نيګړتيا ده. او بله دا چې کېدی شي، د اجازې اخېستونکي په زړه کې، تر دې بريده اخلاص نه وي، چې د حقيقي ايمان لپاره، اړين دی. دا دواړه څيزونه، د الله په نزد د

(c) ketabton.com: The Digital Library

منلو وړ نه دي. نو د همدې لپاره، ته [رسول الله(ص)] د هغوی لپاره، د مغفرت دعا وکړه. څرنګه چې الله تعالی غفور او رحیم دی، هغه به ستا(ص) له دعا سره، د هغوی کمزورۍ او نیګړتیاوې، عفو کړي. او کېدی شي، الله(ج) ورته داسې استقامت او ټینګاو وروښيي، چې له لامله به يې بيا ځلې ترې، داسې نیګړتیاوې څرګندې نشي. که څه هم دا روښانه ده، دا ډول ایماندار وګړي، له دې پاملرنې سره چې، د یو مهم کار لپاره راټول شوي دي، هیڅکله د یو جزئي کار لپاره اجازه نه غواړي. او له «شَأْنِهِمْ» څخه مطلب په دې آیة کې، ضروري او د اهمیت وړ کارونه دي.

ضمناً، دا تعبیر څرګندوي: چې هغوی چې څومره کولی شي، له اجازې اخېستلو ځان وساتي، او په دې اړه فداکاري او اخلاص وکړي. چې حتا له اجازې اخېستلو وروسته بیا هم، د هغوی دا عمل یو ډول ترک کول دي. داسې نه چې جزئي پېښې له مهم کار څخه، د ترک کولو لپاره بهانه جوړه کړي. بله دا چې: هغوی د خپل رهبر پر وړاندې، د ادب او درناوي له لامله، د الهي لطف وړ دي. او پیغمبر(ص) د هغوی له دې عمل څخه، د منني په توګه، د هغوی لپاره استغفار وکړي. دا هر دواړه ځوابونه، یو دبل منافي نه دي. او دا شوني ده چې هر دواړه يې مطلب وي، او د هرې اسلامي ټولنې لپاره د تطبیق وړ دی.

او له بل لور، د پیغمبر(ص) د غوښتنې مفهوم، دا نه دی، چې د کار د اړخونو، او د افرادو د حضور او غیابت په نظر کې نېولو پرته، اجازه ورکړي. بلکې دا تعبیر ددې لپاره دی، چې د رهبر لاس خلاص وي، او په هر مورد کې د افرادو حضور احساس کړي او هغوی ته د تګ اجازه ورنکړي.

ددې خبرې شاهد دا دی چې: د توبه سورة ۴۳ آیة کې، پیغمبر(ص) ځېنو افرادو ته د اجازې ورکولو له لامله مؤاخذه کوي، وایي: «عَفَا اللَّهُ عَنْكَ لِمَ أَذِنْتَ لَهُمْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَتَعْلَمَ الْكَاذِبِينَ» الله دې تا وبښي؛ تا ولې مخکې له دې چې رښتيني [= د جهاد لور ته د بلنې منونکي]

(c) ketabton.com: The Digital Library

تشخيص [او توپير] کړې او دروغجن [= عذر تورونکي سرغړاندي] وپېژنې، هغوی ته دې [له جنګه د معافيّت] اجازه ورکړه؟

د توبه سورة دا آية څرګندوي: حتا پيغمبر(ص)، افرادو ته په اجازه ورکولو کې، دقت او پاملرنه وکړي. او د کار ټول اړخونه په نظر کې ونيسي، چې ددې کار پايله الهي مسئوليت لري.

نو ځکه ددې آية په پای کې فرمايي: کوم مهال چې هغوی ته اجازه ورکوې، «د هغوی لپاره استغفار وکړه، چې خدای تعالی غفور او رحيم دی».

د درې شپېتم آية، ترجمه شرح او تفسير

لَا تَجْعَلُوا دُعَاءَ الرَّسُولِ بَيْنَكُمْ كَدُعَاءِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا قَدْ يَعْلَمُ اللَّهُ الَّذِينَ يَتَسَلَّلُونَ مِنْكُمْ لِوَاذًا فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٦٣﴾

[ای مؤمنينو،] د پيغمبر بلنه [په جهاد او نورو ټولنيزو چارو کې د ګډون لپاره] لکه په خپل منځ کې، يو تر بله د [عادي] بلنې په څېر مه ګڼئ. په تحقيق سره الله هغه کسان له تاسو څخه چې په پټه، د ټولي تر شا، صحنه ترکوي پيژني؛[٦٨] نو هغه کسان، چې د رسول له فرمانه سرغړونه کوي، بايد د هاغې فتنې له عوارضو [په دنيا کې] يا دردونکي عذاب [= ناورين] سره احتياط وکړي.

لَا تَجْعَلُوا	دُعَاءَ الرَّسُولِ	بَيْنَكُمْ	كَدُعَاءِ	بَعْضِكُمْ	بَعْضًا	قَدْ يَعْلَمُ اللَّهُ
مه ګرځوئ	بلنه د رسول	په منځ ستاسو کې	په څېر د بلنې	د ځينو ستاسو	ځينو ته	بېشکه پېژني الله

الَّذِينَ	يَتَسَلَّلُونَ	مِنْكُمْ	لِوَاذًا	فَلْيَحْذَرِ	الَّذِينَ يُخَالِفُونَ
هغه کسان چې	په کښېدو بيرون ووځي	له تاسو	په ځان پټولو	نو بايد وډار شي	هغه کسان چې مخالفت کوي

عَنْ أَمْرِهِ	أَنْ تُصِيبَهُمْ	فِتْنَةٌ	أَوْ يُصِيبَهُمْ	عَذَابٌ	أَلِيمٌ
د هغه له فرمانه	دا چې وبه رسېږي هغوی ته	فتنه، ازمېښت	يا وبه رسېږي هغوی ته	عذاب	دردناک

٦٨ – «يَتَسَلَّلُونَ» له «سَلَلَ» څخه، په پټه او نرمی، يو ډول خارجيدل او وتل دي. لکه له مستو څخه د ويښته د ايستلو په څېر، يا د شپې په تياره کې له کوره غلا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کول. «لِوَاذًا» هم له «لاذ» څخه، يو بل ته پناه ورکول دي. «يَتَسَلَّلُونَ مِنْكُمْ لِوَاذًا» جهاد يا نورو ټولنيزو دندو ته، د خلکو د بللو پر مهال، د پيغمبر(ص) د خبرو پر وخت کې، د يو بل تر شا د يو ډول پټېدلو بيانونکی دی. چې منافقانو به په هغه کې، له ګډون کولو څخه، د ولو د سپکولو له پاره، څرګنداوه.

«لَا تَجْعَلُوا دُعَاءَ الرَّسُولِ بَيْنَكُمْ كَدُعَاءِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا» د رسول(ص) لخوا بلل، [کله چې هغه تاسو بولي چې؛ څو لښکرکوټ ته ددې لپاره چې له ښاره دفاع وکړو، د دښمن مخې ته وځو، کله چې تاسو بولي، دعا (بلنه) کول يعنې غږ کول يې] دا پخپلو منځونو کې، يو بل ته د غږونو په څېر مه تلقي کوئ. [يعنی پخپلو منځونو کې، کله چې بو بل ته عادي ناري کوئ، جدي يې نه نيسئ. خو] د پيغمبر خبره، او بلنه، جدي ونيسئ. «قَدْ يَعْلَمُ اللَّهُ الَّذِينَ يَتَسَلَّلُونَ مِنْكُمْ لِوَاذًا» په تحقيق خداى تعالى پوهېږي، او له تاسو هغه کسان پېژني، چې په کښېدو وځي. لِوَاذًا يعنې يو د بل شا ته پټېږي [يو، يو يا دوه، دوه، درې، درې په کښېدو، کښېدو داسې تښتي، چې څوک يې و نه وينې. وايي يو بل د بل شا ته مه پټېږئ الله تاسو وينې]

«يَتَسَلَّلُونَ» له «سَلَلَ» څخه، په پټه او نرمۍ، يو ډول خارجيدل او وتل دي. لکه له مستو څخه د ويښته، د ايستلو په څېر. يا د شپې په تياره کې، له کوره غلا کول. يعنې چل ول کول، ګپ ورکول او خلک تېر باسل. او «يَتَسَلَّلُونَ» د «تسلّل» له څټې په اصل کې د يو خيز، د راشکولو او جلا کولو په معنا دی. لکه څنګه چې ويل کېږي: [سَلَّ السَّيْفَ مِنَ الْغِمْد] «يعني توره يې له تېکې وايسته» او معمولاً هاغو کسانو ته، چې په پټه او قاچاقي توګه، له يو ځايه تښتي، «مُتَسَلِّلُون» ويل کېږي.

«لِوَاذًا» له «ملاوذه» څخه د استتار په معنا دی، او همدا راز «لِوَاذًا» له «لاذ» څخه يو بل ته پناه ورکول دي. او دلته د هاغو کسانو د کړنو، په معنا دی، چې يو د بل شا ته خپل ځانونه پټوي. يا د دېوال شا ته قرار نيسي، او په اصطلاح خلک يو ډول وېده شوي انګېرې، او تښتي. دا هاغه کړنې وې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې منافقينو به هاغه مهال سر ته رسولې، کله به چې پيغمبر(ص) خلک، د جهاد يا بل کوم مهم ټولنيز کار لپاره بلل. نو «يَتَسَلَّلُونَ مِنْكُمْ لِوَاذًا»، جهاد يا نورو ټولنيزو دندو ته، د خلکو د بللو پر مهال، د پيغمبر(ص) د خبرو په وخت کې د يو بل تر شا، د يو ډول پټېدلو بيانونکی دی. چې منافقانو به، په ټولنيزو کارونو کې، له ګډون کولو څخه، د ولو د سپکولو له پاره څرګندوه.

قرآن وايي: ستاسو دا منافقانه، زشت او ناوړه کار، که له خلکو پټ پاتې شي، له خدای تعالی به هيڅکله پټ پاتې نه شي. فرمايي: کوم خلک چې دا حرکت کوي، او په ټولنيزو کارونو کې، له ميدانه تښتي او پټېږي. او په پټه د حضرت رسول اکرم(ص)، د حکم مخالفت کوي. ځکه چې په ښکاره توګه، د پيغمبر(ص) سره مخالفت کول، منافقينو ته ناشونی وو. هغوی به مخامخ تل [امنا و صدقنا] ويل، خو پس شا په پرده کې به، د هغوی د منافقوالي له لامله، د هغوی رويه مخالفانه وه. د هغوی د رټنې او تنبيه په توګه فرمايي: هغوی چې ستا(ص) په دې توګه مخالفت کوي، له الله دې وډاربړي؛ چې د پيغمبر د فرمانونو په وړاندې، ستاسو دا مخالفت په دنيا او آخرت کې، دردناک مجازات لري. داسې نه چې الله(ج) يې پرته له داسې منفي عمله په فتنه کې مبتلا کوي، او يا دردناک عذاب ورته ورسوي:

«فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ». نو هغه کسان دې ووېرېږي، چې د هغه [رسول(ص)] له حکم او فرمانه مخالفت کوي، له دې نه چې ددوی له دې کاره به دوی ته په دنيا کې کوم عوارض څه آفت يا فتنه ورسېږي، يا دوی ته به په آخرت کې ډېر دردوونکی عذاب ورسېږي. ځينو مفسرينو له فتنې څخه مطلب، د ظالمانو تسلط او برلاسی اخيستی، يعنې که مسلمانان د حضرت رسول اکرم(ص) د حکمونو خلاف چلن وکړي، نو اندېښنه ده، چې پر هغوی ظالم او جابر واکمنان، مسلط او برلاسي شي. د پوهانو په نزد له فتنې څخه مطلب، بې شمېره بڼې کېدی شي؛ لکه پخپلو کې بې اتفاقي او کورجنګونه، عقيدتي شخړې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخلاقي زوال، په ټولنيز نظام کې ګډوډي، په هيواد کې دننه هر ډول شخړې، د سياسي او مادي ځواک د ماتېدلو له لامله سرټيټي کېدل، د هيواد د ټوټه کېدلو او تجزيه کېدلو خطر او ډېر داسې نور. او تر کومه ځايه چې د عذاب پورې اړه لري، په قرآن کريم کې الله تعالى فرمايي: چې الله تعالى پر دې خبره قادر دى چې هغه ستاسو له پاسه عذاب نازل کړي، يا ستاسو د پښو لاندې. او يا ستاسو دننه کورجنګي رامنځته کړي؛

«قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَى أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِنْ فَوْقِكُمْ أَوْ مِنْ تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَيُذِيقَ بَعْضَكُمْ بَأْسَ بَعْضٍ انْظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْآيَاتِ لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُونَ» [انعام٦٥(٦:٦٥)].

[دوى ته] ووايه: هغه قادر [توانمن او وسمن] دى چې پر تاسو له پاسه عذاب راولېږي يا ستاسو د پښو له لاندې څخه، يا تاسو ته د تفرقې [او بېلښت] لباس درواغوندي [= ستاسو يووالى او وحدت له شخصيت پالنې سره ګډوډ کړي] او پر ځېنو له تاسو د ځېنو نورو د جګړې مزه وڅکي [= يو له بل سره و نښلئ]، وګوره مورږ په څه ډول خپل آيتونه په راز راز طريقو بيانوو ددې لپاره چې [د ګډوډيو له څرګندو نښو، د هغوى په پايلو] آګاهي ومومئ.

وسمهال مورږ، او ډېرى اسلامي هيوادونه، له همداسې ګډوډۍ، بدنظمۍ او له اسلامه د انحراف له لامله، له داسې حالت سره مخامخ يو. الله تعالى دې مورږ له داسې بدمرغيو څخه، په خپل حفاظت کې وساتي.

د څلور شپېتم آية، ترجمه شرح او تفسير

أَلَا إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ قَدْ يَعْلَمُ مَا أَنْتُمْ عَلَيْهِ وَيَوْمَ يُرْجَعُونَ إِلَيْهِ فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوا وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ﴿٦٤﴾

آګاه اوسئ چې هر څه چې په آسمانونو او ځمکه کې دي، يوازې الله پورې اړه لري؛ پوهېږي چې تاسو څه حالت کې ياست، او په هغه ورځ چې [بندګان] د هغه حضور ته ورستنېږي په هغه څه چې ئې [د ژوندانه په موده کې] کول، هغوى به پرې آګاه کړي، او الله په ټولو څيزونو پوه دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

أَلَا إِنَّ لِلَّهِ	مَا	فِي السَّمَاوَاتِ	وَالْأَرْضِ	قَدْ يَعْلَمُ
آګاه اوسئ، بېشکه د الله دي	هاغه څه چې	په آسمانونو	او ځمکه کې دي	په تحقيق پوهيږي هغه

مَا	أَنْتُمْ	عَلَيْهِ	وَيَوْمَ	يُرْجَعُونَ	إِلَيْهِ
هاغه څه چې	ياست تاسو	پر هغه	او هغه ورځ چې	او هغه ورځ چې بېرته ګرځول کېږي هغوی	د هغه پر لور

فَيُنَبِّئُهُمْ	بِمَا	عَمِلُوا	وَاللَّهُ	بِكُلِّ شَيْءٍ	عَلِيمٌ
نو هغه به خبر کړي دوی	په هاغه څه	چې کړي يې ول	او الله	په هر څيز	ښه پوه دی

د نور سورة تر ټولو وروستی آية، چې د مبداء او معاد مسئلې ته، لطيفه او له معنا ډکه اشاره ده. چې د ټولو الهي فرمانونو، د سر ته رسولو انګيزه ده. او په واقعيت کې، د ټولو کړنو او له کړنو د منع کولو [اوامر او نواهی] د اجراء ضمانت دی. له دې جملې هاغه اوامر او نواهي، چې ددې سورة په اوږدو کې راغلي دي. فرمايي: «آګاه اوسئ، ټول هغه څيزونه، چې په آسمانونو او ځمکه کې دي، د خدای تعالی لپاره دي.

«أَلَا إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ» آګاه اوسئ؛ ټول هغه څيزونه، چې په ځمکه او آسمان کې دي. ټول منحصراً د الله لپاره دي. دا چې د الله لفظ په مخکې راغلی دی، د انحصار او ځانګړنې ښکارندوی دی، يعنې هر څيز يوازې الله تعالی پورې اړه لري. هغه خدای چې علم او پوهه يې، ټول جهان نغاړي. او «پر هر هغه څه چې تاسو پرې بوخت ياست، پوهيږي.» [ستاسو چلن، ستاسو کړنې، ستاسو عقيده او نيت، ټول د هغه لپاره څرګند دي.] «قَدْ يَعْلَمُ مَا أَنْتُمْ عَلَيْهِ» په تحقيق الله پرې پوهيږي، چې تاسو په هر کار کې اوسئ. [يعنې چې تاسو په هر کار کې بوخت اوسئ، الله تعالی پرې پوهيږي. او دا ټولې چارې، د هغه د علم پر صفحه ثبت دي.] «او په هاغې ورځ کې، چې د هغه لور بېرته ستنيږي. هغوی به له خپلو ټولو هاغو عملونو، چې کړې يې دي، آګاه کوي.» «وَيَوْمَ يُرْجَعُونَ إِلَيْهِ فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوا» او هغه ورځ چې د هغه لور ته ستنول کېږئ، نو هغه به دوی، د دوی په ټولو عملونو خبر کړي، چې کړي يې دي. [يعنې د هغوی ټول ژوند به، د هغوی اطلاع ته ورسېږي، او د خپل ټول ژوند د فيلم نندارە به وکړي]. «وَاللَّهُ بِكُلِّ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شَيْءٍ عَلِيمٌ» او الله پر ټولو څيزونو عليم دی. د پاملرنې وړ دا چې: په دې آية کې درې ځلې، د انسانانو د عملونو نسبت، د الله علم ته تکيه شوی دی. او دا، له دې لامله دی: کوم مهال چې انسان احساس وکړي، چې يو څوک په پر له پسې تلپاتې توګه د هغه مراقب او څارونکی دی، او يوه ذره هم که پټه وي که ښکاره، هغه ته پټه نه پاتې کېږي. دا اعتقاد او باور، پر هغه فوق العاده روزنيز او تربيتي اغېز، اچوي. او د ګناهګانو او انحرافونو په مقابل کې، د انسان د کنټرول ضامن دی.

څرنګه چې د دې سورة په تېرو آيتونو کې هم، د خبرې مخه د منافقينو لور ته ده، له همدې لامله په آسانۍ قياس کېدی شي؛ چې دا منافقين دي، چې ددې سورة په پای کې يې رټنه کېږي او تنبيه کېږي. او د تنبيه نوکه يې، هم ډېره تيزه ده. هغوی يې مخکې له مخکې ګوابلي دي، وايي: تاسو چې تر اوسه پورې، په کوم ډول د حضرت رسول اکرم(ص) بلنه، او د هغه راوړی دين، په ناسنجولې بڼه نېولی، تاسو ته له دې کړنو تمېدل پکار دي. او د کومو ځواکونو پر اعتماد او وېسا، چې تاسو ډېرې فتنې اوچتې کړې دي، او په راتلونکې کې هم د فتنو اوچتولو هوډ لرئ. هغه قوتونه او ځواکونه، د نظر له فريب څخه، زيات کوم حيثيت نه لري. په ځمکې او آسمانونو کې، واکمني يوازې د الله تعالی ده. هغه يوازې، ددې کائناتو، خالق او مالک دی.

دا ستا غلطه پوهېدنه او ناسمه انګېرنه ده، چې ته پټ او په پرده کې کوم کارونه کوي، پر هغې څوک د پوهېدو والا نه دی؛ ته بايد پر دې پوه شې، تا چې تر اوسه هر څه کړي، الله تعالی پر هرې خبرې او هر څيز، بڼه خبر دی. او ستا پټې ارادې هم، په بڼه توګه پېژني.

او په پای کې، د تنبيه د لا کلکوالي، او سختېدو لپاره يې، وفرمايل: کومه ورځ، چې دا خلک د الله تعالی لور ته ستنېږي، او د هغه په حضور کې ترې پوښتنه او ګروېږنه، پيل کېږي. نو هغه ته به په هغې ورځ کې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه لـه يو يو عمل او کړنې څخه خبر کړل شي. او د خپل ټول تېر ژوند، فلم به په خپلو سـترګو ووينې. او دا به ووينې، او اندازه به ورته وشي؛ چې کوم کـارونـه يې، چې تر زړو پردو لاندې، په پټه توګه کول، اوس هغه يې د سـترګو مخې ته دي. او د هغو پايله هم، ورته په سـترګو ښـکاري. نو هغه وخت به سـتاسـو يقين راشي، چې الله له ټولو څيزونو باخبر وو، او باخبر دی. ليکن هغه مهال، دا علم او يقين په کار نـه راځي، ځکه چې هغه مهال به اوبه له ورخه تېرې شوي وي.

يـا الهـي! زمـوږ د زړونـو «مصـباح» د علـم او ايـمان پـر نـور روښـانه کـړه، او زمـوږ د وجـود «مشـکاة» د ايـمان د ساتلو لپـاره تقويـت کـړه، چـې سـتا د پيغمبرانـو پـر «صراط مسـتقيم» سـتا د رضـا پـر لـور رهـي شـو او سـتا د لطـف پـه سـپوري کـې د «لا شرقيـه او لا غربيـه» پـه مصـداق لـه هـر ډول انحراف او کږېدنې خوندي پاتې شو.

يا الهي! زمونږ سترګې د عفت پر نور، زړه مو د معرفت پر نور او زمونږ روح د تقوا پر نور، او ټول وجود مو د هدايت پر نور، روښانه کړه او مونږ له سرګردانی، غفلت او د شيطان د وسوسو په منګولو کې له نښتو وساته.

پالونکی څښتنه! د خپلو رښتينو حدودو د رښتينې اجراء لپاره د اسلامي عدل او نياو د نظام بنسټونه او پايې ټينګې او ټپکاو کړه. او د ناخلفو او جاهلو واکمنانو له اسارت او برلاسی مو وژغوره. او زمونږ ټولنه د بې عفتيو په لمن کې له پرځېدو وساته! إِنَّكَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ.

د «الله» د جلاله نوم کار وړن چې په لاندينيو ۲۲ سورتونو کې په نسبي توګه لوړ شمېر لري

ګڼه	د سورة نوم	د کليمو شمېر	د «الله» دکليمې شمېر	د سورت معدل د کليمو شمير / د الله شمير	ګڼه	د سورة نوم	د کليمو شمېر	د «الله» دکليمې شمېر	د سورت معدل د کليمو شمير / د الله شمير
۱	اخلاص (۱۱۲)	۱۵	۲	۷،۵	۱۲	توبه (۹)	۲۴۹۷	۱۶۹	۱۴،۳۷
۲	نصر (۱۱۰)	۱۹	۲	۹،۵	۱۳	جمعه(۶۲)	۱۷۵	۱۲	۱۴،۵۸
۳	طلاق (۶۵)	۲۸۷	۲۵	۱۱،۴۸	۱۴	حشر(۵۹)	۴۴۵	۲۹	۱۵،۳۴
۴	مجادله (۵۸)	۴۷۳	۴۰	۱۱،۸۲	۱۵	آل عمران(۳)	۴۴۸۰	۲۰۹	۲۱،۴۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵	تغابن (٦٤)	۲۴۱	۲۰	۱۲،۵۰	۱٦	نساء (۴)	۳۷۴۵	۲۲۹	۱٦،۳۵
٦	منافقون (٦۳)	۱۷۹	۱۴	۱۲/ ۷۸	۱۷	نور (۲۴)	۱۳۱٦	۸۰	۱٦،۴۵
۷	صف (٦۱)	۲۲۱	۱۷	۱۳	۱۸	ممتحنه(٦۰)	۳۴۷	۲۱	۱٦،۵۲
۸	حجرات (۴۹)	۳۴۳	۲٦	۱۳،۱۹	۱۹	حديد (۵۷)	۵۴۴	۳۲	۱۷
۹	انفال (۸)	۱۲۳۱	۸۸	۱۳،٦۹	۲۰	لقمان (۳۱)	۵۴۷	۳۲	۱۷،۱
۱۰	احزاب(۳۳)	۱۲۸۸	۹۰	۱۴،۳۱	۲۱	حج (۲۲)	۱۲۹۱	۷۵	۱۷،۲۱
۱۱	فتح(۴۸)	۵٦۰	۳۹	۱۴،۳۵	۲۲	تحريم (٦٦)	۲۴۹	۱۳	۱۹،۱۵

د پاملرنې وړ ټکی دا دی چې ۱۰ سورته پرله پسې ؛ له حديد (۵۷) تر تحريم (٦٦) چې په پورتني ليست کې ځای لري او دا د ۱۰ سورتونو مجموعه کېدای شي يو له بل سره په اړيکه کې او د «الوهيت» پر مسئله کې وګڼل شي.

يادونه: ددې تشرېح د ليکلو پر مهال لاندينيو سرچينو ته هم مراجعه شوې ده:

۱ ــ نظم قرآن ــ د عبدالعلي بازرګان لېکنه

۲ ـ آشنايي با قرآن ـ د مرتضی مطهري ليکنه

۳ ـ في ظلال القرآن ـ د سيد قطب لېکنه

۴ ـ تفهيم القرآن ـ د مولانا سيد ابوالاعلی مودودي ليکنه

۵ ـ تدبر قرآن ـ د مولانا امين احسن اصلاحي ليکنه

٦ ـ قرآن حکيم [ترجمه و توضيحات فارسي] ـ عبدالعلي بازرګان

۷ ـ الميزان في تفسيرالقرآن ـ د سيد محمدحسين طباطبائي ليکنه

۸ ـ کابلي تفسـير [قرآن کريم ترجمه او تفسـير ـ مولانا محمود الحسـن ديوبندي او علامه شبيراحمد عثماني] پښتو کوونکي : د عالمانو يوه ډله

۹ ـ پرتوی از قرآن ـ د سيد محمود طالقاني ليکنه

۱۰ ـ تفسير نمونه ـ د آيت الله مکارم شيرازي او د ورسره علماو د پلاوي ليکنه

۱۱ ـ تفسير نور ـ د مصطفی خرمدل ليکنه

۱۲ ـ تابښې از قرآن ـ د سيد ابوالفضل ابن الرضا برقعي قمي ليکنه

۱۳ ـ تفسير باران ـ د دوکتور مهدي خُدّاميان آراني ليکنه

۱۴ ـ ترجمه تفسير طبري ـ د حبيب يغمائی په اهتمام او تصحيح

۱۵ ــ تفسير ابن کثير ــ [حافظ عمادالدين ابوالفدا اسمعيل بن عمر ابن کثير الدمشقي] اردو ته ژباړه : مولانا محمد جوناګړهي

۱٦ ــ معارف القرآن ـ د مولانا مفتي محمد شفيع ليکنه

۱۷ ـ تفسـير مصـباحين (اردو) ترجمه و شرح تفسـير جلالين ـ ليکونکي : جلال الدين محلي او جلال الدين سيوطي ـ اردو ته ژباړه او شرح: محمد لياقت علي رضوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۸ ــ تفسير كمالين د جلالين تفسير اردو شرح د : مولانا محمد نعيم ديوبندى

۱۹ ــ د قرآن عظيم الشان پښتو ژباړه ـ مولوي قيام الدين كشاف

۲۰ ــ عزيزالتفاسير ـ د قرآن كريم پښتو ترجمه او تفسير ــ مولوي سلطان عزيز (عزيز)

۲۱ ــ صفوةالتفاسير ـ د محمدعلي الصابوني ليكنه ــ ژباړونكى: مولوي شمس الله كمال زاده

۲۲ ــ د قرآن پلوشې ـ د گلب الدين حكمتيار لېكنه

۲۳ ــ تفسير دېوبندي ـ د مولوي عبدالحنان لېكنه

۲۴ ــ حكمة القرآن ـ د مولوي امين الله پېښاورى لېكنه

۲۵ ـ تفسير ايوبي حنفي ـ د مولانا محمد عبيدالله ايوبي لېكنه

۲٦ ـ تفسير احسن الكلام ـ د مولوي عبدالسلام رستمي ليكنه

۲۷ ــ قرآن كريم په پښتو ـ د اجرالدين اقبال ژباړه

۲۸ـ شرحي بر سوره هاى قرآن ـ عبدالعلي بازرگان ـ د عبدالعلي بازرگان وېب پاڼه [bazargan.com]

۲۹ ـ تفسير روح القرآن ـ مؤلف ډاكتر مولانا محمد اسلم صديقي.

۳۰ ـ د قرآن ټكى په ټكى او روانه ترجمه ـ مولوي جانباز سرفراز.

۳۱ – روح المعاني فى تفسيرالقرآن العظيم والسبع المثانى – العلامه ابى الفضل شهاب الدين محمودالالوسى البغدادي.

۳۲ ـ تفسير جواهرالقرآن ـ مولانا حسين علي.

۳۳ ـ تفسير روح البيان ـ شيخ اسماعيل حقى البروسوى.

۳۴ ـ «كنزالايمان او تفسير نورالعرفان»ترجمه احمد رضاخان بريلوي، تفسير احمد يارخان نعيمي.

۳۵ ـ كشف الاسرار و عُدة الابرار ـ [د قرآنكريم ادبي او عرفاني تفسير] خواجه عبدالله انصاري.

۳٦ ـ د قرآن ربنا [د قرآن پښتو معنا او لنډ تفسير] مولوى محمد ظاهر اسدالله مكي.

۳۷ ـ تفسير الفخرالرّازى المشهور بالتفسيرالكبير و مفاتيح الغيب، امام محمد الرازى فخرالدين.

۳۸ ـ التّفسيرالمبين ـ دوكتور عبد الرحمن بن حسن النّفيسه.

۳۹ ـ تفسير قرطبى ـ محمد بن احمد بن ابوبكر قرطبي، ترجمه اردو: پيرمحمد كرم شاه.

۴۰ ــ المفصل في تفسيرالقرآن الكريم ـ المشهور بتفسيرالجلالين ـ للامام جلال الدّين المحلّيّ والامَام جلال الدِّين السّيُوطيّ.

۴۱ ـ «سير تحوّل قرآن» ـ مهندس مهدي بازرگان.

۴۲ ـ «باد و باران در قرآن» ـ مهندس مهدي «بازرگان».

۴۳ ـ «قرآن مجيد، تكامل و خلقت انسان» ـ ډاكټر يدالله «سحابي»

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library